# د پړانګ پر ځای

(د تلويزيوني ډرامو ټولګه)

Ketabton.com

حفیظ الله تراب

۱۳۹۴ لمریز کال



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پړانګ پرځای

## ( د ټلوېزيوني ډرامو ټولګه)

حفيظ الله تراب

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:

---

د کتاب نوم: د پړانګ پرځای

لیکوال: حفیظ الله تراب

خپروندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۴۱)

یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**سرلیک** **مخ**

لنډې خبرې.............................................. ۱
سیالي............................................................. ۳
د پړانګ پر ځای.......................................... ۱۹
د پاڼ پر غاړه................................................ ۳۵
دنیا ............................................................. ۷۱
خپلې متې.................................................. ۱۳۲
محاکمه........................................................ ۱۸۸
پښتنه.......................................................... ۲۶۷
زنځیرونه.................................................... ۳۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترځ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډې خبرې

چې په ښه او بده پوهېږي، هغوی به د ډرامو ارزښت هم پېژني. که د ادب هر صنف د ښکلو او ظریفو ګاڼو یو توکی وګڼو، نو ډرامه به په کې یو داسې هار وي، چې د هنر ټولې خواوې به په خورا ښکلې بڼه په کې پر ځای شوې وي.
له بده مرغه زموږ په هېواد کې ورته د ډېرو مادي امکاناتو په لرلو سره دولت هېڅ پاملرنه ونه کړه، بلکې د پردیو سیریالونو په خپرولو سره یې د نورو کولتور ته په ډېر اخلاص او ایمانداری خدمت وکړ. سره له دې چې ځینو افغانانو په دې برخه کې هلې ځلې وکړې او د خپل ذوق او وړتیا په کچه یې فلمونه او ډرامې جوړې کړې، خو لکه څنګه چې په کار وه، په دومره اوږده موده کې ورته ډاډمن کار ونه شو. د دغو خلکو په کتار کې یو هم زه یم، چې د تېرو کلونو په اوږدو کې مې د دې اثر د چاپولو تر وخته دوه ویشت تلوېزوني ډرامې، هنري او مستند فلمونه د زړه په وینو جوړ کړل.
د زړه وینې مې ځکه یادې کړې، چې د یوې ښې ډرامې تر لیکلو، د هغې جوړول ډېره ګرانه خبره ځکه ده، چې له امنیتي ستونزو نیولې، تر لوبغاړو پورې خنډونه ګام په ګام کې د سړي مخې ته پراته وي. تر ټولو لویه بدمرغي دا ده، چې دلته یې چارواکي بیا په ارزښت هم نه پوهېږي او د یوه لوستي نه به کله په دې برخه کې داسې څه واورېدل شي، چې اسمان به دربانډې وګرځوي.
په دې ټولګه کې ټول ټال اته تلوېزوني ډرامې دي، چې ټولې فلم شوي او د افغانستان د هغو تلوېزوني چینلونو نه بیا بیا خپرې شوي، چې د پښتو ژبې او پښتون سره لېونی تعصب نه لري.
که څه هم ډرامې په لیکلې بڼه دومره خوند نه کوي او ډېر ارزښت یې د فلم کولو نه وروسته څرګندېږي، خو په دې ټولګه کې راغلې ډرامې ښایي لوستونکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوند هم ورکړي. همدارنګه تر ټولو اړينه موخه مې دا وه، چې د پښتو ژبې هغه ليکوال، چې د تلوېزوني ډرامو د ليکلو سره مينه لري، کولای شي، چې د ډرامو په ليکلو کې د دې ډرامو د تخنيکونو نه ګټه واخلي. له نېکه مرغه تر ما وروسته ځينو نورو هم د تلوېزوني ډرامو په تخنيکي ليکنه پيل کړی، دا مې ځکه وويل، چې تر دې دمخه زموږ هېواد کې ډرامې د فني لحاظه کله سمې نه وې ليکل شوې او ګرم هم نه وو، ځکه د ادب په دې ژانر کې د ليکوالو هڅې د نشت برابرې وې.
په پای کې له ښاغلي يون صيب نه مننه کوم، چې د دې ټولګې د چاپ خواري يې په ورين تندي ومنله، خدای دې په فرهنګي هڅو کې لا بريالی لري.
هيله ده، چې زموږ ليکوال په دې برخه کې لا هڅې وکړي او داسې ډرامې او سيريالونه جوړ کړي، چې زموږ د دردېدلي ولس د لا ويښتابه او د خپل کولتور او تاريخ د ژغورولو لپاره جادويي اغېز ولري.

په همدې هيله

مننه

حفيظ الله تراب

کابل، د وږي ۲۰ مه ۱۳۹۴ لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیالي

## کرکټرونه

۱ـ روف: یو پنځه پنځوس یا شپېته کلن سړی، چې ارام طبعیت لري او د زامنو له حالاتو خوښ نه دی. د حج تللو ته یې زړه نه کېږي، ځکه په کومو پیسو چې ځي، هغه ورته پاکې نه ښکاري.

۲ـ د روف مېرمن: ۴۵ کلنه ښځه، چې له مشر زوی نه وېرېږي او رښتیا ویلی نه شي.

۳ـ ریاض: د روف مشر زوی، چې تېرې سترګې او ۳۰ کاله عمر لري، انداز یې د بدمعاش او د سیالۍ ډېر پلوي وي.

۴ـ ناصر: د ریاض ۲۵ کلن ورور، چې د مشر ورور په لاره او پلوی روان وي.

۵ـ غړګه: د ریاض ۲۵ کلنه مېرمن، چې ښکلې وي.

٦ـ ګلاب د ریاض ۱۰ کلن ښکلی زوی، چې نیکه ورته ګران وي.

او یو څو نور فرعي کرکټرونه.

لومړۍ صحنه:

ځای: لومړی یو کلی او بیا یو کلیوالي متوسط کور.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: روف، د روف د پاخه عمر مېرمن، ماشوم ګلاب، ریاض د روف مشر زوی، غړګه د ریاض ځوانه مېرمن او ناصر د روف دویم زوی.

( لومړی دې د یو څو ثانیو لپاره کلی وښودل شي او بیا دې کمره د روف دوی پر کور فوکس شي. په داسې حال کې چې روف مخکې او لاسي بیک ور سره وي، ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور د لویې دروازې پر لور ور روان شي. روف خپه غوندې ښکاري. دروازې ته چې ورسېږي، نو د روف مېرمن قرآنکریم لوړ ونیسي. روف ترې درې ځله تېر شي. قرآن ښکل کړي، له دروازې ووځي. ګلاب ورپسې د کور له دننه نه اوبه وشیندي. له زامنو سره له کوره بهر خدای پاماني وکړي او په پای کې خپل لمسی ګلاب په مینه ښکل کړي او روان شي).

دویمه صحنه:
ځای: یو کلیوالي بازار.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: روف او یو ورکوټی سوالګر ماشوم.
( لومړی دې یو لنډ شاټ بازار وښودل شي، چې روف په کې داسې روان وي، چې فکرمن ښکاري. تر یو څه تګ وروسته یوه بېوزله ښځه چې په خیرنه چادرۍ کې ناسته او یو وړوکی ماشوم یې په خپله غېږ کې اچولی وي، ووینې، هغه ورته د سوال لپاره لاس اوږد کړي. روف ودرېږي. د ماشوم بد حالت چې ووینې، په څېره کې یې ډېر خپګان څرګند شي. ښځې لا د سوال لاس همداسې نیولی وي، چې روف د تګ یو ګام واخلي، خو همدې کې د لس مترو په واټن ورته یو داسې سپین ږیری راښکاره شي، چې د څېرې او جامو له کبله ډېر سپېڅلی ښکاري. سپېڅلی سړی ورته په درانه او رادیویي غږ کې ووایي)
سپېڅلی سړی
ـ د خلیل تر کعبې دا کعبه ده لویه
که اباد کا څوک وېران حرم د زړه.
( روف سپېڅلي سړي ته په ډېرې حیرانۍ وګوري او بیا سوالګرې ته ورو مخ ورواړوي):
سپېڅلی سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ای مسلمانه! راشه دې ببوزلې سره ښه وکه.
د دې ژوند وژغوره!
( ښځه دې لنډ شاټ وښودل شي. روف بیا په حیرانۍ سپین ږیري ته وګوري):
سپېځلی سړی
ـ چېرته ځې؟ دین همدې ته وایي، چې نورو ته دې خیر ورسېږي.
د ریا زهد نه څه غواړې؟.
( لږه چوپتیا):
سپېځلی سړی
چې د بل لپاره خیر ترې پیدا نه شي
ګوره داسې عبادت کې ګټه نشته
( روف داسې ښکاره شي، لکه د سپین ږیري خبرو چې پرې ډېر اغېز کړی وي، خپل جېب ته لاس کړي، د افغانیو یو برابر بنډل راوباسي، زړه یې وي چې ور یې کړي، خو چې ښځې ته یې لږې ورنږدې کړي، نو د فلش بک تر صحنې وروسته له سوالګرې ښځې خپل لاس بېرته راکاږي. سپین ږیری ورته په سنجیده توګه وګوري، یوه وړه ترخه موسکا وکړي، خو ځای پر ځای ورک شي، روف لومړی حیران شي، بیا سوالګرې ته وګوري او بیا په مات زړه روان شي).
د فلش بیک صحنه:
ځای: د روف دوی د کور یوه کوټه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: روف او ریاض.
( په یوې اندازې کلانکارۍ ورته د افغانیو بنډل ونیسي):
ریاض
ـ هن! دا واخله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



( روف يې واخلي):

رياض

ـ خو ګوره ډېر پام ور سره کوه، که يوه روپۍ دې بې ځايه ولګوله، نو بيا به حيران ناست يې.

( روف خوشاله نه ښکاري او يو داسې حرکت وکړي، لکه د زوی نه چې راضي نه وي).

روف

ـ سهي ده.

څلورمه صحنه:

ځای: يوه کليوالي شنه دېره.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: رياض او نسيم.

( په دېره کې شاوخوا کټونه پراته وي. په يوه کټ کې رياض خور ور پروت وي، بيا د واسکټ له جېبه د سيګرټو قوتۍ راوباسي. همدې وخت کې دې نسيم وښودل شي، چې دېرې ته راروان وي. رياض چې سېګرېټ ولګوي، نو همدې کې نسيم هم راورسېږي او رياض ورته د سترې مه شۍ لپاره پورته شي):

رياض

ـ په خير، په خير راغلې!

نسيم

ـ خير يوسې.

( دواړه په کټ کې کېني):

نسيم

ـ څنګه شو، حاجي صيب په خير لاړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ریاض**

**ـ په خیر لاړو.**

**( په لږ تبسم):**

**نسیم**

**ـ یره ستا اپین خو راته ځکه برکتي ښکاري، چې د یوه ډېر نېک کار دپاره دې خرڅ که. که څنګه؟**

**( په لږې موسکا):**

**ریاض**

**ـ روغه خبره دې وکړه. بله دا چې پلار په داسې وخت کې لاړو چې د حج شپېږ ( شپې هم) ببخي رانزدې دي.**

**( لږه چوپتیا):**

**ریاض**

**ـ او هغه نورې روپۍ دې راوړي، که نه؟**

**( داسې لکه رښتیا چې وي، خو نسیم ټوکه کوي):**

**نسیم**

**ـ پرون دې اپین راکړې او نن ټولې روپۍ غواړې؟!**

**( د ریاض تندی لږ تریو شي، خو هممدې کې نسیم جېب ته لاس کړي او په موسکا سره ورته شل زره افغانۍ ونیسي):**

**نسیم**

**ـ واخله! ته لکه چې په رښتیا شوې.**

**( په لږې موسکا):**

**ریاض**

**ـ زه دې حیران کړم، ( وی یو له لوړې مړ کېده او بل یې سر ته ډوډۍ لټوله):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ریاض د روپو تر شمارلو وروسته):

ریاض

ـ خیر یوسې پوره دي. په دې به د خیرات غم وکو.

اخر د پښتو وطن دی.

نسیم

ـ ښه دې وویل:

( له هر څه وځه خو له نرخه مه وځه)

راکه لاس!

( ریاض لاس ورکړي، نسیم روان او ریاض بېرته په کټ کې په یوې اندازې کلانکارۍ څملي).

پنځمه صحنه:

ځای: هوايي ډګر.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: نشته.

( د اریانا یا کام ایر الوتکې شاټ دې واخیستل شي، چې هوا ته پورته شي).

شپږمه صحنه:

ځای: د روف دوی کور.

وخت: مازیګر موده.

لوبغاړي: د روف مېرمن او د ریاض ښځه ( غړګه).

( د روف مېرمنې په کټ کې په بالښت قرآن شریف ایښی وي، له ځانه سره یې لړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلاوت او بیا یې بند کړي، ښکل یې کړي او پورته یې د دعا په حال کې ونیسي، هغه لا دعا کوي، چې غړګه راشي او پښو ته یې کېني):

غړګه

ـ تروري! څوک چې حج ته ځي، خوشالېږي، خو کاکا را ته خپه غوندې ښکاره کېده.

( په داسې حال کې چې قرآن شریف په پوښ کې اچوي، یو د خپګان وړوکی اسوېلی وکړي):

د روف مېرمن

ـ لورې! رشتیا دې وویل، هغه خو خپه و.

غړګه

ـ راته ودې نه ویل، چې په څه خپه و؟

( شاوخوا داسې وګوري، لکه له مشر زوی نه چې وېرېږي):

د روف مېرمن

ـ لورې! هغه ته خپل تګ ډېر بې مناسبه ښکاره کېده.

( په لږې حیرانۍ):

غړګه

ـ حج او بې مناسبه؟!

( تندی یې لږ تریو شي):

د روف مېرمن

ـ ته څه اوس خپل کار کوه.

هره خبره خو تا ته نه شم کولی.

( غړګه له کټ نه پاڅېږي او په سترګو کې چې د هغې پام نه وي، بل ډول وروګوري).

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږمه صحنه:
ځای: سعودي عربستان.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: حاجیان.
( د یو څو ثانیو لپاره دې دا وښودل شي، چې حاجیان طواف کوي).

اوومه صحنه:
ځای: بازار، داسې ځای چې پسونه په کې وي.
وخت: سهار.
لوبغاړي: ګڼ خلک او ریاض.
( لومړی دې پسونه وښودل شي، ورپسې ریاض د درېو پسونو په ملا د خریدار په توګه ګوتې ووهي):

اتمه صحنه:
ځای: د کلي یوه کوڅه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: هغه سوالګره ښځه چې ماشوم یې په غېږ کې پروت وي، ریاض او یو بل کلیوال.
( لومړی دې هغه ښځه او ماشوم وښودل شي، همدې وخت کې ریاض دوه پسونه په ځان پسې راروان کړي وي، چې په همدې ځای کې له کلیوال سره مخامخ شي. کلیوال چې پسونه وګوري، حیران شي او په حیرانۍ ورته ووایي):
کلیوال
ـ واه ریاضه واه! دا دې په څو واخیستل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رياض**

**ـ پوښتنه يې مه کوه، خو دا راته ووايه چې څنگه دي؟**

**کليوال**

**ـ يره منم دې. لکه چې واده دې دی؟**

**( په لږ خندني ډول):**

**رياض**

**ـ ږوند شې واده خو مې کړی، د خيرات دپاره مې اخيستي.**

**ولې خبر نه يې چې پلار مې د حج نه راروان دی؟!.**

**کليوال**

**ـ رياضه! ته خو به په دې کارونو ځان تباه کې، هلکه د خپلې شړۍ سره ښپې غځوه!**

**( په سنجيده توگه):**

**رياض**

**ـ ميلو! گوره اول يو کار نه دی په کار او چې بيا يې کی، نو داسې يې کوه، چې په تربورانو کې دې سترگه جيگه شي.**

**( د سترگو په راويستو او بدمعاشانه انداز):**

**ـ سهي ده، که څنگه؟!**

**( او له همدې سره رياض له کمرې اوټ شي).**

**نهمه صحنه:**

**ځای: د کابل ـ جلال اباد سرک.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: نشته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( د سرک پر یوې ښکلې منظرې دې د حاجیانو د یو څو موټرو شاټونه واخیستل شي، چې ګلپوش شوي وي).

لسمه صحنه:
ځای: د روف دوی کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: د روف مېرمن، وړوکی ګلاب.
( د کور په یوې برخې کې هغه پسونه چې ریاض اخیستي وي، تړلي وي او ګلاب په خوله کې پاڼې ورکوي. لږ وروسته ګلاب خپله نیا ویني):
ګلاب
ـ غټې ادې! دادا به کله راځي؟
د روف مېرمن
( په لړه مینه):
ـ همدا یې ورځې دي.
سترګه مې رپېږي.
ګلاب
ـ د پروېز نیکه خو د هغې نه وروسته تلی و. هغه راغلی دی.
( په مینه ناکه توګه):
د روف مېرمن
لکه چې ډېر دې یادېږي؟
( په خواږه انداز):
ګلاب
ـ غټې ادې! دادا خو ډېر ښه سړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوولسمه صحنه:**

**ځای: د کابل یا جلال اباد د عیدګاه د جومات مخه.**

**وخت: ماسپښین تېر.**

**لوبغاړي: حاجي صیب او د ښار نور خلک.**

**( حاجي روف دې وښودل شي، چې بیک یې اوږې ته، په لاس کې د زمزمو لویه بوشکه د عیدګاه له سرک نه د موټرو هډې ته سترې ستوړی راروان وي.)**

**دولسمه صحنه:**

**ځای: هماغه ښار.**

**وخت:  ورځ.**

**لوبغاړي: حاجي روف، د موټر ډرېور او یو دوه نور کسان.**

**( لومړی دې د ښار شاټ د څو ثانیو لپاره واخیستل شي، بیا دې په کرولا موټر کې حاجي صیب او ډرېور وښودل شي. د حاجي صیب په لاس کې تسپې او فکرمن غوندې وي، چې څه شېبه وروسته ترې ډرېور پوښتنه وکړي):**

**ډرېور**

**ـ کاکا! لکه چې د حج نه راغلې؟**

**روف**

**ـ هو، خدای دې قبول کي.**

**ډرېور**

**ـ ولې څوک دې نه لرل، چې مخې ته دې راغلي وی؟**

**روف**

**ـ هر څه لرم، خو ما ته پخپله دا کار مناسب نه ښکاري.**

**( په لړه جدي او حیرانه توګه):**

**ډرېور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ حاجي صیب! اوس خو دا رواج دی، چې د حاجیانو مخې ته لوی لوی کاروانونه ورځي.

او ته یوازې روان یې؟!

حاجي روف

ـ همدغه خو زمنږه کمزوري ده. په عبادت کې مو هم ریا وي. د خدای په وړاندې هغه څوک لوی دی، چې ځان کم وګڼي.

( د حاجي صیب سترګې پټې شي، د لارې یو څو صحنې دې وښودل شي، له دې وروسته حاجي صیب خپلې سترګې پټې او هغه صحنه ویني، چې لمسی یې د راتګ پر وخت ښکل کړی و. همدې کې موټر په اډه کې ودرېږي ):

ډرېور

ـ کوزېږئ،راورسېدئ!

( حاجي لږ ټوپ وکړي، سترګې خلاصې کړي. نور خلک کښته شي، ډرېور ته پیسې ورکړي، خو حاجي صیب ډرېور ته ووایي):

حاجي صیب

ـ زر روپۍ به درکم کلي ته راسره لاړ شه.

ډرېور

ـ حاجي صیب! زر خو کمې دي.

حاجی

ـ استاذه! بله راسره والله که یوه روپۍ هم یي. ناوخته دی خدای به یې بل ځی کې بدل درکي.

( لږ فکر):

ډرېور

ـ سمه ده.

( او له دې سره موټر روان کړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دیارلسمه صحنه:**
**ځای: خوړ، کلیوالي لار او بیا د حاجي صیب کور.**
**وخت: مازیگر، بیا شپه.**
**لوبغاړي: حاجي صیب او ډرېور.**

**( لومړی دې د لمر سترګه وښودل شي، چې له غره نه لوېږي، بیا دې موټر وښودل شي، چې په خامو لارو روان وي. ورپسې دې کلی په لانګ شاټ کې لرې وښودل شي، بیا دې وښودل شي، چې تیاره شي. موټر روان وي، څراغونه ولګوي).**

**څوارلسمه صحنه:**
**ځای: د حاجي روف کور.**
**وخت: شپه.**
**لوبغاړي: حاجي روف او ورسره یې د کورنۍ ټول غړي.**

**( لومړی دې یوه شېبه د کور لویه دروازه وښودل شي، چې رنګه کاغذونه پرې ځوړند او په دروازه په لوی سپین لیک لیکل شوي وي):**

**حج دې مبارک شه.**

**( موټر په تیاره کې د دروازې مخې ته ودرېږي، حاجي صیب ډرېور ته زر افغانۍ ورکړي او ورته ووایي):**

**ـ استاذه! تلی نه شې ناوخته دی، باتې به شې!**

**ډرېور**

**ـ حاجي صیب کار مې دی، نه پاتې کېږم. خیر یوسې.**

**( ډرېور له ډالې نه بیک او د زمزمو بوشکه راوباسي، حاجي ته په منډه لاس ورکړي او موټر روان کړي).**

**( حاجي صیب دوه ځله دروازه وټکوي او په درېیم ځل یې لمسې ګلاب دروازه خلاصه کړي، هغه په خوشالۍ نیکه ته غېږ ورکړي او بیا په منډه کورته ننوځي. د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کور په برنډه کې ټول ولاړ وي، له نیا سره یې لاټېن وي، چې په بیړه ګلاب وایي):**
**ګلاب**
**ـ زېرې مې دربانديې دادا راغی.**
**( نیا یې خوشاله خو د ریاض په تندي کې د غوسې کرښې ښکاره شي. همدې کې حاجي صیب بیک او د زمزمو بوشکه په لاس هغوی ته ورننږدې شي، خو د دواړ زامنو تندیو ته چې وګوري حیران شي. د حاجي مېرمن شا ته ولاړه وي، نه ښکاري. حاجي لږ په وېره وایي):**
**حاجي**
**ـ خیر خو به یې؟ مورم څه شوه؟**
**( مشر زوی یې سترګې سرې کړي):**
**ریاض**
**ـ مور، مور پرېده، د شرم خبره کوه، د حیا نه دې خلاص کړو!**
**( حاجي ډېر حیران شي):**
**حاجي**
**ـ د څه شي حیا؟! زه خو د هېڅ نه خبر نه یم.**
**ناصر**
**ـ په قام کې دې وشرمولو، دسې څوک کیږ؟!**
**( حیران شي):**
**حاجي**
**ـ اخر خبره څه ده؟ خبره ښکاره کیږ!**
**( په جدي ډول او د سپېږمو په تریوولو):**
**ریاض**
**ـ مورږ چې ستا دپاره اپین خرڅ کړی و، نو د همدې دپاره چې ته بم په تربورانو کې پوزه پرې کی؟!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( نور هم حیران شي):**
**حاجي**
**ـ ما خو په خپل ټول ژوند کې بې ننګه کار نه دی کړی، د خدای دپاره دا څه اورم؟!**
**ناصر**
**ـ د لالا دا مقصد دی، چې ته خو مونږ حج ته د سیالۍ دپاره لېږلی وې، خو تا زموږ سیالي د خاورو سره خاورې کړه.**
**حاجي**
**ـ څنګه مې خاورې کړه، په دې خو مې پوی کړئ!**
**ریاض**
**ـ نور نه پېږم همدا نن شپه به بېرته کابل ته ځې. قسم په خدای که رانه دلته شپه وکې!**
**( د بېوزلتوب یوه څپه):**
**حاجي**
**ـ اخر ولې؟ حج مې وکه او دا دی بېرته راغلم.**
**ناصر**
**ـ لالا وی چې د نورو غوندې به سبا موږ هرکلي ته درشو، مخې ته به موټرې درشي، په تربورانو کې بم سترګه جیګه شي.**
**ریاض**
**ـ نور نه پېږم، که مرې او که چوې، همدا اوس به بېرته کابل ته ځې. ګوره چې نوره خبره وانورم.**
**( په داسې حال کې چې حاجي صیب د زامنو دې کړو ته حیران وي، مېرمن یې لږه رامخکې شي):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حاجي مېرمن**

**ـ سړیه! اوس هم نه څه تلي او نه راغلي. د زامنو خبره دې سهي ده. د تربورانو د خاطره خیر دی همدا اوس بېرته کابل ته لاړ شه. خدای کړی ناکام دی. سبا به دې زامن مخې ته درشي.**

**( دې وخت کې دې ګلاب وښودل شي، چې په نیکه خپه وي. همدې کې یې د هغه نېک سړي دا شعر په فلش بیک کې رایاد شي):**

**شعر**

**ـ چې د بل لپاره خیر ترې پیدا نه شي**
**ګوره داسې عبادت کې ګټه نشته**

**( حاجي صیب یو دردمن اسوېلی وکړي):**

**حاجي**

**ـ زه به لاړ شم، خو خدای به څه وی؟!.**

**( او په داسې حال کې چې یو ګام د لویې دروازې ته د تګ په لوري واخلي، نو لومړی زامنو ته په خواشینۍ مخ ورواړوي):**

**حاجي**

**( په ډېر دردمن انداز په ډرامایي غږ کې):**

**ـ ظالمانو! هسېم ( هسې مو) دومره وکړولم!**

**( په ډېر لنډ شکل دې هغه سپین ږیری او سوالګره ښځه وښودل شي):**

**( په افسوسناک غږ):**

**حاجي**

**د دنیا په سیالۍ کېم ( مو) راته د اخرت خواري خرڅه کړه.**

**( او د همدې جملې سره د حاجي په افسوسناکه څېره ډرامه پای ته ورسېږي).**

**پای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پړانګ پر ځای

## کرکټرونه

ـ اشرف: مرکزي کرکټر. له ۲۵ـ ۳۰ کلونو پورې یو متفکر او با احساسه ځوان، چې د ټولنې د اجتماعي عدالت له بهیر نه سخت خوابدی او ناراضي وي.
ـ زمری او ګیدړ هغه مرکزي کرکټرونه، چې خبرې یې باید په دوبله کې تر سره شي.
ـ د تلوېزون مشر د پاخه عمر لوکس سړی.
ـ یو سپېڅلی سپین ږیری.
ـ سوالګره ښځه، وړوکی ماشوم، کمره وال، د ژوبڼ مسوول فرعي کرکټرونه.
د ټایټل لپاره
( یو انسان دې له یوه ځنګل نه راووځي، په منډه مخامخ راروان وي او کرار کرار دې ترې په لږ وخت کې داسې یو پړانګ جوړ شي، چې له خولې او خېرو یې سرې وینې وڅاڅي او بیا دې د فلم یا ډرامې نوم ولیکل شي):
د پړانګ پر ځای
لومړۍ صحنه:
ځای: ښار.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: اشرف او یوه سوالګره ښځه، چې ماشوم زوی یې په بد حالت کې په غېږ کې پروت وي.
( اشرف په داسې حال کې چې تورې د څلورکنجه لمنې جامې یې اغوستې وي، لوڅ سر، یو ډبل کتاب یې په لاس کې او تور پټو یې له ځانه تاو کړی او لږه ږیره هم ولري، په ښار کې روان وي. تر یو څو ګامو وروسته سوالګره ښځه ویني. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوال لپاره لاس ور اوږد کړي. اشرف ودرېږي، د ماشوم بد حالت ويني، له جېب نه روپۍ راوباسي، ور يې کړي، خو همدې وخت کې دوه ډېرې لوکسې موټرې د دوی له څنګه تېرې او دوړې يې پر سوالګرې او هغوی ورشي. اشرف په ډېر درد لومړی ماشوم او بيا هغو روانو موټرو ته د افسوس په ډول وګوري).

دويمه صحنه:
ځای: ښار.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: اشرف، يو سپين ږيری، يو ځوان لوکس هلک او يو سپی چې زنځير او پټۍ هم ولري.
( د اوسني وخت يو هلک چې سور کميس او کوبای پتلون يې اغوستی او د زنې سره يې د يوه کوچني چاکلېټ په اندازه ږيره وي، له يوې لوکسې مغازې نه له يوه ساتل شوي سپي سره راووځي. د هلک په لاس کې کېک هم وي. بيا دې يو غريب سپين ږيری، چې په بد حال وي، وښودل شي. ځوان هلک کېک د سپي خولې ته ونيسي او په مينه يې ورکوي):
ځوان هلک
ـ وخوره زمريه!
وخوره!
( د سپي خوراک دې لږ وښودل شي، د اشرف هم له لرې ورته پام شي).
ځوان
ـ رښتيا بول سکې؟
( د سپي له خولې نه يوه روغه ټوټه کېک ولوېږي، هلک رښتيا بول هم ورکړي، د سپي په ملا په مينه لاس راکاږي، روان شي او خپل لوکس موټر ته سپی وخېژوي، خو همدې کې يو ډېر بېوزلی سپين ږيری راشي، له سپي نه پاتې شوی کېک ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې وګوري، لکه ډېر زړه یې چې ورته کېږي، راوایخلي، زړه یې وي، چې ویې خوري، خو بېرته یې کېږدي. اشرف چې دا حالت ویني دومره خوابدی شي، چې پر مخ یې له ډېره درده خولې راشي، اشرف اسمان ته وګوري او هغه ورته داسې ښکاري، لکه ټوله نړۍ چې پرې چورلي، د اشرف په مخ کې هیجان پیدا شي او بیا له ښاره منډه کړي. په سلو موشن کې دې له مخې نه وښودل شي، چې له ښاره تښتي).

درېیمه صحنه:
ځای: په یو ډاګ کې د پاڼ سر.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: اشرف.

( لومړی دې په ډاک کې یو بوټی وښودل شي، چې باد یې ښوروي او بیا دې له لرې نه اشرف وښودل شي، چې په سلو موشن کې ډاګ ته را روان وي، بیا دې د پاڼ لاندې برخه وښودل شي، همدې کې اشرف ستړی ستومانه خولې خولې راشي او د پاڼ پر سر داسې کېني، چې مخې ته یې کاڼي وي.):
( په ستړي حالت کې، څه شېبه وروسته، په دردمن انداز کې):
اشرف
ـ ای کاڼو! تاسې څومره ښکلي یاست!
( کاڼي دې په لنډ دوراني شکل وښودل شي).
که انسانم راوانخلي، نو د چا په تندي به کله هم پخپله و نه نښلئ!
ای د ډاګ بوټو!
تاسې کې خو هېڅ بدي نشته.
که انسان مو راوانخلي، نو کله به هم د چا په تندي پخپله ونه نښلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ببخي لږه وقفه):
خو هغه ستاسې غوندې نه دی
( ببخي لږه چوپتیا):
د هغه له زړه نه رحم کډه کړې ده.
ځکه مې له هغه نه تاسې ته پناه راوړې ده.
(دردمن انداز):
زه نور له تاسې سره اوسم.
زه به تاسې ته له هغه نه ډېرې ګیلې وکم.
ای دښتې! ما په خپلې لمنې کې راونغاړه.
زه له تاسې بل چېرته نه ځم.
( اشرف دې اخرنۍ جمله په داسې زنګېدلې بڼه ووایي، لکه خوب چې ورځي. هغه د یوه خوبولي په څېر په کاڼو سر کېږدي او ویده شي، خو تر فلش فارورډ وروسته له خوبه په هیبت راویښ شي. ساه و تیګاه وي. ودرېږي، شا و خوا وګوري او له ډاګ نه د ښار پر لور ور روان شي).
نوټ: کتاب یې هېر نه شي.

ځلورمه صحنه: (خوب یا فلش فارورډ).
ځای: یوه لویه ویاله، چې په غاړه یې شنې ونې هم ولاړې وي.
وخت: سهار وختي.
لوبغاړي: اشرف او یو ډېر پاک سپین ږیری، چې اوږده ږیره، سپېځلې څېره او سپین اوږد کمیس یې اغوستی وي.
(اشرف ډېر غمجن ونې ته ډډه وهلې وي او اوبو ته ګوري):
سپین ږیری
( په درانه او حکیمانه غږ):

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ای ځوانه! له دې اوبو نه د ژوند راز زده که.

( اوبه دې وښودل شي):

څومره نرمې دي، خو ودرېږي نه.

( اشرف په حیرانۍ پرته له مخامخ شاو خوا وګوري):

سپین ږیری

ـ پاڅېږه! د دغو اوبو په څېر له ټولو خنډونو تېر شه!

( اشرف په وېره وېره کرار کرار پاڅېږي، بیا شا و خوا وګوری، خو چې څه ونه ویني، نو مخ اسمان ته ونیسي، فکر کوي، چې ګنې له پاسه راته خبرې کېږي):

اشرف

ـ خو له ما نه اوبه هم ښې دي، هغه خو یو لوری لري!!

( دسپین ږیري خفیفه خندا او بیا په نرمه لهجه):

( د اشرف لړه وېره):

سپین ږیری

ـ ولې ته دا هم نه شې کولی؟ د ژوند لاره خو به ځان ته پخپله مومې!

( د اشرف له ځانه سره لږ د شرمېدو احساس):

اشرف

( په څېره کې سپېڅلتیا):

ـ خو زه د نورو غم اخیستی یم.

سپین ږیری

ـ په رښتیا چې ته ښه انسان یې، خو دا یې لاره نه ده.
دسې څه وکه، چې ډېرو ته دې خیر ورسېږي.

( اشرف په لږې خوشالۍ):

اشرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زم ( زه هم) همدا غواړم.
همدا مې هيله ده.
سپين ږيری
ـ لاس دې راکه!
( اشرف چې وګوري، نو په دې وخت کې ورته سپين ږيری مخامخ له ويالې نه پورې غاړه ولاړ وي. اشرف لومړی لږ ووېرېږي او په داسې حال کې چې لږ هغه ته وګوري، لاس د پورې وتو لپاره ور اوږد کړي، خو په دې وخت کې يې پښه د ويالې په منځ کې راشي، سپين ږيري ته يې لاس ونه رسېږي، وياله کې ولوېږي او له خوبه ويښ شي).

پنځمه صحنه:
ځای: ښار.
وخت: سهار.
لوبغاړي: اشرف.
( لومړی دې د ښار د يوې ښکلې برخې لنډ شاټ واخيستل شي، ورپسې دې يو ښکلی لوړ بېلډېنګ په ټېل ډاون شاټ وښودل شي او کمره دې پر اشرف فوکس شي، چې نوموړي ودانۍ ته په حيرانۍ وګوري. له دې ځايه روان شي، خو يو څو ګامه وروسته اشرف پر يوه دېوال يو اعلان، چې په لږ لوی ليک ليکل شوی وي، ووينې):
اعلان
ـ هنر تلوېزون يوه داسې پروډيوسر ته چې يوه نوې او خلکو ته ډېره اغېزمنه خپرونه جوړولای شي، اړتيا لري. مينه وال کولای شي، چې په لاندې شمېره زر تر زره اړيکې ونيسي.
د اړيکو شمېره:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۰۷۷۷۷۷۷۷۰۰

( اشرف له ځانه سره اعلان ولولي، په څېره کې يې د ورتللو نښې پيدا، خو لا په فکر کې وي او بيا چټک روان شي ).

شپږمه صحنه:
ځای: يوه ښکلې لويه ودانۍ.
وخت: سهار.
لوبغاړي: نشته.

( لويه ودانۍ دې يو لنډ شاټ وښودل شي).

اوومه صحنه:
ځای: د ودانۍ دننه يو لوکس دهلېز.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: اشرف.

( په دهلېز کې کې کوچونه پراته وي. اشرف ورشي او پر يوه کوچ څه شېبه فکرمن کېني).

اتمه صحنه:
ځای: د تلوېزون د مشر کوټه.
وخت: سهار.
لوبغاړي: اشرف، د تلوېزون مشر او يو بل لوکس هلک.

( لومړی دې د کوټې دننه وښودل شي، چې يو قواره دار سړی چې د چينل مشر وي، پر لوکسه چوکۍ ناست او مخې ته يې لوی مېز پروت وي، هغه بل هلک د هغه مېز ته نږدې ولاړ وي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د تلوېزون مشر**

**ـ تاسې اوس تلی شئ!**

**( هلک له کوټې ووځي او اشرف پر چوکۍ مخامخ کېني):**

**( مشر لومړی ځان لږ بوخت او بیا په سنجیده انداز):**

**مشر**

**ـ ښه ځوانه ته داسې کمه ( کومه ) ځانګړتیا لرې، چې یوه نوې خپرونه جوړه کې؟**

**( په فلسفیانه انداز):**

**اشرف**

**ـ رښتیا هم په نړۍ کې هر څه ډېر دي، خو نوښت کم دی.**

**( مشر په سترګو کې د سنجیده توب حرکت وکړي):**

**مشر**

**ـ په دې هر څوک پوهېږي، دې کې خو شک نشته.**

**اشرف**

**ـ خو څوک چې پیاوړی احساس او عاطفه ولري، کېدای شي، چې په هنري برخه کې یو ستر کار وکي.**

**( مشر په حیرانی وروګوري):**

**مشر**

**ـ خو ځینې خلک په خوله ډېر څه وئ او په عمل کې یې بیا نه شي ثابتولی.**

**اشرف**

**ـ خو زه چې څه ویم هغه کولی هم شم.**

**مشر**

**( په لږې حیرانۍ):**

**ـ هغه څنګه؟ تاسې څنګه کولی شئ، چې داسې یوه نوې خپرونه جوړه کئ، چې نوې دې هم یي (وي) او خلکو ته دې ډېره ګټه هم ولري؟.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف

ـ صیب! د هر څه نه مخکې باید یو نوښتگر ځان ته هدف وټاکي. بیا دې په دې سوچ وکي، چې دا ټولنې ته څومره ګټه لري. که چېرته په کې یوازې د هغه د ټولنیزونو دردونو، انساني عاطفې او ښکلا متره پیاوړې وي، نو بیا به یې د کار په ښه والي کې هېڅ شک نه یي.

( مشر د هغه د خبرو په جریان کې دوه ځله اشرف ته داسې وګوري، لکه د هغه خبرې چې ورته ډېرې عالي ښکاره شوې وي).

مشر

ـ دا دې منم، خو د خپرونې د نوښت په برخه کې به څه کوئ؟

( لږ سنجیده):

اشرف

ـ په دې برخه کې زه داسې وړتیا لرم، چې نور یې نه لري.

( د مشر حیراني):

اشرف

ـ زه کولی شم، چې د حیواناتو احساسات د هغوی له سترګو  ولولم.

( به لږې موسکا):

مشر

ـ دا خو رښتیا هم عجیبه پوهه ده.

په لومړي ځل داسې خبره اورم.

اشرف

ـ موږ او تاسې پېړۍ وشوې، چې پر انسانانو خبرې کوو، له هغوی سره مرکې کوو، خو زه غواړم، چې په حیواناتو داسې خپرونه جوړه کم، چې ساری یې نه یي.

( په خوشالۍ او حیرانۍ):

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر

ـ خو د هغوی د خبرو ستونزه به څنګه شي.

حیوانات خو خبرې نه شي کولی.

اشرف

ـ دا هم اسانه ده، دا مسله په دوبله حل کېدی شي.

مشر

( په یوه اندازه خوشالۍ):

ـ واه! رښتیا چې په زړه پورې خپرونه به يي . له همدې اوس نه ته دا کار پیل که.

که چېرته دې خپرونه بریالۍ وه، نو د پنځو کالو قرارداد به درسره لاسلیک کم.

بریالیتوبم غواړم.

( اشرف پاځېږي):

اشرف

ـ سمه ده.

( او له دې سره له کمرې اوځي شي).

نهمه صحنه:

ځای: د کابل د ښار یو برخه.

وخت: سهار.

لوبغاړي: نشته.

( د کابل د ښار یو لنډ شاټ دې له یو لوړ ځای نه واخیستل شي).

لسمه صحنه:

ځای: د کابل ژوبڼ.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: اشرف، د تلوېزون کمره وال، د ژوبڼ مسوول..

(c) ketabton.com: The Digital Library



( لومړی دې یو لنډ شاټ  د ژوبڼ په دننه کې په پنجره کې زمری وښودل شي. بیا دې اشرف چې اوږد تور د تېرو څوکو بالاپوش یې د یوه تور پتلون سره اغوستی او تور پکول یې په سر او د سر د شا د برخې وېښته یې اوږده وي، له کمره وال سره چې کمره له مخکې نه په تري پاټ ترلې وي، د زمري پنجرې ته ورشي. کمره د زمري پنجرې ته د عکاسۍ لپاره عیاره وي. د اشرف په لاس کې مایک وي، د زمري پنجرې ته په ارام او سنجیده توګه کېني، د مخ عجیب تاثرات یې ښکاره شي، کمره وال له ځانه سره وړه موسکا وکړي):

اشرف زمري ته

( په دردمن انداز):

ـ سلام د ځنګل پاچا!

( لومړی دې اشرف، بیا زمری او بیا دې اشرف وښودل شي).

اشرف

ـ  تا ته دا لقب د ځواک او که ستا د خونړیتوب له امله درکړل شوې؟

( لومړی دې د زمري مخ وښودل شي او بیا دې یوه لنډه خندا او بیا په یو لوی غږ کې دا خبرې واورېدل شي):

د لوی غږ خبرې

ـ څومره بې انصافه یې!!

تا ته لکه چې خپل خونړیتوب نه ښکاري؟!

ووایه تا کوم ظلم ونه که؟!

( درې څلور داسې تصویرونه دې وښودل شي، چې د ماشومانو وینې او د ظالمانو وحشتونه په کې ښکاري، د اشرف په مخ کې دې درد او خولې ښکاره شي، په داسې انداز پاڅېږي، لکه چې پر بدن یې ډېره سخته وي، اسمان ته ګوري او پرې وځرخي. د زمري سترګې دې وښودل شي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لوی غر خبرې**
**ـ تا خو داسې څه وکړل، چې د ځنګل په ټول تاریخ کې چا نه دي کړي.**
**( د جنګ بربادۍ دې وښودل شي، بیا د زمري سترګې):**
**د لوی غر خبرې**
**ـ همدې انسان د یتیمانو وینې وپلورلې، خلک یې په وینو ولمبول، خو په پای کې تر ټولو معزز شول.**
**( د یتیمانو او زخمیانو عکسونه او د پانګوالو لوکسې موټرې چې پلېټ یې عکاسي نه شي، بیا د اشرف هیجاني څېره):**
**د لوی غر خبرې**
**ـ ته وګوره، چې ستا په چم کې څومره لېوان او پړانګان ګرځي؟! په کار خو دا وه، چې زما پر ځای په دې پنجره کې هغوی پراته وای!**
**( د اشرف د ملامتې څېرې یو شاټ):**
**خو هغوی لا اوس هم د نورو وینې څښې.**
**( د شرابیانو د شرابو او کبابو محفل دې وښودل شي او بیا بېوزلي خیرن ماشومان).**
**( د زمري د سترګو کلوز):**
**لوی غر**
**باور دې وشه، چې په ځنګل کې هم نظم شته، هلته بېوزلي له لوږې نه مري، خو ستا په چم کې هره ورځ دا کار کېږي.**
**( د بېوزلو عکسونه چې پر ځمکه پراته وي):**
**رښتیا ووایه، ستا په چم کې چې څوک اوسي، هغوی له ما خونړي نه دي؟!**
**ته او خدای، همداسې نه ده؟!**
**( د اشرف د سترګو د ملامتۍ ټیټېدل.)**
**( اشرف په ملامته انداز چې په څېره کې یې یو سخت حالت وي، اسوېلی وکړي او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڅېږي، کمره وال وړه موسکا وکړي، خو اشرف د ګيدړې پنجرې ته په فکرمن انداز کښني او ګيدړې ته ووايي):

اشرف

( په لړ لړزېدلي غږ)

ـ مګر او چل پست صفتونه دي، تا ولې خپل کړي دي؟

( د ګيدړې پر ځای په نري غږ کې لومړی لنډه خندا او بيا د تمسخر په انداز خبرې):

د نري غږ خبرې

ـ اوس يې خوند وکه!

ته او خدای مکرجن زه يم او که ته؟!

( د اشرف حيراني):

د نري غږ خبرې

ـ ګوره! ستا چې کوم مکر زده دی، نو زما نيکه ترې هم خبر نه و.

( د اشرف د حيرانۍ حرکت):

د نري غږ خبرې

ـ د خپلو ګټو لپاره دې په سلګونو چلونه زده دي.

( د انسان د چالاکۍ يو مناسب شاټ)

کومه لوبه ده، چې ستا زده نه ده؟!

( يو بل مناسب شاټ):

د وخت سره څومره ښه چلېږې!!

( د يو سړي د اوږدې ږيرې تصوير او بيا د هغه ښويه مخ).

آن چې د ځان لپاره په هېڅ هم اړ نه يې.!

( د يوه سوي ټانک خرڅول):

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څومره خلکو وينې دې ونه پلورلې ؟!
خو ځان تر هر چا لوړ ګڼې.
( د تسپو د اړولو شاټ)
( د اشرف حيراني):
نوم زما بد دی، خو کارونه ستا د ګيدړانو دي.
(يو سړی چې بل ته بې غږه چاپلوسي کوي).
ولاړ په لمانځه يې، خو زړه دې له سلو چلونو ډک وي.
( يو څوک پر لمانځه ولاړ او بيا غلا ي بل بد کار کوي).
د نري غږ خبرې
ـ ته رښتيا ووايه، تر تا به بل لوی د مکر ګوډی يې ( وي)؟!
ګوره مکاره! وس هم د خپلې ګټې پسې راغلی يې!
( لومړی دې د ګيدړې سترګې او بيا دې د اشرف د ملامتيا حالت وښودل شي، د اشرف د حيرانۍ يو بل شاټ. اشرف بيا په خپګان پاڅېږي، خو لږ وروسته يوه لويه پنجره چې تشه وي، ويني. د ژوبڼ مسوول ته وايي):
اشرف
( په فکر او درد سره):
ـ کاکا! هغه پنجره ولې تشه ده؟
د ژوبڼ مسوول
ـ هغه د پړانګ پنجره وه.
اشرف
ـ پړانګ څه شو؟
مسوول
ـ هغه خو څو ورځې مخکې له لوږې مړ شو.
اشرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په حیرانۍ):

ـ له لوړې؟!

مسوول

ـ هو، هغه له لوړې مړ شو.

( اشرف کمره وال ته مخ ورواړوي):

اشرف

( په غمجن انداز):

ـ ته څه، زه نه ځم.

( هغه وروګوري، خو دې کې اشرف په منډه د پړانګ پنجرې ته ننوځي او دروازه په ځان پسې کلکه بنده کړي. مسوول په بیړه ورشي):

مسوول

( په حیرانۍ):

ـ دا څه کې دا خو د پړانګ ځی دی.

( په سنجیده انداز):

اشرف

ـ کاکا! زه له پړانګ نه خونړی یم.

( د مسوول د مخ حیراني):

اشرف

( په درد سره):

ـ زه نور تر مرګه له دې ځایه نه ځم.

ـ غواړم چې د جنایتکارنو په ځی خپل ځان محاکمه کم!!

مسوول

( په عجیبه حیرانتیا):

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ته د خپله لاسه ځان وژنې؟!
ولې؟
( د سترګو لړ پورته والی):
اشرف
( په دردمن او زنګېدلي انداز):
هو. له هغوی سره له ژونده راته په دې پنجره کې مړینه ډېره اراموونکي ښکاري.
ډېره.
( وروستۍ کلیمه دې په ډېر دردمن انداز او لړه اوږده ووایي).

( او له دې سره دې کمره ورو ورو اشرف ته نږدې او هغه خپل سر په دواړو ځنګلو چې پر زنګنونو یې ایښې وي، داسې کېږدي، لکه رښتیا هم چې له نړۍ نه ډېر ناخوښ وي).
یادونه: د ګیدړې او ژوبڼ له مسوول سره د خبرو پر وخت د اشرف او مسوول اضافی شاټونه هم په کارېږي، وادېخیستل شي.

پای.

وزیر اکبرخان ـ کابل. ۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پاڼ پر غاړه

**(تلوېزوني ډرامه)**

## د کرکټرونو پېژندنه:

**۱ـ سبا: داولسوکلونویوه ښکلې جنۍ،چې معصومه څېره ولري. ددولسم ټولګي متعلمه،دافغاني پښتودتلفظ وړتیاولري. لباس یې دبېوزلانووي،ځکه دیوه غریب کوراوسېدونکې وي. پرته له واده یې لباس افغاني او زوړ وي. یانې کوچیانی .لباس نه وي. د اداکارۍ ټاپه وړتیا ولري.**

**۲ـ یوه بله داسې ښځه چې له وجودنه کمزورې اوناروغه ښکاري، پنځوس کاله عمرولري، د پخوانیو کلیوالو زړې جامې یې په تن کې وي،ښه ممثله وي. دا ښځه د سبا مور ده.**

**۳ـ اسد: د۲۴کلونویوځوان،چې رنګ یې سور ته ورته او تند خویه وي. د اکشن وړتیا ولري، دا د سبا ورور وي.**

**۴ـ دبلیارد والا هلک: د اسد په عمر یوه بدرنګه څېره چې لوفر مزاجه وي.**

**۵ـ دډاګ سپین ږیری: ٦۰کاله عمرولري،نوراني څېره یې وي. په سترګواوغږ.کې یې اثر وي اوپه تمثیل ښه پوه شي.**

**٦ـ ګیتا: دیوه دولتي ریس لور،چې دسباټولګیواله وي. ښه ژوندلري اوماډرن لباس اغوندې اوکبرجنه وي.**

**۷ـ ریس صیب: داویا کالو په عمر سړی، چې شیطاني سترګې ولري او سبا ځان ته ودوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸ـ دوه نوردپاخه عمر سړي.
۹ـ یوه بله ځوانه جنۍاودوه هلکان چې د یارانې او نازونو وړتیا ولري.
فرعي کرکټرونه: لسګونه.
۱۰ـ د رئیس دوه وسله وال کسان:

لومړۍ صحنه:
ځای: یو پراخه لوکس کور، چې چمن هم ولري.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: سبا او ګیتا.

( لومړی دې یو لنډ شاټ نوموړی ښکلی کور وښودل شي، بیا دې ګیتا وښودل شي، چې له سبا لرې په یوې لوکسې چوکۍ ناسته او په ناز ناز یوه فلمي مجله ګوري، بیا کمره پر سبا فوکس شي، چې خپل سر یې په زنګنونو باندې ایښې او وېښتان یې راځوړند او میک اپ یې کړی نه وي. څه شېبه وروسته چې سر پورته کړي، ځان خپه او یوه وړه سلګۍ وکړي او بیا یې پر اننګو اوښکې راروانې شي. سبا اوښکې د خپل پړوني په پیڅکي وچې کړي او بیا یې په مخ کې داسې تاثر پیدا شي، لکه همت چې په کې پیدا شوی وي. له دغه ځایه په بیړه پاڅېږي، شا وخوا په وېره وېره وګوري او د کور له لویې دروازې داسې ووځي، لکه څوک چې تښتي.
نوټ: د سبا همدا جامې دې په پام کې ونیول شي، چې په دښته کې بیا غلطې نه شي.
دویمه صحنه:
ځای: یوه دښته، خو چې لاندې ترې ژور پاڼ وي.
وخت: مازیګر.
لوبغاړي: سبا او یو بزرګ انسان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( لومړی دې یو پاک د ښکلې څېرې سپین ږیری وښودل شي، چې پر لمانځه ناست وي، خوا کې یې د لرګي وړې تسپې هم پرتې وي او بیا دې یو شاتې سبا وښودل شي، چې د سپین ږیري پر لور د سلوموشن په منډه رارروانه وي، د هغې د منډې پر وخت دې د دې سندرې نغمه په بیک ګراونډ کې واچول شي: د چا په زړه کې ارمانونه په سلګو پراته وي... سبا د پاڼ پر ژۍ سترې ستومانه ودرېږي، د پاڼ ژورالی دې هم وښودل شي. له همدې سره سپین ږیری هم سلام وګرځوي. سبا له سترپا ساه او تیګاه وي، چې سپین ږیری ورته په لږې حیرانۍ وګوري، نو په همدې کې سباهم په نابېره توګه وروګوري، د سبا په مخ کې لږه وېره پیدا شي ).

( په لږه وېره):

سبا

ـ کاکا! ته څوک یې؟ ته دلته څه کې؟

( هغه په ډېرې لږې موسکا په داسې حال کې چې دعا کوي، وروګوري اوبیا ورته ووایي):

سپین ږیری

ـ خپله ستونزه وایه،

داسې ښکاري، چې کوم غم درپسې دی؟

سبا

ـ هو، خو غواړم چې نوره تې خلاصه شم.

( په لږه مینه)

سپین ږیری

ـ ته نه پېږې چې ځانوژنه څومره لویه ګناه ده؟!

د ژوند قدر په کار دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سبا**

**ـ خو ما ته نورد نیمګړي ژوند نه پوره مرګ ښه ښکاري !**

**( لږه موسکا):**

**سپین ږیری**

**ـ همدا خو د ښځو لویه تېروتنه ده.**

**هغې تل ځان احساساتو ته سپاري.**

**( لږ په جذباتي ډول):**

**ـ کاکا! بې انصافې مه کوه،**

**نران له منږه ډېر په دې کې شریک دي.**

**سپین ږیری**

**ـ سهي ده، خو په دې کې د ښځو ونډه، هم ډېره ده.**

**ګناهوې له دواړو نه کېږي.**

**سبا**

**ـ دا نه منم، دا سهي نه ده..**

**زموږ هر څه د نرانو د لاسه وران دي.**

**خو هغې کله هم خپله خطا نه مني.**

**سپین ږیری**

**ـ او که زه درته ثبوت وړاندې کم؟!**

**( سبا لږه په حیرانۍ وروګوري):**

**سپین ږیری**

**ته وګوره دا څوک ده؟**

**( سپین ږیری او سبا دواړه مخ داسې وګرځوی، لکه دواړه چې یو شي ته ګوري. په دې وخت کې دې د پاکېزه فلم د دوپټه میرا سندره د یوې دقېقې لپاره وښودل شي).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په سنجيده ډول):
سپين ږيرى
ـ په دې کې راته څه وی؟
سبا
ـ دا به هم حالاتو مجبوره کړې يي،
ګنې د هر انسان شرافت خوښ دی.
سپين ږيرى
ـ خو همدا شرافت  په ډېرو ځايونو کې توپير لري.
مانا دا چې ستا د خاورې د خلکو شرافت ښايي د نورو له شرافت سره فرق ولري.
( په فکرمن او سواليه ډول):
سبا
ـ  کاکا!په دې پويه نه شوم!!
سپين ږيرى
ـ ښه دې ته وګوره!!
( دواړه بيا د پورته په ډول هغه ځاى ته وګوري، يو بهرنى اشتهار دې وښودل شي،
چې جنۍ په کې په نيمه بربنډ ډول د يوې د قېقې لپاره کار کړی وي).
( د سبا تاثر دې وښودل شي او سپين ږيرى په لږ فاتحانه ډول):
سپين ږيرى
ـ دې کې څه وی ( وايې)؟
سبا
ـ په دې کې هم د ښځې په وجود سوداګري شوې ده،
دا هم د نر ظلم دی.
سپين ږيرى

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ کېدای شي، چې همدا جنۍ دا کار د خپل ځان لپاره ویاړ وګڼي.**

**سبا**

**ـ کاکا! ما سره ددې ځی دښځو په اړه ګړېږه**

**زه چې څه غواړم هغه د نورو سره فرق لري!.**

**زموږ ښځې خو په تیاره کې هم ستر کئ.**

**خو په دې کې هم راته له حیوانه په ټیټه سترګه کتل کېږي.**

**( د سپینږیري لږه حیراني):**

**سپین ږیری**

**زه تا نه دا پوښتنه کوم، چې ښځه باید چا ته ځان سینګار کي؟**

**سبا**

**ـ ما اورېدلي، چې یوازې خپل خاوند ته د ښځې ځان سینګارول روا دي.**

**سپین ږیری**

**ـ چې دومره پېږې. نو دا جنۍ ولې دسې کئ؟**

**دواړه بیا هغه لوري ته وګوري؟**

**د فلش فارورډ لومړۍ صحنه:**

**ځای: یو دفتر.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: یوه ځوانه جنۍ او دوه هلکان**

**( یو دفتر کې دې یوه ځوانه جنۍ وښودل شي، چې لګیا وي، د خپل ځان غلیظ میک اپ وکړي، ورپسې دوه هلکان راننوځي، د یوې د قېقې لپاره ورسره داسې خبرې وکړي):**

**یو هلک**

**او هو، ماشاالله.**

**نن خو بېخي د مادوبالا غوندې ښکارې؟!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( جنۍ له نازه تاوه راتاوه شي).
بل هلک: قسم په خدای چې په کمه ورځ دفتر کې نه يې نو دا ځی راته يو کنډر ښکاري.
( له دې سره جنۍ او بيا درې واړه په خندا شي).
جنۍ
ـ مننه!
( د دې صحنې په ختمېدو سره د سبا په څېره کې لږ خپګان پيدا شي):
سبا
ـ خو کاکا! ټولې ښځې دسې نه دي.
له هغه څه نه چې پسات پيدا کېږي،
زه تې هم امان غواړم.
سپين ږيرى
ـ لورې د دې نه مې دا مطلب و، چې يوازې سړي ګناهګار نه دي،
ښځې هم ډېرې لويې تېروتنې کئ !!
سبا
ـ کاکا!تا خو ما نه ډېرې پوښتنې وکړې،
خو اوس زما د پوښتنې ځواب هم راکه!
د سپين ږيري لږ په حيرانۍ کتل
سبا
ـ زما کيسې ته هم وګوره!
( سبا او سپين ږيرى دواړه هغه لورې ته وګورې او د فلش فارورډ دا صحنې پيل شي، له دې وروسته دې د صحنو رنګ په ابډېټ کې لږ تغير شي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د فلش فارورډ دویمه صحنه:**
**ځای: د سبا دوی زوړ کور.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: سبا او مور یې.**

**( د سبا مور په کټ کې پرته وي، لږ وروسته د امسا په زور له کټه راپاڅېږي، چې همدې کې سبا د ښوونځي په جامو کې کور ته راننوځي):**

**مور**

**ـ میراته دې شي، د دې ښېې د درد د لاسه ودرېدې نه شم.**

**سبا**

**ـ مورې ته کېنه، زه خپله ځان ته ډوډۍ تیاروم.**

**( مور یې په تکلیف بېرته په کټ کې کېني او سبا دسترخوان ځان ته وغوړوي، یوه د تبۍ له نیمایي لږه ډېره، سړه ډوډۍ په کې وي. زر زر یو دېگ ولټوي، خو څه په کې نه وي):**

**مور**

**ـ لورې! په هغه بل دیکچي کې لږه شړومبه شته.**

**( سبا یې راواخلي او په مینه مینه ډوډۍ خوري):**

**سبا**

**ـ مورې! دا لالا به راته درې سوه روپۍ رانه کي؟**
**کتابچو ته مې په کار دي.**
**( اسوېلی)**

**مور**

**ـ هغه که سړی وی، نو دا حال بم نه وی!**
**د کور د هر څه نه یې خلاصه کړم.**
**تا ته به لورې څه درکي؟!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( سبا ډوډۍ په مینه خوري)
سبا
ـ مورې مه خپه کېږه، خدای به په منګم رڼا راولي.
چې سږکال د مکتب نه خلاصه شوم،نو د ماشومانو استاذه به شم.
اول به ستا علاج کوم!
مور
ـ لورې! خدای دې راته تا لري.
د ځینو زامنو نه خو لورګانې ښې دي.
سبا
مورې! د جامو او د چپلکو سره خو مې ډېره ګوزاره وکړه،
خو کتابچې مې ډېرې ضرور په کار دي.
( مور ډېره خپه شي، لږ سکوت وکړي)
سبا
مورې! یوه خبره درته کوم، که ته راته اجازه راکې!
( مور ورته په خپه سوالیه انداز وګوري):
سبا
ـ دا رئیس کاکا! راته ښه سړی ښکاري،
خوښه دې نه ده، چې ماسپښیني هغۍ کره کار کوم.
مورې! که رشتیا درته وویم، نورې مې ملګرې راپورې ډېرې خاندي.
( د سبا په پښو زړې چپلکې دې وښودل شي)
( لږ په مینه):
سبا
زما او ستا د دواړو ګوزاره به پې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( خپګان):**

**مور**

**سهي ده لورې!**

**ډېره ګوزاره دې وکړه، خو زم چې ګورم، بله لار نشته.**

**( دردمن انداز)**

**سبا**

**ـ مورې! ډېر شرم خو به نه يي؟**

**مور**

**ژور اسويلی**

**د پېښې نه تېښته نشته**

**شرم په سوال کې دی، په کار کې به څه شرم يي!**

**سبا**

**ـ مورې هغه لالا خو به مې راته څه نه وئ؟**

**مور**

**( د خپګان يو حرکت او په تللي انداز):**

**ـ لالا کې که دې غيرت وی، نو دا حال بم نه وی؟**

**( کمره دې کرار کرار کلوز شي).**

**د فلش فاروړډ دريېمه صحنه:**

**ځای: د بليارد يو کلب**

**وخت: مازيګر.**

**لوبغاړي: اسد او درې کسه نور.**

**نوټ: په دې صحنه کې د اسد خبرې نرمې او د هلک انداز بايد په تدريجي ډول توند وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( اسد د یوه بل لوفر ډوله غونډې هلک سره دیوې دقېقې لپاره بلیارد وکړي او لوبه بایلي).

هلک

ـ راوباسه!

په نرمه

اسد

ـ ځه، دا بم د هغه نورو سره درکم.

اوس راسره نشته.

هلک

جدت

ـ راوباسه نن درنه ټولې غواړم.

ستا یوه ورځ نه ده، هره ورځ نشته، نشته.

اسد

ـ خو درته ومې ویل، چې نشته.

( هلک یې له ګرېوانه ونیسي):

هلک

په توندۍ او د سترګو په راویستو

ـ راکی یې او که درنه واېخلم؟

( همدې کې پرې هلک ګوزار وکړي، د یوې د قېقې لپاره اسد ووهل شي، د اسد له پوزې وېنې روانې وي، د بلیارد مالک یې ترې خلاص کړي، خو اسد ورته له ځایه د وتلو پر وخت په غوسه ووایي):

اسد

ـ زه به تاسره ګورم!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فلش فارورډ څلورمه صحنه:
ځای: د ښار یوه کوڅه.
وخت: سهار.
لوبغاړي: سبا او یو لوچک هلک.
( سبا ښوونځي ته په زړو جامو کې په یوه لوی پړوني کې روانه وي، چې تر یوې دقیقې مزله وروسته یو لوفر هلک پر بایسکل سپور مخامخ ورته راشي او ورته ووایي):
لوفر
ـ ښاپېرۍ راغلې؟
دا نومره خو دې راکه کنه!
( هلک ورته کاغذ ونیسي، خو سبا ترې تېره او کاغذ پر ځمکه ولوېږي، هلکه د لوچکۍ یو اکټ وکړي).

د فلش فارورډ پنځمه صحنه:
ځای:
وخت:مازیګر.
لوبغاړي: اسد او مور یې.
( د اسد زړه مور په زاړه کټ کې ناسته او تلاوت کوي، چې اسد دستمال پوزې ته نیولی او راشي، د مور یې پرې سترګې ولګېږي، په لړ هیبت وروګوري):
مور
په افسوس
ـ لکه چې بیا دې جنګ کړی دی؟
اسد

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لړې غوسې
ـ بس ته خو همدې پوښتنو ته ناسته یې!
روپۍ یوه نه لرې او د خبرو دې حساب نشته.
مور
ـ نران د ښځو نه روپۍ نه غواړي.
د دې جنګونو په ځی چې دې مکتب ویلی وی، څومره به ښه وی!!
اسد
بس، بس، زما لس زره روپۍ په کار دي.
( د حیرانۍ موسکا):
مور
ـ وئ، چې یو څوک د ولړې نه مړ کېده او بل یې سر ته پراټې لټولې.
اسد
د کړتنو خلکو خو همدا متلونه زده یې
په توندۍ
بس نوره غلې شه.
( مور یې ځان غلی او خپل تلاوت شروع کړي):

د فلش فارورډ شپږمه صحنه:
ځای: د رئیس د کور چمن.
وخت: ورځ
سپین ږیری رئیس او سبا.
( اویا کلن رئیس پر چوکۍ چمن کې ناست وي، یو اخبار لولي، چې د کور د دروازې زنګ یې دوه ځله ووهل شي، رئیس دروازې ته ورشي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا

ـ رئیس کا کا! سلام علیکم.

رئیس

ـ وعلیکم، خیریت دی؟

سبا

ـ کاکا! زما نوم سبا دی، ستاسې نږدې ګاونډۍ یم.

( رئیس لاندې باندې وروګوري):

سبا

ـ ګیتا مې همصنفۍ ده. غواړم چې ماسپښین کې ستاسې د کور کار وکم.

رئیس

ـ خبره خو دې بده نه ده، خو روپۍ څومره غواړې؟

سبا

ـ څه چې تا ته مناسب يي.

رئیس

ـ سمه ده، هسې هم زه یوازې یم، همدې ورځو کې مې مزدور شړلی دی.
همدا نن نه دا کار شروع که.

( په یوې اندازې خوشالۍ سره):

سبا

ـ رئیس کاکا! مننه.
زه به همدا اوس جارو شروع کم!

( د ننه رئیس پر چوکۍ کښني او سبا د کور جارو پیل کړي، خو رئیس ورته په شیطاني انداز دوه ځله وروګوري.

**د فلش فارورډ اوومه صحنه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځای: د یوې ونې ډډ.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: اسد.**

**( اسد په فکر من انداز دیوه شنه ځای سره سیګرټ داسې څکي، چې لوخړې ترې باسي، بیا یې د بلیارد د جنګ صحنه لړه سترګو ته ودرېږي او له ځایه په بیړه پاڅېږي):**

**د فلش فارورډ اتمه صحنه:**
**ځای: د سبا کور.**
**وخت: مازیګر.**
**لوبغاړي: سبا او مور یې.**

**( مور یې په زاړه کټ کې پرته وي، چې سبا کور ته راننوځي، د مور یې ورته پام شي):**

**مور**

**ـ لورې راغلې، ستړې مه شې.**

**سبا**

**خدای دې وبښه.**

**( په مینه):**

**ـ مورې! تا ته مې څه راوړي دي.**

**( د ډېش سر خلاص کړي، د رئیس د کور یخني په کې وي):**

**مور**

**ـ لویه شې، خو دا خیر دی، مه راوړه.**

**(په حیرانۍ):**

**سبا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ ولې مورې؟ دا خو هغې نه خوړه!**

**مور**

**ـ لورې! څوک چې په مفت شي عادت شي، د هغې نه همت ځي.**

**( سبا لږه فکرمنه شي):**

**مور**

**ـ کار خو به دربانديې ډېر نه يي؟**

**سبا**

**ـ کار دومره نشته، خو رئيس کاکا راته لږ بل بل قسم ګوري.**

**سنجيده**

**مور**

**ـ لورې! دا به ستا شک يې**

**هغه خپله د ګور په غاړه ولاړ دی.**

**د فلش فارورډ نهمه صحنه:**

**ځای: د رئيس د کور مخه.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: رئيس او اسد.**

**( رئيس امسا په لاس له کور راووځي، چې له لږ مزله وروسته يې اسد مخې ته ورشي):**

**( په لږې چاپلوسۍ):**

**اسد**

**ـ رئيس کاکا سلام عليکم.**

**( لاندې باندې وروګوري):**

**وعليکم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( یو بل ته د سترګې مه شې لاسونه ورکړي):

اسد

ـ څنګه یې، صحت دې څنګه دی؟

رئیس

ـ هلکه و مې نه پېژندې؟!

اسد

ـ زه د سبا ورور یم.

رئیس

ـ خدمت وایه!

اسد

ـ یو لس زره افغانۍ مې په کار دي.

( په حیرانۍ):

رئیس

ـ لږېم نه، لس زره؟

اسد

ـ هو، لس زره، رئیس کاکا! زر به یې درکم.

( رئیس سر لږ ټیټ کړي):

رئیس

ـ ته خو هېڅ هم نه لرې او وعده دومره کلکه کې؟

( اسد سترګې لږې ټیټې کړي، خو د رئیس په خیال کې د سبا د فلش بیک صحنه سترګو ته ودرېږي او په موسکا ورته ووایي):

رئیس

ـ هلکه خپه نه شې، واخله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( پیسې ورکړي، اسد خوښ او رئیس ورته په مکارانه توګه وايي):**

**رئیس**

**ـ هلکه پیسې چې دې په کارېدي، غږ کوه!**

**اسد**

**ـرئیس کاکا خیر یوسې.**

**د فلش فاروړډ لسمه صحنه:**

**ځای: د سبا کور.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: د سبا مور.**

**( د سبا مور په داسې بد حالت کې وي، لکه څو ورځې وروسته چې مړه کېږي).**

**د فلش فاروړډ یوولسمه صحنه:**

**ځای: د رئیس دوی کور.**

**وخت: مازیگر.**

**لوبغاړي: سبا او ګیتا.**

**( ګیتا دې وښودل شي، چې په لوکسو جامو کې پر چوکۍ ناسته او د ښوونځي یو کتاب لولي، بیا دې سبا وښودل شي، چې د کور لوښي ډېر جوخت جوخت مینځي، ګیتا په کلانکارۍ مخ وراړوي):**

**ګیتا**

**ـ ای جنۍ! دلته راشه!**

**( هغه لاسونه زر زر ومینځي، پاڅېږي):**

**( په کبرجن انداز):**

**ګیتا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هغه زما کورنۍ وظیفه در سره زر زر خلاصه که.
( په لړې عاجزۍ):
سبا
ـ زه خو ایله په یو ساعت کې د لوښو نه خلاصه شم.
هغه څنګه کم؟
( په لږ امرانه انداز):
ګیتا
هغه م زر خلاص که او نوره به مې هره ورځ کورنۍ وظیفه م کې!
( سبا ورته په خپګان وګوري):
ګیتا
ـ او هن! ګوره چې کله بې ځایه حرکت ونه کې!
( سبا ورته بیا وګوري، په غمجن ډول روانه شي، او په بیک ګراونډ کې یې غمجنه موسیقي وي).

د فلش فارورډ دولسمه صحنه:
ځای: یوه شنه ویاله.
وخت : مازیګر.
لوبغاړی: اسد.
( اسد تر یو څه مزله وروسته له خپلې بډې نه تومانچه راوباسي، په مینه ورته وګوري او په شاجور کې یې ګوتې ووهي او روان شي).

د فلش فارورډ دیارلسمه صحنه:
ځای: د رئیس د کور چمن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت: ورځ.**
**لوبغاړی: رئیس.**
**( د رئیس په خیال کې چې په چمن کې پر یوې لویې لوکسې چوکۍ ناست وي، د یو څو ثانیو لپاره سبا راشي).**

**د فلش فارورډ څوارلسمه صحنه:**
**ځای: یوه کوڅه.**
**لوبغاړي:**
**وخت: ورځ. سبا، اسد،ګیتا او هغه د بلیارد هلک، چې جنګ یې ورسره کړی وي.**
**( سبا کتابونه په لاس راروانه وي، چې هغه هلک یې مخې ته ودرېږي، اسد دې هم یو شاټ له لرې وښودل شي):**
**د بلیارد هلک**
**ـ جنۍ ډېره ښه ښکارې!**
**سبا**
**ـ ته خور و مور نه لرې؟**
**ولې راپسې یې؟**
**د بلیارد هلک**
**ـ لرم، یې خو هغۍ تا غوندې نه دي، په کور کې ناستې دي.**
**( اسد یې وګوري، مزل چټک کړي):**
**د بلیار د هلک**
**ـ دا د موبایل نومره خو دې راکه کنه.**
**سبا**
**ـ درته ویم، بې شرفه مخه مې پرېده**
**هیڅ حیا نه لرې!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( هلک نور هم ورنږدې شي):**

**هلک**

**ـ څوک چې حیا ولري، په کور کې کېني، زر شه نومره دې راکه!**

**( دې کې اسد وروسېږي او د بلیارد د هلک کمیس د څټ له لوري ونیسي، هلک په بدمعاشانه انداز اسد ته مخ ورواړوي، په دې وخت کې سبا وړا ندې تللې وي او په دې پوه شوې نه وي، چې ګنې ورور يې هم راغی):**

**اسد**

**ـ ولې بې شرفه د پردو جنکو مخه نیسې؟**

**( په ریشخند سره):**

**هلک**

**ـ واه! دې ته وايي، پښتون! خور يې په بازارونو کې ګرځي او خبرې د شرف کئ!**

**(په جدي لهجه):**

**اسد**

**ـ ویم که بله خبره دې وکړه، په دې خوله کې دې ولم!**

**هلک**

**( په سپک ډول):**

**ـ کښنه ملولا! ستا لکه چې هغه پخواني وهل هېر دي.**

**( له دې سره لومړی د بلیارد هلک، اسد په یوه کلکه څپېړه ووهي او بیا ورته ووایي):**

**هلک**

**ـ راوباسه پېسې!**

**( اسد پر وهل شوي مخ لاس ایښی وي، لومړی لږ په توندو سترګو وروګوري او بیا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ووايي):

اسد

ـ واخله پیسې!

( او له دې سره يې درې ډزه په تومانچه وولي، لږ ورته وګوري او بیا ترې روان شي).

د فلش فارورډ پنځلسمه صحنه:

ځای: د سبا کور.

وخت: مازيګر.

لوبغاړي: سبا، مور يې او اسد.

( لومړی دې مور وښودل شي، چې په کټ کې ناروغه پرته وي، سبا له کتابونو سره په هماغه لباس کې چې د جنګ په صحنه کې يې په ځان وي، راشي او د مور د کټ سر ته کښني او پر تندي يې لاس کېږدي او په خواشينۍ ووايي):

سبا

ـ مور ې ستا خو ډېره تبه ده.

( مور يې په ډېر تکليف سترګې وغړوي، په همدې کې اسد په ډېره غوسه کور ته راننوځي، سبا ورته له ځايه پورته شي):

اسد

ـ جنۍ! نوره به مکتب ته نه ځې

وادېورېدل؟!

سبا

( په معصوميت):

ـ لالا! زما خو اخرنی کال دی، دا خو نه شم پرېښودې!

اسد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ درته ومې ويل، که نوره د دې دروازې نه ووتې، نو ښپې به دې ماتې کم.
سبا
ـ ته په ما ظلم کی، ما خو ډېره خواري کړې ده!
اسد
ـ د څه شي خواري؟!
سبا
ـ لالا! تعليم زما حق دی!
اسد
ـ د څه شي حق؟!
دلته د نرانو حق نشته او ته د ښځو د حق خبرې کی.
سبا
ـ خو دا زما د ژوند مسئله ده
ما دولس کاله خواري کړې ده.
اخر اوس څنګه هر څه په سين لاهو کم؟!
( اسد سترګې لا پسې سرې کړي):
اسد
ـ ښه زه به اوس تا ته دسې سزا درکم چې ټول عمر دې په ياد يي!!
ته په نيمه نه پېږې!!
( او له دې سره له کوره په بيړه ووځي).
نوټ: په دې صحنه کې دې د هغوی د مور دوه درې ځله کاته هم وښودل شي.

د فلش فاروډ شپاړسمه صحنه:
ځای: د ريس کور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: ګيتا او ريس.**

**( ريس د چمن منځ کې پر چوکۍ ناست وي، چې غږ کړي):**

**ريس**

**ـ ګيتا جانې دلته راشه!**

**( هغه په مينه ورشي او ورته ووايي):**

**ګيتا**

**ـ دادا سلام، څه دې ويلې؟**

**( ګيتا پر بلې چوکۍ کېني):**

**ريس**

**خبره مې دا کوله چې يوازې ژوند تېرول خو ډېره سخته ده.**

**ګيتا**

**ـ زه پويه نه شوم؟**

**ريس**

**ـ مقصد مې دا دی، چې ښځې ته نر او نر ته ښځه ډېره ضرور ده.**

**( په حيرانۍ):**

**ګيتا**

**ـ دادا! خو دا دی، زه دې هر خدمت کوم، ولې ما څه ناغېړي کړې ده؟**

**ريس**

**ـ نه، تا ناغيړي نه ده کړې، خو زړه مې دې چې يوه نوې مور درته پيدا کم.**

**ګيتا**

**( په حيرانۍ):**

**ـ په دې عمر کې؟!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ریس**

**( په مکارانه موسکا):**

**ـ نه دې دي اورېدلي:**

**تر ځوانۍ وي، د پېرۍ مینه غالبه!**

**وي تر شومې غلبه د سحر خواب ډېر**

**( په ګیتا دا خبره بده ولګېږي):**

**ګیتا**

**ـ دادا! په دې عمر کې دا خبرې تا سره ښې نه ښکارې.**

**ریس**

**( په اوږده لهجه او حکیمانه انداز):**

**ـ له ما نه زړو زړو خلکو ودونه کړي.**

**( د ګیتا کرکه دې وښودل شي. چې په دې وخت کې ریس ته زنګ راشي):**

**ریس**

**ـ سلام علیکم.**

**اسد**

**ـ ریس صیب! زه اسد خبرې کوم.**

**ریس**

**ـ اورم.**

**اسد**

**ـ زه پولیسو زندان ته بوتلم، خو زما خبره واوره!**

**ریس**

**لږه حیراني**

**ـ اورم یې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وایه!**

**اسد**

**ـ ما مې خپله خور سبا تا ته درکړه، نور ته پوهېږې او د هغې واده.**

**( ریس ډېر خوشاله شي):**

**ریس**

**ـ د هر څه نه بېغمه شه**

**د زندان پوښتنه به دېم کوم.**

**بند به دېم کم کم.**

**د خدای پامان**

**د خدای پامان**

**سرفرازه شې.**

**( ریس خوشاله وي، چې ګیتا ورته ووایي):**

**ګیتا**

**ـ دادا ډېر خوشاله شوې**

**څه خبره ده؟**

**ریس**

**( کنډاسه خوله له خوشالۍ چینګه کړي)**

**ـ ګیتاجانې! رښتیا چې فیصلې په اسمانونو کې کېږي.**

**کمره د رئیس مکارې سترګې کرار کرار کلوز کړي.**

**د فلش فارورډ اولسمه صحنه:**

**ځای: د سبا دوی کور.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: سبا او مور یې.**

**( د سبا مور په ډېر تکلیف په کټ کې ناسته وي، له سترګو یې اوښکې روانې وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سبا د کټ پښو ته سر په زنګنونو ایښی وي، چې د ناروغتیا په حال کې وواییي):
مور
ـ چې چېرته ټکه یي، د غریب په کاله رالوېږي.
وی، مړه شوم، وی.
( سبا له اوښکو ډکې سترګې راپورته کړي):
سبا
ـ مورې! لالا ما سره ډېر بد وکړل
، ډېر بد
( له دې سره سر بیا په خپلو زنګنونو کېږدي).
( د سبا مور دوه درې ځله وی، وکړي او مړه شي، سبا په هیبت ورپاڅېږي، دوه درې ځله یې وښوروي، د مورې مورې نارې ورته وکړي، خو هغه مړه وي، سبا له دردمنې ژړا سره وواییي:
سبا
مورې! زه به څه کوم؟!
مورې خدای دې ما مړه کي.
مورې ولې مړه شوې؟
( او ورپسې د زړه له تله څو ثانیې ژړا او د مور پر سینه سر کېږدي)
نوټ: پورته صحنه کې دې بیک ګراوند کې ډېره غمجنه موسیقي وي.
د فلش فارورډ اتلسمه صحنه:
ځای: د دفتر یوه خونه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: دوه د پاخه عمر سړي الماس او سلطان، چې قواره دار او باسلیقه خلک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( د واده یو کارت چې په پاکټ کې وي له مېزه راواخلي):
الماس
ـ خبر یې که نه؟
( حیراني):
سلطان
ـ د څه شي نه، زه خو نه یم خبر.
الماس
ـ یاره اخره زمانه شوه.
( حیراني):
سلطان
ـ مسلمانه خو خبره وکه!
الماس
ـ که خبر شوې، نو حیران به شې.
سلطان
ـ یاره خو ویې وایه، د خبرې نه دې د بسوگۍ واده جوړ که.
الماس
ـ بس همدا د واده خبره ده کنه!
سلطان
ـ نو دې کې د حیرانۍ څه دي؟!
الماس
ـ د ریس صیب واده درته یادوم.
( په حیرانۍ):
سلطان
همدا ریس ، یادی، دا وطن یې چې چور که!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الماس**

**او خبر يې د پنځلس کلنې جنۍ سره واده.**

**سلطان**

**ـ د پنځلس کلنې جنۍ سره؟!.**

**( تندی تریو کړي):**

**الماس**

**ـ هسې به قیامت کېږي نه، ګنې همدا نن يې ښه ورځ ده.**

**سلطان**

**ـ خو په خوښه به يې ورکړي يي کنه.**

**الماس**

**ـ خوښه مخه نشته، هغه لوچک رور يې ورکړې ده.**

**سلطان**

**ـ ولې جنۍ نور څوک نه لري، چې هغې ورسره کومک وکي؟!**

**الماس**

**( په خپګان)**

**خوارکۍ یتیمه ده، چېرته لاړه شي او چا ته وژاړي.**

**( په لږ فکرمن ډول):**

**سلطان**

**ـ او بیا رئیس خو زورور سړی دی.**

**ـ رشتیا چې دا ټولې د ډالرو لوبې دي.**

**( لږ په افسوس):**

**الماس**

**ـ سهي ده، خو دا وجدانونه څه شول؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سلطان**

**( په ارامه او دردناکه توګه):**

**ـ د دې په ځواب خو زم نه پېږم.**

**د فلش فارورډ نولسمه صحنه:**

**ځای: یو ښکلی کور چې چمن هم ولري.**

**وخت: ماښام.**

**( یو لوی چمن دې داسې جوړ شي، چې ډېر رنګارنګ ګروپونه په هر بوټي کې د ګلانو په بڼه جوړ شوي وي. سټېج کې ګلان راځوړند او رنګارنګ رڼا وي، په سلګونو لوکسې چوکۍ دې په کې پرتې وي. له پاسه دې داسې ټوټې د چمن د منځ پر ډېره برخه راځوړندې وي، چې د رنګونو ښکلی امتزاج ولري او یو مسلکي ډیزاینر یې جوړ کړي. تېزه موسیقي دې شروع وي، یانې پر سټېج ګڼ شمېر هنرمندان ناست وي، ګڼ شمېر ګرد مېزونه پراته او جوسونه پرې ایښې وي. مخامخ تعمیر په وړو ګروپونو روښانه وي، چې همدې کې لس پنځلس لوکس موټره راننوځي او په یوه لکسېز ګلپوش موټر کې ریس صیب ناست وي. ورپسې اته باډیګارډان وي.له دې سره اسمان ته دومره پټاقۍ والوځوي چې د چمن اسمان ټول رنګه کړي، د مېلمنو د هرکلي لپاره یو کتار جوړ وي. د دې خلکو لباسونه پاک او نوي وي یو څو کسه ریس صیب ته د غاړې مبارکي ورکړي او ګلان ورته واچوي، ریس صیب پر کوچ کېني او یو شل ثانیې مست سیل شروع وي، دومره کسان سیل ته ناست وي، چې د یوه پانګوال د واده ګومان پرې وشي).**

**نوټ: رئیس ارت پتلون او شتري قره قلي پر سر کړې وي.**

**د فلش فارورډ نولسمه صحنه:**

**ځای: د سبا دوی کور .**

**وخت: مازیګر ناوخته:**

**لوبغاړي: سبا او د رئیس دوه وسله وال کسان:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( سبا د کور دېوال ته داسې غمجنه ناسته وي، لکه څوک چې يوه شي ته په يوه ساه ګوري. لږ وړاندې ترې دې د دولسم ټولګي د پښتو کتاب وښودل شي، چې نيم پوخ کړی وګی يې پر څنډه پروت وي، يو ځل يې له يوې سترګې پر انګي اوښکه تويه شي، همدې کې هغه دوه کسان په بيړه کور ته راننوځي، يو کس ورته په لږه تونده لهجه ووايي):**

**سړی**

**ـ پا خېږه، هلته دې واده دی او ته دلته ناسته يې.**

**( سبا تش غمجن وروګوري او څه ونه وايي).**

**دويم سړی**

**ـ پاخېږه چې رئيس صيب دې غواړي.**

**( سبا لا ناسته وي، چې په غمجن او کرار انداز ورته ووايي):**

**سبا**

**ـ مړه مې کئ!**

**( لومړنی سړی په بيړه ورشي او په تندۍ ورته ووايي):**

**لومړنی سړی**

**ـ پاځېږه! بيا هلته ځان مړ که!**

**څه! چټک!**

**( سبا له مټه په زور پاڅوي او له کمرې اوټ شي).**

**د فلش فارورډ شلمه صحنه:**

**ځای: يوه ارايشګاه.**

**وخت: ماښام.**

**لوبغاړي: سبا او يوډرېور.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( لومړی دې د ارایشګاه د میک اپ د موادو خلاصه الماری وښودل شي، بیا دې موټر او بیا دې سبا وښودل شي، چې د ارایشګاه له پردې راووځي او په موټر کې کېني او موټر روان شي).

د فلش فارورډ شلمه صحنه:

ځای: یوه لوکسه کوټه، چې ګلان په کې هم راځړېدلي وي او تخت هم په کې جوړ وي.رنګارنګ ګروپونه په کې وي.

وخت: شپه.

لوبغاړي: ریس، ګیتا او سبا.

( لومړی دې د واده یوه نغمه د څو ثانیو لپاره واورول شي او بیا دې کمره ورو ورو له پاسه پر سبا فوکس شي، چې د ناویتوب په جوړه کې ناسته، اوښکې یې روانې او وړې وړې سلګۍ کوي، لږ وروسته ګیتا په لږې بدمعاشۍ سره راننوځي.

ګیتا

ـ مکارې! تا د همدې ورځې دپاره منګ کره کار شروع که ، چې د پلار سره مې واده وکې؟

( سبا غجنه وروګوري):

ګیتا

ـ ستاسې د غریبانانو خو زمنګ شتو پسې سترګې ووتې.

خو داارمان به دې ګورته ویسې.

( له اوښکو په ډکو سترګو):

سبا

ـ ته زما د زړه نه څه خبره یې!

ـ ځمکه هغه سوځي، چې اور پې بل یې.

( او بیا یوه سلګۍ وکړي).

( له دې سره ګیتا په بې شرمۍ پاڅېږي او ریس چې ارته دریشي اغوستي او یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شتري غټه قره قلي يې پر سر وي، کوټې ته راشي، د هغې پښو ته کښني او بيا يې په کرار بنارسۍ له مخه لږه پورته کړي):**

**ريس**

**ـ د خوشالۍ په شپه ژاړې؟**

**ته خوبه اوس د سرو او سپينو سره لوبې کی!**

**( د سبا يوه بله اوښکه پر اننګي تويه شي):**

**ريس**

**ـ ته خو ډېره بختوره يې چې دسې ماړه کور ته راغلې.**

**جاړې ولې؟**

**سبا**

**ـ زه خوبايد تر مرګه وجاړم.**

**( د ريس حيراني):**

**سبا**

**مور مې مړه شوه، ځوان ورور مې بندي شو**

**او خپله مکتب رانه پاتې شو.**

**( لږه د مکر خندا):**

**ريس**

**ـ دا هر څه خلک د دولت دپاره کئ**

**او ته يې اوس خاونده شوې.**

**سبا**

**دردمن انداز**

**ـ خو ريس صيب! ډېر شيان شته، چې په پيسو يې څوک نه شي اخيستی.**

**( حيرانی):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ریس**

**ـ لکه څه شی؟**

**سبا**

**ـ ځواني، ژوند او مینه**

**ریس**

**ـ خو ته اوس زما ښځه یې.**

**سبا**

**ـ سهي ده، چې زه مې رور درکړې یم، خو زما او ستا نکاح لا نه ده شوې.**

**( ریس لږ تریو وروګوري):**

**سبا**

**ـ ریس صیب! ته به ما ته درې ورځې وخت راکې.**

**د مور غم به مې لږ هېر شي او بیا به مې نکاح وتړې.**

**( لږ په سوچ کې شي او بیا په لږې خوشالۍ):**

**ریس**

**ـ ښه خبره دې وکړه، ته ارام وکه ، زه به اوس لاړ شم.**

**د فلش فاروړډ یویشتمه صحنه:**

**ځای: همدا د واده خونه.**

**وخت: شپه او بیا ورځ.**

**لوبغاړي: سبا او ریس.**

**( د ریس تر وتلو وروسته سبا په تخت کې غمجنه څملي لږه وروسته ویده شي، په خوب کې لومړی د مور د مړینې صحنه وګوري او ورپسې ریس ورته په مکارانه انداز کې رانږدې شي، خو له دې سره سبا چغه کړي، د چغې سره د دښتې سپین ږیری لږ ټکان وخوري او د دښتې صحنه بیا شروع شي او په ایډیټ کې هم د ډرامې رنګ د دښتې د صحنې په څېر شي).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( د دښتي صحنې ته دې سره له هماغه کوايفو مراجعه وشي، يانې اصلي څلورمې صحنې ته).

سبا

ـ کاکا زما کيسه خو دې واورېده

ته ووايه چې دا ظلم دی که نه؟

سپين ږيرى

( په غمجن انداز)

ـ هو، دا د ظلم انتها ده.

رښتيا هم ته مظلومه يې.

سبا

ـ ښه زه اوس د دې پوښتنه د چا نه وکم؟.

ايا زه د خپل ژوند واک نه لرم؟

سپين ږيرى

ـ ولې نه، خدای تا ته له نر نه ډېر حقوق درکړي دي.

سبا

ـ بيا نو ولې ما سره دسې کېږي؟

ايا زه له همداسې چا سره واده وکم، چې نيکه نه مې هم مشر دی؟!

( سپين ږيرى سر لړ ټيټ کړي):

سپين ږيرى

تا نه دا حقوق خدای نه، انسانانو اخيستي.

ـ دا ستا حق دی، چې واده په خوښه وکې!

سبا

ـ خو دا حق زه د چا نه وغواړم؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سپین ږیری**

**ـ دا د قانون مسوولیت دی، چې د خلکو حقوق خلکو ته ورکي.**

**سبا**

**ـ کاکا! قانون چېرته دی؟**

**( لږ موسکی شي):**

**سپین ږیری**

**ـ د دې پوښتنه دې له مشرانو نه وکه!**

**هغوی به يې درته ووايي!**

**( سبا چې وګوري، نو سپین ږیری ورک شي، د هغې په څېره کې لږه وېره پيدا شي، لومړی لږ اسمان ته وګوري او بيا لاندې پاڼ ته. د پاڼ پر ژۍ په وېره يو قدم کېږدي، او بل قدم يې په هوا په داسې ډول چې د پاڼ پر فضا پاتې ښکاره شي، يانې د پاڼ له لاندې نه يې داسې عکاسي وشي، چې يو قدم يې داسې ښکاره شي، لکه د پاڼ پر تشه چې يې ايښی وي. او په داسې حالت کې ډرامه پای ته ورسېږي، چې ليدونکو ته دا سوچ پيدا شي، چې سبا به پاڼ ته لوېدلې وي، که نه؟!).**

**نوټ: دسبا او د سين ږيري په ټولو هغو صحنو کې چې دوی څه ګوري بايد په يوه فکرمن انداز کې دواړه يوې نقطې ته داسې وګوري، لکه رښتيا هم چې هر څه ويني. همدارنګه د سپين ږيري د هر ې صحنې د ښودلو پر وخت د سبا په مخ يا څېره کې داسې يو حالت پيدا کېږي، لکه څوک چې يو څه ناځوابه کېږي.**

**يادونه: هيله ده، چې ټول مرکزي لوبغاړي خپلو مکالمو ته وخت ورکړي او د ضرب زباني پر ځای دې نارمل وګرځېږي.**

د فبرورۍ ۲۵مه۲۰۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنیا

## د کرکټرونو پېژندل

جمیل: ۴۰ـ ۵۰ کلنۍ پورې یو محافظه کار د پولیسو جګړن.

اېمل: ( د ډرامې اتل) ۲۵ـ ۳۰ کلن یو داسې ځوان چې پر هېواد مین، صابر او په ژوند کې پرې سختې راځي.

وړانګه: د ۲۵ کالو یوه ښکلې جنۍ، د اېمل مېرمن، چې درانه خویونه لري.

منیجر: یو چالاکه، ۳۰ـ ۳۵ کلن سړی، چې کومیډي څېره ولري، مکار او په وجود لږ خوار وي. سواد هم دومره نه لري، خو کلانکاري ډېره کوي او پر کرشمې مین وي، پتلون اغوندي، خو نور کارکوونکي یې په ساده جامو کې وي.

کرشمه جانه: یوه ښکلې ځوانه جنۍ، چې ډول ډول نازونه یې زده وي. له موډ سره سمې جامې اغوندي او منیجر یې په خپل ځان ګرم کړی وي.

الهام: د منیجر یو چاپلوس کارکوونکی.

رحیم: یو خواخوږی پولیس، چې یو وخت له اېمل سره مرسته کوي.

اکبر او غیرت: د فنۍ ورکوونکې ادارې دوه لوکس کارکوونکي، چې سنجیده خلک دي او پتلونونه اغوندي.

فرعي کرکټرونه: ډاکټر، د درملتون والا، د دفتر کارکوونکي، او ورسره نور...

لومړۍ صحنه:

ځای: د پولیسو د یوه افسر دفتر.

وخت: مازیګر.

لوبغاړي: ایمل او جمیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( جمیل د پولیسو د جګړنی په دربشی کې د خپل مېز شا ته په چوکۍ ناست وي. ځان په کار لږ بوخت وښيي، چې لږ وروسته ایمل د پولیسو د جګتورنۍ په دربشی کې کوټې ته ورننوځي. منظم سلام واچوي. جمیل وروګوري):

جمیل

ـ ځنګه مالومات بشپړ شول؟

اېمل

ـ هو صیب.

کشف کره مالومات راکړي.

جمېل

ـ ډېر ښه او ته چمتو یې؟

ایمل

ـ هو! زه عملیاتو ته په ټوله مانا تیار یم.

جمیل

ـ خو ګوره چې څه درنه هېر نه شي.

اېمل

ـ صیب! تاسې فکر مه کوئ.

هېڅم رانه پاتې نه دي.

ما هر څه منظم کړي.

جمېل

ـ ډېر ښه. تاسې تلې شۍ.

( ایمل سلام واچوي، چې جمیل ته یې شا او لږ روان شي، جمیل ورته ووايي):

جمیل

ـ یوه، خبره واوره!

( ایمل په لږې حیرانۍ وروګوري):

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمیل

ـ ګوره سړی ډېر خطرناک دی.

کلونه وشول، چې چا نه دی نیولی.

هڅه وکه چې ژوندی یې ونیسې.

اېمل

( په لړ اکټېنګ کې):

ـ صیب!تر اوسه لا هغه پسې ما غوندې څوک نه دی ورغلی.

که خدای کول، لاس تړلې به یې راولم.

( جمیل له ځانه سره د تایید یوه وړه موسکا وکړي):

جمېل

ـ ډېر ښه.

( اېمل دا ځل په لاس یوه سلامي وکړي او له کوټې ووځي).

دویمه صحنه:

ځای: یوه لویه حوېلۍ، چې برنډه هم ولري.

وخت: شپه.

لوبغاړي: عزیز، د هغه پنځه شپږ کسه، اېمل او پنځه ښکلي او تکړه پولیس.

( په برنډه کې یو څو کارتنونه پراته وي. دوه کسه په وقفوي توګه یو یو کارتن راوړي، په نورو کارتنونو یې کېږدي. د برنډې مخې ته عزیز او یو بل سوقه سړی ناست او په خوشالۍ خبرې کوي او مخې ته یې پر مېز قیمتي جوس هم پراته وي او عزیز یې په کلانکارۍ وڅښي).

درېیمه صحنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای : د همدغه کور د لویې دروازې دننه.
وخت: شپه.
لوبغاړي: اېمل، د هغه پولیس، او د کور یو چوکیدار.
( چوکیدار د دروازې مخ ته ځي او راځي، درې ځلور ځله لاړ او راشي. دې کې د کور د دېوال له سره نه د یوه دوربین دار ټوپک شپېلۍ په لږه تیاره کې راښکاره شي، ټوپک په دوراني حالت کې  چوکیدار په نښه کړي. کمره ورو ورو اېمل وښیي، چې همده چوکیدار په نښه کړی وي. چوکیدار لږ په شک کې شي، خو اېمل ځان پټ کړي. چوکیدار یوه دوه ځله بیا هم تګ راتګ وکړي، خو بیا پر چوکۍ کېني. اېمل یې وګوري او ډېر ورو له دېواله کښته او غلی غلی د چوکیدار لوري ته ورشي. په یوه ګوزار سره یې کار وکړي، خوله یې پلستر کړي. اېمل د کور دروازه ډېره ورو پرانیزي، پولیس په کرار راننوځي او هغه ورته په اشاره د تللو هدایت ورکړي).

څلورمه صحنه:
ځای: هماغه برنډه او مخه یې.
وخت: شپه.
لوبغاړي: د دویمې صحنې.
( عزیز یو سګرټ ولګوي او کبرجن انداز):
عزیز
ـ دلته خوشالۍ د هغه چا دي چې زور لري، ته پوه شوې؟
( یو لنډ شاټ کې دې د اېمل ملګري پولیس وښودل شي، چې برنډې ته نږدې شوي وي):
د عزیز ملګری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خو داسې ښکاري، چې دلته د زورورو یو لوی جال خور دی، که څنګه؟
( په استاذانه ډول):
ـ دا خو مالومه خبره ده، چې دسې ونه شي، نو موږ به ښکار څنګه کوو؟!
( له دې سره دواړه وخاندي، ملګری یې خپله چوکۍ بل خوا ته وګرځوي، خو همدې وخت کې د اېمل د ټوپک شپېلۍ د شا له خوا د عزیز ښي غوږ ته نږدې شي او اېمل ورته ووایي):
اېمل
( په کلکه لهجه):
ـ خو نور به دا د ظلم جالونه تار تار شي.
( عزیز مخ په لړې وېرې راوګرځوي، کرار کرار پاڅېږي، خو د ټوپک شپېلۍ ورسره هم پورته او غوږ ته یې نږدې وي):
( عزیز په ترو سترګو لومړی لاندې باندې وروګوري او بیا په لږ ریشخند انداز ورته ووایي):
عزیز
ـ دومره جرات؟!
یو پولیس ګی او ما ته ټوپک نیول؟!
( په متینه لهجه):
اېمل
ـ جناب! وړو ته به په سپکه نه ګورې!
ته پوهېږې، چې نمرود چا مړ که؟
( د عزیز د سترګو حیراني):
اېمل
ـ ماشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه کمزوري به تاسې سره یوه ورځ د ذرې ذرې حساب کې!
عزیز
( په فلمي انداز)
ـ ته پوهېږې چې زما لاسونه څومره اوږده دي؟!.
ارمان بیې وکې.
اېمل
ـ خو زه په تېرو پسې ارمان نه کوم.
( په کلکه لهجه):
هلکه ویې نیسئ!
( دوه پولیس په چټکۍ ورشي او د شا له لوري یې لاسونو کې هتکړۍ واچوي. د عزیز هغه بل کس وېربېږي او اېمل وروګوري).
پنځمه صحنه:
ځای: د اېمل کور. ( خام کور).
وخت: شپه.
لوبغاړي: اېمل او وړانګه.
( لومړی دې د اېمل لوی عکس چې له پولیسي درېشۍ سره یې اخیستی وي او د کوټې دېوال ته ځوړند وي، وښودل شي، چې وړانګه ورګوري. لږ وروسته وړانګه دېوالي ساعت ته وګوري، چې ستنه د شپې پر یوولسو بجو ولاړه وي. وړانګه له ځانه سره یو اسوېلی وکړي. د کوټې له دروازې نه لږه حوېلۍ ته وګوري، خو بېرته راستنه شي. هغه بیا راشي، عکس ته وګوري، ولاړه وي، چې دې کې اېمل ورو ورو ورشي او د شا له لوري یې پر دواړو سترګو لاسونه کېږدي):
وړانګه
ـ زه دې له ګوتو پېژنم.
اېمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ رښتیا چې له ښځو یره په کار ده.
هر څه د سترګو په رپ کې پېژني.
( اېمل لاسونه لرې کړي او ورته موسکی شي).
وړانګه
ـ دومره ناوخته؟! که دسې یې ( وي) دا خو به ډېره سخته شي.
( اېمل کټ کې کېني):
اېمل
( په لږې موسکا):
ـ ګوره دسې وختونه خو کله کله یي.
( اېمل له خپلو پښو جرابې باسي).
وړانګه
ـ خو زه یرېږم.
ته وګوره څو بجې دي؟!.
اېمل
ـ ته د یوه افسر ښځه یې، ما ته مالومه ده، چې خبره بل څه ده؟
( وړانګه ګیلاس کې اوبه ورکړي او سترګې لږې برګې کړي):
وړانګه
ـ څه خبره ده؟
( د اوبو تر څښلو وروسته په موسکا):
اېمل
ـ ته یرېږې نه، زه دې یادېږم.
( وړانګه هم موسکۍ او لږه ورنږدې شي):
( په مینه):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وړانګه**

**ـ ښه اوس راته ووایه، چې ولې دې دومره ناوخته که؟**

**اېمل**

**ـ شکر وباسه چې خدای خیر که، ګنې...**

**( په تلوسه):**

**وړانګه**

**ولې څه خبره وه، زر یې راته ووېوه!**

**اېمل**

**ـ نن شپه مې یو لوی جنایتکار ونیو.**

**( په فکرمن انداز):**

**وړانګه**

**ـ زما ستا دا کارونه نه خوښېږي،**

**ته ولې هر وخت دسې کارونه کې؟**

**اېمل**

**ـ ګوره چې د نورو ارامي څوک غواړي،**

**نو پخپله دې بیا د ارامۍ تمه نه کې**

**او بیا خو زما کار دا دی،**

**چې جنایتکاران ونیسم.**

**وړانګه**

**ـ خو زه په تا یېرېږم، خدای مه که...**

**( په موسکا):**

**اېمل**

**ـ زما وړانګې! ته له دې نه خبره نه یې، چې مرګ په نېټه دی.**

**وړانګه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سهي ده، خو..
اېمل
ـ خو... ولې لکه چې څه خبره شته.
وړانګه
( په لږ دردمن او د سترګو په خواږه انداز):
ـ په چا به کور کلی ړنګېږي
په چا ړنګېږي لرې لرې وطنونه
( په موسکا):
اېمل
واه!
ډېره زياته ښکلې لنډۍ وه.
ـ خو دومره م ( هم) لا نه يم، لکه تا ته چې ښکارم.
ښه اوس زه اوده کېږم.
ستړی يم
وړانګه
او زه م (هم) نن ناروغه وم.
اېمل
ـ خدای به خير کي، چې شپه يې منځ کې يي، د هغې بلا نه مه يرېږه.
اوس بړستن راوړه.
( وړانګه پاڅېږي او اېمل په کټ کې څملي. خو تر څو چې، وړانګه راځي، هغه جامې اغوستې وي. سترګې يې ورشي، لږه شېبه وروسته وړانګه راشي، په پښو يې بړستن يا کمپله واچوي. خو همدې وخت کې ورته زنګ راشي):
اېمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ بلې څوک؟
( لږه وقفه):
اېمل
زه د خپل مسوولیت په وړاندې له هېڅ نه نه یېرېږم.
( لږه وقفه):
سهي شوه، لاس دې خلاص.
( له دې سره په لږې غوسې څملي، سترګې یې ورشي، خو دې وخت کې دې ساعت وښودل شي، چې د سهار څلور بجې وي. ).

شپږمه صحنه:
ځای: د پولیسو دفتر.
وخت: سهار.
لوبغاړي: دوه پولیس او اېمل.
( د پولیسو د دفتر دروازې سره دننه دوه پولیس ناست وي).
لومړی پولیس
( په لږې حیرانۍ):
ـ خبر شوې؟
( له لږې تلوسې سره):
دویم پولیس
ـ څه خبره شوې؟
زه خو نیم خبر.
لومړی پولیس
ـ یاره مور دې کښني او د اېمل خان غوندې زوی دې راوړي.
دویم پولیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ولې څه توره یې کړې؟

لومړی پولیس

ـ ولې خبر نه یې؟!

بېګاه یې عزیز لاس تړلی راوست.

دویم پولیس

ـ یاره دومره به درته وویم، چې افغانان ټول بازان دي، خو چې سهي مشر ولري.

( همدې کې ایمل په لویه دروازه راننوځي، تومانچه یې درېشۍ ته پرته او دواړه پولیس ورته سلامي وکړي. هغه یې سلام په موسکا واخلي او ترې تېر شي).

اوومه صحنه:

ځای: د جمیل دفتر.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: جمیل او ایمل.

( ایمل دفتر ته راننوځي، سلامي وکړي او جمیل ورته په موسکا ووایي):

جمیل

ـ ایمل خانه ستړی مه شې!

راځه مهرباني وکه.

( جمیل د خپل مېز له شا ورپاڅېږي، په لاس ورسره په مینه ستړي مه شي وکړي):

جمیل

ـ کېنۍ، مهرباني وکۍ!

ایمل

ـ مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( اېمل پر کوچ کېني):
جمیل
ـ اېمل خانه!
بېګاه دې ډېر لوی کار وکه.
زه تا ته د دې بریالیتوب مبارکي وایم.
( د اېمل د موسکا یو شاټ دې واخیستل شي):
جمیل
ـ او د خوشالۍ خبره خو دا ده، چې بې له تلفاتو دې دومره لوی کار وکه.
( په لږې موسکا):
اېمل
ـ امر صیب! افسر خو همدې ته وی، چې عملیاتو کې خپل کسان روغ وساتي.
جمیل
ـ رښتیا هم باید داسې وي.
زه تا ته د دې بریالیتوب مبارکي ویم.
( دې وخت کې اېمل ته زنګ راشي):
اېمل
ـ ښښنه غواړم.
ـ بلې.
( په څېره کې یې لږ خپګان ښکاره شي):
ـ ښه دا دی همدا اوس درغلم.
همدا اوس؟.
( اېمل پاڅېږي).
اېمل
ـ صیب! زما کور کې لږ کار پیدا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمیل

ـ څه ورشۍ!

خو زه څه کولی شم؟.

اېمل

ـ مننه.

( اېمل سلامي وکړي او له دفتره ووځي).

اتمه صحنه:

ځای: د ښځو یو روغتون.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: اېمل او په روغتون کې نور ګڼ خلک.

( لومړی دې په یوه لنډ شاټ کې د روغتون عمومي بڼه وښودل شي، بیا دې په دهلېز کې اېمل وښودل شي، چې د نورو خلکو په منځ کې ترور روان وي).

نهمه صحنه:

ځای: د روغتون د ډاکټر خونه.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: اېمل، وړانګه او ډاکټر.

( اېمل سره د ایکسري عکس په لاس کې او د ډاکټر خونې ته چې رانږدې شي، شي، وړانګه پر چوکۍ ناسته وي، هغه هم راپاڅېږي، اېمل مخکې او وړانګه ورپسې د ډاکټر خونې ته ننوځي او پر چوکیو کېني. عکس ډاکټر ته ورکړي او ډاکټر لږه شېبه عکس ته وګوري):

ډاکټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اوس به ورته زه دوا ولیکم.
( ډاکټر د نسخې د لیکلو پر وخت وایي):
ـ خو شپږ میاشتې وروسته به یې عملیات ته راولې!
( د اېمل په څېره کې خپګان پیدا شي):
اېمل
ـ صیب! له دوا سره به ښه نه شې؟!
ډاکټر
ـ امکان لري، چې ښه شي، خو تر درېو میاشتو پورې
به دوا خوري.
که ښه نه شوه، عملیات ته به یې راولې.
( اېمل دوی پاڅېږي او نسخه واخلي. له خونې چې راووځي اېمل وړانګې ته
وایي):
اېمل
ـ ته دلته کېنه، زه به دوا راوړم.

لسمه صحنه:
ځای: یو درملتون.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: اېمل او د درملتون والا.
( لومړی دې د درملتون مخامخ الماری وښودل شي، وروسته د درملتون والا
ورشي له مختلفو الماریو په کافي اندازه دوا راواخلي، چې په خلته کې یې اچوي
اېمل ترې پوښتنه وکړي):
اېمل
ـ څو پیسې شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



( دوکاندار په ماشین حساب وکړي):

دوکاندار

ـ څلور زره اته سوه دوه شپېته .

( ایمل لږ په سوچ کې شي. جېب ته چې لاس کړي، ټولې ورسره ۲۷۰۰ افغانۍ وي).

ایمل

( لږ افسوس):

ـ خیر دی، د اوس دپاره نیمايي دوا راکه.

( د درملتون والا ورته درمل نیمايي ورکړي او ایمل له کمرې اوت شي).

یوولسمه صحنه:

ځای: د جمیل دفتر.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: جمیل.

( جمیل د خپل مېز په کاغذونو کې ګوتې وهي، چې زنګ ورته ورشي):

جمیل

ـ سلام.

مننه خیر یوسې.

بلې اورم.

( د جمیل په څېره کې خپګان راشي):

صیب! دا خو ډېر بد کار وشو.

اخر د هغه جرم څه دی؟.

( یو اسوېلی وکړي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سهي ده، خو زه به ورته بې ځوابه يم.
زه ورته هېڅ دليل نه شم پيدا کولی.
( له دې سره موبايل کېږدي او په سوچ کې شي).

دولسمه صحنه:
ځای: د اېمل کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: اېمل او وړانګه.
( د کور په يوه برخه کې دواړه په کټ کې ناست، خو اېمل يې پښو ته ناست وي.
د دوا خلته هم د دواړو تر منځ پرته وي):
اېمل
ـ ته مه خپه کېږه، خدای به دې د دې دوا سره ښه کي.
وړانګه
ـ زه ځان ته نه، تا ته خپه يم،
دومره ډېرې روپۍ به دوا ته د کمه کې؟
اېمل
ـ دا خو هېڅ خبره نه ده. ته دې تم خپه يې؟!
دفتر دې خدای لري. د دفتر نه به پيسې راواخلم.
( وړانګه ورته يوه خفيفه موسکا وکړي).

ديارلسمه صحنه:
ځای: د جميل دفتر.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: جميل، يو پوليس او اېمل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( جمېل په موس کار کوي، چې تندی یې تریو او دې کې اېمل راشي):
جمیل
ـ اېمل خانه ستړی مه شې.
اېمل
ـ خیر یوسې.
( دواړه پرچوکیو کېني):
جمیل
ـ خبر شوم، مېرمن دې ناروغه ده، اوس څنګه ده؟
اېمل
ـ ښه به شي، ډاکتر څه دوا لیکلې، لږې روپۍ کمې شوې،
غواړم چې له د دفتر نه پېشکي واخلم.
( جمیل خپه او په خپله چوکۍ لږ شا ته لاړ شي. لږه شېبه خپه شي، اېمل لږ حیران وروګوري):
اېمل
ـ صیب! خیریت خو به یي؟
جمیل
ـ خیریت دی.
( جمیل یو ژور اسوېلی وکړي):
اېمل
ـ صیب! تاسې خبره ولې نه کوئ؟
( په خپګان غوندې):
جمیل
ـ په ځینو خبرو د ژبې زور نه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( اېمل حیران وروګوري):**
**ـ اېمل خانه! کله کله داسې کارونه وشي، چې د انسان په خیال کې هم نه يي.**
**اېمل**
**ـ صیب! اخر خبره څه ده؟**
**جمیل**
**ـ ستا د انفکاک اېمیل راغلی دی.**
**اېمل**
**( لږ له ځایه پورته شي، خو پا نه ځېږي او په ډېرې حیرانۍ):**
**ـ زما؟!**
**جمیل**
**ـ هو، ستا.**
**اېمل**
**ـ صیب! اخر زما ګناه څه ده؟**
**جمیل**
**ـ په دې خو زم نه پوهېږم.**
**( اېمل له ځایه پورته شي، په فلش بیک کې يې د عزیز هغه خبره خیال ته راشي):**
**د عزیز خبره**
**ـ ته پوهېږې چې زما لاسونه ډېر اوږده دي؟!**
**( اېمل سر ته لږ ټکان ورکړي او بیا یوه وړه ترخه موسکا وکړي):**
**اېمل**
**ـ د څو پورې چې په دې هېواد کې زور واکي يي، نو**
**د خوارو ښادي حرامه ده.**
**( جمیل له شرمه سترګې ټیټې کړي او اېمل له خپلې ملا نه تومانچه خلاصه کړي او جمیل ته يې چې پر مېز ږدي، نو ورته وو ایي):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اېمل**

**ـ دا واخلې!**

**( اېمل د خدای پامانۍ لپاره لاس وروړاندې کړي):**

**جمیل**

**ـ زه ډېر خپه یم.**

**اېمل**

**ـ یوازې په خپګان څه نه کېږي.**

**یو ښه مشر باید په خپلو کشرانو سر ورکي.**

**( جمیل لږ خجالته او اېمل له کوټې ووځي).**

**نوټ: له هغه ځایه چې جمیل اېمل ته د منفکۍ خبره وکړي، نو تر پایه دې ډېره ورو په بیک ګراونډ کې غمجنه موسیقي وي.**

**څوارلسمه صحنه:**

**ځای: د اېمل کور.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: وړانګه او اېمل.**

**( وړانګه په خپله کوټه کې ناسته وي. د دوا خلته یې خوا کې پرته وي، چې له پاکټ نه یوه ګولۍ راواخلي او له اوبو سره یې تېره کړي. خلته بېرته په ځای کړي او بیا راشي، د اېمل عکس ته ودرېږي او ورته وګوري. لږه شېبه ورته ولاړه او په مینه ورته ګوري، چې پر اوږه یې لاس د شا له لوري کېښودل شي. وړانګه لږه ووېرېږي، مخ ورواړوي او بیا په موسکا ورته ووایي):**

**وړانګه**

**ـ ته؟!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما نه خو دې زړه بوټ وییسته!**

**اېمل**

**ـ نوره دې عکس ته مه ګوره!**

**( په حیرانۍ وړانګه د اېمل جامو ته وګوري):**

**وړانګه**

**( په حیرانۍ)**

**ـ عکس ته به ولې نه ګورم؟**

**او ته خو درېشۍ کې تلې وې؟!**

**( دواړه کېني، وړانګه لړه حیرانه وروګوري او اېمل په لړ غمجن انداز ورته ووایي):**

**اېمل**

**ـ وړانګې! نور اېمل د پولیسو افسر نه دی.**

**( په ژړغونې حیرانۍ):**

**وړانګه**

**ـ ولې؟**

**دسې ولې وشول؟**

**اېمل**

**ـ په دې باندې هغه څوک پېږې، چې د دې وطن په سرنوشت لوبې کې.**

**( وړانګه خپل سر په خپلو دواړ ځنګلو کې کېږدي او داسې ښکاري لکه د زړه له تله چې پټه ژاړي. لړه شېبه وروسته چې سر پورته کړي، نو په بارخوګانو یې اوښکې پرتې وي).**

**( اېمل په خواخوږۍ):**

**اېمل**

**ـ لېونۍ! ژاړې ولې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تا خو زه په سوکانوم (هم) ساتلی شم.**
**دا کار خو ما د دې دپاره کولو، چې د خلکو خدمت به کوم.**
**گنې همدا اوس چې بازار ته لاړ شم، د تنخاه نه ډېرې گټم.**
**وړانگه**
**( په لږ افسوس):**
**ـ ښه ته به اوس څه کار کې؟**
**اېمل**
**ـ خدای کلکې متې راکړي.**
**تا دپاره خو به غر په بل مخ واړوم.**
**وړانگه**
**ـ زه هېڅم نه غواړم**
**زما ته په کار یې.**
**( له دې سره وړانگه د اېمل په اوږه سر کېږدي).**
**نوټ: له دې صحنو وروسته دې د اېمل په جامو او نورو شیانو کې بدلون راشي، تر څو بېوزلی ښکاره شي.**
**پنځلسمه صحنه:**
**ځای: ښار.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: اېمل، یو پولیس او گڼ نور ترکاري پلورونکي.**
**( لومړی دې په لانگ شاټ کې د ښار د ترکارۍ پلورونکو کراچۍ وښودل شي، بیا دې اېمل وښودل شي، چې په خپلې کراچۍ یې رومیان اچولي وي. لږ وروسته د کراچۍ والا په منډو شي. اېمل حیران وگوري، خو د نورو په څېر خپله کراچۍ تېزه نه ځغلوي. پولیس سره چې لرگی هم وي، لومړی په کراچیو گوزارونه وکړي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چې اېمل ته ورشي، نو د هغه کراچۍ په بل مخ چپه کړي. اېمل په غوسه وروګوري، زړه يې وي، چې ويې وهي، خو لږ وروسته په خپګان د پښو پر سر کېني، په سرک پرتو روميانو ته په خپګان وګوري او په بيک ګراونډ کې يې غمجنه موسيقي وي).

شپاړسمه صحنه:
ځای: د ښار بله برخه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: اېمل.
( لومړی دې د ګنې ګوڼې يو سرک وښودل شي، وروسته اېمل د هزاره ګانو هغه لويه کراچۍ، چې د موټر لوی ټايرونه لري، ډېره درنه بار کړي وي او خولې خولې روان وي).

اولسمه صحنه:
ځای: د پوليسو هغه پخوانی امريت.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: د پوليسو لومړی او دويم پوليس ( رحيم او افسر):
( په خواشينۍ او له يوه واړه اسوېلي سره):
رحيم
ـ ياره ډېر ښه ځوان و.
بد کار وشو.
افسر
ـ او خبر يې چې هغه غريب اوس څه کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



( رحیم په سوالیه انداز وروګوري):

افسر

ـ په دومره ښې ځوانۍ اوس کراچۍ چلې!

یاره ډېر بد ورسره وشو.

رحیم

ـ بس زه خو ورته د یو کار کوشش کوم.

( په سنجیده انداز):

ګوره چې خدای څه کې؟!

اتلسمه صحنه:

ځای: هماغه پخوانی درملتون.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: اېمل او د درملتون والا.

( اېمل د غریبۍ په جامو کې له درملتونه دوا واخلي او روان شي).

نولسمه صحنه:

ځای: د اېمل کور.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: وړانګه او اېمل.

( وړانګه د حوېلۍ په یوه کټ کې داسې پرته وي، چې پرته له سر یې ټول بدن په څادر پټ وي او شا یې وي. ځان سره په ورو دا سندره وایي):

وړانګه

ـ غړېږي لکه خوب مې انتظار په سترګو سترګو کې

( دې وخت کې دې اېمل وښودل شي، چې خلته په لاس راروان وي او کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسېږي، نو وړانګه دا نیم بیتی هم ووایي او اېمل یې شا ته غلی ودرېږي):

وړانګه

ـ بیا دې د راتلو څارمه لار په سترګو سترګو کې.

( وړانګه چې غلې شي، نو اېمل یې پښو ته غلی کېني او په ترنم او خوارږه غږ کې د استاذ ناشناس په کمپوز کې ورته ووایي):

اېمل

ـ خدای دې بس دا وارې راجوړ که

ناروغه یاره

خلک به وايي بخت یې تور دی یار یې مرینه

ناروغه یاره

بلا دې واخلم

بلا دې واخلم

( وړانګه د سندرې په اوږدو کې راپاڅېږي او داسې ورته ګوري، لکه څوک چې په چا ډېر مین یې. سندره چې خلاصه شي، نو وړانګه ورته په موسکا ووایي):

وړانګه

ـ تا لکه چې رانه رښتیا ناروغه جوړه کړه؟

اېمل

ـ هغه پاتې دوامیم درته راوړه.

( وړانګه خلته لاس کې واخلي):

وړانګه

ـ زه رکه روغه یم.

ما ته نوره دوا مه راوړه.

( په مینه):

اېمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دوا به څنګه نه راوړم؟

زما خو همدا ته یې.

وړانګه

ـ یوه پوښتنه درنه کوم؟

اېمل

ـ یوه نه، سلو ته بنده حاضر دی.

وړانګه

ـ پوښتنه مې دا کوله چې دا ځینې خلک څنګه دومره زر د شتو خاوندان شول؟

اېمل

ـ واه!ډېره ښه پوښتنه دې وکړه.

خو زه به یې لنډه درته ووېم.

دلته ډېر کم خلک دي، چې په حلالو د شتو خاوندان شوي.

دغه نور چې ګورې، نو د نورو په وینو او حقونو یې سوداګري کړې.

خپل وجدانونه یې خرڅ کړي.

( د وړانګې د حیرانۍ شاتې):

اېمل

ـ خو یوه خبره ده، چې د ژوند خوشالي په شتو کې نه ده.

دغسې خلکو ته خدای په ژوندیني دسې کړاوونه

پیدا کړي، چې منږ او تاسې تې ډېر ښه یو.

( دې کې اېمل ته زنګ راشي):

اېمل

ـ بلې ځوک.

( لږ سکوت او په خوشالۍ):

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـــــــه! رحیم خانه ته؟
څنګه یې؟
جوړ یې
د خدای فضل دی.
( لږ سنجیده):
مننه! بس دا خو ژوند دی. په ژوند کې په انسان ډېرې لوبې کېږي.
( لږ سنجیده او بیا په حیرانۍ):
دفتر؟
کم دفتر؟
سهي ده زه به ورشم.
خدای دې درسره ښه وکي.
زه به خامخا ورشم.
( اېمل موبایل بند او وړانګه ورته په خوشالۍ ووايي):
وړانګه
ـ څه خبره وه؟
( به لږې موسکا):
اېمل
ـ رشتیا چې بنده حیران
خدای مهربان.
په موسسه کې راته کار پیدا شو.
( په خوشالۍ لاسونه پورته کړي):
وړانګه
ـ خدایه شکر.
خو کار به څه کی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اېمل**
**( په لږې موسکا):**
**ـ هر څه چې يي،**
**د جواليتوب نه خو به ښه يي!!**

**شلمه صحنه:**
**ځای: د موسسې يوه ودانۍ.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: منيجر او کرشمه جانه.**
**( لومړی دې د يوې لوکسې ودانۍ پوره شاټ واخيستل شي او بيا دې کمره د منيجر په دفتر فوکس شي، چې په ښکلي اسماني رنګه کميس کې ځوانه کرشمه جانه چې مناسب ميک اپ يې کړی وي، ناسته وي. لږه شېبه وروسته له خپل دستکول نه وړه ايينه راوباسي، خو چې څنګه په کې وګوري، منيجر صيب تشريف راوړي. هغه ايينه ډېره زر په دستکول کې پټه کړي او ځان داسې کړي، لکه له خپل محبوب نه چې مروره وي. منيجر چې د هغې مرورتيا وګوري، نو لږ ورته رانږدې او په مينه ورته ووايي):**
**منيجر**
**ـ ګرانې ولې؟**
**څه خبره ده؟.**
**( کرشمه ترې مخ وګرځوي):**
**( منيجر په لږه جدي حيرانۍ):**
**منيجر**
**ـ اخر ولې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه خبره شوې ده؟
دا ته ولې دسې شوې؟
( کرشمه په کرار مخ راوګرځوي او په نازدانه ډول ووايي):
کرشمه جانه
ـ تا نن ولې ناوخته که؟
( په موسکا):
منيجر
ـ همدا خبره وه؟
تا خو ما نه زړه ويسته!
( ناز):
کرشمه جانه
ـ ولې دا تا ته وړه خبره ښکاري.
دا دومره وخت په ما د کال غوندې تېر شو.
منيجر
ـ وا! څومره خوږه يې.
خبره دا وه، چې د اپمل په نامه يو نوی کس مې مقرر که.
( د سترګو حيراني):
کرشمه جانه
ـ تا ما نه پوښتنه ونه کړه او دا کار دې وکه؟!
دا ولې؟
منيجر
ـ خير. سړی ښه سړی ښکاري.
کرشمه
ـ خو ګوره په ښو خلکو کې هم مضر خلک يي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دسې نه چې سبا ما او تا ته غم جوړ کي.**

**منیجر**

**ـ لوګی دې شم، د نورو غوندې به یې درته پښو ته کېنوم.**

**ته ولې خپه کېږې؟!**

**( کرشمه د یو بل نوي ناز اکټ وکړي او له دې سره منیجر د مېز زنګ ووهي او لږه شېبه وروسته اېمل راننوځي):**

**اېمل**

**ـ سلام علیکم.**

**( کرشمه په یو لنډ نظر لاندې باندې اېمل ته وروګوري او منیجر ورته په لږه جدي بڼه وایي):**

**منیجر**

**ـ هلکه ورشه کرشمه جانې ته ګرمې سمبوسې او یخ راني جوس راوړه!**

**اېمل**

**ـ ښه صیب!**

**( خو د تګ په وخت کې په داسې حال کې چې د هغوی فکر نه وي، اېمل کرشمې ته د شک په سترګه وګوري).**

**یویشتمه صحنه:**

**ځای: د دفتر یوه خونه.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: منیجر، اېمل. کرشمه جانه او دولس کسه د دفتر نور کارکوونکي:**

**( یوه اوږده کوټه وي ګڼې چوکۍ په کې وي. مخامخ یوه تخته دېوال پورې نښتې وي. درې کسه په کوټه کې ناست او یو یو کس کوټې ته راننوځي. له ټولو وروسته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اېمل راشي او په چوکۍ کېني. يو دوه کسه د سترګو لاندې اېمل ته وګوري، دې کې منيجر کوټې ته راننوځي. ټول ورته د احترام لپاره يوه اندازه پورته شي، منيجر په تخته دا وليکي):**

**ـ د انسانيت ورکشاپ.**

**د ټولو نه مخکې به زه تاسې نه پوښتنه وکم، چې انسان څه ته وايي.**

**( يوه ته ګوته ونيسي هغه پاڅېږي، خو هغه شاوخوا ته حيران وګوري):**

**کس**

**ـ انسان ياني کوم شی چې موږ او تاسې غوندې دوه پښې ولري**

**خوله پوزه هر څه ولري او په خبره هم پوه شي، هغه انسان دی.**

**( منيجر په خوشالۍ):**

**منيجر**

**ـ ډېر ښه.**

**يو بل کس به هم انسان تعريف کړي؟**

**( يو بل کس ته ووايي):**

**منيجر**

**ـ ته پاڅېږه.**

**کس**

**ـ زما په نظر څه چې دغه ورور وويل، سهي دي، زه به نور څه ووېم.**

**( له دې سره کېني او منيجر په خوشالۍ ورته ووايي):**

**منيجر**

**ـ ګوډ.**

**خبره دا ده، چې تر هغې د انسان لپاره فضا جوړه نه شي، نو انسانيت به پخپله په هوا کې ګرځي.**

**او هر هغه شی چې په هوا کې ګرځي، نو د ځمکې مخ ورته بيا چندان خوند نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکی.
( ابمل ورته حیران وګوري، چې دا لا څه وایي؟!).
زموږ په ټولنه کې اصلي ستونزه دا ده چې دلته د فضا هېڅ قدر نشته.
دا د هر افغان وظیفه ده، چې په دې باندې په کور، هوجره، دفتر لنډه دا چې هر چېرته فکر وکي.
ورونو! تر هغه چې په فضا کې انسانیت رامنځ ته نه شي، نو ګومان نه کوم، چې افغانان دې په خېټه ماړه شي.
تاسې نن څو ساعته په دې فکر وکی.
نن همدومره بس دی.
( له دې سره منیجر ووځي، لږه شېبه هر یو په کتابچو کې څه لیکي، خو ابمل حیران وي. یو کس ترې وپوښتي):
کس
ـ ته ولې لیکل نه کی.
ابمل
ـ زه خو د دې خبرو په ببخ او سر والله که پوی شوی یم
د فضا هېڅ قدر نشته.
په فضا کې انسانیت؟!
عجیبې او غریبې خبرې دي.
( د ې وخت کې کرشمه جانه اشه دارې ته پټه ولاړه او د ابمل خبرې واوري او له ځانه سره سر وښوروي):
کس
ـ وروره! دلته چې کار کې، نو په دې خبرو سر مه خوږوه.
بس خپلې شپې تېروه، شپې!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( اېمل یو وړوکی اسوېلی او بیا له ځانه سره دافسوس سر وښوروي).**

**دوه ویشتمه صحنه:**
**ځای: د منیجر دفتر.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: منیجر او کرشمه جانه.**
**( منیجر په چوکۍ ناست وي او له ځانه سره په ترنم کې د استاذ ناشناس دا سندره وایي):**
**سندره**
**ـ شنه شنه دې خالونه تورې سترګې سور سالو په سر**
**بیا دې نازنینې ځان سینګار کړی.**
**( همدې کې کرشمه راننوځي، منیجر ورته خوشاله شي):**
**کرشمه**
**ـ بس تورې سترګې یادوه، نور خو خبر نه یې.**
**( په حیرانۍ):**
**منیجر**
**ـ ولې بیا څه خبره ده؟.**
**کرشمه**
**ـ ما ته دا نوی کس سم سړی نه ښکاري.**
**نه دې دي اورېدلي، چې مار ته په لستوني کې ځی مه ورکوه!**
**منیجر**
**ـ ګوره کرشمه جانې! ځینې ماران غټ یې، خو زهر نه لري.**
**کرشمه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ته خو دا وی، خو بیا به یې ارمان وکې!

( لږ سوچ اوبیا په حیرانۍ):

منیجر

ــ تنګ به یې کم، چې وظیفه پرېدي.

څنګه دې خوښه ده؟.

( کرشمه لږه خوشاله شي):

منیجر

ـ ښه اوس خو راته یوه خوږه لنډۍ وویوه!

( په ناز):

کرشمه

ـ که به مې یو ساعت هېرېږې

رانه دې هېر شي په مانځه کې رکعتونه.

منیجر

ـ واه ! همدې لنډیو خو زه وژلی یم.

( پورته خبره دې د یو سهي مین به انداز او حرکت کې وکړي).

درویشتمه صحنه:

ځای: د اېمل کور.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: وړانګه او اېمل.

( وړانګه بیا د خپل خاوند عکس ته په کوټه کې ولاړه وي، چې اېمل ورشي او په لږې غوسې عکس دېوال ته سرچپه کړي، وړانګه په لږه وېره وروګوري):

اېمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه نه پېږم، چې تا په دې عکس کې څه لیدلي دي؟
( ایمل لږ خواشینی کېني او وړانګه هم لږه وېرېدلې ښکاري):
وړانګه
ـ تا خو هېڅکله مخکې دسې نه و کړي.
لکه چې ډېر خپه یې؟!
( سنجیده انداز):
ایمل
ـ وړانګې! کله کله مجبوریت په انسان د شادو لوبې کیۍ!
( وړانګه خواشینې وروګوري):
خو څه وکم چاره نشته.
وړانګه
( په لږ غمجن انداز):
ـ خیر دی خدای به د صبر اجر درکي.
( لږه ترخه موسکا):
ایمل
( په خواشیني انداز):
ـ د ناچارو په برخه خو همدا صبر دی.

څلرویشتمه صحنه:
ځای: د موسسې دننه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: منیجر، ایمل او د دفتر یو بل کس.
( کس د موټر د ټایرونو په مینځلو لګیا وي. لږه شېبه دې ایمل وښودل شي، چې لږ لرې ترې په سوچ کې ناست وي. همدې کې یې منیجر وګوري او په یوه اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غوسه ورته ووايي):**

**منيجر**

**ـ څنګه د پلار غوندې راته ناست يې؟**

**( د اېمل د حيرانۍ شاټ):**

**پاڅېږه موټر وينځه!**

**پاڅې!**

**( اېمل په افسوس وروګوري او بيا موټر ته درروان شي. منيجر هغه بل کس ته):**

**( جدي):**

**منيجر**

**ـ پاڅېږه ده ته يې پرېږده!**

**( اېمل د موټر د ټايرونو په مينځلو شروع وکړي، خو يو ځل مينځل بس او بيا منيجر ته د شا له لوري د مجبوريت په انداز کې وګوري).**

**پنځه ويشتمه صحنه:**

**ځای: د مرسته ورکوونکی دفتر خونه چې کمپيوټرې هم په کې پرتې وي.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: دوه دريشي کړي لوکس کسان. ( اکبر او غيرت):**

**( اکبر په کمپيوټر لږ کار وکړي او بيا غيرت ته په سنجيده انداز وايي):**

**اکبر**

**ـ يو خو د هغه دفتر والله که نه راپور سهي يې او نه کم ( کوم) فعاليت.**

**په زرګونو ډالرم هسې بې ځايه ورکړل.**

**غيرت**

**( سنجيده)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ما څه نورې خبرې هم اورېدلې دي.
زما خو دا نظر دی، چې نوره یې څه چاره په کار ده.
( سنجیده انداز):
اکبر
ـ سمه خبره دې وکړه.

شپږ ویشتمه صحنه:
ځای: د یوې زړې ودانۍ انګړ.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: اېمل، د موسسې یو بل کس ( الهام) او دوه سپین ږیري.
( لومړی دې یوه لوحه وښودل شي، چې په لوی لیک پرې لیکل شوي وي):
د ذهني سوکالۍ د پراختیا ځانګه
( بیا دې سپین ږیري وښودل شي، چې پر چوکیو ناست رنګه پوکڼۍ ورته په کافي اندازه پرتې او په سیالۍ یې داسې پړسوي، چې په پای کې وچوي. چې نورې پړسوي، دې کې الهام او اېمل ورته راشي. خلک له چوکیو پاڅېږي):
( اېمل لوحې او بیا سپن ږیرو ته وګوري او ډېر حیران شي):
الهام
ـ دا زموږ نوی کارکوونکی اېمل دی.
یو سپین ږیری
ـ صیب! پوکڼۍ خو دې نه دي راوړې؟
( اېمل ورته حیران شي):
الهام
ـ زموږ دا ځانګه د هغو سپین ږیرو دپاره ده، چې کور کې یې زړه تنګ یي،
د دې دپاره چې په روحیو ناروغیو اخته نه شي، نو د پوکڼیو د پړسولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسانتیا مو ورته برابره کړې ده.
( په حیرانۍ):
اېمل
ـ یاره عجیب فعالیتونه دي.
دا خو و الله که دې ملک ته یوه روپۍ ګټه ولري.
دا څه حال دی؟!
الهام
ـ ته پېږې، چې د همدې فعالیت دپاره لس کسه مامورین معاشونه اخلي؟!
اېمل
ـ یاره دې ته خو د فعالیت نوم مه اخله، دا خو هسې دې خلکو پورې خندا ده.
( یو شاټ دې سپین ږیري وښودل شي، چې پوکڼۍ لا هماغسې په سیالۍ پړسوي).
اېمل
( په افسوس غوندې):
دا خو ډېر غټ ریشخند روان دی؟!
الهام
ـ بس کاکا! تاسې خپلې پوکڼۍ پړسوئ!
( له دې سره اېمل او الهام دواړه روان شي).

اوه ویشتمه صحنه:
ځای: د منیجر د فعالیتونو یو بل ځای.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: منیجر، کرشمه جانه، الهام، اېمل او ګڼ نور شاګردان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( لومړی دې د دروازې هغه لوحه چې په کاغذ پرې لیکل شوي وي وښودل شي):
د لوحې لیک
ـ د لاسي صنایعو د ټینګښت اساسي مرکز.
( بیا دې شاګردان وښودل شي، چې پرتوګاښونه په لاس جوړوي او د مېزونو پر سر ورته ډېر روغ پرتوګاښونه هم پراته وي. منیجر مخکې، کرشمه جانه ورپسې، بیا الهام او لږ وړاندې ترې اېمل وي):
منیجر شاګردانو ته
ـ مقاومتم څنګه روان دی؟
زده کوونکي په یو غږ
ـ ډېر ښه روان دی.
ـ زه یې نه منم په عمل کې یې راته ثابته کړی!
( شاګردان چمن ته راووځي او دوه یې د سیالۍ دپاره راشي. د پرتوګاښ سرونه ونیسي، یو سر یې یو او بل یې بل کشوي. څه شېبه زور چې وکړي، پرتوګاښ وشکېږي، منیجر خپه، خو اېمل له ځانه سره د حیرانۍ په ډول ورو خاندي):
( منیجر لږ په غوسه):
منیجر
ـ نور دوه راووځۍ!
( دوه کسه راشي، هماغسې کشول وکړي، خو د هغوی پرتوګاښ هم وشکېږي).
( په خپګان غوندې):
منیجر
ـ دې نه مالومېږي، چې تاسې سهي کار نه کوئ.
( شاګردان لږ خجالته، خو یو په کې ووایي):
شاګرد
ـ صیب! دومره سست نه دي، خو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



( دې کې منیجر کرشمه جانې ته موسکا وکړي او ورته ووایي):
منیجر
ـ راځه چې زه او ته یې تجربه کو؟
( هغه په ناز سیالۍ ته راشي او منیجر پرتوګاښ راواخلي. ښه شېبه دواړه زورونه کوي، خو اخر کې کرشمه منیجر کش کړي، منیجر ډېر خوشاله شي):
منیجر
ـ ډېر ښه.
هم پرتوګاښ ونه شکېده او هم دې زه راکش کړم.
وکیٔ، کرشمه جانې ته چکچکې وکئ.
( ټول ورته چکچکې وکي. کرشمه ناز او اېمل ورته له لږ لرې نه حیران او د ریشخند یو حرکت په لاس او لږه خندا وکي، خو منیجر یې وګوري او پوه شي او په غوسه ورته ووایي):
منیجر
ـ ته دلته چا راوستی یې؟
ورکېږه، خدای دې خوار که.
( اېمل ورته حیران وګوري، زړه یې وي، چې ویې وهي، خو په فلش بیک کې یې هغه صحنه سترګو ته ودرېږي، چې ډاکتر ورته ویلي و، چې شپږ میاشتې وروسته به دې مېرمن راولې):
منیجر
ـ درته ویم ورکېږه!
( اېمل له فلش بیکه ووځي او غمجن روان شي او بیګ ګراونډ کې یې غمجنه موسیقي وي).
نوټ: د پرتوګاښونو د راکښلو حالت دې داسې جوړ شي، چې لیدونکي دا فکر ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، چې ګنې پخوا شکېدلي وو. یانې زور دې طبعي ښکاره شي.

اته ویشتمه صحنه:
ځای: هماغه دسیالۍ چمن.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: منیجر، کرشمه جانه او الهام.
( سنجیده انداز):
کرشمه
ـ ودې لیدل؟!
ما خو درته ویلی، چې دا سړی ما ته ښه نه ښکاري.
اوس لا زموږ فعالیتونو پورې خاندي.
( په چاپلوسانه ډول):
منیجر
ـ ته ولې خپه کېږې، دسې لوبې به درته پې وکم، چې چا په چا کړي نه يي.
الهامه! ته د کرشمه جانې دپاره د یوې ښې غونډې د جوړېدو تیاری وکه.
الهام
ـ صیب! په سترګو.
( یو د چاپلوسۍ حرکت منیجر کرشمې ته وکړي. کرشمه یو ناز وکړي او دواړه روان شي).

نهویشتمه صحنه:
ځای: د ایمل کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: ایمل او وړانګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( وړانګه د کور په کوم کار لګیا وي. روغه ښکاري، چې اېمل کورته راشي، هغه هم د نور کله په پرتله خوښ ښکاري):

وړانګه

ـ راغلې؟

ستړی مه شې.

اېمل

ـ خير يوسې.

( اېمل کېني):

اېمل

ـ اوس څنګه يې.

وړانګه

ـ زه بېخي ښه يم

او تم راته خوشاله ښکارې.

( ترخه موسکا):

اېمل

ـ لکه سر د پسه په اور غاښونه سپين کا

ما ته نن له ډېره غمه خندا راغله

وړانګه

ـ زه خو پويه نه شوم.

اېمل

ـ دفتر نه دی، بس يو ريشخند روان دی.

هر کار يې چې وګورې، نو توبې به وباسې توبې.

وړانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ بس ګوزاره ورسره کوه!**

**اېمل**

**ـ خو د ځينو خلکو سره ګوزاره کول، د اوسپنو د نينو چيچل دي.**

**تر څو به خلک په رښتياو سترګې پټې؟!.**

**وړانګه**

**ـ خو څوک چې رښتيا وي، په کلي کې يې ځی نه کېږي.**

**خير دی خدای به د دې سختو اجر درکي.**

**( له ځانه سره ورو):**

**اېمل**

**ـ سهي ده، خو هره شېبه راباندې کال تېرېږي؟!.**

**دېرشمه صحنه:**

**ځای: د منيجر دفتر.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي. منيجر، کرشمه جانه، الهام، اېمل او نور کارکوونکي.**

**( لومړی دې د دفتر په حوېلۍ کې دوه کسه کارکوونکي وښودل شي، چې مصروف غوندې ښکاري. ورپسې اېمل دوه چوکۍ ګانې په لاسو کې نيولي وي روان وي.، ورپسې دې په هال کې پر دېوال وښودل شي، چې په لوی ليک په کاغذ ليکل شوي وي):**

**د کرشمه جانې د ښو خدمتونو په وياړ غونډه.**

**( يو يو کارکوونکی کوټې ته راننوځي. اېمل هم په وروسته کتار کې کېني. الهام راشي د ټولو مخې ته ودرېږي. لږ وروسته منيجر او کرشمه جانه هم راشي. له دې سره الهام لاسونو ته پړک ورکړي. چکچکې شي، خو د اېمل زړه نه وي، چې چکچکې وکړي. کرشمه ناز او منيجر په سترګو کې ورته چاپلوسي وکړي):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الهام**

**ـ ننني غونډه د کرشمه جانې په وياړ جوړه شوې. هيله ده چې منيجر صيب خپلې لنډې خبرې او بيا کرشمه جانې ته ستاينليک ورکړي.**

**( چاپلوسانه موسکا):**

**منيجر**

**ـ قسم په خدای که ما سره داسې کليمې يي، چې زه دې د کرشمه جانې ستاينه پې وکم.**

**دومره به ووېم، چې کرشمه جانه زمنږ د دفتر روح دی. کرشمه جانه هغه ساه ده، چې**

**بې له دې نه منږ په مړو حساب يو. تاسې ته معلومه ده، نن چې کوم فعاليتونه روان دي، نو دا ټول د کرشمه جانې برکت دی. لنډه دا چې کرشمه جانه نه يي، نو نه به منږ يو او نه دا دفتر؟**

**( کرشمه خوشاله او اېمل له افسوسه تک سور واوړوي):**

**منيجر**

**ـ کرشمه جانه نه يوازې دا چې د اخلاقو يوه سمندر دی، تاسې**

**په خدای باور وکې، چې پرون يې زه کش هم کړم.**

**( کرشمه خوشاله شي):**

**که زما وس وای، کرشمه جانې ته به مې د سرو زرو زانګو جوړه کړې وی،**

**خو خير دی اوس دې زما دا عاجزانه ستاينليک ومني.**

**( له الهام نه ستاينليک واخلي، په چاپلوسانه انداز يې کرشمې ته ورکړي، هغه موسکۍ او اېمل په غوسه غوندې وي):**

**منيجر**

**ـ وکۍ، چکچکې ورته وکۍ!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ټول چکچکې وکړي. کرشمه د منني لاس وښوروي او لږه شېبه وروسته کرشمه مخکې، منيجر او الهام ورپسې ووځي).

يودېرشمه صحنه:

ځای او هر څه: د تېرې صحنې.

( اېمل او د دفتر نور کارکوونکي لا ناست وي، خو اېمل ډېر خپه ښکاري. دې کې يو ترې پوښتنه وکړي):

کس

ـ ولې اشنا! ته خو دسې خپه يې، لکه لور چې دې پيدا شوې يي؟

( اېمل لومړی د سترګو لاندې وروګوري او بيا ورته ووايي):

اېمل

ـ زه حيران تاسې تيم ( ته يم) چې دا دومره کلونم دلته څنګه تېر کړي؟

کس

ـ ولې نه دي دې اورېدلي، چې د کار پيدا کول اسانه دي، خو وخت تېرول په کې سخت دي.

بل کس

ـ بس وروره! د دوسې شپې دې تېروو يې. ګنې هر څوک په دې پوهېږي، چې غوا توره ده او شوده يې سپين دي.

بل کس

ـ بس دغه يو څو روپو تم سترګې خړې کړي،

څه وکو، چاره نشته؟!

( اېمل ناستو کسانو ته په خپګان وګوري، يو اسوېلی وکړي او پاڅېږي).

دوه دېرشمه صحنه:

ځای: د منيجر کوټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت: ورځ.

لوبغاړي: منیجر، کرشمه جانه او اېمل.

( کرشمه او منیجر ناست وي. منیجر کرشمې ته په پیاله کې چای واچوي او بیا په چاپلوسانه انداز ورته ووايي):

منیجر

ـ څنګه غونډه دې خوښه شوه؟

کرشمه

ـ ښه وه، خو اېمل راته ډېر بد بد کتل.

که ما خوشالی، ( خوشالوې) یو وار یې زما په مخ کې ښه سپک که!

منیجر

ـ دا خو وړه خبره ده، همدا اوس بې درته د باد بڼکه کم.

( لږ سکوت او بیا په چاپلوسانه ډول):

منیجر

ـ خو دا راته ووایه، چې کلیزه دې کله ده؟.

( په ناز):

کرشمه

ـ سبا ته.

( په خوشالۍ):

منیجر

ـ څومره ښه.

خو اول به زه د هغه خوښ شم.

( له دې سره د مېز زنګ ووهي. په دویم زنګ اېمل راشي):

اېمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سلام علیکم.
( په سپک انداز):
منیجر
ـ سلام علیکم، سلام علیکم.
څنګه په اول زنګ نه راځې؟.
( په عاجزۍ):
اېمل
ـ صیب! چې څنګه مې واورېده، راغلم.
منیجر
ـ سترګې خو دې ړندې دي، خو د غوږونو نم لکه چې خلاص یې؟!
( اېمل په افسوس وروګوري):
منیجر
( په غوسه):
ـ راشه د کرشمه جانې سینډل موچي ته وېسه!
چټک!
( اېمل له خپګانه داسې شي، لکه ساه چې ترې وتلې وي، پر ځای همداسې ولاړ پاتې شي):
( په کبرجن انداز):
منیجر
ـ تا ته ویم، دلته راشه!
( اېمل په سترګو کې وروګوري او کرشمه له ځانه سره د ریشخند وړه موسکا وکړي، اېمل یو ځل بیا وروګوري، خو دا ځل په مات زړه راشي او سینډل واخلي او چې روان وي، نو د شا له لوري په خپلو کې منیجر او کرشمه وریورې بېغږه خندا وکړي او یو د بل لاس په زوره ووهي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې دېرشمه صحنه:
ځای: مرسته ورکوونکې دفتر.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: اکبر او غیرت.
اکبر
ـ څنګه هغه اېمیل دې ولیکه؟
غیرت
ـ لیکلې مې دې خو لېږلی مې نه دی.
اکبر
ـ دا په کې واضیحه ولیکه چې د دې اېمېل په رسېدو به نور منیجر، منیجر نه یي.
غیرت
ـ دا خو ډېر په ځی کار دی.
اکبر
ـ همدومره ریشخند او خیانت بس دی.
اخر خلکم سترګې لري.
د دې وطن خلک خو ړانده نه دي.

څلوردېرشمه صحنه:
ځای: د هماغه ډاکټر کوټه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: ډاکټر، اېمل او وړانګه.
( لومړی دې ډاکټر وښودل شي، چې د ایکسرۍ عکس ته لاندې باندې وګوري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا په خوشالۍ ووايي):

ډاکټر

ـ د خور تکلیف باالکل ښه شوی، نه دوا ته ضرورت لري او نه عملیات ته.

داسې ښکاري چې د درېو میاشتو دوا یې پوره خوړلې ده

( اېمل وړانګې ته په خوشالۍ وګوري):

اېمل

ـ ډاکټر صیب! دا خو دې راباندې لوی زېری وکه.

خدای دې دروند لره.

ډاکټر

مبارک دې يي!

( اېمل پاڅېږي او لاس ورکړي):

اېمل

ـ ډاکټر صیب! ډېره مننه.

( او له دې سره اېمل او وړانګه دواړه روان شي).

پنځه دېرشمه صحنه:

ځای: د منیجر د دفتر چمن.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: منیجر، کرشمه جانه، الهام اېمل، د دفتر ټول کارکوونکي، د هارمونیې، تبلې او رباب والا.

( لومړی دې یو غټ مېز وښودل شي، چې سپینه پرده پرې اچول شوې وي. په یو ګرد لوی غوري کې یو لوی ګرد کېک او خوا کې یې چاقو او کاشوغ پنجې پرتې وي. په بل غوري کې شل شمعې لګېدلې وي. کرشمې یو ډېر ښکلې دامن کمیس اغوستی، موسکۍ وي، منیجر صیب هم په یوه پاکه درېشۍ کې پسۍ روان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مېز ته راورسېږي. بیا دې نور خلک وښودل شي، چې مېز ته مخامخ منظم ناست وي، دې کې الهام راشي ):

الهام

ـ د ټولو نه مخکې منیجر صیب ته بلنه ورکوم، چې خپله عالمانه وینا پیل کړي.

( منیجر په موسکي انداز):

منیجر

ـ زه د ټولو نه مخکې کرشمه جانې او بیا خپل ځان ته د دې کلیزې مبارکي ویم. ستاسې د ټولو په سر دې زما قسم یي، چې زما د ژوند د ټولو نه لوی ارمان دا و، چې خدای دې کرشمه جانه زر تر زره شل کلنه کي. زه نه یوازې دا مبارکي د کرشمه جانې کورنۍ، بلکې د هغوی ټولو خپلوانو او خدای ښنلیو ته هم ویم. اوس کرشمه جانې ته سوال کوم، چې خپل کېک پرې او موږ خوشاله کي.

( کرشمه په موسکا راشي، اېمل ورته حیران ګوري او کرشمه په ناز لومړی شمعې مړې او بیا کېک پرې کړي. له دې سره منیجر او ټول چکچکې وکړي او پرته له اېمله نور ټول په یوه غږ دوه ځلهووایي):

ـ هیپي برډې ټو یو

هپي برډې ټو یو.

( الهام منیجر ته د ګلو ګېډۍ ورکړي او هغه یې په ډېره مینه کرشمه جانې ته ورکړي او هغه موسکۍ شي او د سر په ښورېدو ترې مننه وکړي).

الهام

ـ منیجر صیب! اېمل هم غواړي، چې کرشمه جانې ته د عقېدت ګلونه وړاندې کي.

( منیجر داسې فکر وکړي، چې اېمل کرشمې ته رښتیا هم په لوړه سترګه ګوري، ځکه نو کرشمې ته په سترګو کې خوشاله او هغې ته په لاس بلنه ورکړي، تر څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کيني. اېمل هارمونيې ته کښني او دا سندره چې استاذ ايوب ډېره ښکلې په راډيو افغانستان کې ويلې پيل کړي):**

**سندره**

**ـ تر څو به په چل ول باندې قدم راسره ږدې**

**لاسونه به د دروغو په قسم راسره ږدې.**

**اخر به دې د سپينې خولې په تمه تمه مړ شم.**

**چې شرط د تحمل د درد و غم راسره ږدې**

**( د سندرې د ويلو په جريان کې پرته له کرشمې نور ټول په مناسب ډول اېمل ته ډېر داد ورکوي. منيجر په مينه کرشمې ته ګوري او فکر کوي، چې ګنې دا سندره ښځي زما او د کرشمې لپاره ده. په سترګو کې کرشمې ته په مينه ګوري او چاپلوسي ورته کوي، خو کرشمه داسې ښکاري لکه سندرې ته چې يې زړه تنګ وي او بده پرې لګېږي. منيجر ورته په خپله خبره کې چاپلوسي کوي او هم د کرشمې خپګان ته حيران غوندې وي. په نورو سندره ډېره ښه لګېږي او چې کله د سندرې يو بيت پوره شي، ټول ورته واه واه وکړي او لږې چکچکې ورته هم وکړي، خو کرشمه ترې په خبره کې کرکه ښکاره کړي):**

**کرشمه**

**( په داسې انداز لکه ضعف کېږي چې):**

**ـ دا سندره وه، که وير؟!**

**( اېمل په افسوس وروګوري):**

**کرشمه**

**( په ناز):**

**هله زما زړه ډوبېږي!**

**( په چاپلوسۍ ):**

**منيجر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هله جوس راوړه!

( ایمل یو ځل په خپګان وروګوري اوبیا پاڅېږي، په خواشینۍ روان شي).

شپږ دېرشمه صحنه:

ځای: د منیجر کوټه.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: منیجر، کرشمه، اکبر، غیرت، ایمل.

( منیجر په چاپلوسانه ډول کرشمه چې د هغې یو لاس یې پر خپله اوږه اچولی وي، خپل دفتر ته راننباسي او پر چوکۍ یې کېنوي ):

منیجر

ـ تا ته ولې دا تکلیف پیدا شو؟

( مکر او ناز):

کرشمه

ـ زما مستې سندرې خوښېږي.

( همدې کې ایمل د جوس سره راشي. جوس په مېز کېږدي، خو چې روانېږي، نو منیجر ورته ووایي):

( جدي):

منیجر

ـ تا ولې دسې سندره وویله؟

( ایمل حیران وروګوري):

منیجر

ـ تا ته ویم! تا ولې ما ته د تورو جامو یار راولی.

یا څه توکل په خدای جانانه نن یوه وعده کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکه یارانه کوو،**
**دا سندرې دې ولې نه ویلې؟**
**اېمل**
**ـ منیجر صیب! زه سندرغاړی نیم، یو د زړه درد و، ښکاره مې که.**
**( په غوسه غوندې):**
**او که اوس کرشمه جانه مړه شوې وې، نو بیا؟**
**اېمل**
**ـ زه څه خبر وم، چې کرشمه جانه دومره نازک بي بي ده.**
**( سترګې راوباسي):**
**منیجر**
**( په غوسه):**
**ـ تا کرشمه جانې ته نازک بي بي ووېلې؟!**
**وځه ورکېږه!!**
**( هغه په داسې حال کې چې منیجر ته ګوري، کرار کرار روان، بیک ګراونډ کې یې غمجنه موسیقي وي، خو چې څنګه له دروازې نه وځي، همدې کې اکبر او غیرت په لوکسو درېشیو کې چې د یوه تورې عینکې په سترګو وي، راننوځي، خو چې څنګه کرشمه وګوري، سترګې لږې برګې کړي، خو منیجر په چاپلوسانه انداز ورته ووایي):**
**منیجر**
**ـ صیب! تاسې؟ ستړي مه شۍ، هر کله راشۍ.**
**( لاسونه سره ورکړي، هغوی کېني):**
**منیجر**
**ـ ډېر په خیر راغلۍ.**
**اکبر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خیر یوسې.
غیرت
ـ دا څوک ده؟
( په چاپلوسۍ):
منیجر
ـ دا خو کرشمه جانه ده.
اکبر
ـ کرشمه جانه دلته څه کار کوي؟
منیجر
ـ کرشمه جانه خو زما سکه سکرتره ده.
د دې په څنګ کې ډېرې ښې مشورې هم راکوي.
غیرت
ـ منیجر صیب! همدومره زیاتې بس دي، چې تا په دې څو کالو کې د دې ملت د خلکو سره وکه.
( د منیجر څېره پیکه غوندې شي).
اکبر
ـ تا لکه چې اېمیل نه دی لوستی؟
منیجر
ـ نه، تر اوسه والله که د فعالیتونو نه اوزګار شوی یم.
غیرت
ـ ته اېمیل وګوره، پخپله به پوی شې.
( له دې سره دواړه پاڅېږي، خو منیجر ورته په چاپلوسۍ ووایي):
منیجر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ صیب! جوس خو وسکۍ!
اکبر
ـ مورِ جوسونو ته نه یو راغلي.
( له دې سره دواړه ووځي او منیجر هم ورپسې وي).

اوه دېرشمه صحنه:
ځای: د منیجر دفتر.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: کرشمه جانه او منیجر.
( کرشمه جانه کمپیوټر ته کېني. اېمېل چک کوي. لږه شېبه وروسته یې په څېره کې خپګان پیدا شي. د کمپیوټر نه ګوتې لرې کړي او خپه شي. همدې کې منیجر راشي او د کرشمه جانې خپګان چې وګوري، نو په چاپلوسۍ ورته ووايي):
منیجر
ـ د هیبت په خبرو مه خپه کېږه!
دسې نه چې بیا دربandې ضعف راشي.
کرشمه
ـ ضعف خو به په تا راځي.
منیجر صیب نور ته نه، اېمل منیجر دی.
( د منیجر څېره داسې شي، لکه ساه چې یې وتلې وي. کمپیوټر ته رانږدې شي، اېمیل ته وګوري، د خپګان یو اسوېلی وکړي او بیا کرشمې ته خړ خړ وګوري ):
کرشمه
ـ د خپله لاسه دې پاچاهي په ځان او ما ورانه کړه.

اته دېرشمه صحنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځای: د اېمل کور.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: اېمل او وړانګه.**

**( اېمل کوټه کې ایینې ته ولاړ، پاکې جامې یې اغوستې، ښه واسکټ یې په تن، وېښته ږمنځوي او خوشاله ښکاري، چې دې کې ورته د جمیل زنګ راشي. په دغه صحنه کې دې جمیل هم د خبرو پر وخت ښودل کېږي):**

**اېمل**

**ـ بلې. سلام.**

**جمیل**

**ـ سلام، اېمل خانه جوړ یې، کورته خیریت دی؟**

**اېمل**

**ـ مننه. تاسې ته کراري ده.**

**جمیل**

**ـ نن دربانديې یو زېری کوم.**

**( اېمل حیران شي).**

**جمیل**

**ـ تاسې کولای شۍ، چې سر له سبا نه خپلې وظیفې ته راشۍ.**

**د نورو په ځی، زه درنه ښښنه غواړم.**

**چا چې تا ته دسیسه جوړه کړې وه، د هغوی سره قانوني چلند وشو.**

**اېمل**

**ـ امر صیب! د زړه ښیښه چې یو ځل ما ته شي، بیا پیوند نه اخلي.**

**جمیل**

**ـ خو زه د دې ټولو سره سره درته په تمه یم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اېمل**

**ـ ګورو به.**

**( دې کې وړانګه راشي):**

**وړانګه**

**ـ څوک و، نن خو خوشاله ښکارې؟!**

**اېمل**

**ـ وړانګې! کله کله خوشالۍ یو په بل پسې راځي.**

**ښه زه اوس لاړم، نن یو مېټېنګ دی.**

**( اېمل روان او وړانګه ورته یوه شېبه ګوري).**

**نهه دېرشمه صحنه:**

**ځای: د ښار یوه برخه.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: اېمل او رحیم ( هغه پخوانی پولیس):**

**( د ښار په یوه کوڅه کې دواړه سره مخامخ شي. رحیم اېمل ته سلام وکړي، اېمل په مینه):**

**اېمل**

**ـ اوهو، رحیمه ته؟!**

**( غاړه سره ورکړي):**

**رحیم**

**ـ ښه دی، هېر کړی دې نیم؟**

**اېمل**

**ـ رحیمه! یوه هوښیار ویلي دي:**

**چا چې درسره خندلي يي، کېدای شي، چې هېر دې شي، خو چې چا درسره ژړلي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يي، هغه د چا نه هېرېږي. او بيا ته به زما څنګه هېر شې؟!**

**رحيم**

**ـ خبر شوم چې منيجر شوې؟**

**ابمل**

**ـ د دې جواب به وروسته درکم، خو ته راته ووايه، چې منيجر خو به دې خپل نه يي؟**

**رحيم**

**ـ نه مسلمانه! هېڅميم نه کېږي، خو يو وخت موږ دواړو د پول خشتې جومات مخې ته د سېرلو سرونه خرڅول.**

**( له دې سره دواړه وخاندي او يو د بل پنجه ووهي).**

**ځلوېښتمه صحنه:**

**ځای: د دفتر ودانۍ او بيا د منيجر کوټه.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: ابمل او د دفتر ټول کارکوونکي.**

**( لومړی دې د منيجر چوکۍ وښودل شي، چې تشه وي، خو شاوخوا د دفتر پنځلس کسه ناست وي. منيجر بې نوره غوندې ښکاري. ځينې کارکوونکي داسې ښکاري، لکه خپلو کې چې خبرې کوي، همدې کې ابمل په ښه لباس کې دفتر ته رانوځي، سلام واچوي، ټول ورته پاڅېږي، خو منيجر ورته د چاپلوسۍ نه يوه موسکا وکړي. ابمل د منيجر پر چوکۍ کېني. لومړی لږ ټولو ته وګوري، دې کې کرشمه جانه د ګلو ګېډۍ سره کوټې ته رانوځي. منيجر هغې ته هم په چاپلوسانه انداز ورپاڅېږي، زړه يې وي، چې د ګلو ګېډۍ ترې واخلي، خو هغه ورته ووايي):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرشمه

ـ ته دې په ځې غلې کېنه!

دا مې منیجر صیب ته راوړې ده.

( پخوانی منیجر ډېر خجالته کېني او کرشمه اېمل ته ګېډۍ وړاندې کړي، خو هغه ورته ووایي):

اېمل

ـ ما خو لا داسې څه نه دي کړي، چې ګلان راکې؟

نورې به دلته د ګل او بلبل کېسې نه یي.

( کرشمه بې څوابه شي، د ګلو د ګېډۍ سره خجالته په چوکۍ کېني. اېمل په سنجیده ډول):

اېمل

ـ بسم الله الرحمن الرحیم.

زما هېڅکله په زړه کې هم دا نه و تېر شوي، چې زه دې ستاسې مشر شم. خو کله کله خدای داسې کارونه کې، چې له یوه نه یې اخلي او بل ته یې ورکې.

( په چاپلوسۍ):

منیجر

ـ صیب! په خدای باور وکه چې د دې پوست لپاره د ټولو نه مناسب همدا ته یې!

( اېمل منیجر ته سرسري وګوري او خپلو خبرو ته دوام ورکړي):

اېمل

ـ په تېرو پسې ناپوهان ګرځي، خو دا به له زړه نه ومنو، چې موږ باید د خپلو خلکو سره نور د ذرې هومره هم خیانت ونه کو.

( خلک وروګوري):

اېمل

ـ له دې وروسته به موږ داسې کارونه کوو، چې هغه د دې ملک خلکو ته ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولري. نه داسې کارونه چې هم د خلکو وخت ضايع کړي او هم د خندا وړ يې.
( کرشمه ودرېږي):
کرشمه
ـ صيب! زه دومره خرابه جنۍ نه وم، خو ده ( په لاس پخواني منيجر ته اشاره) بې لارې کړم.
اېمل
ـ له نن نه وروسته ټول هغه کارونه چې بې له ريشخند نه بله مانا نه لري، لغوه دي او په ځۍ به يې دسې کارونه شروع شي، چې هغه خلکو ته په رښتيا هم ګټه ولري.
( منيجر پاڅېږي، په چاپلوسۍ):
منيجر
ـ صيب! زه به د يو خدمتګار غوندې لاس په نامه درته ولاړ يم.
اېمل
ـ الهامه! ته به سر له نن نه کرشمې ته يوازې دفتر جوړ کې. هر څوک که ورغی، نو بيا يې ګيله له ځانه ده.
( منيجر سترګۍ کښته کړي):
اېمل
ـ ورونو! تاسې هر يو کولای شۍ، چې ما نه د د دې دفتر د يوې يوې پيسې پوښتنه وکۍ.
( په چاپلوسۍ منيجر پاڅېږي):
منيجر
ـ صيب! بېګاه ته خامخا زما مېلمه يې.
( کرشمه منيجر ته په سترګو کې بد بد وروګوري):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اېمل**

**ـ مننه. د دې کارونو تمه دې هم ما نه څوک نه کې.**

**منیجر**

**ـ صیب! که تاسې زما خبره ونه منی، نو زما وجدان به ټول عمر نا ارام وي.**

**کرشمه**

**ـ کاشکې تا وجدان لرلی!**

**( منیجر حیران وروګوري):**

**منیجر**

**ـ خو صیب! که زه تاسې ته یو څه خدمت ونه کم، نو له خپګانه به مړ شم.**

**( اېمل له ځانه سره لږ موسکې شي):**

**اېمل**

**ـ منیجر صیب! درته ومې ویل، چې زما نه دا کارونه خوښ دي او نه ورته څه اړتیا شته.**

**منیجر**

**ـ صیب! هېڅ امکان نه لري. که ته زما دا خبره ونه منې، نو زه به ځانوژنه وکم.**

**( اېمل نورو ته وګوري او حیران شي):**

**اېمل**

**ـ منیجر صیب! تا چې مخکې زما کوم عزتونه کړي، زه ویم، همدومره به بس يي.**

**منیجر**

**ـ صیب! هوښیاران هغه دي، چې د وخت وخت سره چلېږي. صیب! دا ستاسې خپل حق دی،چې یو امر راباندې وکی.**

**( کرشمه بیا بد بد وروګوري):**

**ـ ښه نو چې نه مې پرېږدې، نو همدا نن زما د مېز لپاره په یوه خطاط د لرګی په لوحه دا شعر ولیکه!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په چاپلوسۍ):

منیجر

ـ صیب کم شعر؟ زر یې راته ویویوه، چې همدا نن یې راوړم.

اېمل

( په سنجیده ډول):

ـ دا شعر چې:

ـ دیوه غېږ کې پرته وبل ته خاندي.

( یو لنډ شاتې دې کرشمه وښودل شي)،

د یوه غېږ کې پرته وبل ته خاندي

څه لولۍ او بې حیا ده دا دنیا

( او له همدې سره کمره اېمل د هغه د سینې په نیمایي داسې کلوز کړي، چې سترګې یې د دې شعر په باره کې ډېرې خبرې کوي).

۱۳۹۰ـ وزیر اکبرخان مینه ـ کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې متې

**(تلوېزوني ډرامه**

**د کرکټرونو پېژندنه:**

**۱ـ جلال: د ۲۲-۲۵ کلونو پورې په يوه پښه يا لاس معلول وي، چې يو هوښيار او با احساسه کرکټر دی، د هېواد په حالاتو خپه، په حقوقو کې ماسټري لري، داسې يوه څېره لري، چې د خلکو ورسره همدردي هم پيدا کېږي، له خپلو کارونو راضي نه وي، په پای کې خپل کاروبار شروع کوي، د دفتر په لومړيو ورځو کې يې لباس ښه او کله چې بېکاره کېږي، لباس يې هم يو اندازه زوړ وي. نوموړی د ډرامې اتل دی.**

**۲ـ سبا د ۲۲ کلونو په عمر چې معصومه څېره لري، سنګين کرکټر د جلال مېرمن ده.**

**۳ـ حميد د جلال پنځه يا شپږ کلن زوی، چې ښايسته وي.**

**۴ـ د دفتر مشر، عمر يې پنځوس يا تر دې پورته کله هوښيار غوندې او کله احمق وي.**

**۵ـ ګلنګاره پنځوس کلنه، چاغه وي، خو په نازونو پوهېږي، د خياطۍ منيجره ده، بد معاشه غوندې ښکاري، د خوراکونو مينه واله ده او په کار نه پوهېږي.**

**٦ـ کاتب شاه: د دفتر مامور، ۳۰ کلن، يو چالاک کرکټر، د مشر منونکی.**

**۷ـ اچمل: په دفتر کې يو محافظه کار مامور.**

**۸ـ شاه جهان يوه کريهه څېره په دفتر کې انضباط، د مشر اوښی وي، وروسته د حاضرۍ مامور شي.**

**۹ـ ډاکتر داسې کرکټر چې داکتر ښکاره شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰ـ اسماعیل ساحوي کارکوونکی.
۱۱ـ شیدا ساحوي کارکوونکی.
۱۲ـ نوراني د دویم دفتر مشر، چالاکه او بې سواده غوندې انسان، خو لوکس وي. وروسته یې حالت خرابېږي.
۱۳ـ د نوراني ناپوه خوریي.
۱۴ـ شهزاد د کور مالک.

لومړۍ صحنه:
ځای: یو دفتر.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: جلال.
( د یو څو ثانیو لپاره دې جلال وښودل شي، چې په دفتر کې په یوې چوکۍ غمجن ناست وي).

دویمه صحنه:
ځای: د هماغه دفتر یوه خونه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: کاتب شاه، سلام او محمود.
( کاتب شاه د دفتر مېز د تبلې په څېر وهي، ملګري یې ورته ګډېږي او دا سندره ورته د یوې دقیقې دپاره په هماغه کمپوز کې وایي، لکه څنګه چې همدا سندره پخوا حبیب شریف ږیلې ده، وایي):
سندره
ـ تاو شه تاوېږه دا محفل د خوشالو دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شرنګ شرنګ شرنګ، شرنګ دې د بنګړو دی**
**شرنګ شرنګ شرنګ، شرنګ دې د بنګړو دی.**
**بنګړي نیم کښته کړه نیم پورته**
**چې په مړوند باندې دې سر ولګومه**
**شرنګ شرنګ شرنګ**
**شرنګ دې د بنګړو دی**

**( د درې ځله شرنګ سره یې ملګري مناسب حرکتونه کوي، چې دې کې د دفتر مشر راشي، هغوی ووینې، په خوشالۍ ووایي):**

**د دفتر مشر**

**ـ واه، دا دي مزې.**
**یه هلکه دې ته خو مو زما زړه وکه.**
**خیر، پاتې دنیا ده، په شرنګ او شرونګ یې تېروئ!**
**خوفعالیتونه څنګه روان دي؟**

**کاتب شاه**

**( په لږې چاپلوسۍ)**

**ـ صیب! هر څه په ترنم کې سم روان دي.**

**مشر**

**ـ افرین، ګوره ترنم پرېنږدئ، زموږ هېواد خو ترنم ته ډېره اړتیا لري.**

**کاتب شاه**

**ـ صیب! که ته پخپله مترنم انسان نه وی، نو موږ بیا کله ترنم کولی شو؟!**

**مشر**

**(لږه موسکا)**

**ـ خو ګوره لږ لږ د موسسې کارونه هم کوئ.**

**کاتب شاه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب! فکر ونه کئ، ستاسې غونډې هستي چې په مستۍ کې مدهوشه يي، نو هر څه بیا خپله سندریز کېږي.

( په لږه موسکا):

مشر

ـ یره کاتب شاه! ته خو راته په همدې فلسفه ګران يې.

کله کله درنه لوی فیلسوف جوړ شي.

کاتب شاه

ـ دا خو ټول ستا برکت دی، تا غونډې نابغه چې د چا مشر يي، نو بیا يې څه کمی دی؟!

مشر

ـ ګوره.

( او له دې سره موسکا وکړي او له کمرې اوټ شي).

درېیمه صحنه:

ځای: د هماغه موسسې د دفتر یوه خونه.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: جلال او اچمل.

( دواړه د کمپیوټرونو شا ته ناست وي، جلال کار کوي، خو غمجن ښکاري، چې لږ وروسته ورته اچمل ووايي):

اچمل

ـ یره یو خو تا هر وخت ځان باندې تبه راوستې يي،

دا ولې؟

جلال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه خو په دې نظر یم ، چې دلته باید د احساس خاوند ناروغ وي.
( په حیرانۍ):
اچمل
ـ ناروغ يي، په څه، ولې؟
جلال
ـ ته نه ګورې، چې دلته کومه بې عدالتي روانه نه ده؟!
دسې کارونه کېږي، چې دې هېواد او خلکو ته هېڅ ګټه نه لري.
دا سهي ده، چې موږ معاشونه اخلو، خو لږه د خدای نه ېره هم په کار ده.
اچمل
ـ که ته دسې خبرو ته فکر کی، نو ډېر زر به درنه د میاعلي صیب لېونی جوړ شي.
جلال
( په سنجیده او لږ ورو انداز)
ـ رښتیا دې وویل، خو په دې هېواد کې د احساس د خاوندانو نه د میاعلي صیب لېوني هم ارام ژوند لري.
اچمل
ـ زما ومنه. سپین ته تور او تور ته سپین وایه، چې ژوند دې خوشاله يي.
جلال
( سنجیده او څېره دې لږه کلوز شي)
ـ یاره دا خو د انسانیت لاره والله که يي..

څلورمه صحنه:
ځای: د جلال دوی په منځنۍ کچه یو کور.
وخت: ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوبغاړي: جلال ، سبا ،حمید پنځه یا شپږ کلن ماشوم زوی یې.**

**( سبا د کور په کار یوه څه شېبه لګیا وي، چې جلال له دندې نه کورته راشي، په کټ کې کېني)**

**سبا**

**ـ سلام، ستړی مه شې.**

**جلال**

**مننه، خیر یوسې.**

**( جلال کټ کې کېني)**

**سبا**

**ـ دفتر کې خیریت و؟**

**جلال**

**ـ هلته خیریت څه کئ؟!**

**بس یوه ګډوډي ده روانه ده.**

**سبا**

**ـ لکه څنګه؟**

**ـ بس کار مالوم نه دی، یا دسې کارونه دي، چې خلکو ته روپۍ ګټه نه لري، خو لکونه ډالر په کې وهل کېږي.**

**سبا**

**ـ ته یې څه کی. پردي غمونه مه تله**

**ستا خوشکر دی، کار په کې شته. خپلې شپې سبا کوه.**

**جلال**

**ـ خو ځینې شپې ډېرې اوږدې یي، نه سبا کېږي.**

**سبا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ ډېر په رشتیاو پسې مه ګرځه، هغه دې نه دي اورېدلي، چې څوک رشتیا وئ، نو د هر چا بدې شي.**
**( جلال تندی لړ تریو کړي):**
**سبا**
**ـ هغه زما د جامو ټوټه دې نن بیا هېره شوه؟!**
**جلال**
**ـ سهار ته يې راپه یاد که په موسسه کې به يې درته وګنډم.**
**سبا**
**ـ دسې نه چې راته خرابې يې کي.**
**جلال**
**ـ ولې به يې خرابئ، لس کاله کېږي، چې زموږ د خیاطۍ د سنټر مشره ده.**
**سبا**
**( په خوشالۍ):**
**زه به ورسره بل کمیس درکم، خو ته به پې ډېره سپارښتنه وکې، دا ټوټه مې ډېره په مینه اخیستې ده.**
**جلال**
**ـ سمه ده، همدسې به وکم.**

**پنځمه صحنه:**
**ځای: د موسسې دفتر.**
**وخت: سهار.**
**لوبغاړي: مشر او د خیاطۍ د سنټر پېږه ښځه.**
**( مشر په خپله کوټه کې په چوکۍ ناست وي، چې د سنټر مشره یانې ګل نګاره دفتر ته په ناز راننوځي او مشر په مینه وروګوري):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مشر**

**ـ همدا اوس مې په زړه کې ګرځېدې، عمر دې ډېر دی.**

**ګل نګاره**

**( په ناز)**

**ـ دروغ مه ویوه. هسې مې مه خوشالوه.**

**مشر**

**ـ تا او خدای په ما کې دې کله دروغ لیدلي؟!**

**دا دفتر خو ټول په تا ګل ګلزار دی.**

**( ګل نګاره یوه تاوېدونکي موسکا وکړي):**

**ګل نګاره**

**ـ سترګې دې ښیسته دی.**

**مشر**

**ـ دې شپو ورځو کې راته دسې خواره غوندې ښکاري، ګل نګاره خو باید پالوانه یي کنه.**

**ګل نګاره**

**ـ نن بیا دال پاخه دي.**

**څنګه به نه خوارېږم؟!**

**مشر**

**( په لږ ګوانښ سره)**

**ـ ته صبر وکه، همدا اوس به دې په کبابونو مړه کم.**

**( همدې کې زنګ ووهي، کاتب شاه لږه شېبه وروسته په منډه راشي):**

**کاتب شاه**

**ـ صیب خیریت دی، دا دی راغلم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه مو ویلې؟
مشر
ـ خبر نه یې چې ګل نګارې وزن د لاسه ورکړی او دا زموږ د موسسې دپاره غټه ناامبدي ده.
( ګل نګاره لږه تاوه راتاوه شي):
کاتب شاه
ـ نو څنګه صیب سېرومونه ورته نه چالانوو؟!
مشر
ـ سېرومونو سره به وروسته ګورو، خو اوس لاړ شه یو څلور کېلو د پسه سیخان راوړه
چې د ګل نګارې سره یې په شریکه وخورو.
کاتب شاه
ـ صیب په سترګو.
په پنځو دقېقو کې به یې راورسوم.
مشر
ـ او هن! د دې ورځې نه وروسته هره ورځ ګل نګارې ته کړایان او سیخان راوړه، تر څو د ښځو حقوق او جنډر مراعات شي.
کاتب شاه
ـ سمه ده.
( کاتب شاه له کمرې اوځ او مشر ګل نګارې ته یوه خوږه موسکا وکړي).

پنځمه صحنه:
ځای: دفتر.
وخت: غرمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبغاړي: اچمل، جلال، شاه جهان ملازم او څلور کسه نور.
( ټول يوه خيرن دسترخوان ته ناست وي او مخې ته يې د ډېرو خرابو دالو کاسې پرتې وي. تر لږ خوراک وروسته اچمل ووايي):
اچمل
ـ زه خو تږی شوم، خو اوبه د چا نه وغواړو؟
نور خو دې ډېرو دالو رانه دېګ بخار جوړ که.
( دې وخت کې دې شاه جهان وښودل شي، چې په يوې چوکۍ ناست په بلې چوکۍ يې پښې اچولې وي، ويده وي او خرېږي):
جلال
ـ بس خدای ته صبر کوه، ستا خو همدغه عقېده ده.
اچمل
ـ ته پوهېږې، چې په هر ځای کې وخت تېرول هنر غواړي.
جلال
ـ خو ددسې هنر نه بې غيرتي راتاوه وي.
نوټ: د انصباط خرار دې ريکارډ شي.

شپږمه صحنه:
ځای: د مشر دفتر.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: مشر، ګلنګاره او کاتب شاه.
(پر دسترخوان د پسه کباب، سلاد او پيپسي پراته وي، ګلنګاره د مشر مخې ته ناسته وي او کاتب شاه په چاپلوسانه انداز کې ګلنګارې ته په ګيلاس کې پيپسي اچوي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګلنګاره**

**( یوه عجیبه موسکا)**

**ـ رشتیا چې درته ووېم، نو د دالو نه مې د پسه غوښه ډېره خوښېږي.**

**مشر**

**ـ د با اصولو انسانانو خو یوه نښه همدا ده، چې له دالو نه یې ماهیان، چرګان او پسونه ډېر خوښ يي.**

**ما ته خو په همدې ګرانه یې چې خراب شی دې هېڅ تېرېږي نه.**

**کاتب شاه**

**ـ او بیا د پیپسي یخ بوتل خو ورسره دسې وي، لکه په پروپوزل چې ټاپه ولګېږي.**

**( له دې سره درې واړه لږ وخاندي):**

**ګلنګاره**

**ـ یاره بلا سړی یې، زمونږ خو ستا غوندې خلک ډېر خوښېږي.**

**( په لږ تریو تندي):**

**مشر**

**ـ ولې ما غوندې خلکم بدې شي؟**

**( په موسکا):**

**ګلنګاره**

**ـ ته به یې ولې بدې شې، ته خو زمونږ پاچا یې!!**

**مشر**

**ـ څنګه څوک خو درسره په دفتر کې ورانی نه کئ؟**

**ګلنګاره**

**ـ نه ټول رانه یرېږي، خو یو جلال مې دومره پروا نه لري.**

**مشر**

**ـ خیر لږه ګوزاره ورسره کوه، د دفتر ټول کارونه په هغه روان دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګلنګاره**

**ـ پرون یې د جامو ټوټه د ګنډلو لپاره راوړې ده.**

**کاتب شاه**

**ـ خو دسې نه چې د جامو په ځی ورته بوجۍ وګنډې!**

**(ګلنګاره تندې لږ تریو، خو ډېر زر کاتب شاه ووایي):**

**کاتب شاه**

**ـ مقصد مې دا و، چې د بوجیو غونډې کمیسونه هم شته.**

**مشر**

**ـ کاتب شاه! ګلنګاره به پالوانه ښکاري، خو د زړه نه ډېر نرۍ ده.**

**پام کوه ګوره کسرمعاش به دې کم.**

**( په لږې چاپلوسۍ):**

**کاتب شاه**

**ـ صیب! اول د منیجرې صیبې او بیا تا نه بښنه غواړم.**

**اوومه صحنه:**

**ځای: د پنځمې صحنې.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي:جلال، اچمل، هماغه د دسترخوان نور کسان او شاه جهان.**

**( شاه جهان په هماغه ډول خربړي او ناولې کاسې پر دسترخوان پرتې وي):**

**اچمل**

**ـ دا کاسې به څوک وړي؟**

**جلال**

**ـ همدا ته به یې وړې، هغه ته به یې د چا پلار ووړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچمل

ـ دا خو څه بده خبره نه ده، زه به یې یوسم.

جلال

ـ همدې ته ګډوډي وئ. چې په یوه اداره کې څوک خپل کار ونه پېژني نو هلته همدا حال يي.

اچمل

ـ بس ( شېخ فریده، پته خولې دې بهتري ده).

جلال

ـ یاره زه خو نور د شېخ فرید په لاره نه شم تلی.

( له دې سره جلال په شاه جهان پسې ورپاڅېږي، په اوږه يې لاس کېږدې او په ادب ورته ووايي):

جلال

ـ وروره نور خوب به بېګاه ته وکې

دا کاسې یوسه

(هغه خرېږي)

جلال

ـ تا ته ویم وروره پاڅېږه

(هغه له یو وړوکي خر وروسته سترګې رابرګې کړي؟!)

شا ه جهان

غواړې چې دا سترګې دې اوس وباسم؟

جلال

ـ دې کې د سترګو د رایستو څه خبره ده؟

دا دې کار دی، ولې کاسې به نه وړې؟.

شاه جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(په لړې غوسه)**

**ـ زړه خو مې وئ، چې همدا اوس درنه پیکوړه جوړه کم،**

**خیر زه به تا سره ګورم.**

**(شا ه جهان په غوسه روان شي.جلال لړ خپه شي، خو اچمل ورته وايي):**

**اچمل**

**ـ اوس دې ځان ته کار وکته.**

**زه خو درته ویم چې ګوزاره کوه.**

**جلال**

**ـ یاره دا ګوزاره خو ډېره سخته ده، دلته نه پیاده مالوم دی، نه منیجر**

**نه هوښیار او نه ناپوه.**

**اچمل**

**ـ ته اوس پوه شوې، دلته خو ټولې اداري همداسې دي.**

**که غواړې چې کار وکې، نو احتیاط به کی.**

**جلال**

**ـ دا وطن خو د همدغسې محافظه کارانو د لاسه نه جوړېږي.**

**اتمه صحنه:**

**ځای: د مشر دفتر.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: مشر او شاه جهان.**

**(مشر په خپله کوټه کې پر چوکۍ ناست وي، چې شاه جهان په غوسه راشي او کېني، لږ وروسته مشر د عینکو لاندې وروګوري او په لږې چاپلوسۍ ورته وايي):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دې خیر کي، دسې پژمرده غوندې راته ښکارې؟
شاه جهان
ـ چې ستا دغه حال یې، پژمرده څه چې اخر کې به رانه فالوده جوړه شې.
( په چاپلوسۍ)
مشر
( په لږ مکر)
ـ خدای دې نه کړ، که ته فالوده شوې، نو خور به دې ما نه ایس کریم جوړ کي خبره څه ده؟.
شاه جهان
ـ نور نه پېږم، یا به په دې دفتر کې جلال یې، یا به زیم.
مشر
ـ ما خو پوی که چې څه یې درسره کړي؟
شاه جهان
ـ د دې نه غټ بد،
اوده ومه او د خوب نه یې راپاڅولم.
مشر
ـ رشتیا دا خو یې د بشر د حقوقو نه لویه خلاف ورزي کړې ده،
انسان چې اوده یي، باید هېڅوک یې هم کله د خوب نه راپانځئ.
خو خیر دی ته لږه ګوزاره وکه، ټول دفتري کارهغه کړ، هېڅ بانه مې ورته نه جوړېږي.
شاه جهان
( په لږ ګواښ)
ـ ښه همداسې شوه، ته صبر وکه چې بېګاه ته دې په خپلې خور سموم که نه؟
(دې کې شاه جهان په غوسه پاڅېږي، خو مشر ورته په چاپلوسۍ ووایي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مشر**

**ـ ای ای خیر دی ته مه ځه**

**د حاضرۍ مامور به دې کم، غیرحاضروه یې.**

**( لږه موسکا):**

**شاه جهان**

**ـ اوس دې سمه خبره وکړه.**

**نهمه صحنه:**

**ځای: د جلال دوی کور.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: جلال، سبا او ماشوم زوی یې.**

**(سبا د هغه ټوټې جامې اغوستې وي، چې ګلنګارې ته یې د ګنډلو لپاره وړې وي، سر یې په زنګنونو کې ایښی وي، چې دې کې جلال کور ته ورننوځي، هغه یې په لیدو لږ حیران شي او چې سبا سترګې له زنګنونو پورته کړي، نو له اوښکو ډکې وي، جلال ورته په لږې خواشینۍ ووایي):**

**جلال**

**ـ خیریت دی، ولې، حمید خو به ناروغ نه یي؟**

**سبا**

**ـ لږه تبه یې ده، ښه به شي.**

**جلال**

**ـ نو بیا ژاړې ولې؟**

**(له دې سره سبا ودرېږي او په ژړغوني انداز ووایي):**

**سبا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ تا او خدای جامې همدې ته وئ، په شرمونو یې راته شرمولي دي.
(د سبا پرتوګ او کمیس د ماشومې جنۍ په اندازه وي، یانې همدا جامې یې اغوستې وي، جلال حیران شي):
سبا
ـ په څومره مینه مې اخیستې وه، خدای دې د دې منیجرې کور د کنډۍ جومات کي.
جلال
ـ بس دغه حال دی، لس کاله یې وشو، چې د خیاطۍ مشره ده.
خیر زه به ورسره ګورم.
سبا
ـ ته خیر دی ګوزاره کوه.
زه خو ویم چې د دې هلک تبه ډېره ده، یو ډاکتر ته به یې بوځو.
جلال
ـ سمه ده، خو ایله دومره پیسې راسره دي چې د معاشه پورې د ګور ګوزاره پې وشي.
نوټ: که په پورته صحنه کې سبا ته لکه څنګه چې ویل شوي، جامې وانه غوستل شي، نو صحنه به هېڅ خوند ونه کړي.

لسمه صحنه:
ځای: د منیجرې د دفتر مخه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: یوازې ګلنګاره.
( لومړی دې دا لوحه وښودل شي):
د ټول افغانستان د خیاطۍ مسلکي مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ګلنګاره د یو څو ثانیو لپاره یوه هندي سندره اوري او بیا یو ناز وکړي، چې پاڅېږي، همدې وخت کې جلال چې په یوې پلاستیکي خلتې کې ورسره جامې وي، لږ په غوسه راشي او ورته ووایي):

جلال

ـ د خلکو کورونه مو وران کړل، خو د اوسه پورې د پرتوګ او کمیس په ګنډلو پوی نه شوئ؟!ته او خدای جامې همدې ته وئ؟

( خلته وروغورځوي)

ګلنګاره

ـ نېغ نېغ کېږه مه، بې ادبه، زه یوه منیجره یم او ته راسره دسې ګړېږې؟

بې کولتوره!.

جلال

ـ کولتور خو تا غوندې ښځو خراب که.

تر اوسه دې بخۍ یاده نه ده او په ناروا دومره لوی معاش اخلې.

پړسېدلې؟!

ګلنګاره

(سترګې راوباسي)

ـ ته اوس ما ته خبرې کی، ته ما نه پېژنې؟

هغه مشر دې ما ته په یوه پښه ولاړ یي!!

او دا پړسېدلې دې راته څنګه ووېل؟!

( د اتل د سترګو د حیرانۍ شاټ)

ګلنګاره

(په غوسه)

ویم د مخې نه مې ورکېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**میر سوټا!!**

**(جلال ورته په سترګو کې لړ وګوري او بیا روان شي).**

**نوټ: وړه د اوسپنې لوحه دې جوړه شي، تر څو رښتیا ښکاره او خوند په کې پیدا شي، ځکه د مکالمو نه په لوحه کې زور ډېر دی.**

**یوولسمه صحنه:**

**ځای: د دفتر یوه کوټه.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: مشر، کاتب شاه، شاه جهان، اچمل، جلال او څلور نور نمونه یي کسان.**

**(ټول په کوټه کې د مېټېنګ دپاره ناست وي، چې جلال هم راشي او کېني.)**

**کاتب شاه**

**ـ تاسې به خبر یاست چې نن میاشتنی مېټېنګ دی، ځکه نو ټولو نه مخکې د دې دفتر مشر ته چې د ټول هېواد لپاره ویاړ دی بلنه ورکوم، چې خپلې خبرې پیل کي.**

**(په دې وخت کې دې د مشر او هم د اچمل د تاثراتو د لړې چاپلوسۍ شاټ واخیستل شي)**

**مشر**

**( په لړې موسکا)**

**ـ کاتب شاه! خدای خو دې د وطني چرګانو په پوستکي کې راتاو که، ته هر وخت ډېرې سهي خبرې کې، خو زه به د نن ورځې مېټېنګ په دې شروع کم، چې د نخودو  او لوبیاو خوراک زموږ ټولنه څومره په پښو ودرولی شي؟**

**(د جلال د حیرانۍ شاټ دې واخیستل شي):**

**اچمل**

**ـ صیب، که اجازه یي زه به ځواب درکم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( په موسکا):**

**مشر**

**( په لږ ریشخند انداز)**

**ـ اجازه څنګه نه ده، دا مېتېنګ د څه دپاره دی؟**

**اچمل**

**ـ صیب! لوبیا او نخود هغه ګرد شیان دي، چې دا دېرش کاله زموږ په کولمو کې زموږ د روح په شان رغړي. خو نیا مې دې خدای وبښي هغې به ویلی چې په افغانستان کې دا شیان مخکې دومره ډېر نه و. خیر که تیرې هم وي، زه خو دې ته حاضر یم، چې دلته یې د خپل عمر تر اخره پورې په مېړانه وخورم.**

**مشر**

**ـ وکئ، ورته یو ښه چکچک.**

**څوک وئ، چې زموږ په هېواد کې کدرونه نشته؟!**

**ډېر ښه.**

**کاتب شاه**

**ـ صیب! د نخودو او لوبیا په برخه کې به زه دومره وویم، چې اوس پې زه دومره عادت شوی یم، چې بې د دې نه ژوند نه شم کولای. زه چې کله اوده شم، نو په خوب کې هم نخود او لوبیا ګورم، مانا دا چې نخود او لوبیا اوس زموږ د ژوند یوه نه بېلېدونکې برخه ده. خو که اجازه یي، یوه خبره درته وکم؟**

**مشر**

**ـ چا دې مخه نیولی؟!**

**وردانګه پې.**

**( لږ ورو او په موسکا):**

**کاتب شاه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خو صیب که رشتیا درته وویم، نو کله کله مې بیا د پسه کړایي هم ډېر خوښېږي.
(له دې سره ټول وخاندي)
مشر
ـ ډېر ښه.
ـ اوس به د شیدا نه چې د مېټېنګ لپاره د جوزجان نه راغلی دی، پوښتنه وکړو.
ښه د لوبیا په برخه کې ستا نظر څنګه دی؟
شیدا
ـ یاره صیب زه خو ویم، چې لوبیا او نخود په دې ښه شی دی، چې پاکول نه غواړي، راساً یې دېګ بخار  ته واچوه او خپله د یو سات پورې سندرې اوره، بس شی پخپله پخېږي.
( په خوشالۍ):
مشر
ـ دې ته وئ استعداد!!
په څومره لږ وخت کې یې د لوبیا او نخودو فواید د اصولو له مخې تشرېح کړل.
مشر
ـ زه چې ګورم، په نني مېټېنګ کې داسې یو څوک ناست دی، چې بس خاص الخاص د دې مېټېنګ لپاره له هلمند نه راغلی دی، اوس اسماعیل ته بلنه ورکوم، چې دا ووئ چې موږ نخود ولې خورو؟.
اسماعیل
ـ موږ نخود په دې خورو چې نخود باید وخوړل شي، چې موږ نخود ونه خورو نو نخود به څوک خوري. نخود هم لامده خوړل کېږي او هم وچ. خو یو وړاندیز مې دا دی، چې نور ماته د پخو نخودو سره هغه خام نخود هم راکوئ.
( په پای کې د اسماعیل لږه موسکا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر

ـ ډېر ښه، هلکه کاتب شاه، د ده وړاندیز درسره ولیکه.

ـ دا جلال دسې غلی ناست دی، لکه د چا چې معاش کم شوی یي؟!

ووایه کنه!

جلال

ـ یاره زه همدسې غلی ښه یم.

(په لږ جدت):

ـ ولې ته اصول نه منې؟

جلال

ـ د څه شي اصول؟

مشر

ـ ته چې په مېټېنګ کې نظر نه ورکی، دا د پالیسۍ خلاف کار دی.

جلال

ـ په هغه څه کې به څوک څه نظر ورکي، چې هر څوک په کې نظر ورکولی شي.

یو نظر انسان په هغه څه کې ورکئ، چې فکر پرې کېدی شي.

په لوبیا او نخودو کې به زه څه وویم؟!.

مشر

ـ ولې ته د دې استعداد نه لرې، چې په لوبیاو خبرې وکې.

که زه درته وویم، چې د لوبیا په برخه کې د نورو موسسو کارکوونکو ته ورکشاپ ورکه، بیا به څه کی؟

جلال

ـ یاره رئیس صیب! ما ته دسې څه راوسپاره، چې خلکو ته ګټه ولري، په لوبیاو به زه څه خبرې وکم؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر

ـ ستا د خبرو دا مانا ده چې ته زموږ فعالیتونو ته په سپکه ګورې.

جلال

ـ خدای چې څه سپک پیدا کړي یي، څوک یې نه شي، درنولی.

شاه جهان

ـ رئیس صیب ما درته نه ویل؟!،

اوس ورته ټینګ شه!

(د ریس پټ قهر ):

مشر یا رئیس

بس دا خبره نوره پرېدئ، هغه ګل نګاره ولې نه ده راغلې.

شاه جهان

ـ صیب، همدلته ده، خو لکه چې خپه شوې ده.

( په جدت):

مشر

ـ خپه شوې ده، زه به اوس وګورم، چې چا خپه کړې ده؟!

(له دې سره په یوې اندازې غوسې ووځي).

دولسمه صحنه:

ځای: روغتون او بیا خونه.

وخت: ورځ.

لوبغاړي:جلال، ډاکتر، سبا او د جلال ماشوم زوی.

( د روغتون یو لنډ شاټ واخیستل شي).

دیارلسمه صحنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای: د مشر دفتر.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: مشر او ګل نګاره.

(مشر د خپل مېز شا ته ناست او په څه کار ځان مصروف وښيي، چې همدې کې په غوسه ګل نګاره راشي او خپل استعفا لیک ورته په مېز کېږدي، خو مشر ورته په موسکا سره ووايي):

مشر

ـ دا څه شی دی؟

ګل نګاره

ـ ويې لوله خپله به پې شې.

(هغه يې چې ولولې، نو په حيرانۍ او چاپلوسۍ سره ورته ووايي ):

مشر

ـ ته او استعفا؟!

ګوره هغه کانه مه کوه کنه، چې يوه شاعر ويلي دي:

که په ميوند کې شهيد نه شوې
د يار دپاره درمسال جارو کومه

ګل نګاره

ـ هو د نن ورځې نه وروسته ته پوی شه او دا دفتر دی.

ما ته لنډۍ مه وايه، هغه وختونه لاړل چې ما به ستا شاعرۍ ته غوږ نيوه.

( په انداز):

مشر

ګوره اور نازېنګ مه کوه،
ته رشتيا وی او که ټوکې کی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګل نګاره**

**ـ ما تا سره کله دسې ټوکه نه ده کړې،**

**رشتیا رشتیا او ټوکه ټوکه یي.**

**یا به نور په دې دفتر کې جلال یي او یا به زېم.**

**مشر**

**ـ خبره دې سمه ده، لکه چې ډېره یې خپه کړې یې**

**او دا په څه؟**

**ګل نګاره**

**ـ په جامو یې د باد بڼکه کړم**

**په دې دفتر کې خو زه یو حیثیت لرم او چې دسې یي، نو نوره سخته ده.**

**مشر**

**ـ حیثیت څه چې ته د دفتر هغه پخه ستنه یې چې بې تا نه دا ټول چت متقابل ښکاري.**

**خو ګوره لږه ګوزاره وکه، د هغه لرې کول خو ما ته هېڅم نه دي، خو رشتیا خبره دا ده، چې د دې ټول دفتر کارونه هغه کئ، دا نور موږ ټول خو دروغ وایو، والله که په ټکي هم خبر یو.**

**ګل نګاره**

**ـ زه به درته سړی پیدا کم دا سخته نه ده، خو اوس ته ووېوه، چې ته ما اخلې او که هغه؟.**

**مشر**

**ـ ظالمې ستا دا یو بوی، چې هر سهار درنه روان یي، زه د جلال اباد په ټولو نارنجانو نه ورکوم.**

**ګل نګاره**

**ـ ښه یانې بې غمه شم؟!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر

ـ هو، هر څه به وشي.

خو دا بیت خو خیر دی واوره

ګل نګاره

ـ ارشاد ارشاد

مشر

ـ د جانان دې ظلم ته ګوره

د جانان دې ظلم ته ګوره

په اخرت کې د هر چا ببل دي کورونه

(له دې سره ګل نګاره په موسکا د هغه پر اوږو راټيټه او د شا له لوري يې له اوږو لاسونه راتاو کړي).

نوټ: په پورته صحنه کې د ګلنګارې انداز لږ جدي او د مشر چاپلوسانه دی.

څوارلسمه صحنه:

ځای: د يوه ډاکټر خونه.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: جلال، مېرمن يې، ماشوم زوی يې او ډاکټر.

(ډاکټر په داسې حال کې چې د ايکسرې فلم ورسره وي، راشي، کېني او بيا هغوی ته ووايي):

ډاکټر

ـ زه به ورته اوس دوا وليکم، خو ستاسې ماشوم بايد عمليات شي.

هغه د هډوکي تکليف لري.

(ډاکتر نسخه وليکي، ور يې کړي):

جلال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ډاکتر صیب په عملیات به یې څومره افغانۍ ولګېږي؟

ډاکتر

ـ تاسې سره به زه مراعات وکم، خو بیا هم پنځوس زره افغانۍ غواړي.

( له دې سره جلال خپل ماشوم ته ورو په غمجن حالت مخ راواړوي)

( غمجنه موسیقي).

پنځلسمه صحنه:

ځای: دفتر.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: شیدا، اسماعیل او کاتب شاه.

( کاتب شاه اسماعیل ته دوه سوه ډالر ونیسي، خو اسماعیل ورته تریو وګوري):

اسماعیل

ـ په دې څه وکم، زما خو درې سوه ډالر لګېدلي دي.

کاتب شاه

ـ خو بس دا هم ډېرې دي، د کمه دې دسې غټ کار کړی دی؟!

اسماعیل

ـ ولې دا تا ته ورکوټې کار ښکاري، چې د هلمند نه د لوبیا او نخودو مېټېنګ ته راغلم.

شیدا

ـ خو رشتیا وئ، ولې یې نه ورکی؟

کاتب شاه

ـ هلکه ته غلې کېنه، ګنې اوس به دې ټول نخود د سپېږمو نه د ساچمو غونډې وباسم.

( له دې سره یې شیدا له ستوني ونیسي او هغه هم راپاڅېږي):

کاتب شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هلکه پرېږده بې اصوله دې نیولی یم
پرېږده، مړ دې کړم.
اسماعیل
ـ ته چې د پالیسۍ خلاف کار کی، دا به دې حال یي.
( درې څلور ګوزارونه سره تبادله شي، چې همدې کې جلال راشي، جنګ خلاص کړي او کاتب شاه ته ووایي):
جلال
ـ خو چې ډېرې غواړې، ور یې که کنه.
بې د دې نم پوښتنه نشته.
کاتب شاه
ـ زه چې هر یو ته دسې ډېرې پیسې ورکم،نو د لوبیاو په مېټېنګ رانه همدا اوس دوه زره ډالر ځي.
جلال
ـ نو تا او خدای په لوبیاو او نخودو چا مېټېنګونه کړي، دا څه حال دې ملک کې روان دی؟!
کاتب شاه
ـ ته لا په دې نه پوهېږې، ماشوم یې، ته خبر یې چې میلیونونه ډالر په هوایي مېټېنګونو ځي، دلته خو لا ښه ده لوبیا او نخود به سترګو وینې!!.
جلال
ـ بس همدې مېټېنګونو ته تکړه شئ، نور خو څه نشته.
کاتب شاه
ـ هلکه وځه، ګنې تا نه خو همدا اوس پرزېنټېشن جوړوم.
ورکېږه!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال

(له ځانه سره ورو)

ـ یاره تاسې نه ګیله نه ده په کار.؟!

( له دې سره غمجن ووځي).

شپاړسمه صحنه:

ځای: د دفتر دهلېز.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: شاه جهان او جلال.

( لومړی دې شاه جهان وښودل شي، چې په کلانکارۍ پر چوکۍ ناست او په مېز یې مخې ته حاضري پرته وي، لږه شېبه وروسته جلال راشي او حاضري پرانیزي، چې وګوري خانه یې په سره قلم قیده شوې وي):

جلال

ـ دا ولې، زه خو حاضر یم.

شاه جهان

ـ که حاضر وی، خو حاضري به دې امضا کړې وه.

جلال

ـ ما خو هلته جنګ خلاص که، دا څه حال دی؟!

شاه جهان

ـ جنګ مهم دی که حاضري؟

جلال

ـ یانې که څوک یو بل مړ کي دا مهمه نه ده.

شاه جهان

ـ نه، د مرګ او هر څه نه حاضري مهمه ده، خو ته یې نوره کور کې امضا کوه، دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



منفکۍ مکتوب دې اول واخله! د ګل نګارې سره د جنګ په زور به اوس پوی شې!!

جلال

ـ او زما نور امتیازات، ما خو دلته کلونه کار وکه.

شاه جهان

ـ ولې د دې نه لوی امتیاز شته، چې اوسه پورې ژوندی یې.

جلال

( په خپګان)

ـ ظالمانو زما خوم ځواني وخوړه او اخره کې د لارې کرا هم نه راکوئ!

( مکتوب واخلي، جلال لږ خپه شي او بیا یي د ډاکتر خبره سترګو ته ودرېږي)

اولسمه صحنه:

ځای: د جلال کور.

وحت: ورځ.

لوبغاړي: جلال، سبا او ناروغ زوی یې.

( سبا د خپل ماشوم زوی چې پروت وي، سر کېمنډي، غمجنه غوندې وي، ښه شېبه وروسته جلال هم کورته خپه راشي، کېني):

جلال

لکه چې تبه یې ښه نه ده؟

دوا دې ورکړې ده؟

سبا

ـ هو دوا مې ورکړې، خو تبه یې هېڅ نه شکېږي.

او ته څنګه دسې خپه غوندې ښکارې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال

ـ خپګان خو د ژوند برخه ده.

( د خپګان اسوېلی)

که روپۍ مې لرلې، د حمید عملیات به مې کړی وی.

سبا

ـ یو خو زموږ ورځ په کار کې هم ښه نه شوه.

ګنې تا خو ډېر کلونه کار وکه.

جلال

ـ بس د موسسو همدسې کار یې، دومره څه درکئ، چې نه مرې او نه پې رغېږې.

خو ښه دی نور تې خلاص شوم.

( په حیرانۍ):

سبا

ـ تې خلاص شوې، دا څنګه؟

ولې؟

جلال

ـ بس نور مې کار پرېښوده.

( خپګان):

ـ په دسې وخت کې، چې حمید په دې حال دی، اوس به څه کوو؟!

دا خو ډېر بد کار وشو.

جلال

ـ مه خپه کېږه، یوې بلې موسسې ته مې سي وي ورکړې ده.

خدای مهربانه دی. همدا نن مې انټروي ده.

سبا

ـ دسې نه شي کېدی، چې یو خپل کار شروع کې،سبا به بیا موسسې په نیمۍ لار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې پرېښې يې.

جلال

ـ خبره دې سمه ده،خو د اوس وخت دپاره به په موسسه کې کار وکم.

که راروانې مياشتې پورې د حميد عمليات وشي، نو زړه به مې ډاډه شي.

بيا خدای مهربانه دی.

( اسوېلی)

سبا

ـ ښه دې وويلې، خدای مې دې د حميد د غمه وساتي.

اتلسمه صحنه:

ځای: د يوې موسسې دفتر.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: انضباط،، يو بل کس او جلال.

( لومړی دې د موسسې لوحه وښودل شي، چې پرې ليکل شوې وي):

ـ د افغانستان د بيا فعالولو او چالانولو دفتر.

( لويه فلزي لوحه دې جوړه شي)

( انضباط پر چوکۍ ناست وي، يو کس له دفتر نه راووځي، لږه شېبه وروسته جلال راشي، لومړی لوحې ته وګوري او بيا ووايي):

جلال

ـ وروره اجازه ده چې دننه ورشم؟

انضباط

ـ د څه دپاره؟

جلال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه دلته د انډروی دپاره شاټ لېست شوی یم.
انضباط
ـ یوه پوښتنه درنه وکم؟
جلال
ـ مهرباني وکه
انضباط
ـ دلته دې په کوم غټ پوست کې څوک خپل شته؟
جلال
ـ نه، خو زه پخپله په ځان باور لرم، لوړې زده کړې لرم، تجربه لرم، همدا بس دی کنه.
انضباط
ـ چې د اور لمبه شې او له خولې دې مرغلرې راووري، چې یا دې مشر خپل نه یي او یا هم په کې کوم زورور سړی ونه لرې، په خدای که چوکیداري هم درته پیدا شي.
جلال
ـ دا سهي ده، خو اوس زه شاټ لېست شوی یم، که اجازه دې وي، وربه شم.
انضباط
ـ خوښه دې، ورشه، ما خو درته وویلې،
هسې به ځان ستړی کې!
(انضباط یې لنډه تالاشي واخلي او هغه ننوځي).

نولسمه صحنه:
ځای: د دویمې موسسې د دفتر خونه.
وخت: ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوبغاړي: جلال، د موسسې مشر نوراني او يو بل کس چې هغه هم انټروۍ ته راغلی وي.**

**( نوراني په چوکۍ ناست وي، چې هغه بل کس مخکې او جلال ورپسې ورننوځي):**

**نوراني**

**ـ راځئ، راځئ، مه یرېږئ.**

**( هغوی په ورو سلام واچوي او کېني):**

**نوراني**

**ـ تاسې ډېر بختور انسانان استئ، چې دلته راغلئ.**

**اصل کې دا موږ او تاسې چې ناست یو، نو دا ټول د پروژو برکت دی.**

**( هغه بل کس ورته سر ښوروي او جلال لږ حیران وي):**

**نوراني**

**ـ دسې به وکو، چې انټروي به شروع کو.**

**ښه ته ووایه، چې پروژه څه شي ته وئ؟**

**ګوره خورېې مې یې، خو ځواب به سهي راکی.**

**( له دې سره په وارخطايي جلال ته ووايي):**

**نوراني**

**ـ هسې خوله مې غلطه شوه.**

**خورېي مې نه دی، ستا زړه کې څه تېر نه شي.**

**جلال**

**ـ چې هر څوک یي، پروا نه لري، خو چې د چا حق ونه خوړل شي.**

**نوراني**

**ـ یاره سم د ټوپک ډزه دې وکه.**

**( نوراني خپل خوريي ته)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښه ته راته پروژه تشریح که.

دا راته ووایه چې پروژه څه ته وئ؟

خوریې

ـ زه خو ویم چې پروژه، وزه، دروازه، موزه او حتی خربوزه، دا ټول په خوله کې یو شان ویل کېږي.

پروژه یانې ډېر ښه شی، هر هغه شی چې انسان ته ډېره ګټه ولري، هغه پروژه ده.

نوراني

ـ ډېر ښه روان یې.

خوریې یې

ـ د پروژې نه انسان قسم قسم کار اخلي، خوښه دې دروازه په کې ږدې، بل چا ته یې ورکی، لنډه دا چې پروژه یانې ډېر ښه شی..

نوراني

ـ ډېر ښه

ښه وروره ته رشتیا په حقوقو کې ماسټري لرې؟

جلال

ـ هو صیب. دا سهي ده.

نوراني

ـ ښه اوس ته ووایه، چې پروژه څه ته وئ؟

او ته څنګه کولای شې چې د پروژې خاوند شې؟

جلال

ـ دسې بله کومه سهي پوښتنه نشته چې ویې کې.

نوراني

ـ ولې دا درته سمه پوښتنه نه ښکاري؟

دا زه چې دلته ناست یم، د پروژې برکت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پروژه نه يي، نو نه دسې وګڼه چې هر څه تباه او برباد دي.
جلال
ـ دا خو ده. پروژې ته په انګليسې که پراجېکټ وئ.
د پروژې نوم مخکې په افغانستان کې دومره رواج نه و، خو دا څو کاله کېږي، چې د هر چا د ژبې په سر دی او د ډېرو خلکو ژوند ورپورې تړلی دی.
نوراني
ـ ياره دا خو دې رشتيا وويل، دا زه پخپله په خدای باور وکه چې يو پروژيي انسان يم.
جلال
ـ پروژه د يوه مالوم کار په برخه کې د مالوم وخت دپاره ورکول کېږي.
په يوه پروژه کې مختلف کسان مقررېږي، چې ځينې يې مسلکي او ځينې يې عادي کارکوونکي يي. همدارنګه ځينې پروژې اوږدې او ځينې لنډې وي.
ريس صيب همدومره به بس وي؟
نوراني
ـ ياره بس وشوه.
د نبنې منځ دې ويشته.
خو دا دې ونه ويل چې پروژه څنګه پيدا کېږي؟
جلال
ـ پروژې نه ته پيدا کولی شې او نه زه.
د ډونر چې کومه پروژه خوښه وه، هغه يې پخپله ورکئ.
نوراني
ـ نو دا مونږ ته يې څنګه نه راکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دوه کاله وشو، چې په تمه ورته ناست یو.
جلال
ـ زه نه پوهېږم، دې وخت کې چې څوک دفتر ولري، که ړوند هم يي، پروژه ورکئ،
خو يو اندازه منډې تر ړې او يو د بل خوشالول هم غواړي.
نوراني
ـ ياره رشتيا چې د هانګ کانګ نشپاتۍ دې خوړلي دي.
ښه اوس تاسې نور تلی شئ، نتيجه سبا ته اعلانيږي.
( هغوی چې څنګه پاڅېږي، نوراني خپل خوريي ته سترګک ووهي).
شلمه صحنه:
ځای: د ښار يوه برخه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: جلال او اچمل.
(لومړی دې اچمل وښودل شي، چې راروان وي، لږ وروسته د جلال سره مخامخ شي):
اچمل
ـ او هو، په خير په خير، څه حال دی؟
جلال
ـ جوړ يې خيريت دی؟
اچمل
ـ ياره په زوره دې ځان بېکاره که، خپلې شپې به دې تېرولی.
جلال
ـ خو زه خپه نه يم، د خلکو روزي يوازې په موسسو کې نه ده.
اچمل
ـ خو کمې مزې چې په موسسو کې دي، هغه په نورو ځايونو کې چېرته دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال

ـ مزې يوازې په معاشونو کې نه دي، د زړه سکون بېل شی دی.

ډېر غريبانان شته، چې خوشاله ژوند لري، خو ډېر ماړه بيا دسې نه دي.

اچمل

ـ ښه زه اوس ځم راباندې ناوخته کېږي.

(لاس ورکړي او روان شي).

يويشتمه صحنه:

ځای: دويمه موسسه.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: نوراني او خوريې يې.

(نوراني په دفتر کې ناست وي، خوريې يې کوټې ته راننوځي):

نوراني

ـ ګوره ته خو په ټکي نه پېدی، خو منيجر مې کړې.

هغه بل درنه ډېر زيات لايقه و.

خوريې

ـ ما ما مننه، بس تا ته مالومه ده، چې په اصل کې زه ډرېور يم.

نوراني

ـ خپه کېږه مه، چې واسطه دې يې، نو د باغوان او ډرېور نه منيجر جوړېږي ، خو

يوه خبره ده، چې ستا معاش به هغه وخت شروع کېږي، چې پروژه وشي.

دا يو کال وشو، چې د پروژو په تمه مې لکونه روپۍ قرض کړي.

خوريې

ـ ماما ګټه په تاوان کېږي، خپه کېږه مه، خدای به پروژې وکي.

نوراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښه ته نو اوس دسې وکه، چې د راپور لیکل د حافظ غونډې په یادو یاد که.
خورېې
ـ ماما زه به د همدا نن نه د راپور ګردان شروع کم.

ته بې غمه شه.
نوراني
ـ او هغه د پیسټ او کاپي کولو چل هم یاد که.
خورېې
ـ ماما هر څه به د توتي غونډې یاد کم.

دوه ویشتمه صحنه:
ځای: د دویمې موسسې د دفتر مخه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: جلال او هغه انضباط:
(جلال لومړی هغه لېست ته وګوري، چې د کامیابانو لپاره لیکل شوی وي، خو په
څېره کې یې خپګان پیدا شي):
انضباط
ـ لکه چې نوم دې په کې نشته؟
( په خپګان):
جلال
ـ نه والله نشته.
انضباط
ـ ما خو درته د اول نه وویل، چې هسې به ځان ستړی کې.
ستا په ځای یې خپل خورېې نیولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( جلال په خپګان وروګوري او روان شي)

(غمجنه موسيقي)

درويشتمه صحنه:

ځای: هغه لومړنۍ موسسه.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: شاه جهان او اچمل.

( اچمل راشي او حاضري امضا کوي، چې شاه جهان ورته په امرانه توګه ووايي):

شاه جهان

ـ هلکه نن دې خاطر، نوره حاضري  په خپل وخت امضا کوه.

( اچمل ورته په سترګو کې بد بد وګوري):

شاه جهان

ـ رډ رډ راته مه ګوره. ګنې دا سترګې به دې وباسم!

اچمل

ـ انضباط سړی يې او دومره ګواښونه؟!.

( شاه جهان په ګواښ ورپورته شي)

شاه جهان

ـ دا راباندې کې، چې د غوږ نه دې ونيسم او ودې شړم؟!

ته ما نه پېژنې، چې زه د مشر صيب څه کېږم؟!

(اچمل په بېوزلۍ وروګوري او ورو روان شي).

څلرويشتمه صحنه:

ځای: د ښار يوه کوڅه.

وخت: ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبغاړي: جلال او ګڼ ماشومان.

( د جلال نه ګڼ ماشومان تاو وي، د ایس کریم له ګاډي نه ایس کریم راوباسي او خرڅوي يې.):

پنځه ویشتمه صحنه:

ځای: دویمه موسسه.

وخت: ورځ

لوبغاړي: نوراني او شهزاد د کور مالک.

( نوراني او شهزاد ناست وی، چې شهزاد ورته په لړې غوسې ووايي):

شهزاد

ـ وروره نه در سره زه نوره پروژه منم او نه نورې بانې.

زه درنه همدا نن د کور کرا غواړم.

نوراني

ـ ګوره دا شپږ میاشتې دې صبر وکه، یو څو ورځې نور هم وګوره، خدای مهربانه دی، پروژه کېږي.

شهزاد

ـ د دې پروژې نه زما نوره توبه ده، پروژه نه ده، بس سم د بسوګۍ واده دی.

نوراني

ـ خامخا به دا بسوګۍ راواده کېږي.

ګوره دې پروژې ته یوازې ته نه، ډېر خلک په تمه دي.

شهزاد

ـ که په لنډو ورځو کې ونه شوه، نو دا د دفتر سامان به درنه ستنوم!

نوراني

ـ بس، وشوه، دا مې وعده ده، چې ټولې بسترې او مېزونه ستا شول.

( شهزاد پاځېږي او چې لړ روان شي، نو نوراني ورته ووايي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوراني

ـ خیر دی ته هم ډونر ته لږه دعا کوه.

( شهزاد په سترګو کې لږ بد وروګوري او بیا لاړ شي).

شهزاد

( په لږې غوسې)

ـ په ما څه سخته ده، چې ډونر ته دعا کوم.

شپږویشتمه صحنه:

ځای: د جلال دوی کور.

وخت: ورځ

لوبغاړي: سبا، جلال او زوی یې.

( جلال د واسکټ دواړو جېبونو نه ډېرې ماتې او نورې روپۍ راوباسي):

جلال

ـ ته وګوره په موسسه کې مې دومره نه ګټلې.

( سبا په پیسو کې ګوتې وهي):

سبا

ـ خو دا د ایس کریم مزدوري مې دربانديې نه ده پېرزو.

جلال

ـ سبا! خپل کار خو خپل کار یې. خدای په کې برکت اچوي.

د دفتر کارونه خو غلامي ده.

سبا

ـ ته به تر اخره دا کار کې؟

جلال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ تر یو وخته پورې یې کوم، خو وروسته راسره یو فکر دی.
زړه مې دی چې یو شخصي کار شروع کم.
سبا
لکه څنګه کار؟
جلال
ـ غواړم چې یو دوکان جوړ کم.
دا پرېده، یاسین څنګه دی.
سبا
ـ ښېخي ښه دی، نه یې تبه شته او نه هغه بل تکلیف.
( جلال، خپل زوی په غېږ کې ونیسي):
جلال
ـ ډېرو خلکو ته خدای روزي د هغوی د ماشومانو د برکته ورکړې.
زړه مې راته وئ، چې په موږ رڼا راروانه ده.

اوه ویشتمه صحنه:
ځای: د مشر د دفتر یوه برخه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: کاتب شاه او اچمل.
(کاتب شاه خپه ناست وي، چې اچمل راشي):
کاتب شاه
ـ څه خبره ده، چې دسې پړسېدلی ناست یې.
( اچمل په خپګان وروګوري):
کاتب شاه
ـ تا ته ویم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچمل

ـ یاره تاسې سره نوره ګوزاره نه کېږي، هغه هوښیار یې په کې ته یې.

کاتب شاه

ـ چا دې مخه نیولې، همدا اوس ولې نه ځې؟!

اچمل

ـ جلال ډېر هوښیار و،

خو زه نه پېدم.

کاتب شاه

ـ اوس به چېرته شور نخود خرڅئ.

اچمل

ـ د دې سپکاوي نه خو شورنخود ښه دي.

او ته خبر یې چې اوس هغه څه کئ؟

( د کاتب شاه کتل)

اچمل

ـ په ښار کې یې دوکان جوړ کړی دی، بله ورځ به وړه فابریکه جوړه کي.

کاتب شاه

ـ بیا ورځې ولې نه، یو منشیتوب خو به درکي.

اچمل

ـ که نن نه يي، سبا به ورځم.

اته ویشتمه صحنه:

ځای: د ښار د چپلو دوکان.

وخت: ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوبغاړي: جلال.**

**( جلال دې وښودل شي، چې د چپلکو بوجۍ ګانې پورته او کښته کړي او بيا دوکان کې کېږدي.)**

**نهه ويشتمه صحنه:**

**ځای: د مشر دفتر.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: مشر، ګلنګاره او اچمل.**

**(مشر او ګلنګاره، په دفتر کې ناست وي، چې مشر ورته ووايي):**

**مشر**

**ـ لږه خو رانږدې شه، بې د دې د دفتر حالات خراب دي.**

**( په ناز)**

**ګل نګاره**

**ـ په خراب وخت کې دې زړه ځنګه مينه غواړي؟**

**مينه خو د خوشالۍ په وخت کې کېږي.**

**مشر**

**خو ما ته د خپګان په وخت کې مينه خوند راکوي،**

**هله لږه رانږدې شه!**

**ګل نګاره**

**څوک رانه شي**

**مشر**

**ـ دلته بې تا نه هېڅوک بې اجازې نه شي راتلای**

**هله راوړاندې شه کنه!**

**ګل نګاره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ډېر بې صبره یې!

( هغه چې څنګه ورننږدې شي، همدې وخت کې اچمل دروازه خلاصه کړي، دواړه وويني، مشر او ګلنګاره وارخطا شي، خو اچمل دروازه بنده کړي ):

ګل نګاره

ـ ما درته نه ویلې؟

ښه ده چې خدای راباندې پرده واچوله.

مشر

ـ زه به دې احمق سره ګورم، دې خو زموږ د مینې ټول پروپوزل خراب که.

دېرشمه صحنه:

ځای: روغتون.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: جلال او زوی یې حمید.

(حمید دې وښودل شي، چې په ښه لباس کې له پلار سره یو ځای د روغتون له دروازې راووځي).

یو دېرشمه صحنه:

ځای: دویمه موسسه.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: نوراني او د کور خاوند شهزاد.

( د دفتر مخې ته نوراني په یوه لوکس موټر کې راروان وي، چې شهزاد د موټر مخې ته ودرېږي، بیا یې د موټر دروازه خلاصه کړي، له لاسه یې ونیسي او ورته ووايي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شهزاد**

**( په غوسه)**

**ـ راکته شه!**

**( هغه راکښته کړي):**

**بس نن به کرایه کې دا موټر دلته پرېدې.**

**زه خو دې نور تباه او برباد کړم.**

**نوراني**

**ـ ګوره زما ټوله شو شا په همدې موټر جوړه ده.**

**ولې مې خلکو ته سپکی؟!**

**شهزاد**

**ـ ویم والله که نور د دې ځې نه رانه قدم واخلې.**

**کال وشو، چې نه دې د روپۍ درک لګېږي او نه د پروژې.**

**اخر دا کور خو ما تا ته نه دی جوړ کړی.**

**نوراني**

**ـ ګوره ډونر راروان دی، دسې مه کوه.**

**شهزاد**

**ـ ته پې شه او ډونر، ویم والله که نوره د یوې نه درسره دوه وکم.**

**( شهزاد ترې د لاسه کیلې ګانې واخلي او موټر روان کړي).**

**ـ راکه.**

**دوه دېرشمه صحنه:**

**ځای: لومړنی دفتر.**

**وخت: ورځ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوبغاړي: اچمل او مشر.**

**( په زارۍ):**

**اچمل**

**ـ صیب! اخر په یوې وړې غلطۍ تاسې ما د موسسې نه شړئ؟!**

**مشر**

**ـ دا وړه غلطي ده، چې بې د اجازې زما دفتر ته راننوتې؟!**

**نن خو خدای خیر که،سبا به په یوه خطرناک وخت کې راشي، بیا به څه کېږي؟!**

**اچمل**

**ـ ګوره دا دومره وخت کې ما ستاسې هره روا او ناروا منلې، خیر دی یوه غلطي وه، رانه وشوه.**

**مشر**

**ـ دا نه بښوونکې جرم دی.**

**تا یو ډېر سبک کار وکه.**

**اچمل**

**ـ ګوره لس کاله مې درسره تېر کړل، اوس مې دسې وخت کې شړئ، چې د لارې کرایه هم راسره نشته.**

**دا ظلم دی.**

**مشر**

**ـ دا فکر به دې مخکې کړی وی، لس کاله چې دې پیکوړې خرڅې کړې وی، اوس به دسې سپېره نه وی.**

**دا دې خپله ګناه ده چې سهي ځای دې نه وپېژندلی، نور مې وخت مه ضایع کوه، نور څه.**

**واخله دا کاغذ دې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په پاکټ کې کاغذ ورکړي او اچمل غمجن پاڅېږي او په خپګان روان شي).

**درې دېرشمه صحنه:**
**ځای: د جلال دوی د کور مخه.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: جلال او زوی یې.**

( جلال خپل زوی چې ډېر پاک وي په خپل لوکس موټر کې کېنوي او روان شي).

**څلوردېرشمه صحنه:**
**ځای:د لومړي دفتر خونه.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: ګلنګاره، مشر،، د دوی دواړو سرونه لږ سپین شوي وي، کاتب شاه، شاه جهان، اوه اته کسه نور.**

( په خپګان سره):

مشر

ـ تاسې مې نن د دې دپاره راوغوښتئ، چې دفتر نور په اقتصادي زکام اخته دی.

شپږ میاشتې وشوې چې د یوې روپۍ درک نشته.

شاه جهان

ـ صیب د زکام ګولۍ خو ما سره شته، دریې کم؟.

مشر

ـ زه زکام نه یم، دفتر زکام دی.

له دې وروسته به ستاسې معاشونه نه یې.

ګلنګاره

ـ او زما به هم نه یي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مشر**

**ـ ستا به يي، خو د مخکې نه به کم يي.**

**ګلنګاره**

**ـ په خدای چې د زرو ډالرو نه زما معاش يوه روپۍ کم يي، چې زه دې خوښه شم.**

**مشر**

**ـ ګوره چې امکانات و، هر څه ستا مخکې وو.**

**چې پروژه نه يې، نو زه يې د کم ځی نه درکم؟؟**

**ګلنګاره**

**ـ د ايډمين کاسټ نه يې راکوه.**

**ـ په زرو کالو کې به درسره دا ونه منم.**

**زړه دې کړم او مړه دې نه کړم.**

**مشر**

**ـ ګلنګارې! ما خو د دې دفتر هر څه تا نه لوګی کړي، د دې پورې چې اوس مې کور کې خپله ښځه هم نه پرېدي. په شته ښځه کې طلاقي غوندې يم.**

**ګلنګاره**

**ـ دا ستا مجبوريت و، چې د کوکري غوندې به راپسې وې**

**په خدای چې زما معاش د زرو ډالرو نه يوه روپۍ کم يي، چې مياشتينی رېپوټ درنه جوړ کم..**

**کاتب شاه**

**ـ او ډوډۍ به څنګه کو؟**

**مشر**

**ـ بس، د دې نه وروسته څوک د کور نه الوګان او څوک سابه راوړئ، په شريکه به يې خورو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګلنګاره**

**ـ او زه به هم سابه خورم؟**

**مشر**

**( په لږ ریشخند)**

**ـ نه، ته به ولې سابه خورې.**

**ته به له دې نه وروسته پیل مرغان خورې!!**

**ګل نګاره**

**ـ اوس دې سهي خبره وکړه، د سبو نه ما ته پیل مرغان ډېره ګټه لري.**

**مشر**

**ـ نوره مو خوښه، چې دلته په ګېډه پاتې کېږئ او که د پروژې په تمه سرونه سپینوئ!**

**( ټول په شریکه):**

**ـ موږ د بل کار د ښې نه یو**

**بې د پروژو نه موږ بل کار نه شو کولی.**

**موږ په پروژه ژوندی یو.**

**څلور دېرشمه صحنه:**

**ځای: یو سرک.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: جلال او اچمل.**

**( لومړی دې اچمل وښودل شي، چې په زړو جامو کې خپه راروان وي، جلال په لوکس موټر کې له یو ګوټ راتاو شي، دوه خله یې په اچمل سترګې ولګېږي، هغه یې وپېژني، موټر ودروي او راکښته شي):**

**جلال**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هلکه اچمل نه يې؟
اچمل
ـ او هو جلاله ته او دا موټر ، ستړی مه شې
جلال
ـ جوړ تکړه، څه حال دی؟
اچمل
ـ حال ته پخپله ينې، بس په نيمه لار کې يې پرېښودم.
جلال
ـ نه دي دې اورېدلي، چې پردی کټ تر نيمو شپو يي
دا خلک تر هغه دوستي کوي، چې څو پورې ګټه يې درکې يي.
اچمل
ـ ستا څه حال دی او دا موټر دې خپل دی؟
جلال
ـ هو موټر مې خپل دی او ژوند مې هم ښه روان دی.
اچمل
ـ څه کار روزګار؟
( فلش بيک کې دې جلال وښودل شي، چې د مرمرو په فابريکه او بل ځای کې درانه کارونه کوي)
خو اوس خبر شوی يم چې فابريکه دې جوړه کړې ده؟
جلال
ـ خبره دې سمه ده د چېلکو يوه وړه فابريکه لرم، خپله هم په کې کار کوم
او نورو خلکو ته مې هم خير رسېږي.
اچمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ ما ته به په کې کوم کار نه وي، لکه منشیتوب.**

**جلال**

**ـ کار به درکم، خو اوس خو به محافظه کاري نه کنه؟**

**( خجالته غونډې):**

**اچمل**

**ـ په دې خبره دې بې ځوابه کړم.**

**پنځه دېرشمه صحنه:**

**ځای: د جلال لوکس دفتر.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: نوراني، خوريي يې او جلال.**

**(نوراني او خوريې په ښار کې روان وي، د خوريي چپلکې يې ډېرې زړې وي):**

**خوريي**

**ـ ياره ماما دې پروژو خو نور ډېر سپک سپاند کړو**

**ته ګوره د چپلکو نه په کې خلاص شو، خو پروژه ونه شوه.**

**نوراني**

**ـ يو خو ته د خدای هغه سپېره وې، چې زه دې هم د ځان سره سپېره کړم.**

**رشتيا چې خربوزه د خربوزې نه رنګ اخلي.**

**خوريي**

**ـ ماما يو جوړ چپلکې راته واخله، نور ته پوه شه پروژه او خربوزه دې.**

**که دا هم نه شې اخيستی؟!**

**نوراني**

**ـ ياره راځه دا به درته واخلم، خو چې تا نه خلاص شم.**

**(دواړه چې دوکان ته وځېژي، نو په جلال يې سترګې ولګېږي، چې دخل ته ناست وي، نوراني داسې حيران وروګوري):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوراني

ـ ته هغه د حقوقو والا نه يې؟

جلال

ـ زه هماغه د حقوقو والا يم.

نوراني

ـ ستا په حق کې ما ډېر ظلم کړی دی.

جلال

ـ د څه شي ظلم، تا خو راسره ډېر ښه کړي دي.

نوراني

ـ دا ظلم نه و، چې ستا په ځی مې يو ډرېور منيجر که.

زه ډېره ښښنه غواړم.

جلال

ـ ته ما نه ښښنه مه غواړه، زه تا نه مننه کوم

ستا دې کور اباد يي، چې زه دې مقرر نه کړم.

نوراني

ـ زه خو دې والله حيران کړم.

جلال

ـ مقصد مې دا دی، که زه دې مقرر کړی وای، اوس به زه هم تا غوندې يو پروژيي انسان وای.

نوراني

ـ والله عجيبه خبره دې وکړه، خو دا هر څه تا څنګه پيدا کړل؟

جلال

ـ څوک چې په خپلو متو باور ولري، کله به هم نورو ته اړ نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوراني**

**ـ دا خو دې سمه خبره وکړه.**

**جلال**

**ـ بدبختي دا ده چې دلته ستا غوندې په زرګونو خلک د پروژو په ژوند عادت شول.**

**حال دا چې نه یې خپل ژوند ښه شو او نه یې د بل ښه که.**

**دا هېواد چې په خپلو متو ودان نه کو، نو تل به نورو ته احتیاج یو.**

**( په ورو):**

**نوراني**

**ـ رښتیا دې وویل، پخه خبره دې وکړه.**

**جلال**

**ـ نه دي دې اورېدلي، چې:**

**( چې په تمه د سپرو شي، هغه پاتې په مېرو شي):**

**ـ څوک چې لږ عقل هم ولري، نو په دې پوهېږي، چې خپل هېواد پخپله جوړ نه کو، نو بل څوک یې راته نه شي جوړولی..**

**نوراني**

**ـ وروره ته خو ډېر سهي لګیا یې.**

**جلال**

**ـ زموږ تېروتنه دا ده، چې موږ په سوال عادت شو، نورو ته زارۍ کوو،**

**ته به ځان ته خوشاله یې، خو باور وکه، ما ته یو سوالګر او پروژه یي انسان ښکارې.**

**نوراني**

**ـ دا خو دې سمه خبره وکړه، زه بې د پروژې نه ژوند نه شم کولی.**

**جلال**

**ـ خو زما په خپلو متو باور دی او په خپل ځآن باور د درانه ژوند اصلي راز دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوراني**

**ـ خو اوس ما ته هم لار راوښايه!**

**زما خو د ټولو اولادونو ژوند هم د خيراتخورو په څېر دی.**

**جلال**

**ـ وروره خپل یو کار شروع که، هم به د نورو له بندګۍ خلاص شې او هم به دې ورځ ښه شي.**

**ګوره د دنيا ويښې ملتونه له چا نه خيرات نه اخلي.**

**که موږ وغواړو چې د نورو له احتياج او چاپلوسيو نه خلاص شو، نو په کار ده چې په خپلو متو باوري شو. بې له خپلو متو موږ د نېکمرغۍ څرک نه شو ليدی، په کار ده چې د ويښو ملتونو غوندې نور موږ او تاسې خپلې متې له هر څه لوړې وګڼو. !**

**( په ښه انداز کې دې وويل شي او کمره دې جلال لږ کلوز کړي او هم دې د نوراني د حيرانۍ اضافي شاټونه واخيستل شي ).**

**۲۰۱۴ مارچ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محاکمه

( تلوېزوني ډرامه)

## د کرکټرونو پېژندنه

احمد ( د ډرامې اتل): د اتلسو نه تر شلو کلونو پورې عمر ولري. بېوزلی ژوند لري، خو جامې یې پاکې وي. ډېره هیله لري، چې پوهنځی ولولي، له دولسم نه اولنومره فارغ شوی وي. ښه غړ او اغېزناکې سترگې لري، دډرامې په اخرو صحنو کې نري تاو کړي برېتونه لري. ( دوه کرکټره دي، ماشوم او لوی احمد).

ملاله: د شلو کالو په عمر ښکلې جنۍ چې چاغه نه وي، معصومه څېره ولري او پښتو سهي ویلای شي.

( دوه کرکټره دي ماشومه او لویه).

د احمد پلار: د پاخه عمر سړی چې ناروغه څېره ولري.

د ملالې پلار ( نبي): د پاخه عمر سړی، چې یو اندازه چالاکه وي.

د سلیم پلار: ( مدیر حسن) د پاخه عمر خاوند.

د ملالې مور ( رابعه): پخه ښځه، چې ارام خوی لري.

سلیم: د احمد همصنفي، داسې څېره چې ښه نه لگېږي، خو چالاک وي. ( دوه کرکټره دي، ماشوم او لوی).

قاضي: ( نعمت) د پاخه عمر سړی، چې سپینه پټکۍ هر وخت پر سروي. رشوتخور وي. شیطانې سترگې ولري.

څارنوال (جمعه گل): چالاکه او پاک لباس ولري.

جنایي امر ( عبدالرحیم): دېرش کلن چوتار او چالاکه وي.

د حوزې امر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قربان شاه ( د کانکور د کومېټې مشر): پاک او صحتمند انسان خو پوزه یې لږه پیته وي.**
**سپین ګل ( د کومېټې د رئیس همکار): ځوان او چاپلوس کرکټر.**
**پشم ګل ( د رئیس همکار): ځوان او چاپلوس کرکټر.**
**یما ( ډاکټر): یوه داسې څېره چې په انسان ښه نه لګېږي، خاینې او ټګې سترګې او پوخ عمر ولرې.**
**اناهیته ( نرسه): ځوانه جنۍ چې په اخلاقي لحاظ کمزورې وي.**
**حیدر: د ډاکټر چاپلوس همکار.**
**نورمحمد صراف: چالاک کرکټر د پاخه عمر خاوند.**
**نرۍ ګل ( ژورنالېست): د برابر عمر خاوند وړه کمره یاټیپ او بکسګۍ ورسره شپو خولې یې پر سر یو حرامي او چاپلوس انسان.**
**کتابون والا: په خبره یو پوه سړی.**
**د بازار مشر: د پاخه عمر خاوند.**
**صمد ( د ماشومانو ښوونکی).**
**دادو: د څارنوال د دفتر چاپلوس.**
**د قاضي د دفتر نوکر: د پاخه عمر ښه سړی.**
**په مختلفو ځایونو کې شپږ پولیس.**
**ریاض: د احمد یو همصنفي.**
**یونس: د احمد ملګری همصنفي چې نره څېره ولري.**
**فرعي کرکټرونه: لسګونه.**

**لومړۍ صحنه:**
**ځای: د احمد او ملالۍ دوی کورونه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت: سهار.**
**لوبغاړي: احمد، ملالۍ او سليم.**
**( احمد اوملالۍ يو له بله لرې په وقفوي ډول له بېلابېلو کورونو نه راووځي. د احمد دوی کور زوړ او د ملالۍ ښه وي. د ملالۍ لباس ښه او د احمد لږ زوړ وي. دواړه په داسې حال کې چې د ښوونځي بکسې يې په شا وي، روان شي. تر يو څه مزله وروسته ورسره سليم هم ملګری شي، خو هغه په لاره کې شيطانی کوي، کله د احمد او کله د ملالۍ بکسې ته لاس اچوي.)**

**دويمه صحنه:**
**ځای: د ښوونځي مخه.**
**وخت: سهار.**
**لوبغاړي: احمد، ملالۍ او سليم.**
**( ملالۍ چې خپل ښوونځي ته ستنه شي، نو احمد ورته ولاړ وي. تر يو څه مزله وروسته ملالۍ ودرېږي، احمد ته مخ وراړوي، احمد ورته د خدای پامانۍ لاس وښوروي، خو سليم ورپورې خاندي).**
**درېيمه صحنه:**
**ځای: ټولګی.**
**وخت: سهار.**
**لوبغاړي: احمد اور ټولګيوال يې.**
**( لومړی دې تخته وښودل شي، چې استاذ په لوی ليک پرې ليکلي وي):**
**زموږ هېواد**
**افغانستان زموږ هېواد دی. افغانستان لرغونی تاريخ لري.**
**افغانانو تل په سوله کې ژوند کړی دی.**
**استاذ درې ځله پورته جملې ووايي او زده کوونکي يې ورسره تکرار کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاذ**

**پوی شوئ ماشومانو؟**

**ماشومان**

**ـ هو.**

**( احمد پورته شي):**

**احمد**

**استاذه!**

**زموږ هېواد کې غريبانان ولې ډېر دي؟**

**استاذ**

**ـ احمده! تا خو له خپله عمره ډېره لويه پوښتنه وکړه.**

**خو زه به يې لنډ جواب درکم.**

**دلته غريبانان ځکه ډېر دي، چې عدل نشته.**

**د دې هېواد ټوله شتمني د يو څو کسو په لاس کې ده.**

**او تر څو چې اوسنی پسات همدسې روان يي،**

**غريبانان به ورځ په ورځ ډېرېږي.**

**( احمد دې دوه ځله وښودل شي، چې خپه شي):**

**استاذ**

**ـ پوه شوې؟**

**احمد**

**ـ هو صيب.**

**څلورمه صحنه:**

**ځای: د ملالۍ دوی کور.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت: مازیګر.
لوبغاړي: د ملالۍ مور او پلار یې.
( د ملالۍ پلار کټ کې بالښت ته ډډه وهلې وي، شین چای ورته ګیلاس کې پروت وي، چې له خپلې ښځې پوښتنه وکړي):
د ملالۍ پلار
ـ ښځې ملالۍ څنګه ده، څه یې زده کېږي که نه؟
د ملالۍ مور
ـ ډېره تکړه شوې ده. که رشتیا درته وویم، نو هغه احمد ورسره ډېره خواري کئ.
( لږ تندی تریو کړي):
د ملالۍ پلار
ـ کم احمد؟
د ملالۍ مور
ـ د افضل کاکا زوی درته یادوم.
د ملالۍ پلار
ـ ښه دا زموږ ګاونډي؟
د ملالۍ مور
ـ هو، دا زموږ ګاونډیدرته یادوم.
ډېر لایق هلک دی.
د ملالۍ پلار
( سنجیده):
ـ رښتیا چې پوهه په دولت نه ده،
ګنې د غریبانانو له جونګړو یې څه غوښتل؟!

پنځمه صحنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای: یوه کوټه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: لومړی کوچني او بیا لوی احمد او ملالۍ.
( لومړی دې د هغوی کوچني لاسونه وښودل شي، چې احمد ورته په کتابچه کې داسې لیکل کوي):
ـ زه افغان یم.
افغانان ننګیالي او باتور خلک دي.
افغانانو هر یرغلګر ته ماتې ورکړې ده.
( همدا لیکل دې په ژبه هم وایي، همدې کې دواړه دې لوی وښودل شي):
( لږ په وېره):
ملالۍ
ـ ښه زه اوس ځم چې پلار مې رانه شي.
احمد
ـ او زم نور نه راځم.
ملالۍ
ـ ولې به نه راځې؟
احمد
ـ اوس لویه شوې
ما ته په کار نه ده چې نور راشم.
ملالۍ
ولې؟
( احمد لکه چې خوښه یې وي او هم ډېر شرمېږي):
احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ بس دی.**
**اوس لویه شوې.**
**یو هلک باید  پردۍ جنۍ سره کېنني.**
**( په معصومیت):**
**ملالۍ**
**ـ ولې ته ما پردۍ ګڼې؟**
**( احمد څه ونه وایي، د دواړو سترګې د لږې شېبې لپاره له اوښکو ډکې شي).**
**احمد**
**ما اوس هم تېرى کړى، چې دلته راغلم.**
**ملالۍ**
**ـ ښه یوه خبره درته کوم.**
**احمد**
**د څه حبره؟**
**ملالۍ**
**ـ ته نوره چوکیداري مه کوه.**
**دا پیسې به زه درکوم.**
**( لږه موسکا):**
**احمد**
**ـ خیر یوسې،**
**نر له ښځې نه په پیسو اخیستو ډېر بد ښکاري.**
**ملاله**
**ـ ژوند خو د یو بل په مرستو کېږي.**
**احمد**
**ـ سهي ده، خو د بازار سپي دې نه دي لیدلي، چې څومره غټ يي، خو چې د هر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چا خوري، نو غیرت نه لري.**

**ملاله**

**ـ تا خبره ډېره جدي کړه.**

**احمد**

**ـ رښتیا هم په دې ځای کې راته نه وه په کار، خو زما مقصد عام و.**

**( احمدورته لږ بیا وگوري،خو له دې سره په چټکۍ له خونې ووځي).**

**یادونه: له دې وروسته دې د ملالۍ د پلار او مور په څېرو کې د لس کاله ډېرېدو حالت وښودل شي.**

**شپږمه صحنه:**

**ځای: د بازار یوه جاده.**

**وخت:**

**\ شپه.**

**لوبغاړي: احمد.**

**( لومړی دې څو ثانیې بازار وښودل شي او بیا احمد چې د دولسم ټولگي د الجبر کتاب یې لاس کې وي، په بل لاس کې یې یو لرگی وي، په بازار کې روان وي او د یو څو دوکانونو قلفونه په لاس چیک کړي. بیا د گروپ رڼا ته کیني، یو ځل د دوکانونو بر سر ته وگوري او بیا خپل کتاب پرانیزي. یوه شېبه کتاب ته وگوري او بیا په داسې سوچ کې شي، لکه درس چې په یادو یادوي).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوومه صحنه:**

**ځای: د احمد دوی زوړ کور.**

**وخت: د شپې ناوخته:**

**لوبغاړي: د احمد ناروغ پلار.**

**( د احمد پلار په داسې يو زاړه کټ کې پروت وي، لکه ماتېدو ته چې نږدې وي. لږه شېبه وروسته دوه درې ژور ژور ټوخي وکړي، په کټ کې کېني. يو ټوخى بل هم وکړي، شربت راواخلي، خو چې سر يې خلاص کړي او راوايې ړوي، نو شربت په کې خلاص وي. لږ خواشيني غوندې شي او چې کله غونج ځملي، نو يو دوه ژور ټوخي وکړي).**

**اتمه صحنه:**

**ځای: يو درملتون.**

**وخت: سهار وختي.**

**لوبغاړی: احمد، حيدر چې لهيوه ډاکتر سره کارکوي او د درملتون والا.**

**( احمد يوه درملتون ته ودرېږي، خو چې وروسترې، هغه د ډاکټر سړی ( حيدر) ولاړ وي):**

**حيدر**

**ـ هن! دا واخله!**

**( د درملتون والا ته يوه پيچکاري ورکړي):**

**حيدر**

**ـ نهه شوې. ډاکټر صيب ويلې، چې پيسې هم راکه.**

**( د درملتون والا ډېره لږه شېبه په خپل مخ کې يو خفيف افسوس ځرګند کړي، دخل نه افغانۍ راوباسي، اتلس زره افغانۍ وشماري او ور يې کړي، سړی لاړ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي):
( په افسوس):
درملتون والا
ـ د پرون راهیسې دا پیچکاري، نهه ځل په ما خرڅه شوه.
( حیراني):
احمد
ـ نهه ځله؟!
پیچکارۍ خو ته باید خرڅې کړې، هغه دربانديې څنګه خرڅې کړې؟
درملتون والا
ـ دې خبرو پسې مه ګرځه، چې دا حال یې، دا وطن په خدای که جوړ شي.
( د احمد د سترګو حیراني):
احمد
ـ خو زه سم پوی نه شوم.
درملتون والا
ـ دلته هوښیار هغه دی چې پوی نه شي.
احمد
ـ که بده یې نه ګڼئ، لږ مې پوه که.
( سنجیده):
درملتون والا
ـ د دې پیچکارۍ بیه دوه زره افغانۍ ده،
ډاکټر یې هر ناروغ ته لیکي.
خو بیا ورته د دې په ځای یوه بله ارزانه پیچکاري کئ.
دا بېرته مازیګر راوړي، په ما یې په اتلس سوه افغانۍ خرڅئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یانې چې کمې وي، یوازې د دې پیچکارۍ د برکت نه ډاکټر صیب د ورځې اتلس یا شل زره افغانۍ ګټي.**

**اوس ته پخپله فکر وکه، چې دې وطن کې کمه داسې لوبه نه ده، چې نه کېږي؟!**

**( تر دغه ځایه دې د دواړو مختلف تاثرات واخیستل شي).**

**( په افسوس سره):**

**احمد**

**ـ دا خو لوی جنایت دی، ډېرلوی.**

**( احمد لږه شېبه غلی شي او بیا لږ په ورو ووایي):**

**احمد**

**ـ یو وینټولین شربت خو راکړ!**

**( په پوښتونکي انداز):**

**( شربت راواخلي او ور یې کړي):**

**احمد**

**ـ څو پیسې شوې؟**

**درملتون والا**

**ـ پنځوس افغانۍ!**

**( احمد د سلو لوټ ورکړي او هغه چې بېرته پنځوس افغانۍ ورکړي، نو احمد ورته ووایي):**

**احمد**

**ـ مننه.**

**( او یو اندازه په خپګان ترې روان شي).**

**نهمه صحنه:**

**ځای: د کتابونو یو دوکان.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت: سهار.**

**لوبغاړي: احمد او د دوکان خاوند:**

**( لومړی دې دوکاندار وښودل شي، چې یو کتاب الماری کې ځای پر ځای کړي،بیا دې ځان لږ مصروف وښیي او بیا دې احمد ورشي):**

**احمد**

**ـ سلام علیکم.**

**دوکاندار**

**وعلیکم**

**احمد**

**ـ د کانکور د تیارۍ کتاب لرئ؟**

**دوکاندار**

**ـ هو شته.**

**( دوکاندار کتاب راواخلي، احمد ته یې ورکړي، هغه یې لږ وګوري او بیا ورته ووایي):**

**احمد**

**ـ بیه یې څو ده؟**

**دوکاندار**

**ـ درې سوه.**

**احمد**

**ـ په دوه سوه اتیا به ونه شي؟**

**دوکاندار**

**ـ همدا شل روپۍ په کې ما ته پاتې کېږي؟**

**( موسکا):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد
ـ تاسې کتاب پلورونکي خو ډېرې روپۍ ګټئ.
خیر دې په دوه سوه اتیا یې راکه!
( دوکاندار په سترګو کې وخاندي):
دوکاندار
ـ د چا نه خوښېږي، چې ډېرې روپۍ ونه ګټي؟!
احمد
ـ که داسې شي، نو انصاف به ورک شي.
دوکاندار
ـ خو که انصاف وکې، بېګاه ته به له لوږې مړ شې!!
( د سترګو حیراني او لړه چوپتیا):
احمد
ـ عجیبه خبره دې وکړه ؟!
دوکاندار
ـ زلمیه د ژوندانه دا اوسنی سېستم داسې جوړ شوې، چې دلته هر یو د بل په مرۍ چاړه ږدي.
( د احمد د سترګوحیراني):
دوکاندار
ـ مقصد مې دا دی، چې پوښتنه نشته.
دلته یو انسان له بل انسان نه پوستکی وباسي،
لنډه دا چې لاس د بري کار دی.
احمد
ـ خو دا هم نه ده په کار چې ټول بې انصافه شو.
مقصد مې دا دی، چې ته دا کار مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کتابونو والا**

**ـ زلمیه! ( چې اوسې، په خوی به د هغو سې).**

**زموږ په ټولنه کې اوس پاک انسان له لوږې مري.**

**( له ځانه سره لږ ورو):**

**احمد**

**ـ څه وویم؟!**

**( احمد چې له جېبه پیسې راوباسي، ټولې ورسره دوه سوه اویا افغانۍ وي، په څېره کې یې خپګان پیدا شي. په ملامته انداز ووايي):**

**احمد**

**ـ زه خو درته په دې کې هم پاتې راغلم.**

**دوکاندار**

**ـ راکه،**

**لس شل روپۍ پروا نه لري.**

**( په موسکا):**

**احمد**

**ـ مننه، خوښ مې شوې.**

**( دوکاندار ته د خدای پامانۍ لاس ورکړي او له دې سره احمد له کتاب سره روان شي).**

**لسمه صحنه:**

**ځای: د احمد دوی کور.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: احمد او پلار یې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( لومړی دې د احمد پلار وښودل شي، چې یوه شېبه په څه کار ځان مشغول کړي
او بیا احمد راشي):
احمد
ـ سلام علیکم پلاره!
(لږ د ناروغۍ په انداز):
پلار
ـ وعلیکم
راغلې؟
احمد
ـ هو، شربت میم درته راوړ.
پلار
ـ دا خو دې ښه وکړه. بېګاه شپه مې ډېره سخته وه.
(شربت ورته خلاص کړي، په سرپوښ کې یې ورکړي اوبیا احمد هغه اخیستل
شوی کتاب لږ ګوري):
پلار
ـ یو خو ته په کتاب ډېر مین یې!
احمد
ـ پلاره! کانکور ته لږې ورځې پاتې دي.
دا کتاب مې نوی واخیسته.
پلار
ـ د کتابونو نه تېر شه.
سم کار شروع که، کار!
د دې نه هېڅم نه جوړېږي.
( حیراني):

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد
ـ پلاره کتاب نه ښنګه څه نه جوړېږي؟
دا دنیا خو په کتابونو ولاړه ده.
( د سنجیدګۍ یو حرکت):
پلار
ـ خبره دې سمه ده،
خو دلته کتاب، اوپوهه هېڅ ارزښت نه لري.
او بیا غریب خو که دلته افلاطون هم شي،
نصیب یې خوار دی.
احمد
ـ پلاره! په دنیا کې چې څه لوی خلک تېر شوي،
د بیوزلو زامن وو. که د غریب سړي زوی همت وکي
نو هغه هم لوړ ځی ته رسېدلی شي.
پلار
ـ درته ومې ویل، چې غریبانان دلته د وچو ډکو غوندې دي،
چې د شتمنو د کبابونو اور بلولو ته په کارېږي.
که زما منې سم کار شروع که، چې خدای م ورځ سمه کي.
( دوه ځله په وقفوي ډول ورته احمد په لړې مایوسۍ وګوري):
احمد
ـ پلاره! زه خو اوسم د شپې چوکیداري کوم.
اولنومره فارغ شوم.غواړم چې لوړې زده کړې وکم.
( وړوکی ټوخی او لږه موسکا):
پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ درته ومې ویل، چې هغه پخواني وختونه لاړل.
دلته اوس غریبانان تعلیم نه شي کولی.
( په حیرانۍ):
احمد
ـ څنګه يې نه شي کولی؟
چې زه امتحان کې کامیاب نه شم، نو څوک به کامیاب شي؟!
پلار
ـ ګوره بچیه! دلته د هر پوهنځي بیه معلومه ده.
هر یو په ډالرو خرڅېږي.
که غواړې، چې کامیاب شې، نو یا به غټه واسطه لرې او یا به ډالر ورکې.
احمد
ـ دا خو ډېر ظلم دی.
( لږه موسکا):
پلار
ـ وايي، چې کامه ورانه شوه، خو...
احمد
( په لږ جدت او اوږده انداز):
ـ خو پلاره !
زه به چاتم دا اجازه ورنه کم چې زما حق وخوري.
( د احمد د سرو سترګو په کلوز صحنه ختمه شي).

یوولسمه صحنه:
ځای: یوه شنه پوله، چې ونې هم ولري.
وخت: ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوبغاړي: احمد او سليم.**

**( سليم په لوچک انداز راروان وي او له ځانه سره د دې سندرې بيتونه دوه ځلهووايي ):**

**سليم**

**سندره**

**ـ ته راغلې په ځوانۍ يې، زه خو هم نوی زلمی يم**

**ته که مسته لېونۍ يې، ګلې زه هم لېونی يم**

**( سليم چې نوموړې سندره په مستۍ وايي، نو نابېره يې سترګې په احمد ولګېږي، چې څادر يې غوړولی او ناست وي، درس وايي، هماغه کتاب او څه کاغذونه يې مخې ته هم پراته وي):**

**( په لږ ريشخند انداز):**

**سليم**

**ـ دا دی کنه د کانکور والا!**

**( احمد په سنجيده ګۍ وروګوري):**

**سليم**

**ـ پرېده هلکه دا درسونه دې،**

**هسې هم رانه والله که کامياب شې.**

**( سليم د احمد کتاب بند کړي):**

**احمد**

**ـ بې اجازې د چا په کارونو کې ګوتې مه وهه!**

**سليم**

**ـ اشناهسې ځان مه سترې کوه!**

**هسې بې ځايه لګيا يې!!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( حيراني):
احمد
ـ ولې؟
سليم
ـ زه به کامياب شم، خو ته رانه والله که پوهنځی وګورې!
احمد
ـ ته لکه چې ناروغ يې.
( د سليم د پوښتونکو سترګو کتل):
احمد
که  ناروغ نه وی، داسې به دې نه ويل
په دوو مضامينو کې مشروط يې
او ځان کامياب ګڼې.
سليم
ـ اولنومره ګۍ ته دې مه خوشالېږه.
( احمد خپل کتاب ته وګوري):
سليم
ـ او رشتيا هغه انډيواله دې ښنګه ده؟
( په حيرانۍ):
احمد
ـ کمه انډيواله؟
سليم
ـ استاذي مه کوه.
( د احمد د سترګو حيراني):
سليم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ملالۍ درته یادوم!

احمد

ـ ته نه پېژنې، چې زه په دې پستو کارونو نه پېژنم؟!.

تر اوسه خو هغه ما ته د خور غوندې ښکاري

( لږه بې غږه خندا):

سليم

ـ که دسې یې نو خوښه دې نه ده، چې اوښې دې شم؟

( د سترګو په سوروالي او جدت سره):

احمد

ـ پاڅېږه، چټک!

درته ویم پاڅېږه!

احمقه!

( سلیم ورته داسې وګوري، لکه چې وېرېږي، کرار پاڅېږي):

احمد

ـ شا ته ونه ګورې!

( احمد هم پاڅېږي، سلیم روان شي، خو چې لږ لاړشي):

سليم

ـ ګورو به!

احمد

ـ ته ودرېږه!

( خو احمد چې څنګه ورروان شي، سلیم ګامونه چټک کړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولسمه صحنه:
ځای: د صرافۍ یو دوکان.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: حمید د سلیم ماما او نبي ګل صراف.
( لومړی دې یو لنډ شاټ بازار وښودل شي او بیا دې کمره پر صراف فوکس شي، چې په شد او مد سره ووایي):
نبي ګل
ـ درته ومې ویل، چې د هر پوهنځي بیه مالومه ده.
طب په لس زره ډالر،
انجینري، په اته زره،
د کابل حقوق په شپږ زره ډالر،
اوس ووایه چې د خوریې دپاره دې کوم پوهنځی خوښ دی؟
حمید
ـ څنګه لږ به راټیټ نه شې؟
نبي ګل
ـ دا فیکس رېټونه دي.
دې کې چې ډېرې ما ته پاتې شي، پنځه سوه.
نوره هلته د کانکور کمېټه ده، ټولې پیسې هغې ته ورکوم.
( لږ فکر):
حمید
ـ او دا د خارج د برسونو رېټونه څنګه دي؟
نبي ګل
ـ دغه اولنومره ګان چې ورته ځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حمید**

**ـ هو همدا یادوم.**

**نبي ګل**

**ـ ترکیې ته شپږ زره ډالر،**

**هندوستان ته څلور زره ډالر**

**او د دې نورو ځایونو رېټونه رانه اوس هېر دي.**

**حمید**

**ـ یاره دا خوم ډېر جیګ دي.**

**نبي ګل**

**ـ ولې دا تا ته اسانه ښکاري، چې د اولنومره ګانو په ځی دې یو څوک مشروطان ولېږي؟!**

**حمید**

**یاره خبره خو دې سهي ده.**

**ښه دسې به وکو، چې زما یو خوریې دی،**

**د سلیم په نامه، د هغه د انجینرۍ خبره به وکو.**

**نبي ګل**

**ـ سمه ده. خو د ازموینې د پارچې نومره به یې راوړې.**

**حمید**

**ـ خو دسې نه چې روپیم په سین لاهو شي؟!**

**نبي ګل**

**ـ اشنا! دلته هره خبره د ګرنټۍ ده.**

**څه ټوکې خو نه دي.**

**حمید**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سمه ده، وشوه، زه به سبا ډالر راوړم.
( له دې سره پاڅېږي).

دیارلسمه صحنه:
ځای: پوهنتون.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: احمد، سلیم او ګڼ شمېر نور هلکان.
( لومړی دې د پوهنتون یو شاټ واخیستل شي، بیا هلکان چې په درېو لاینونو کې ناست او درې کسه دریشي کړي استاذان په لاینونو کې ځي، راځي. احمد دې وښودل شي، چې سوالونه حلوي، خو سلیم همداسې ناست وي. لږه شېبه وروسته پرچې راټولېږي، خو احمد یې له ټولو مخکې پخپله ورکړي).

څوارلسمه صحنه:
ځای: یو لوکس دفتر، چې مخامخ مېز ولري او شا ته یې لویه چوکۍ وي. په کوټه کې نورې هم پنځه چوکۍ پرتې وي.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: د کانکور د کومېټې مشر او څلور نور غړي.
( پنځو واړو درېشۍ اغوستې وي. څلور ناست وي، چې مشر ( قربان شاه) کوټې ته راشي، ټول ورته پاڅېږي. چې کېني، لږ وروسته ورته وایي):
قربان شاه
ـ ښه! کارونه څنګه روان دي؟
سپین ګل
ـ صیب! ما سره خو سږکال، ډېرش د طب او ینځه ویشت د انجینرۍ د پوهنځي هلکان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قربان شاه**

**ـ څنګه خبره دې کړې ده؟.**

**سپین ګل**

**ـ هو صیب! ځینو خو لا له مخکې پیسې راکړي دي.**

**( له دې سره د ډالرو یو بنډل ورته مخکې کېږدي).**

**پشم ګل**

**ـ ما خو صیب! په اتیا کسو سوالونه خرڅ کړي دي.**

**نن مازیګر به صراف ټولې روپۍ راکي.**

**قربان شاه**

**ـ ګوره چې نرخ راټیټ نه کئ.**

**( مشر هغو نورو دوو ته):**

**قربان شاه**

**ـ او تاسې خدای بښلي؟**

**درېیم غړی**

**ـ صیب! خړیم د برګي نه کم نه دی،**

**زموږ د دواړو توره به سبا وګورې.**

**قربان شاه**

**ـ ډېر ښه.**

**خو یو شی تاسې ته زه ویم، چې ګوره دا ټولې روپۍ زما نه دي.**

**په دې کې راسره ډېر عزتمن خلک شریک دي.**

**( ټول په شریکه):**

**غړي**

**ـ صیب! موږ خو ړانده نه یو، ټول بوهېږو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سپین ګل**

**ـ اوس دې هم تاسو ته افرین وي، څومره مېلمانه لرئ؟!**

**قربان شاه**

**ـ رشتیا چې ډېر هوښیار يې.**

**تاسې باور وکئ، چې د میاشتې دېرش زره ډالر مې د کور نه بس کېږي.**

**( غړي يو بل ته په اشارو د مشر خبره تایید کړي):**

**پشم ګل**

**ـ رئیس صیب!**

**خدای خپل نازولي نه بدرنګئ!**

**قربان شاه**

**ـ دا ټول ستاسې برکت دی.**

**چې خان يې په یاران يې.**

**( په شریکه ):**

**ټول غړي**

**مننه، صیب مننه.**

**نوټ: په پورته صحنه کې دې هر غړی يوه اندازه په چاپلوسانه انداز خپله خبره کوي.**

**پنځلسمه صحنه:**

**ځای: د روغتون يوه خونه.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: هماغه داکټر، حیدر چپړاسې يې او نرسه.**

**داکټر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښه نن درته څه شی واخلم.
( په مکېز):
اناهیته
ـ هېڅم نه، ته ما ته هر څه یې کنه.
( په مینه):
ډاکټر
ـ ته خو زما د ژوند واکداره یې
هله ووایه نن درته څه واخلم؟
اناهیته
ـ دومره په مینه راته مه وایه بیا خرابېږم.
ډاکټر
ـالله! دې خبرې خو دې زم ډېر خراب کړم.
ستا مېنې خو رانه کور هېر کړی دی.
اناهیته
ـ خیر دی کور دېم دربانديې حق لري.
ډاکټر
ـ د هغه شاعر دې کور اباد یې، ډېر ښه یې فرمایلي، چې:
ـ یه مینتوب کې سړیتوب نشته
په سړیتوب کې مینتوب نشته.
( او له دې سره چې څنګه یې سر په ورانه کېږدي، چپړاسي یې راننوځي. ډاکتر راپورته او چپړاسي هم د حیرانۍ یو اکټ وکړي):
حیدر
ـ ښښنه غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مېټېنګ په وخت کې زه راننوتم.

داکټر

ـ راځه، راځه، تا نه خو به پرده بې غیرته سړی کئ!

( په چاپلوسۍ):

حیدر

ـ هن! صیب! دا دې اتلس زره روپۍ؟

( په مینه):

ډاکټر

ـ خیر یوسې.

څنګه ناروغان راغلي دي؟

حیدر

ـ یو سپین ږیری شته.

ډاکټر

ـ ورته ووایه چې مېټېنګ کې مصروف دی.

حیدر

ـ ښه صیب.

( حیدر لاړشي او ډاکټ بیا نرسې ته موسکی شي).

شپاړسمه صحنه:

ځای: د روغتون عاجله خونه.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: احمد، پلار یې او چپړاسي ( حیدر).

( د احمد پلار فریاد او ټوخي کوي، احمد یې پښې کېمنډي، چې دې کې چپړاسي کوټې ته راننوځي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد

ـ وروره! دا ډاکتر صیب چېرته دی؟

حیدر

ـ غلې کېنه. ډاکټر صیب چېرته دی؟

( حیراني):

احمد

ته لکه چې په خبره نه پېږې، که څنګه؟

حیدر

ـ هلکه سم ګړېږه، هغه تا غونډې اوزګار نه دی

مېټېنګ کې دی.

پوی شوې؟

احمد

ـ دا څنګه مېټېنګ دی؟

یو سات وشو، چې راغلی یم.

دلته کم مسوول نشته؟

د خدای دپاره دا څه حال دی؟

حیدر

صبر وکه.

احمد

ـ زه نور صبر کوی نه شم.

( احمد راپاڅېږي، چې ځي، چپړاسي یې مخې ته ودرېږي، خو احمد یې ټېل وهي

او ولوېږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوولسمه صحنه:
ځای: د ډاکټر خونه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: احمد، نرسه، ډاکټر، چپړاسي او د روغتون دوه نور پیاده ګان.
( احمد په بیړه د ډاکتر خونې ته ورشي، لوحه وګوري او له دې سره دروازه په زوره خلاصه کړي، سترګې یې په ډاکټر ولګېږي، چېې له نرسې سره مینه کوي، د احمد او ډاکټر دواړو تاثرات دې وښودل شي):
( په برابره غوسه):
احمد
ته نه شرمېږې.
پست انسانه!
( د ډاکټر سترګې لږې خړې شي، خو احمد بیا په جدت سره ووایي):
احمد
ـ بې وجدانه!
هلته خلک له دردونو مري او تا دا پست کارونه شروع کړي دي؟
ډاکتر
وباسئ، دا بې اصوله انسان.
ده ما ته سپکاوی وکه؟!
احمد
ـ ته خدای سپک پیدا کړی یې؟
( دې کې چپړاسي یانې حیدر او دوه تنه نور پیاده ګان راشي، احمد د شا له لوري ونیسي، په ټېلو ټېلو یې له روغتونه وباسي، خو احمد څو ځله هغوی ته ووایي):
احمد
ـ تاسې ټول د وژلو استئ، پرېمېدئ، ما ورته پرېدئ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتلسمه صحنه:**
**ځای: د ښار یوه برخه.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: سلیم او د ملالۍ پلار.**

**( د ملالۍ پلار سره په لاسونو کې څه سودا وي، راروان وي، چې لږ وروسته یې سلیم ووینې. هغه ورته خپل موټر ودروي او په خوشالۍ ورته ووایه):**

**سلیم**

**ـ کاکا راځه موټر کې کېنه!**

**( هغه هم په خوشالۍ وروخېژي، کېنې او موټر له کمرې اوټ شي).**

**نولسمه صحنه:**
**ځای: د احمد دوی کور.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: احمد او پلار یې.**

**(لومړی دې د احمد د پلار کټ وښودل شي، چې مات وي. احمد د پلار لاس په خپله اوږه اچولی وي، چې وګوري کټ مات وي. پلار ته په ځمکه توشک وغوړوي. پلار یې څملي، دوه درې ټوځې وکړي، خو احمد یوه شېبه غمجن مات شوي کټ ته وګوري).**

**شلمه صحنه:**
**ځای: د ملالۍ کور.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت: ورځ.

لوبغاړي: د ملالۍ پلار، د ملالۍ مور او ملالۍ.

( لومړی دې د ملالۍ مور وښودل شي، چې د کور په کوم کار لګیا وي، همدې کې د ملالۍ پلار له سودا سره کور ته راننوځي. ښځه یې مخې ته ورشي ):

( په لړې خواخوږۍ):

د ملالۍ مور

ـ راکه ما ته. ته خو به ډېر ستړی شوی یې؟

( سودا ترې واخلي):

د ملالۍ پلار

ـ نه.

( د ملالۍ پلار کېني):

سلیم د کوره پورې خپل موټر کې راورسولم.

( ښځه یې ورته وګوري):

د ملالۍ پلار

ـ څومره ښه ځواني خدای ورکړې ده؟

( د ملالۍ د خپل پلار خبرې خوښې نه شي ).

د ملالۍ مور

ـ خدای دې ورسره ښه وکي.

دا دنیا خو په ځوانانو ودانه ده.

یویشتمه صحنه:

ځای: د احمد د چوکیدارۍ بازار.

وخت: شپه.

لوبغاړي: احمد او سلېمان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( احمد سره لرګی وي، په مات زړه د بازار تر پایه لاړ شي، دوکانونو ته وګوري او بیا یوه دوکان ته غمجنه ډډه ولګوي. سر چې په زنګنونو کېږدي، نو د پلار مات کټ یې په فلش بیک کې سترګو ته ودرېږي. سره یې په زنګنونو کې ایښې وي، چې په لږ لوړ غږ دا واوري او لږ ټوپ کړي):

سلېمان

ـ پاڅېږه!

افرین، ښه چوګیداري کی؟!

احمد

ـ هسې مې سر په زنګانه ایښی و.

سلېمان

ـ چوکېداري دسې نه کېږي، چې کله درسونه وی او کله وده یې!

احمد

ـ زه د خپل کار ضامن یم.

دا دومره کلونو کې د دې بازار نه چا غلا کړې ده؟

سلېمان

ـ منګی هره ورځ نه ماتېږي.

بس نور ځه.

احمد

ـ ګوره ناروا مه کوه. ته زیاتی کی.

( په لږې غوسه):

سلېمان

ـ ویم، نورم نه یې په کار ځه.

( احمد ورته لږ غمجن وګوري او روان شي. په بیګ ګراونډ کې غمجن میوزیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي).

دوه ویشتمه صحنه:
ځای: د ښار یو سرک.
وخت: سهار.
لوبغاړي: احمد، نرې ګل ژورنالیست، یو د کراچۍ والا او د کانکور د کومپټې مشر قربان شاه.

( لومړی دې د سهار یو اضافي شاټ واخیستل شي، بیا دې یو بېوزلی وښودل شي، چې له سرکه خپله کراچۍ اړوي، موټر دې وښودل شي، چې په بیړه راروان وي، چې کله د کراچۍ والا له سرکه تېر شي، نو همدې وخت کې یې د قربان شاه موټر ووهي، احمد یې له له لرې ویني، د کراچۍ والا ولوېږي، له وښکي یې وینه راروانه شي. د موټر والا په بیړه له موتره راکښته شي، د کراچۍ والا له ځمکې راپورته کړي او یوه کلکه څپېړه یې ووهي او په غوسه ورته ووایي):
قربان شاه
ـ ته ړوند یې؟
سترګې نه لرې؟
( په وېره او عاجزۍ):
د کراچۍ والا
ـ صیب! زه خو د سرک نه تېر شوی وم، چې تا ووهلم
( احمد بیا دغه حالت ویني، خو چارواکی ورته په غوسه ووایي):
قربان شاه
ـ ویم، چې بله خبره ونه کې.
اوس به دې دا ساه په ګوتو وباسم.
( کراچۍ والا له وېرې غلی شي، خو همدې کې ژورنالیست ورشي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژورنالېست

ـ رشتیا وئ، کنه، پام ولې نه کی؟

( قربان شاه لږ موسکی او ژورنالېست، ته پټ د زر افغانیو نوټ په لاس کې کېږدي، خو احمد یې وګوري، قربان شاه چې کله موټر روان کړي، نو احمد راشي):

احمد

ـ ولې پسته؟

په ډالري معاش لکه چې نه مړېږې؟

ژورنالېست

ـ هلکه سم ګړېږه!

ته ما نه پېژنې؟ په یو سات کې به دې بندي کم!!

احمد

ـ ورکه هغه پیسې دې غریب ته ورکه؟

ژورنالېست

ـ کمې پیسې؟

احمد

ـ دا د خیانت پیسې.

ژورنالېست

ـ او که ور یې نه کم نو؟

( له دې سره یې احمد یوه کلکه څپېړه ووهي، هغه وغورځېږي، پیسې ترې واخلي، ژورنالېست چې پاڅېږي او څنګه لغته ورکوي، نو سره له بیګه وتښتي، احمد پیسې غریب ته ورکړي او چې څنګه یو درې ګامه روان شي، د ریاض زنګ ورته راشي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد

ـ سلام، ریاضه جوړ یې؟

ریاض

ـ خیر یوسې، ګوره خبره مې واوره؟

احمد

ـ وایه څه خبره ده؟

ریاض

ـ ګوره همدا نن درته ډېر په تمه یم.

راشه، د کانکور د احواله بم خبر شو.

احمد

ـ یاره پلار مې ډېر ناروغ دی، څه وویم؟!

ریاض

ـ راځه خدای به هېڅم نه کئ.

چې تلې، یو جوړ بازوګان بم درکم.

راځه زړه مې ډېر تنګ دی.

( د احمد سترګو ته لږه شېبه د کور مات کټ ودرېږي):

احمد

ـ بس همدا اوس درروان شوم.

درویشتمه صحنه:

ځای: د نېټ یو کلب.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: د احمد لس کسه همصنفیان او یونس.

( کمپیوټر ته ټول هلکان ډېر په تلوسه کې ناست وي، لږه شېبه پرې یو کس کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وکړي، خو په خواشینۍ یو کس ووایي):**
**یونس**
**ـ دا دریېیمه ورځ ده، چې نېټ کار نه کئ.**
**بل کس**
**ـ د ټولو ځایونو نتیجې اعلان شوي، خو دلته یې لکه چې د کسته سایټونه خراب کړي؟!**
**یاره خو ډېر ظالم خلک دي!!**

**ځلرویشتمه صحنه:**
**ځای: د ګلالۍ کور.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: ګلالۍ او مور یې.**
**( ګلالۍ راشي او د مور د کټ پښو ته کېني. لومړی د خبرې کولو یو حرکت وکړي او بیا ووایي):**
**ګلالۍ**
**ـ مورې دا پلار د سلیم ډېر صفتونه کئ.**
**( مور یې وروګوري):**
**ګلالۍ**
**ـ مورې د اوس نه درته ویم، چې ګوره هغه ته مې ورنه کې!!**
**مور**
**ـ د علامو نه خو رشتیا دسې ښکاري، چې هلک یې خوښ دی.**
**ګلالۍ**
**ـ خو زما بدې شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مور**

**ـ خو لورې! خور او لور څوک په کور کې نه ساتي.**

**ګلالۍ**

**ـ خو مورې د ځينو ورکړو نه په کور کېناستل ښه دي.**

**( په مانادارو سترګو او ورو انداز):**

**مور**

**ـ دا خو دې رشتيا وويل.**

**پنځه ويشتمه صحنه:**
**ځای: د احمد دوی کور.**
**وخت: شپه.**
**لوبغاړي: د احمد پلار.**

**( د احمد پلار له درده به ورو ډېر دردمن زګېروي کوي).**

**شپږويشتمه صحنه:**
**ځای: د چغه سرای بازار.**
**وخت: سهار.**
**لوبغاړي: احمد او رياض.**

**( لومړی دې د سهار يو شاټ واچول شي او بيا دې د لسو ثانيو لپاره د چغه سرای د بازار چارتراش وښودل شي. د احمد نوی پکول په سر وي، په ډاټسن کې يې دوه جوړه د کټ بازوګان اچولي وي، نور خلک هم ناست وي، ډاټسن روان او رياض ورته د خدای پامانۍ لاس وښوروي).**

**اوه ويشتمه صحنه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای: د ملالۍ کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: ملالۍ او مور يې.
( ملالۍ د کور په جارو لګيا وي، چې مور ته ووايي):
ملالۍ
ـ مورې که بده يې نه ګڼې، يوه خبره درته وکم؟
مور
ـ وکه، څه خبره ده؟
ملالۍ
ـ مورې! دا د احمد پلار سخت ناروغه دی.
دسې ښکاري، چې د پرون راسې يې کور کې ځوک نشته.
زه ويم، که د خدای د رضا دپاره ورته څه يوسو،
ستا څنګه خوښه ده؟
مور
ـ دا خو دې ښه خبره وکړه، خو دسې نه چې پلار دې خپه شي.
ملالۍ
ـ د خير په کار ولې ځوک خپه کېږي.
مور
ـ سمه ده لورې، څه به ورته پاڅه کم.
خو چې پلار دې خبر نه شي.
ملالۍ
ـ سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اته ویشتمه صحنه:**

**ځای: د کونړ سرک او یو پاټک.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: احمد، د جنايي امر ( عبدالرحيم) او نور کسان.**

**( لومړی دې د لنډ وخت لپاره د کونړ یوه ښکلې منظره وښودل شي او بیا دې له لرې لرې نه یوه د چارتراشو لارۍ وښودل شي، چې یو کس د جنايي امر ته رشوت ورکړي او هغه يې په خوشالۍ پربږدي، همدې کې د احمد دوی ډاټسن راورسېږي او د جنايي امر يې ودروي او چې کله بازوګان وګوري، نو په داسې انداز لکه چې یو خطرناک شي يې نیولی وي ووايي):**

**جنايي امر**

**ـ اوهو، دا دي کنه.**

**هلکه دا د چا دي؟**

**احمد**

**ـ زما دي .**

**امر**

**ـ راکته شه، چټک!**

**( هغه راکښته شي):**

**امر**

**ـ دا ولې وړې؟**

**احمد**

**ـ خلک لارۍ وړي، دا خو بازوګان دي.**

**امر**

**ـ د لاریو والا خو زور لري،**

**ته زور لرې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**احمد**

**ـ د یو جوړ بازوګانو وړلو ته به د زور اړتیا نه یې.**

**امر**

**ـ روپۍ ورکې که نه؟**

**احمد**

**ـ د څه شي روپۍ؟**

**امر**

**ـ ته نه پېږې، چې د دې اجازه نشته؟**

**دا عامه شتمني ده!**

**احمد**

**ـ شتمني خو ټوله لوټ شوه، اوس خو په دې غرونو کې څه نه دي پاتې!**

**( امر په غوسه او غواړي چې ګوزار وکړي، خو احمد یې لاس کلک ونیسي):**

**احمد**

**ـ که ګوزار دې وکه ګوره خوښ به دې شم!**

**( امر نورو ته):**

**امر**

**ـ ونیسئ، دا د قانون دښمن.**

**دا ما ته لاپې کئ،**

**اوس بې خوښ شم.**

**( دوه کسه په چټکۍ احمد له لاسونو ونیسي، احمد یو ځل شا ته وګوري، خو موټر روان او بازوګان هم په ځمکه پاتې شي).**

**نهویشتمه صحنه:**

**ځای: د احمد دوی کور.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: ملالۍ، مور يې او د احمد پلار.**
**( ملالۍ او مور يې په داسې حال کې چې په ډېش کې د خوراک څه ورسره وي، ورو د احمد دوی کور ته ورننوځي، خو لږ وروسته چې يې د احمد په پلار سترګې ولګېږي، نو هغه مړ شوی وي. دواړه يو بل ته وګوري او بيا په وېره له کوره ووځي).**

**دېرشمه صحنه:**
**ځای: د پوليسو ماموريت:**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: احمد، د حوزې امر او دوه نور پوليسان.**
**( د حوزې امر ځان لږ بوخت وښيي او بيا ووايي):**
**د حوزې امر**
**ـ ته په دې نه پوهېدې، چې قانون ته سپکاوی څومره لوی جرم دی؟**
**احمد**
**ـ دا پوښتنه له هغه چا نه په کار ده، چې دا کار يې کړی يي.**
**د حوزې امر**
**ـ چې بدمعاشي کی، نو اوس ورته ټينګ شه.**
**احمد**
**ـ دا خو تاسې سراسر ظلم کوئ.**
**ګوره امر صيب! کوږ بار تر منزله نه رسېږي.**
**( امر سترګې سرې کړي):**
**امر**
**ـ بوځئ، هلکه دا څارنوالۍ ته زر بوځئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( پولیس یې دوسیه واخلي، احمد لږ وروګوري او د هغه دوکاندار هغه خبره یې په فلش بیک کې وریاده شي، چې دلته یو انسان د بل پوستکی وباسي، بیا یې پولیس روان کړي).

یودېرشمه صحنه:
ځای: د نېټ کلب.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: یونس او د احمد ګڼ همصنفیان.
( ټول کمپیوټر ته ګوري، چې د کانکور نتیجه وګوري.):
یونس
ـ هلکه دا څنګه چل دی؟
دا خو یوم په کې کامیاب نشته.
( لږه چوپتیا او بیا حیراني):
بل هلک
ـ هلکه سلیم کامیاب شوی دی؟
بل هلک
ـ څه شي ته ؟
هلک
ـ انجینرۍ ته، دا څنګه چل دی؟
یونس
ـ هغه خو دوو مضامینو کې مشروط و او احمد چې اولنومره و، بې نتیجې دی؟!
بل هلک
ـ دا خو ډېر لوی خیانت شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په افسوس):

یونس

ـ خیانت څه چې ملي خیانت شوی.

دا خو نه بښوونکی جرم دی.

( ټول خپه شي):

بل هلک

ـ د هغه احمد خو به د خپګانه زړه وچوي.

ډېره خواري یې کړې وه!

یونس

ـ دغو ملي خاینانو اخر د معصومو شاګردانو په ژوند هم لوبې شروع کړې؟!

د دې خیانت پوښتنه باید وشي،

رشتیا چې حق ورکول کېږي نه، اخیستل کېږي.

دوه دېرشمه صحنه:

ځای: ښارنوالي.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: احمد، یو پولیس، ښارنوال او د ښارنوال یو چاپلوس کارکوونکی.

(لومړی دې د ښارنوالۍ د دفتر لوحه وښودل شي، وروسته په داسې حال کې چې د احمد لاسونو کې ولچک وي، د پولیس سره وښودل شي، چې راوستل شي. چاپلوس پر چوکۍ ناست وي، د خوشالۍ لړه موسکا وکړي. پولیس یې چاپلوس ته وسپاري ):

پولیس

ـ ښارنوال صیب شته؟

چاپلوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هو، شته، هر کله راشئ.
( څارنوال دې وښودل شي، چې په کار مصروف وي، احمد یوې اوږدې چوکۍ باندې کېني):
پولیس
ـ دا مجرم مې تا ته وسپاره، زه راځم.
( پولیس چاپلوس ته دوسیه ورکړي).
چاپلوس
ـ ییغمه شه، ځه ته تلی شې!
( پولیس له کمرې اوت شي، چاپلوس دوسیه څارنوال ته په مېز کېږدي. د احمد د تاثر یو شاټ دې واخیستل شي.، چاپلوس بېرته راشي)
چاپلوس
ـ ځوانه ګوره چې زړه کته پورته نه کې.
ما ته دعا کوه، همدا نن به دې خلاص کم.
احمد
ـ خدای دې خیر درکي.
پلار مې ډېر ناروغ دی.
چاپلوس
ـ درته ومې ویل، چې ری ونه وهی.
ورور دې دلته د بمونو والا خلاص کړي،
ستا خو لا وړه خبره ده.
احمد
ـ د بمونو والا دې څنګه پرېښي؟
( په لړه چینګه خوله):

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپلوس

ـ ولې ته نه پېږې، چې دلته پیسې د هر څه نه زورورې دي؟!.

( حیرانتیا):

احمد

ـ پیسې څنګه زورورې دي؟

چاپلوس

ـ دا خبرې پرېده، دا راته ووایه چې دېرش زره افغانۍ درسره شته؟

احمد

ـ په افغانیو څه کې؟

چاپلوس

ـ زلمیه ډېر ساده راته ښکارې؟!

حیران یم چې ولې نه پېږې؟!

احمد

ـ زه والله که په دې خبره پې شوی یم.

چاپلوس

ـ روکیه! دې حکومت کې چې په یو دفتر کې هسې ساه هم اخلې، نو پیسې به ورکې.

تا سره اوس څومره روپۍ دي؟

احمد

ـ یاره ما سره خو هېڅ هم نشته.

( لږ په استاذۍ):

چاپلوس

ـ د بل چا نه یې راواخله.

قرض یې که، زه به وخت درته د ځارنوال صیب نه واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد

ـ وروره! ما نه کم جرم کړی او نه را سره پیسې شته.

چاپلوس

ـ ګوره همدا اوسم سري وخت دی، بیا به ارمان کې.

احمد

ـ درته ومې ویل چې ما سره نه روپۍ شته او نه به یوه روپۍ ورکم.

ما د چا پلار وژلی دی، چې چا ته روپۍ ورکم؟!

چاپلوس

ـ ښه همدا خبره ده؟

احمد

ـ خود همدا خبره ده.

( دې کې څارنوال غږ کړي):

څارنوال

ـ دادو دلته راشه.

( دادو یانې چاپلوس ورشي):

څارنوال

ـ سړی څو روپۍ ورکئ؟

چاپلوس

ـ صیب! لکه چې یوه روپۍ تې هم بود نه شي، سړی دلایل وئ.

( تریو تندي او جدت باندې څارنوال ووایي):

څارنوال

ـ راویې غواړه.

( هغه یې په اشاره کوټې ته دننه کړي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



څارنوال

ـ هلکه قانون ته دې ولې په سپکه کتلي دي؟

ته پېږې چې څومره لوی جرم دې کړی؟!

احمد

ـ صیب! تاسې به بل څوک لیدلی یې. زه خو لا تر اوسه جرم نه پېژنم.

( د سترګو په کتلو او بیا په یوه اندازه غوسه):

څارنوال

ـ یو پولیس باندې ګواښ کول تا ته جرم نه ښکاري؟

د وطن د خدمتګارانو سره څوک دسې کئ؟

احمد

ـ د وطن خدمتګاران غله نه یې.

هغی خو چور ته ناست دي.

څارنوال

ـ په دې خبره تا خپل جرم نور هم درونډ که.

احمد

ـ څارنوال صیب! زه له هېڅ ډول سزا نه یرېږم.

خو دا زور راکئ، چې ما هېڅ ګناه نه ده کړې.

یو جوړ د کټ بازوګان مې کورته وړل،

خلک په رڼا ورځ چارتراش وړي، هغوی ته دې کله هم مجرمین ونه ویل؟!

څارنوال

ـ نور بس که.

نوره دې خبره په قضا کې خلاصوه.

هلکه دا بوځئ!

( پولیس له څارنوال نه دوسیه واخلي احمد روان کړي، خو احمد یو ځل په ځېګان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تګ په وخت کې څارنوال ته مخ ورواړوي):

درې دېرشمه صحنه:

ځای: د سین غاړه:

وخت: ورځ.

لوبغاړي: یونس او د هغه اته کسه همصنفیان.

( یونس لږ خپه ناست وي، یو کاڼی سین ته ورو ګوزار کړي او بیا نورو ته مخ وروا‌ړوي):

یونس

ـ رشتیا چې له عادل کافر سره ژوند کېدای شي، خو د ظالم مسلمان سره نه.

( نور لږ په فکر وروګوري):

یونس

ـ سهي خبره خو دا ده، چې نور دې ملک کې ظلم اسمان ته رسېدلی دی.

بل کس

ـ یاره سمه خبره دې وکړه. ته هغه احمد ته وګوره.

څومره زیاتی ورسره وشو.

یونس

ـ اوس لا بې ګناه او بې خطا بندي هم دی.

خو دا ټوله زموږ ګناه ده.

( په حیرانۍ ):

بل کس

ـ زموږ ګناه څنګه ده؟

یونس

ـ ګناه مو څکه ده، چې کله په چا ظلم کېږي، نو موږ یې سیل کوو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حال دا چې دا سهي کار نه دی.**
**د هر هېواد سرنوشت د هغوی ځوانان ټاکي، خو موږ غلي ناست یو.**
**بل کس**
**ـ یاره چې داسې یې موږ خو باید ځان ته ځوانان ونه وایو.**
**یونس**
**ـ زه خو ویم، چې نوره څه چاره په کار ده.**
**خو لومړی باید احمد له دې ظلم نه خلاص کو.**
**څنګه تاسې یې منئ؟**
**( ټول په یوه غږ):**
**موږ تر مرګه در سره یو!!**
**څلوردېرشمه صحنه:**
**ځای: د قاضي دفتر.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: احمد، پولیس، قاضي او د قاضي یو نوکر.**
**( د قاضي نوکر په مهربانۍ سره احمد ته ووایي):**
**نوکر**
**ـ ځوانه زه چې څه درته ویمه، په هغې کې دې خیر دی.**
**دا هغه ځی دی، چې ستا د دوسیې فیصله په کې کېږي.**
**ښه به دا یې چې زما خبره ومنې!**
**( احمد وروګوري):**
**نوکر**
**ـ که ته همدا اوسم ( اوس هم)، قاضي صیب ته یو څه په لاس کې کېدې، نو جاله لا دې غاړې ده.**
**احمد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ کاکا! زه پېږم، چې ته راته دا خبره د همدردۍ نه کې.
خو دا قاضي صیب! د خدای نه نه یرېږي، چې بې ګناه بې خطا زما نه رشوت اخلي؟!
نوکر
ـ زلمیه! که د دوی خدای په یاد وی، نو د غریبانانو به داحال نه و، ته ورشه، زندانونو کې وګوره چې څوک په کې بندیان دي. مړې یوه کړی یې او بندي په کې یو بې ګناه غریب شي.
احمد
ـ کاکا! د دې نه مالومېږي، چې قاضي صیب وجدان نه لري، شرم نه لري.
خو کاکا زه یوه روپۍ نه لرم.
بس دی، چې دومره ظلم راسره وشو.
( لږ ورو):
نوکر
ـ نوره دې خوښه. ما خو غوښتل، چې د لېوه د خولې نه دې خلاص کم.
( همدې کې د قاضي د دفتر نه یو سړی ووځي او احمد ورشي):
احمد
ـ سلام علیکم.
( قاضي سلام وانخلي، یوازې په کبر سترګو کې وروګوري):
قاضي
ـ همدا ته احمد یې؟
احمد
ـ هو، همدا زه احمد یم.
قاضي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ستا له دوسیې نه معلومېږي، چې تا اساسي قانون ته په سپکه کتلي دي.
او د دې جزا پوهېږې، چې څه ده؟
احمد
قاضي صیب! قانون ته هغه څوک په سپکه ګوري، چې د خلکو حقوق او ملي شتمني خپل حق ګڼي.
او ما کوم داسې کار نه دی کړی.
قاضي
ـ زه دې خبرو ته وخت نه لرم. زه یوازې جزا درته ټاکلی شم.
احمد
ـ د قاضي دا وظیفه ده، چې حق له باطل نه بېل کړي.
جزا خو ډېر واړه خلک هم ورکولی شي.
( په غوسه):
قاضي
چپ! چې بله خبره ونه کې.
بې تهذیبه!
ته نه پېږې چې د عدالت مخې ته ولاړ یې؟!
احمد
ـ خو قاضي صیب ستا عدالت را ته په دواړو سترګو ړوند ښکاري، لومړی د دې علاج په کار دی.
( په غوسه):
قاضي
ـ دا دی اوس به درته زه علاج وښیم.
( قاضي د احمد په دوسیه کې په سره لیک ولیکي، چې احمد په شپږ کاله حبس محکوم شو. لاسلیک یې هم کړي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي
ـ اوس به پوره شپږ کاله عدالت وګورې،
( په جدت):
قاضي
ـ بوېې ځئ.
( پولیس احمد روان کړي).
نوټ: د قاضي په دفتر کې باید د احمد په لاسونو کې ولچک نه وي.

پنځه دېرشمه صحنه:
ځای: یو باغ یا چاردېوالي.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: یونس او نور ملګري يې.
یونس
ـ ورونو! نن پولیس احمد زندان ته وړي.
همدا نن چې ورسره توره ونه کو، نو بل وخت يې نه شو کولای.
بل هلک
ـ سمه خبره دې وکړه، همدا نن يې باید خلاص کو.
بل هلک
ـ د دې ظلم مخه باید زر تر زره ونیسو.
خو څنګه به کوو؟
یونس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ما پلان جوړ کړی دی، خو دا هر څه به په ډېره چالاکۍ کوو.
ګوره چې وارخطا نه شئ!
ټول په یوه غږ
ـ سمه ده.

شپږ دېرشمه صحنه:
ځای: د ملالۍ کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: د ملالۍ پلار او سلیم.
( سلیم په لوکسو جامو کې په داسې حال کې چې له یوه لوکس موټر نه راکښته شي او د موټر له ډالې د تازه مېوې دوه لویې خلتې راباسي، د ملالۍ پلار یې ویني. دواړه سترې مه شي وکړي):
د ملالۍ پلار
ـ دې ته څه اړتیا وه؟
هسې دې ځان په تکلیف کړی دی.
سلیم
ـ هېڅ خبره نه ده. مشران په کشرانو ډېر حق لري.
د ملالۍ پلار
ـ په کار خو دا وه، چې زه دې مبارکۍ ته درغلی وی،
خیر اوس دې مبارک وي. انجینرۍ ته کامیاب شوی یې؟.
سلیم
ـ هو ستاسې د دعاګانو برکت دی.
د ملالۍ پلار
ـ یوازې دعاګانې وې، که خواري دې هم کړې وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سليم**

**ـ کاکا لمر په دووګوتو نه پټېږي.**

**د ملالۍ پلار**

**( موسکا):**

**ـ دا خو ده.**

**اوه دېرشمه صحنه:**

**ځای: يو داسې سرک چې شاوخوا يې ونې وي.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: احمد، دوه پوليسان، يونس او ملګري يې.**

**( لومړی دې د پوليسو موټر له لرې وښودل شي، چې رٍاروان وي. احمد يې په باډۍ کې کېنولی وي او دوه پوليس يې شا وخوا ناست وي. بيا دې يونس دوی وښودل شي، چې مخونه يې پټ کړي او دوه يا درې تومانچې ورسره وي، په داسې حال کې دې وښودل شي، چې د بوټو له پاڼو موټر ته ګوري او کله چې موټر راورسېږي، نو يونس د موټر مخې ته يو چټک ټوپ کړي، تومانچه ورته ونيسي، موټر ودروي او نور ملګري يې په پوره چټکۍ باډۍ ته وخېژي، يو يو بوکس پوليس ووهي، کلاشينکوف ترې واخلي، احمد له موټره کښته او ونو ته په بيړه لاړ شي).**

**اته دېرشمه صحنه:**

**ځای: د ملالۍ کور.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: ملالۍ او مور يې.**

**( د ملالۍ سترګې له اوښکو ډنډ وي. مور يې يو ځل په خپګان وروګوري، په دويم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځل کتو سره یې مور ورته په مهربانۍ ووایي):**

**د ملالۍ مور**

**ـ بې اجله ځان وژنې.**

**په زوره دې ځان ته زندۍ اچولې ده.**

**لورې! د قسمت لیکلي څوک نه شي بدلولی.**

**( ملالۍ اوښکې وچې کړي):**

**ملالۍ**

**ـ وئ ( وایي) چې نصیب کته کړی خر دی.**

**مورې دسې نه ده، ځینې قسمتونه خو د انسان خپل لاس کې یې.**

**( اسوېلی):**

**د ملالۍ مور**

**ـ لوري څه ووېم، پلار دې وئ، چې هلک د انجینرۍ پوهنځي ته کامیاب شوی دی.**

**ملالۍ**

**ـ که د ستورو او اسمان پوهنځي ته هم په خیانت کامیاب شي،**

**زه د دسې خلکو کوژدنې ته تیاره نیم.**

**زه د دسې غدارانو نه کرکه کوم.**

**د ملالۍ مور**

**ـ لورې پلار دې پې ډېر کلک ولاړ دی، هغه وئ چې سلیم شتمن هم دی او راتلونکې یې هم ښه ده.**

**ملالۍ**

**( جدت):**

**ـ دا زما اخرنی ځل دی.**

**درته ومې ویل، چې زما نر خوښېږي، نه هغه څوک چې یو څوک ګیدړ یې خو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوستکی يې د زمري اغوستی يې.
بس په اخري ځل مې درته وويل.

نهه دېرشمه صحنه:
ځای: د احمد کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: احمد.

( احمد د پلار تازه قبر ته ورشي او بيا يې په فلش بيک کې د پلار هغه خبره سترګو ته ودرېږي ( غريبانان دلته د وچو ډکو غوندې دي) له دې سره احمد لږه شېبه کېني او يوه اوښکه يې له سترګو تويه شي، بيک ګراونډ کې غمجنه موسيقي وي).

ځلوېښتمه صحنه:
ځای: يوه لوکسه خونه.
وخت: مازيګر.
لوبغاړي: د کانکور د ازموينې د کومېټې مشر، ورسره غړي يې يانې پشم ګل او ژورنالېست

( لومړی مشر په ګيلاس کې پروت جوس وڅښي او بيا دې نورو ته مخ ورواړوي):
د کانکور د کومېټې مشر
( قربان شاه):
ـ ښه ويوئ کنه! څه کيسې دي؟
( پشم ګل د واسکټ له جېبه د ډالرو يو بنډل راوباسي):
پشم ګل
ـ صيب! ما خو چې کوم سوالونه په خلکو خرڅ کړي وو، نو روپۍ يې دا دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



( مشر ته روپۍ ورکړي، هغه يې چې واخلي، نو موسکی شي):

قربان شاه

ـ رشتيا چې دا هېواد تا غوندې  فعالو خلکو ته اړتيا لري.

( په لړې چاپلوسۍ):

پشم ګل

ـ صيب مننه.

مشر

ـ ځنګه تا تې خپله برخه اخيستې ده؟

پشم ګل

ـ هو صيب! هغه کار شوی دی.

( بيا دې نورو ته مشر ووايي):

قربان شاه

ـ تاسې خو حساب صفا کړی دی، که ځنګه؟

( ټول په يوه غږ):

پاتې درې کسان

ـ موږ خو هر څه صيب بېګاه درکړل.

قربان شاه

ـ ډېر ښه. اوس به له ژورنالېست صيب نه پوښتنه وکو.

ـ نرى ګله ځنګه خلک خو څه نه وئ، د ازموينې له نتيجې راضي دي که نه؟

ژورنالېست

ـ صيب! خلک دومره په خپلو خولو کې ډوب دي، چې خبره نه شي کولای.

چې يو څوک ځان ته حيران يې نو منګ ته به ځنګه اوزګار شي؟!

قربان شاه

ـ ډېر ښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژورنالېست

ـ او بیا زه د څه دپاره یم؟

که چغې وهي، نو وهي دې کنه.

خپله ژړا به پخپله اوري، ویم والله که رانه دویم کسم خبر شي.

قربان شاه

ـ یاره د کار سړی یې. راشه چې لږ خو دې ونازوم.

( ژورنالېست په چاپلوسۍ ورباخښېږي، مشر ورته دوه زره ډالر وشماري):

قربان شاه

ـ هې! واخله، دا دوه زره ډالر ستا انعام شو.

ژورنالېست

ـ صیب! خدای دې د ولس خدمت ته تل ژوندی لره!

( قربان شاه وړه موسکا وکړي):

پشم ګل

ـ صیب! ژورنالېست صیب! سبا شپې ته ستاسې په ویاړ د موسیقۍ یو پروګرام جوړ کړی دی.

له تاسې نه هیله کوي چې برخه په کې واخلئ.

مشر

ـ و الله بده خو نه ده. د خیر په کار کې سستي نه ده په کار.

( لږ سکوت):

ـ هې، خو یوه خبره ده، چې قاضي او څارنوال صیب هم درسره راولې.

ژورنالېست

ـ صیب! زما د زړه خبره دې وکړه، خو قاضي صیب به راشي که نه؟

مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عجیب سړی یې قاضي صیب به څنګه نه راځي؟**
**هغه خو خرابات او مناجات دی .**
**ژورنالیست**
**او که ستاسې اجازه یې،**
**امر صاحب جنايي به هم راوغواړم.**
**مشر**
**ـ په توده کې سړه نه ده په کار.**
**باالکل یې راوغواړه.**
**ښه نور نو ځئ.**
**( په یوه اندازه چاپلوسي ټول ووځي).**

**یوځلوېښتمه صحنه:**
**ځای: یوه اوږده خونه، چې سرتا سري لوی مېز او چوکۍ ګانې ورته پرتې وي.**
**وخت: شپه.**
**لوبغاړي: احمد، یونس او لس کسه نور ځوانان ټولګیوال یې.**
**( احمد په داسې حال کې چې یوه تور رنګه داسې درېشي یې اغوستې وي، چې له جیمي ټوټې نه جوړه شوې وي. کورتۍ ونه لري، خو کمیس یې  د عسکري کمیس غوندې جوړ وي، چې د ولو دپاسه یې لکه د پخوانۍ رتبو د ځای ټوټې وي. مخامخ دوه بند جېبونه ولري او څاقداره بوټان یې په پښو وي. برېتونه یې نري کونډه دار وي، پاک ښکاري او وېښته یې پورته اړولي وي. یانې په پوره توګه یو تکړه او بدل اخیستونکی ځوان ښکاري، ملګري یې هم داسې ښکاري، لکه د یوه جنګي ګروپ غړي چې وي):**
**احمد**
**ـ ګرانو ملګرو السلام علیکم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی تاسې نه مننه کوم، چې زما مرسته مو وکړه او زه مو د فاسدانو له منګولو خلاص کړم.

رښتيا خبره خو دا ده، چې نور زموږ په هېواد کې ظلم، خيانت او رشوت اخري حد ته رسېدلی دی.

يونس

ـ خو اوس يې يوه داسې چاره په کار ده، چې ډېره اغېزمنه او لنډه وي.

که څنګه ملګرو؟

ټول په يوه غږ

ټول

ـ سمه خبره دې وکړه.

احمد

د هېواد د دې پنځه فيصده خلکو د ظلم، خيانت او وحشت له امله پاتې خلک د هغوی عذاب ګالي.

دا هغه خلک دي، چې نه قانون پېژني او نه انسانيت.

تر هغه چې د دغو مفسدينو چاره ونه شي، نو مظلوم به ورځ تر بلې بدترېږي.

دلته شتمني او واک داسې خلکو نيولی چې نه رحم لري او نه د هېواد ملي ګټو ته ژمن دي.

وايي چې کږې خولې په سوک سمېږي.

تر څو چې د هېواد او خلکو دښمنان د خپلو اعمالو په سزا ونه رسوو، بې له دې موږ بله لار نه لرو. دا کار هغه ځوانان کولای شي، چې خپل هېواد او خلکو سره مينه ولري او په رښتيا هم ځوان وي.

ټول په شريکه:

ـ ډېره سمه خبره دې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ تر مرګه درسره یو.
احمد
د دې کار لپاره ما یوه قسمپاڼه لیکلې ده. تاسې ټول په شریکه راسره د ا وواياست.
( ټول متوجه شي):
احمد
ـ د لوی خدای په نامه قسم کوم چې
د هېواد او خلکو دښمنان، رشوت خواره، ملي خاينان،
جنایتکاران او ګوډاګیان به د خپلو اعمالو په سزا رسوم.
همدا رنګه قسم کوم، چې د ځان لپاره به هېڅ ډول ګټه په پام کې نه نیسم.
د خپلې وینې تر اخري څاڅکی پورې به د مظلومو افغانانو نه دفاع کوم.
که مې د ځان لپاره څه وغوښتل، نو د سختې سزا وړ به یم.
( احمد پورته جملې یوه یوه وایي او ملګري یې په یوه غږ تکراروي)
احمد
ـ مننه. ډېر زر به په دې کار پیل وکړو.
ټول
ـ سمه ده.

دوه څلوېښتمه صحنه:
ځای: د یوه لوکس کور چمن.
وخت: شپه.
لوبغاړي: هنرمندان، د کانکور د کومېټې مشر او ملګري یې، ژورنالېست، قاضي، څارنوال، جنايي امر ، احمد، یونس او نور ملګري یې.
( هنرمندان د موسیقۍ الات سر کوي، چې د کومېټې مشر قاضي ته چې سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پټکی یې تړلی وي، ووایي):**
**قربان شاه**
**ـ قاضي صیب! که خوښه دې وي شروع به وکو.**
**قاضي**
**ـ ډېره ښه ده بسم الله کئ!**
**(همدې وخت کې دې احمد وښودل شي، چې د کور په دېوال په احتیاط را اوړي او لاندې دوه کسه پیره کوي، له دې وروسته ژورنالېست د هنرمندانو ځای ته ورشي او په چاپلوسانه انداز ووایي):**
**ژورنالېست**
**ـ زه په دې ویاړم چې د کانکور پروسه په پوره بریالیتوب او عدالت سره د رئیس صیب په زیار پای ته ورسېده،**
**( رئیس موسکی شي):**
**ژورنالېست**
**نو له استاذ نه هیله کوم، چې لومړی یوه مسته نغمه شروع کي، تر څو د خپلو احساساتو تنده د رئیس صیب په ویاړستاسې په مخ کې ما ته کم. زړه خو مې ډېر غواړي، چې خپله خوشالي تاسې ته په نڅا کې وړاندې کم، خو څه وکم، د ډېرو ګرځېدو د لاسه مې ښپې خوږېږي.**
**پشم ګل**
**ـ ولې منګ درته سړي نه ښکارو؟!**
**( رئیس د تائید سر وښوروي او هنرمندان د نڅا یوه نغمه پیل او پشم ګل ډېره مسلکي نڅا پیل وکړي، خو همدې کې احمد راکښته او هغه دوه پیره داران یویو بوکس ووهي او یونس ترې کلاشینکوفونه واخلي. ژورنالېست ناڅي، چې د کومېټې دوه کسه غړي سپین ګل هم راشي او نڅا پیل کړي او ژورنالېست ورته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ناسته چکچکې کوي، یوه دقېقه ډېره په زړه پورې نڅا روانه وي، قاضي صیب او د کومېټې مشر ورته لاسونه پړکوي، چې همدې کې احمد او ملګري یې په یوه منډه د سیل ځای ته راشي. د احمد لاس کې کلاشینکوف وي، چې په کلک غږ ووايي):

احمد

ـ له ځایه ونه ښورئ، ټول لاسونه پورته کئ!

( سیل بند او ټول ډېر ووېرېږي):

احمد

ـ که چا حرکت وکه، چاڼ چاڼ به یې کم.

( ټول ودرېږي، لاسونه پورته کړي، یونس او نور ورشي، ډ ټولو لاسونه د شا له لوري وتړي):

احمد

ـ شا ته ونه ګورئ! چټک!

یونس

ـ مخکې شئ!

( یونس ژورنالېست ته د شا له لوري یوه دیکه ورکړي او هنرمندان خپل سامانونه غونډوي).

دري څلوېښتمه صحنه:

ځای: د رهنما یو دفتر غوندې.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: احمد، دوه ملګري یې، نورمحمد صراف او د رهنما والا.

( لومړی دې د سهار یو اضافي شاټ وښودل شي، بیا د رهنما والا د ډالرو یو بنډل وشماري، خو تر دې وروسته ووايي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رهنما والا**

**ـ په دې کې خو پنځه زره ډالر کم دي.**

**نور محمد**

**ـ بس نورې اوس نشته، اوس همدا واخله.**

**رهنما والا**

**ـ دا کور مې اوسم تا ته لس زره ډالر ارزانه درکه..**

**ته پېږې چې د دوه لکو ډالرو کور دی.**

**نورمحمد**

**ـ یاره اوس همدا واخله، کال ته به دې دا کمی پوره کم.**

**( په داسې حال کې چې د احمد مخ پټ وي، د تومانچې میل یې د شا له لوري غوږ ته ونیسي):**

**احمد**

**ـ زه به یې درته همدا اوس پوره کم.**

**( نورمحمد په وېره مخ ورواړوي، ورو ورو پاڅېږي، رهنما والا هم ووېرېږي):**

**احمد**

**ـ چې شا ته ونه گورې.**

**روان شه.**

**چټک.**

**( او له دې سره صراف روان کړي).**

**ځلورڅلوېښتمه صحنه:**

**ځای: د ملالۍ کور. ( کوټه).**

**وخت: ورځ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبغاړي: د ملالۍ پلار، د ملالۍ مور، سليم، د سليم پلار او ور سره درې د پاخه عمر خلک.

( سليم په پاکو جامو کې خوشاله ښکاري، د ملالۍ پلار د چايو د پتنوس سره راشي، په پيالو کې چاى اچوي، چېسليم يې لاس ونيسي):

د سليم پلار

( مدير حسن):

ـ تاسې تکليف مه کوئ، سليم به يې واچوي.

( سليم د چايو په اچولو پيل وکړي).

پنځه ځلوېښتمه صحنه:

ځاى: د ډاکټر خونه.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: اناهيته او يما ډاکتر.

( اناهيته کوټه کې په چوکۍ ناسته وي، چې ډاکټر راشي):

( د مينې په انداز):

ډاکټر

ـ ګرانې تر څو به د هجر په لمبو سوځم؟!

راځه نن خو مې د مينې دا تنده خړوب که!

( اناهيته د سترګو لاندې وروګوري):

ډاکټر

ـ نور صبر کولی نه شم.

که نن راسره لاړه نه شوې، نو زما او ستا د مينې ډرامه به همدلته اور واخلي.

اوس ووايه ځې که نه؟

اناهيته

ـ سهي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په خوشالۍ):

ډاکټر

ـ اول به زه لاړ شم، موټر کې به ناست يم، ته دسې ورو ورو راووځه!

اناهيته

ـ سمه ده.

( هغه چې کله ووځي، نو د اناهيتې له سترګو د مجبورۍ اوښکه تويه شي).

شپږڅلوېښتمه صحنه:

ځای: د روغتون نه بهر.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: احمد، يونس او ډاکټر.

( ډاکټر چې کله خپل موټر کې کېني، نو احمد او يونس دې وښودل شي، چې ډاکټر ويني، هغه موټر کې کېني، لږه شېبه وروسته خپل ساعت ته وګوري، بيا سر په اشترېنګ کېږدي، بيا چې کله ساعت ته وګوري، نو همدې کې احمد او يونس د موټر د شا له دروازې نه موټر کې کېني او تومانچه د ډاکټر سره ته ونيسي):

احمد

ـ مخکې ځه.

که شا ته دې وکتل، دا کوپړۍ به دې باد باد کم.

( ډاکټر په وېره روان شي).

اوه څلوېښتمه صحنه:

ځای: يو داسې کور چې د برنډې ډېرې پايې ولري او يا هم داسې يوه ډېره چې کتار ونې په کې وي.

وخت: ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبغاړي: احمد، یونس، د دوی ملګري، قاضي، د کانکور د کومېټې مشر، سپین ګل او پشم ګل ، جنایي امر، څارنوال، صراف، ژورنالېست، ډاکټر او یو څو کسه نور چې د دې خلکو ننداره ته راغلي وي.

( لومړی دې یوه لویه لوحه وښودل شي، چې پرې لیکل شوي وي: د هېواد د خاینانو نندارتون. یو څه خلک هم لوحې ته په حیرانۍ ګوري، احمدهماغه درېشي اغوستې وي، یو تور نوی پکول یې پرسر او تومانچه یې لاس کې وي، نور ملګري یې هم وسله وال وي. هر یو مجرم د ونې یا پایې پورې تړل شوی وي. احمد لومړی د کانکور د کومېټې مشر ته ورشي):

احمد

ـ ولې خاینه!

دومره لوی خیانت دې ولې وکه؟

ووایه ولې؟

( له ګرېوانه یې ونیسي یو دوه ټکه ورکړي):

احمد

ـ په رښتیا چې ته ملي خاین یې.

بلډېنګونه، غلاوې او نور خیانتونه خو مو دربښلي وو،

خو د معصومو شاګردانو سره خیانت د بښلو نه دی.

ووایه څنګه سزا درکم؟

( رئیس سترګې ټیټې کړي او احمد څارنوال ته ورشي).

احمد

ـ څارنوال صیب ته نه شرمېدې، چې د یوه بېګناه انسان نه دی رشوت غوښته؟

تاسې خو دومره خاینان یاست چې حد نه لري. څارنوالي یانې د خیانت مرکز.

ستا خو به پوستکی وباسم.

( احمد جنایي امر ته ورشي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**احمد**

**ـ جنايتکاره اوس ستا وار دی.**

**ستا ضمير دا ځنګه مني، چې ملي شتمني لوټ کې.**

**په لږ وخت کې په چارتراشو د کويټ امير شوې.**

**کلونه وشول، چې په لوټ او تالان دې شروع کړې ده.**

**قيمتي کاڼي او چارتراش دې تالا کړل، خو مظلومانو ته د کور دپاره يو لرګی نه پرېږدې.**

**( هغه سترګې تيتې کړي):**

**احمد**

**ـ تا خو به د چارتراش په سر کې ځوړندوم.**

**( احمد ژورنالېست ته ورشي):**

**احمد**

**ـ دا دی د خدمتګار په جامه کې د دربار تالي څټی.**

**ژورنالېست صيب! په لږ وخت کې د څو کورونو خاوند شوې.**

**د دربار په چاپلوسۍ خو ونه شرمېدې، خو اوس لا ورته ګډېږې هم.**

**په ډېرو حقايقو دې سترګې پټې کړې.**

**ووايه تا سره څه وکم؟**

**( هغه سترګې کښته کړي):**

**احمد**

**ـ تا نه وژنم خو يو ځل به د ښار په چوک کې دوه ساعته په مينه ناڅې.**

**خلک به دې اصلي څېره وګوري.**

**( احمد صراف ته ورشي):**

**احمد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ملګرو! زموږ په هېواد کې اوس د دې ډول خلکو حکومت دی.
همدې خلکو وطن لوټ که.
په رښتیا چې دا لوی غدار دی.
دې خلکو رشوت هر ځی ته ورسوه.
( احمد هغو نورو دوو ته چې نښلي یې وو ورشي.):
احمد
ـ تاسې نه شرمېږئ، چې په پردو ودونو کې ناځئ؟
رشتیا چې تاسې غوندې خلک وجدان نه لري.
تاسي چې ناځئ، ښځې به څه کئ؟
تاسې انسانان نه د شرم ګوډي استئ!
( احمد داکټر ته):
احمد
ـ ملګرو! که تاسې پوښتنه وکئ، چې په دنیا کې پست او رذیل انسان څوک دی، نو زه به درته وویم، چې هغه دغه خاین ډاکټر دی.
احمد
ـ ولې بې پته! د پردو ناموسونو سره لوبې کی؟
ایا تا د همدې دپاره قسم کړی و، چې خپل وجدان به وژنې؟
د بېوزلو ناروغانو دوا به خرڅې.
ته د خدمتګار په جامه کې ابلیس یې.
ته هغه څوک یې چې د ښځو د مجبورۍ نه ناوړه ګټه اخلې.
تا ته خو اور اچوم.
( احمد قاضي ته ورشي):
احمد
ـ دا دی د عدالت په چوکۍ ناست قاضي صیب!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دی د اسلام په جامه کې د مسلمان دشمن.
ملګرو دا هغه څوک دی، چې زموږ ټولنه يې فاسده کړې.
په سلګونو بې ګناه انسانان يې بنديان کړي، خو
لويو خاينانو او قاتلانو ته يې ملا ماته ده.
قاضي صيب ولې؟
( قاضي سترګې ټيټې کړي):
احمد
ـ دا ځکه چې قاضي صيب ډالرو ته د ټينګې نه دی.
دا هغه څوک دی، چې د پيسو لپاره خپل ايمان خرڅئ.
څنګه همدسې نه ده؟
( قاضي په ورو د تائيد سترګې وښوروي):
احمد
ـ ووايه قاضي صيب! ته پخپله ځان ته سزا وټاکه.
تا ته بايد کوم ډول سزا درکړل شي.
ايا ستا د لاسه دا ټول هېواد په اور کې نه سوځي؟!
( په ورو):
قاضي
ـ همدسې ده.
احمد
ـ چې دسې ده، نو ځان ته خپله سزا وټاکه.
( د زارۍ غوندې حالت):
قاضي
ـ که ته وخت راکې، زه به ځان او ټولو ته مناسبې سزاګانې ورکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد

ـ ډېر ښه. خو مخکې دې دا کار ولې نه کو؟

قاضي

ـ مخکې ړوند وم. انسان ته خدای پاک کله کله هدایت کئ.

ما ته وخت راکه!

احمد

څنګه وخت درکم؟.

قاضي

ـ اجازه راکه چې دا هر څه زه په محکمه کې وکم.

( احمد لږ فکرمن شي):

احمد

ـ خو په دې کې دې څه چل نه یې؟

قاضي

ـ زه قسم خورم چې ځان او ټول به دسې محاکمه کم، چې ټول ملت راباندې افرین ووئ.

احمد

ـ قاضي صیب! په خبرو کې دې راته رشتیا ښکاري.

په تا خو ټول عمر کې چا باور نه دی کړی، خو زه یې نن درباندې کوم.

قاضي

ـ مطمئن اوسه.

احمد

ـ هلکه ټول د قاضي صیب په حکم خلاص کئ!

او د دوی د جنایتونو دوسیې چې ما جوړې کړي، هم ورکئ!

یونس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښه صیب.

( ملګري يې ټول خلاص کي).

نوټ: په پورته صحنه کې دې مناسب اضافي شاټونه واخیستل شي. یانې مناسب تاثرات.

اته څلوېښتمه صحنه:

ځای او هر څه د څلور څلوېښتمې صحنې، خو ملاله او مور يې هم وي.

( لومړی ملاله د خپل کور له دروازې وتښتي، ورپسې په هماغه کوټه کې په ګیلاسونو کې لا لږ چای پروت وي، چې د سلیم پلار د ملالې پلار ته ووايي):

مدیر حسن

ـ که اجازه يې، اوس به اصلي خبرې ته راشو.

د ملالې پلار

ـ مهرباني وکړئ!

مدیر حسن

ـ کله کله ډېرې ښې خبرې د انسان په زړه کې ګرځي، خو څوک يې د ويلو جرئت يې نه لري.

د ملالې پلار

ـ خبره دې سمه ده، خو زه پوی نه شوم.

مدیر حسن

ـ مقصد مې دا و، چې ښېې هم هغه ځی ته خي، چې چېرته زړه غواړي.

مورِ چې نن راغلي یو، نو مقصد مو دا دی، چې د سلیم جان د پاره راغلي یو.

ماشا الله اوس خو پوهنځي ته هم بريالی شو، د هر مور و پلار دا هیله يي، چې د خپل اولاد خوشالي په ژونديني وګوري.

( همدې وخت کې د ملالې پلار ته زنګ راشي، هغه موبایل ته وګوري):

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملالې پلار

ـ ښښنه غواړم، یو ځل دننه ځم.

مدیر حسن

مهرباني وکئ.

( هغه ووځي، چې کور ته لاړ شي، نو ښځه يې وارخطا گرځي):

د ملالې پلار

ـ څه خبره ده، چې په دسې وخت کې دې راته زنگ وواهه؟!

د ملالې مور

ـ ملاله نشته، ټول کور مې ورپسې چاڼ که.

د ملالې پلار

ـ ملاله نشته، ولې چېرته ده.

د ملالې مور

ـ راته ښکارې چې د مرکې نه تښتېدلې ده.

( په حیرانۍ ):

ـ تښتېدلې ده؟!

دا به زه ژوندۍ پرېندم!!

زه خو يې په شرمونو وشرمولوم.

زه به ورسره گورم!!

نهه څلوېښتمه صحنه:

ځای: د محکمې ودانۍ.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: احمد، د احمد ملگري، قاضي، څارنوال، د کانکور د کومېټې مشر، د هغه ملگري، جنايي آمر، صراف، ژورنالېست،، ډاکټرسلیم، ملاله، د ملالې پلار، د کتابخانې والا، د درملتون والا، د هتکړیو سره ولاړ پولیس او په تالار کې نور خلک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( لومړی دې د محکمې بهر برخه وښودل شي، چې یو څو کسه یې مخې ته ولاړ وي او یو پولیس پیرهدار وي، بیا دې د محکمې دننه برخه وښودل شي، چې قاضي راشي، پر چوکۍ کېني، له دې وروسته درې کسه وسله وال پولیس چې هتکړۍ ورسره وي، د ستېج په یوه برخه کې ودرېږي، بیا دې لاندې خلک وښودل شي، چې په لومړي کتار کې احمد سره له ملګرو ناست او ورپسې ټول مجرمین کتار ناست وي او بیا نور خلک ناست وي):

قاضي

ـ بسم الله الرحمن الرحیم.

ښاغلو حاضرینو!

نن د څو داسې خلکو محاکمه پیلېږي، چې د غلا، خیانت، رشوت او بې کفایتۍ مثال یې نشته.

همدارنګه ننني محاکمه زما په ژوند کې داسې یوه محاکمه ده، چې د عدالت له مخې به ساری ونه لري.

د ټولو نه مخکې دې عبدالرحیم راشي، تر څو د خپلې دوسیې څرنګوالی واوري.

( جنايي آمر یانې عبدالرحیم ورشي او پورته ودرېږي):

قاضي

ـ دا هغه څوک دی، چې د څو کلونو په اوږدو کې یې زرګونه لارۍ چارتراش په غیر قانوني توګه پرېښي دي.

عبدالرحیم د ملي شتمنۍ په تالان کې هغه فعال غړی دی، چې تر اوسه یې په لکونو ډالر جمع کړي او په ښار کې یې درې څلورمنزله کورونه جوړ کړي، حال دا چې پخوا یې د یوه وخت ډوډۍ نه درلوده.

عبدالرحیم

ـ صیب دا ما خپله خواري کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قاضي**
**ـ غلا او خواري فرق لري.**
**ځکه نو عبدالرحیم د پاینده زوی زما له خوا په شل کاله بند محکوم او درې واړه کورونه به یې وپلورل شي او پیسې به یې پر بېوزلو ووېشل شي.**
**عبدالرحیم**
**ـ صیب! دا ظلم دی، دا روپۍ یوازې ما نه دي اخیستي، دې کې راسره نور چارواکي هم شریک وو.**
**قاضي**
**ـ ویې نیسئ.**
**( پولیس هتکړۍ ورواچوي).**
**قاضي**
**ـ جمعه ګل د عوض زوی دې راشي.**
**( څارنوال ورشي):**
**قاضي**
**ـ له هغه نېټې نه چې جمعه ګل د عوض زوی څارنوال شوی،**
**نو یوه ورځ یې هم بې رشوته نه ده تېره کړې.**
**پنځه کاله مخکې په یوه سرای کې چوکیدار و، خو اوس**
**د دېرش جریبو ځمکې خاوند دی.**
**جمعه ګل د خپلو بې شمېره خیانتونو په لړ کې په یوې وینې څښوونکې بلا بدل شوی.**
**ځکه نو د دې په بدل کې ورته قضا دا فیصله اوروي، چې ځمکه به یې په بې کورو ووېشل شي او پخپله په شپاړس نیم کاله بند محکوم شو.**
**( لاندې خلک یو بل ته خوشاله وګوري او پولیس څارنوال ته هتکړۍ واچوي).**
**قاضي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دربیم کس چې باید دلته راشي، یو داسې ملي خاین دی، چې ساری نه لري.
نوموړي بې شمېره ناپوهه او تنبل زده کوونکي د اولنومره ګانو په بدل کې کامیاب کړي.
هغه په دې سلسله کې د میلیونونو ډالرو خاوند شوی او په دوبۍ کې یې سوداګري پیل کړی.
دا کس قربان شاه د آفرین شاه زوی نومېږي، چې دوه کسه چاپلوسان هر یو سپین ګل او پشم ګل هم ورسره دي، درې واړه دې راشي.
( د کانکور د کمېټې مشر او هغه دوه ملګري چې نڅا یې کړې وه ورشي):
قربان شاه
ـ قاضي صیب! تاسې تومت لګوئ، په ما څه ثبوت لرئ؟
قاضي
ـ عیان ته د بیان ضرورت نشته.
اصلاً ستا خیانتونه ثبوت ته هېڅ اړتیا نه لري.
زما پرېکړه دا ده چې ته په شپږ وپشت کاله بند محکوم او نهه لکه ډالر جریمه شوې.
او دغه دواړه ملګري دې چې په پردو ودونو کې ناڅي او شرم نه لري، په درې درې کاله بند محکوم
او زر زر لښتې وهل باید وخوري.
همدارنګه به په زندان کې هر پنجشنبه بندیانو ته دوه دوه ساعته نڅا کوي.
( له دې سره لاندې خلک چکچکې وکړي او پولیس درې واړو ته هتکړې واچوي).
قاضي
ـ د دې لپاره چې وخت ضایع نه شي.
نو نورمحمد صراف او نرۍ ګل ژورنالېست دې حاضر شي.
( دا دواړه چې څنګه روان شي، نو همدې وخت کې ملاله تروره د محکمې هال ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانئوځي، يوازې سترګې يې ښکاري او پر يوې چوکۍ کېني):
قاضي
ـ د مالوماتو له مخې نور محمد د رشوت او خيانت په ګڼو جرمونو ککړ دی.
دا هغه دلال دی، چې له خلکو ډالر ټولوي او د رشوت په توګه يې چارواکو ته ورکوي او په بدل کې کې يې هغه شاګردان چې په ټکي نه پوهېږي، بهر ته د بورسونو له لارې لېږي.
ځکه نو د پرېکړې له مخې نورمحمد په لس کاله بند محکوم او پنځه لکه ډالر جريمه شو.
( پوليس چې ځنګه هتکړۍ ورواچوي، نو همدې وخت کې سليم هال ته رانئوځي او مخکې چوکي کې کېني).
قاضي
ـ نری ګل هغه ځوک دی، چې ټول عمر يې په دربار کې تېر شوی.
نري ګل کله هم د حقايقو راپور نه دی خپور کړی، بلکې ټول عمر يې د جنايتکارانو د جرمونو د پټولو په بدل کې پيسې اخيستي. نري ګل تر اوسه درې پاخه کورونه جوړ کړي. هغه په هېڅ ډول چاپلوسۍ نه دی شرمېدلی، ځکه نو نری ګل په پنځه  کاله بند محکوم، کورونه يې سرکاري او د تل لپاره پرې د نڅا بنديز ولګېده.
( پوليس ده ته هم هتکړۍ ورواچوي).
قاضي
ـ اخرنی کس د پرښتې په جامه کې هغه شيطان دی، چې بايد سنګسار شي.
دا کس ډاکټر يما د جمشيد زوی دی. له ناروغانو قيمتي پيچکارۍ پټوي او د هغې په بدل کې ورته هسې اوبه پېچکاري کوي.
دا خاين په اخلاقي جرمونو هم ککړ دی. د يوې نرسې له بېوزلۍ نه ناوړه ګټه اخلي.
يما په دولس کاله بند محکوم او تر بند وروسته بايد يوې ښځې ته هم په سپکه ونه ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ده ته هم هتکړۍ واچول شي).
اوس وار زما دی.
( سلیم پورته شي):
سلیم
ـ قاضي صیب صبر وکه.
تا خو د احمد په خوښه د خلکو محاکمه شروع کړې، خو دا هغه څوک دی چې زما ښځه یې تښتولې ده.
( احمد، قاضي او ټول هغه ته وګوري، چې دې کې ملالۍ پاس ورشي):
ملالۍ
ـ قاضي صیب! دا دروغ وايي، زه مې همدا نن پلار ده ته ورکولم، خو زه هېڅکله له داسې یو چا سره ګوژدنې ته تیاره نه یم، چې په رشوت پوهنځي ته بریالی شوی وي. زه له داسې بې غیرتو کرکه لرم. زه که کوژدن کوم، نو یوازې له احمد سره به وي، چې د خاینانو، ظالمانو او جنایتکارانو دشمن دی.
( له دې سره سلیم خړ سترګی شي او احمد لږ ویاړمن شي او ناست خلک چکچې وکړي):
قاضي
ـ ښه دی چې خدای پخپله راوستې.
ته سر له همدا نن په پنځه کاله بند محکوم شوې.
( پولیس دا هم ونیسي).
قاضي
ـ لکه څنګه چې مې وویل اوس زما د محاکمې وار دی.
زه چې خپلو خیانتونو ته ګورم، نو باید پوستکی رانه وویستل شي.
خو د اوس لپاره دې زما ټوله هغه پانګه چې په رشوت مې تر لاسه کړې مصادره شي.
همدارنګه زه خپل ځان د دایمي بند په سزا محکوموم. هیله ده چې زما اولادونه له هغه حرام مال نه چې ما هغوی ته ګټلی ګټه وانخلي، تر څو په دنیا او اخرت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عذاب اخته نه شي.
زه له ټولو هغو بې ګناه خلکو نه چې زما د لاسه بندیان شوي بښنه غواړم.
او له احمد نه مننه کوم چې ما ته یې د خدای او رسول لار راوښوده.
( له دې سره قاضي پاڅېږي، پولیس ته لاسونه ونیسي او چې کله هتکړۍ وراچوي، نو همدې وخت کې احمد پاس ولاړ شي):
احمد
ـ زه لومړی له قاضي صیب نه مننه کوم، چې نن یې د اسلام او عدالت سره سمې پرېکړې وکړې.
رشتیاهم تر هغه چې د هېواد ټول جنایتکاران، رشوت خواره او ملي خاینان په همدې ډول محاکمه نه شي، نو په هېواد کې هېڅ ډول سوله نه شي راتلای. زما له خپلو ملګرو نه هیله ده چې دلته راشي.
( ټول ورشي):
احمد
ـ موږ ټولو دا قسم کړی، چې د هېواد هر خاین، غل او رشوت خور به ستاسې په مرسته د محاکمې مېز ته راکاږو. تاسې ټول په یوه غږ راسره دا بدرګه کړئ:
ـ مرګ پر جنایتکارانو.
( ټول ووایي مرګ):
مړه دې وي ملي خاینان
( مړه دې وي):
مخ پړهوړاندې د دې ډول محاکمو په لور.
خلک
ـ مخ په وړاندې!
( او په داسې حال کې چې احمد او ملګرو یې د شعار ورکولو لاسونه پورته کړي وي، ډرامه پای ته ورسېږي).
۱۳۹۲ لمریز کال – کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتنه

## کرکټرونه

افضل:یو ناروغ زلمی.

پرخه: د افضل ښکلې مېرمن.

جابر: د افضل مشر چرسي ورور، چې د خپلې ښځې خبره مني.

سکینه: د افضل مېرمن، چې شکمنه او ظالمه ښځه وي.

پښتنه: د سکینې پنځه کلنه لور.

نجیب: د پرخې شپږ کلن زوی، چې معصومه څېره ولري.

اسلم خان: یو پښتون خان.

شېری: د جابر یو چرسي دوست.

یاسین او ګلو: دوه کلیوال.

فرعي کرکټرونه: ګڼ.

لومړی صحنه:

ځای: یو پراخه کلیوالي کور.

وخت: سهار.

لوبغاړي: افضل، د افضل مېرمن پرخه، پنځه یا شپږ کلن نجیب، جابر، د جابر مېرمن سکینه، د جابر پنځه کلنه لور پښتنه.

( افضل په یوه زوړ کټ کې پروت وي، فریاد کوي، سترګې یې پټې وي، په مېز ورته څه شربتونه پراته وي، پښو ته یې پرخه په خپګان ناسته وي، هغه یې پښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور کوي. افضل فریاد کوي. پرخه په خپل ځادر خپلې اوښکې پاکې کړي. د افضل فریاد وار په وار ډېرېږي. بیا پرخې ته په تکلیف ووایي):

افضل

ـ ما تا ته هېڅم ونه کړل. زه تا ته ملامته یم.

( په ژړغوني انداز):

پرخه

ـ دسې مه وایه، خدای دې تا لري. ته ما ته هر څه یې!

افضل

ـ پرخې! دسې ښکاري، چې د دنیا سختو ته مې ته یوازې پرېښودې.

( په ډېر دردمن او نیم ژړانده انداز):

پرخه

ـ افضله! دا ته څه وی ( وایې)؟!

ته خو رک روغ یې. خدای به دې ښه کي.

افضل

ـ په نجیب ډېر پام کوه.

( د پرخې له سترګو لپه لپه اوښکې تویې شي):

افضل

ـ نجیب څه شو؟.

( نجیب هم خپه ولاړ وي، راشي، له پلار سره په کټ کې کېني،افضل نجیب ته په دردمن انداز وګوري، له سترګو یې اوښکه تویه شي، ښکل یې کړي او بیا پرخې ته ووایي):

افضل

ـ جابر راته یو ځل راوله.

( هغه پاڅېږي او افضل، نجیب ته ښه شېبه وګوري، بیا یې له فریاد سره یو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه ته رانږدې کړي، دې کې جابر، پرخه او د جابر مېرمن سکینه راشي او مخامخ کټ کې ورته جابر کېني.):

( په بې مسوولیته انداز):

جابر

ـ څه خبره ده؟ خیریت دی؟

افضل

( ډېر ورو)

ـ وی، وی! وروره! لکه چې زما د وړو پېښیم تا ته پاتې شو.

( په وقفوي توګه):

په نجیب پام کوه. ګوره هغه وعده دې یره ( هېره) نه کې.

( جابر په سترګو کې بل ډول وروګوري، خو همدې کې افضل په زوره وای وکړي، په کټ کې کېني، له بل وای سره له خولې وینې وګرځوي. پرخه ترې نجیب لرې کړي او په دستمال یې خوله او جامې زر زر پاکې کړي، خو افضل په کټ کې وغورځي، وړوکی وای وکړي او له دې سره یې سترګې خلاصې پاتې شي. پرخه ژړا شروع کړي او سکینه هم داسې ژاړي لکه په رښتیا چې خپه نه وي او له افضل نه یو ډول کرکه کوي.).

دویمه صحنه:

ځای: د خان صیب کور.

وخت: سهار.

لوبغاړي: اسلم خان، پخه مېرمن یې.

( د خان صیب ښځه په کټ کې ناسته وي، چې ښه شېبه وروسته خان صیب په فکرمن انداز کې راشي او په بل کټ کې مخامخ خپلې مېرمنې ته کېني او په بالښت ډډه ووهي. مېرمن یې چې وروګوري، نو هغه ورته خپه غوندې ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي):

د خان مېرمن

ـ چې درته راوړم؟.

( په يوه اندازه خپګان):

اسلم خان

ـ نه، زړه ته مې نه کېږي.

مېرمن

ـ څنګه خپه غوندې يې؟

اسلم خان

ـ په افضل خپه يم. په ډېره ځوانۍ کې مړ شو.

( په افسوس او حيرانۍ او بيا خپل مخ ته لاس وروړي):

مېرمن

ـ الله! مړ شو؟ ځوانه جانه ښځه يې ده.

رښتيا چې مرګ زوړ او ځوان ته نه ګوري.

خو هغه ښځه به يې څه کۍ؟!

اسلم خان

ـ ته اوس دا خبرې پرېده، هغه لونګۍ مې وګوره چې فاتحې ته ورځم.

( ښځه يې پاڅېږي).

درېيمه صحنه:

ځای: يو کليوالي ميدان.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: جابر، يو مولوی صيب، اته لس کسه نور او اسلم خان.

(اته لس کتونه پراته وي، ملا صيب يو لنډ سورت شروع کړی وي، چې سورت خلاصېدو ته نږدې وي، نو اسلم خان هم راورسېږي او په کټ کې کېني. ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب دعا وکړي، ټول لاسونه پورته کړي. له دې وروسته اسلم خان وايي):

اسلم خان

ـ خدای دې د زړه صبر درکي. افضل نېک سړی و.

( جابر پر سینه د مننې لاس کېږدي):

اسلم خان

ـ ښه ده، چې زوی يې شته. ستا نېکې دا ده، چې د وراره پالنه دې ښه وکې.

هغه دې خدای وبښي.

د ټولو دا لاره ده.

( له دې سره ټول پر مخونو لاس راکاږي او پاڅېږي).

ځلورمه صحنه:

ځای: د پرخې کوټه.

وخت: ماښام.

لوبغاړي: پرخه او سکينه.

( پرخه د کوټې په کټ کې ناسته وي، مخامخ دېوال ته د افضل لوی عکس په چوکاټ کې ځړېدلی وي، پرخه ورته وګوري او له دې سره د زړه له تله په پټه خوله وژاړي او چې کله خپل سر پر خپلو زنګنونو ږدي، همدې وخت کې سکينه کوټې ته راننوځي او هغه چې عکس او د پرخې ژړا ته وګوري، نو پرخې ته په تريو انداز ووايي):

سکينه

ـ دغه عکسونه مکسونه دې نور له دې کور نه ورک که.

مورې په غم مه اخته کوه.

( پرخه خپلې اوښکې پاکې کړي او په نرمه لهجه ورته ووايي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرخه**

**ـ ورندار په دې کې د غم څه خبره ده؟!**

**ماته خو د تسل همدا یوه نښه پاتې ده.**

**زه به ټول عمر همدې ته ګورم.**

**( په یوه اندازه غوسه):**

**سکینه**

**ـ ته به ورته ګورې، خو له ژونده به زما خاوند وباسې. هغه که دا عکس ولیده، بیا به یې ټول عمر په یاد یي. تا نه خو خدای واخیسته اوس ما ته غمونه مه ګوره.**

**( پرخه حیران وروګوري):**

**پرخه**

**ـ ښه، زه اوس د خپل خاوند عکس هم نه شم ساتلی؟!**

**( په یوه اندازه غوسه):**

**سکینه**

**ـ زما دومره خبرې یادې نه دي.**

**ته په نیمه پویه نه شوې.**

**( له دې سره سکینه عکس راواخلي او پر ځمکه یې وولي. د عکس ښیښه ټوټې ټوټې شي. پرخه لومړی، سکینې او بیا عکس ته وګوري. له کټه راکښته او ماتو ښیښو ته په حسرت کېني).**

**پنځمه صحنه:**

**ځای: د سکینې کوټه.**

**وخت: شپه.**

**لوبغاړي:سکینه او جابر.**

**( جابر په خپله کوټه کې په لږ څه فکر کې ناست وي، چې سکینه کوټې ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانږوځي. له ځېرې نه یې یو اندازه غوسه ښکاري، کېني او بیا وايي):

سکینه

ـ ډېر فکرونه مه کوه، هغه دې خدای وبښي.

اوس دې لاس ته څه نه راځي.

زړه ته غم مه ورکوه.

جابر

ـ سکینې! ځینې غمونه دومره زر نه هېرېږي.

وخت غواړي.

سکینه

ـ خو زه دې یوه شېبه خپگان هم نه شم زغملی.

(لږ سکوت):

ـ خو یوه خبره مې واوره.

جابر

ـ څه خبره؟

سکینه

ـ دا خبره چې که له اوس نه د پرخې څه چاره و نه کې، نو دا د شگو مزل دې خدای خبر که سر ته ورسېږي.

( په حیرانۍ):

جابر

ـ سکینې زه په دې پوی نه شوم، چې ستا مطلب څه دی؟

سکینه

ـ مطلب مې دا دی، چې پرخه په قبضه کې ساته.

ښځې ته ښځه ښه مالومه یې. که له اوس نه ته دا کار ونه کې، نو تلې اوبه گوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته نه جاروځي.
( سنجيده شي):
جابر
ـ خبره دې سمه ده. همدسې به کوم، خو اوس راته ځای جوړ که. ډېر ستړی یم.
( جابر پر توشک څملي، سکینه پرې کمپله واچوي. سکینه لږه اینې ته وګوري، په وېښتو کې لاس راکاږي او بیا له جابر سره پر هغه توشک، چې خوا کې یې نږدې وي، په وقفوي توګه ویده شي. د سکینې خوب دې لږه شېبه وښودل شي، بیا پر ډېره واوړي او بیا دې یې ویدې سترګې وښودل شي او کله چې یې د فلش فارورډ ټوله صحنه ولیدله، نو چغه دې کړي او له خوبه دې راپاڅېږي. له دې سره جابر هم په هیبت له خوبه راویښ شي او په داسې حال کې چې سکینه ساه و تیګاه وي، جابر ترې پوښتنه وکړي):
جابر
ـ ولې؟ سکینې ولې؟ څه درباندې وشو؟
سکینه
ـ ډېر خراب خوب مې ولیده. ډېر خراب.
جابر
ـ اوده شه، هېڅم نشته. اوده شه.
( سکینه څملي، خو دیوالي ساعت ته چې وګوري، څلور بجې وي. لږه نوره واوړي راواوړي، خو خوب نه ورځي او لږه شېبه وروسته پاڅېږي).

شپږمه: د فلش فارورډ صحنه.
ځای: یوه ښکلې د واده کوټه او د واده یو تخت.
وخت: مازیګر.
لوبغاړي: جابر، سکینه او پرخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( پرخه د ناوې غونډې په تخت کې ناسته وي، چې جابر کوټې ته د واده په لباس کې چې يو ګل يې هم غاړه کې پروت وي، راننوځي، پرخه ورته موسکۍ شي، خو همدې کې يې سکينه په دروازه کې وګوري او دغه صحنه پرې ډېره بده ولګېږي):
( په وحشت او په زوره سره):
سکينه
ـ نه...!
اوومه صحنه:
ځای: د کور حوېلۍ.
وخت: سهار وختي.
لوبغاړي:پرخه او سکينه.
( لومړی د چرګ اذان واورېدل شي. ورپسې ورو ورو رڼا شي، بيا د جارو کولو غږ شي. پرخه لګيا وي، سر يې ترلی وي او حوېلۍ جارو کوي. لږ وخت وروسته پرخه پاڅېږي، د ځټو په نغري پسې اور بل کړي، دې وخت کې رڼا لږه ډېره شوې وي، خو اور په اسانۍ نه بلېږي، همدې کې سکينه راشي او په لږه غوسه ورته ووايي):
سکينه
ـ تا لا د اوسه پورې اور نه دی بل کړی؟
پرخه
ـ ورندار لرګي لامده دي، ګنې د وخته پاڅېدلې يم.
سکينه
( په غوسه)
ـ هن! د وخته پاڅېدلې يم؟! نور ګوره هر وخت دې وخت ته چی تيار يې.
( پرخه حيرانه وروګوري):
پرخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ورندار! په دغه شان خو ګوزاره نه کېږي. بېګناه بې خطا راته خبرې کی!
( په ترو سپېږمو):
سکینه
ـ ګوزاره نه کېږي!! چې دلته شپې کی، دا خبرې به اورې. بېګامیم ستا د لاسه قیامت لیدلي.
( په حیرانۍ):
پرخه
ـ زما د لاسه؟! ما څه کړي، زه خو په خپلو غمونو کې ډوبه یم.
سکینه
( په توندۍ)
ـ بس، بس، زه لاړم چې زر دم که.
( سکینه روانه شي. پرخه ورته غمجن وګوري. خپل سر په زنګنونو کېږدي او له لرګو لوګی د هغې د قسمت په څېر پورته کېږي).

اتمه صحنه:
ځای: د پرخې کوټه.
وخت: سهار.
لوبغاړي: پنځه کلن نجیب او پرخه.
( نجیب له خوبه پاڅېدلی وي . پرخه له نغري پاڅېږي او ورشي، اور دې وښودل شي، چې بل وي. نجیب لږ لږ فریاد کوي ، پر تندي يې لاس کېږدي او بیا ووایي):
پرخه
ـ جان! ستا خو ډېره تبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهمه صحنه:
ځای: د سکینې کوټه.
وخت: سهار.
لوبغاړي: سکینه، جابر او وړه پښتنه.

( د چایو دسترخوان ته ټول ناست وي. لومړی دې پښتنه وښودل شي، چې چای وڅښي او بیا جابر دوه درې ګوټه له ډوډۍ سره وکړي او ووایي):

جابر

ـ زه لاړم.

( له دې سره پاڅېږي).

سکینه

ـ نن زه پښتنه واکسینو ته وړم.

جابر

ـ ما نه څله پوښتنه کې، اوس خو د کور ریسه ته یې.

څه چې دې خوښه یي، هماغه کوه.

( سکینه ورته داسې موسکا وکړي، چې بدې ښکاره شي او جابر له کوټې ووځي).

لسمه صحنه:
ځای: د جابر کور.
وخت: سهار.
لوبغاړي: سکینه، پښتنه او پرخه.

( پرخې ته ډېر ناولي لوښي پراته وي او په پوره اخلاص یې مینځي، چې لږه وخت وروسته ورته سکینه چادري پر سر او پښتنه هم ورسره وي، راشي. د پرخې چې ورته شا وي، مخ راوګرځوي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په لړه امرانه توګه):
سکینه
ـ ښځې ته دې لوښې ینځه. زه پرخه واکسینو ته وړم.
( د زارۍ غوندې وړه موسکا او په نرمه لهجه):
پرخه
ـ ورندار زه بم ( به هم) درسره لاړه شم، نجیبم واکسین نه دي کړي.
سکینه
ـ په هر شي کې سیالي مه کوه. زه بم لاړه شم!!
دا لوښې به څوک ینځي؟!
( د پرخې پر مخ د خپګان یوه څپه راشي، سر لړ ټیټ او په لاس کې د لوښي په مینځلو بیا شروع وکړي).

یوولسمه صحنه:
ځای: یوه شنه دېره.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: جابر او شېرې.
( په دېره کې دوه کټه پراته او په یوه کې شېرې په پاکو سپینو جامو کې ناست او مخې ته یې د چرسو چلم ایښی وي. لومړی په لانګ شاټ کې جابر له لرې لرې ښکاره شي، شېرې د چلم په سرخانه کې میده شوي چرس واچوي او چې کله د واسکټ په جېبونو کې په اورلګېټ پسې لاسونه ننباسي، همدې کې جابر دېرې ته راشي، شېرې په خوشالۍ وروګوري):
شېرې
ـ په خیر، په خیر، دانځر ګله!
جابر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سلامونه، سلامونه.

( دواړه په مینه د چرسیانو په انداز سره ستړي مه شي وکړي او په کټونو کې کېني):

جابر

ـ پیره لکه چې ښامار تیار دی؟

شېری

ـ بس سر تې پرې کوه.

( شېری اورلګیت ورکړي او جابر چلم ولګوي، یو څو جوخت جوخت کشونه وکړي، وټوخېږي او بیا یې شېري ته وروړاندې کړي. هغه ترې هم لوخړې وباسي، وټوخېږي. جابر یې یو ځل بیا وڅکي او بیا په کټ کې څملي):

جابر

ـ مه خرابېږې، په دې چرسو.

شېری

ـ اوس ګرځه د اسمان شنو کې.

جابر

ـ حق ده پیره.

شېری

ـ یاره چې اوس یو سور کړی وطنی چرګ یي،

نو بیابم ( به مو) مزې یي، مزې!

( جابر نېغ په کټ کې کېني):

جابر

ـ پېریانو ته غزنی څه شی دی؟!

په ساعت کې دننه یې ما نه وغواړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په وړې انداز):

شېرى

ـ گوره دسې به نه يي؟!

جابر

ـ بس يو ساعت وروسته کور ته راشه.

چرگ به تيار يي.

( له دې سره جابر روان شي).

دولسمه صحنه:

ځای: د واکسينو يو کلينيک.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: گڼ ماشومان او ناروغان. ( د کلينيک گڼه گوڼه دې يوه شېبه وښودل شي).

ديارلسمه صحنه:

ځای: د جابر کور.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: جابر، پرخه، نجيب، سکينه او پښتنه.

( پرخه ويده نجيب ته ناسته او له ځانه سره په زنگېدلي اواز داسې ورته وايي):

پرخه

ـ زما زوی به راته لوی شي.

نجيب، زما ورور دی. نجيب جان زما هر څه دی.

نجيب به راته لوی شي.

( د پرخې په سترگو کې لړې اوښکې هم ډنډ شوې وي، چې همدې حالت کې جابر کور ته راننوځي او يوه وړه خلته هم ورسره وي، پرخه له ځايه پورته او لړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې ته ورشي):
پرخه
ـ لالا ستړی مه شې!
( د چرسیانو په انداز)
جابر
ـ لالا؟! زه لالا نه یم، پاچا یم، پاچا.
ما ته پاچا وایه.
( په لړې خندا سره):
جابر
ـ سهي ده؟
( پرخه حیرانه شي):
پرخه
ـ سهي ده، پاچا لالا به درته ویم.
( په لړې خندا سره):
جابر
ـ افرین افرین.
( په همدې وخت کې چادري پر سر سکینه کور ته راشي او د جابر خندا او د پرخې سره چې د هغې نږدېوالی وګوري، نو پر مخ یې د غوسې او شک یوه څپه راشي، چادري وغورځوي، په چټکو ګامونو ورشي):
( په قهر):
سکینه
ـ څه خبره ده؟ څنګه خاندې؟
( بد بد پرخې ته هم زر وګوري):

(c) ketabton.com: The Digital Library



جابر

ـ خندا خو د ژوند مالګه ده.

سکینه

ـ خو ما ته دسې خندا له زارو ( زهرو) نه سخته ده.

که دسې یې یا به دا دلته یې، یا به زیم ( زه یم).

جابر

ـ ملکې! پاچا دې هر حکم مني، خو اوس دا چرګ زر سور که.

شېرى راځي.

( سکینه جابر ته بد بد وګوري، بیا ترې خلته له لاسه په زور راکاږي، روانه شي، جابر هم کوټې ته لاړ شي، خو پرخه په ډېرې خواشینۍ د سکینې چادرۍ ته ګوري، هغه راواخلي او د دېوال مېخ ته یې ځوړنده کړي).

څوارلسمه صحنه:

ځای: د جابر د کور نغرى.

لوبغاړي: سکینه. ( سکینې به نغري پسې اور بل کړی وي او دېګ پر نغري پروت وي).

پنځلسمه صحنه:

ځای: د جابر د کور مخه.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: شېرى.

( شېرى دې وښودل شي، چې نوي کرولا موټر ته ناست وي او د جابر د کور پر لور له لرې لرې راروان وي).

شپاړسمه صحنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای: د جابر کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: سکينه او جابر.

( جابر په کوټه کې ناست وي، چې سکينه په داسې حال کې چې لاسونه په لاسپاکي پاکوي، راننوځي):

جابر

ـ ملکې نور دې له لوړې مړ کړم.

سکينه

ـ تيار به شي، خو...

جابر

ـ د څه شي خو؟ .

سکينه

ـ خو دا ده، چې زه د دې ښځې نه نوره يرېږم، چاره يې په کار ده.

جابر

ـ ته چې څه وی، هغه به وشي، اوس زر کوه، چې شېرى ګوره راځي.

( همدې کې د موټر هارن واورېدل شي).

جابر

ـ هغه دی راغی.

( جابر پاڅېږي، روان شي. خو له دې وروسته دې نغری وښودل شي، چې په دېګ پسې ډېر اور بل وي، دومره بل وي، چې لمبې يې شاوخوا هم راتاوې وي).

اولسمه صحنه:
ځای: د شېري کوټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت: ورځ.
لوبغاړي: جابر او شېرى.
( جابر او شېرى چې کوټې ته راننوځي، نو په کوټه کې دسترخوان غوړېدلى وي، وچه ډوډۍ او لږ سلاد پرې پروت وي):
جابر
ـ پير جانه کېنه.
اوس به هر څه راشي.

اتلسمه صحنه:
ځاى: د جابر د کور نغرى.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: سکينه، جابر، پرخه او نجيب.
( پتنوس کې کاسه وي، سکينه نغري ته کېني . دېګ راکښته کړي، خو چې سر ترې لرې کړي، چرګ ته چې وګوري، نو يو اندازه سوى وي. کاشوغه په کې ووهي، خو په منډه په پرخې پسې ورشي او په غوسه ورته ووايي):
سکينه
ـ رنډۍ زه به تا سره ګورم. اخر دې کانې وکړې؟!
( پرخه حيرانه شي):
پرخه
ـ ورندار! د څه شي کانې؟
زه خو د هېڅ نه خبره نيم.
سکينه
ـ زه به تا سره وروسته ګورم.
( سکينه په تاو نغري ته لاړه شي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نولسمه صحنه:**
**ځای: د کوټې مخه.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: سکینه، جابر او شېری.**
**( سکینه پتنوس په لاس کوټې ته رانږدې وي، چې جابر له دروازې ورته راووځي.**
**هغه ترې پتنوس زر واخلي، کوټې ته ننوځي او کاسه پر دسترخوان کېږدي):**
**جابر**
**ـ پیر جانه خوره.**
**( هغه چې په خوراک شروع وکړي، نو جابر ورته بیا ووایي):**
**جابر**
**ـ خوند یې څنګه دی؟**
**شیری**
**ـ چرګ ښه دی، خو چې سوی نه وی.**
**( د جابر د څېرې حالت بل ډول شي):**
**شېری**
**ـ یره پاچا! د ا ځینې ښځې خو سمې د حلالو یې.**
**جابر**
**ـ حلالول څه چې پوزې یې باید پرې شي.**
**( یو دوه مړې نورې هم وکړي).**

**شلمه صحنه:**
**ځای: د جابر کور.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: سکینه، پرخه، نجیب.**

**( په غوسه):**

**سکینه**

**ـ زما خو دې مېلمه ته پوزه پرې کړه!**

**زه په تا پېرم چې ستا مقصد څه شی دی؟!**

**( په عاجزۍ):**

**پرخه**

**ـ ورندار زه خو په خپله گناه نه پېږم، خبره څه ده؟**

**( نجیب دې وښودل شي، چې وېرېږي او په خپلې مور خپه وي).**

**یویشتمه صحنه:**

**ځای: د جابر د کور مخه.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: شېرى او جابر.**

**(شېري موټر روان کړی او جابر ته د خدای پامانۍ لاس پورته کړي).**

**دوه ویشتمه صحنه:**

**ځای: د جابر کور.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: سکینه، پرخه، جابر، نجیب او پښتنه.**

**( د شلمې صحنې په څېر سکینه هماغسې په غوسه وي):**

**سکینه**

**ـ زه خو دې جابر او شېري ته د باد بنګه کړم، خو دا ارمان به دې پوره نه شي.**

**( د معصومیت حیراني):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرخه

ـ ورندار! د خدای دپاره دا ته څه وې؟

( دې کې جابر په غوسه راشي):

جابر

ـ دا ولې ته رنده یې؟ پخلی څوک همدسې کی؟!

( په خاصه چالاکۍ):

سکینه

ـ دا د دې رنډۍ د لاسه.

جابر پرخې ته

ـ ولې؟ ته غواړې چې ما مېلمه ته وشرمی؟!

سکینه

( په مکر)

ـ په نغرې پسې یې لمبې د دې دپاره بلې کړې وې، چې ما ستا د پامه بده کې.

( په ډېرې غوسې):

جابر

ـ زه به اوس تا ته لمبې وښییم.

( په غوسه ورشي او د کلکې څپېړې سره یو ځای ورته ووایي):

جابر

ـ وځه، د سپي لورې! نوره دې دلته ونه ګورم.

( نجیب ډېر خپه شي، پرخه وهلې مخ ته لاس ونیسي):

پرخه

ـ تاسې ډېر ظلم کوئ.

زما دې د نجیب په سر قسم یې، چې زه نغري ته نه یم تلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( په غوسه):**

**جابر**

**ـ ویم که بله خبره دې وکړه، ژبه دې غوڅوم، وځه.**

**( په وېره او ژړغونې، لړه روانه شي، خو ودرېږي):**

**پرخه**

**ـ زه نه ځم، زه چېرته لاړه شم؟!**

**جابر**

**ـ هر چېرته چې ځې، ورکېږه.**

**( د سکینې په څېره کې خوشالي وي).**

**پرخه**

**ـ ګوره مه کوئ، دا ظلم مه کوئ، زه بې ګناه یم.**

**( په غوسه):**

**جابر**

**ـ اوس راته نصیحتونه کې؟!**

**( جابر ورشي او پرخې ته دیکه ورکړي، هغه لړه وغورځي، هغوی ته ګوري او بیا راپورته شي، نجیب له لاسه ونیسي او په ورو ورته ووایي):**

**پرخه**

**ـ د غریبانانوم ( هم) خدای شته.**

**( په ورو ورو روانه شي، خو پښتنه دې وښودل شي، چې په دې کار ډېره خپه ښکاري).**

**درویشتمه صحنه:**

**ځای: یوه کلیوالي سیمه.**

**وخت: مازیګر.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبغاړي: پرخه او نجیب.

( لومړی دې یوه کلیوالي لار وښودل شي او بیا دې پرخه وښودل شي، چې تور څادر یې له ځانه تاو کړی او نجیب ورپسې وي لږ نور مزل هم وکړي او بیا پرخه یوې ونې ته ډډه ووهي):

نجیب

ـ مورې! مونږ اوس چېرته ځو؟

پرخه

ـ د خدای ځمکه لویه ده.

نجیب

ـ مورې! ته هېڅوک نه لرې؟

( مانادار وروګوري):

پرخه

ـ نجیبه! مونږ خدای لرو.

څلرویشتمه صحنه:

ځای: د خان صیب کور.

وخت: ماښام موده.

لوبغاړي: د خان صیب ښځه، خان صیب، پرخه او نجیب.

( د خان صیب ښځه په یوه پاک کټ کې ناسته، عینکې یې په سترګو او له ځانه سره تسپې اړوي، لږه شېبه وروسته، پرخه زړه نا زړه حوېلۍ ته رااننوځي. تر یو څو ګامو وروسته یې چې د خان صیب مېرمن په راتګ پوه شي، نو په حیرانۍ وروګوري. پرخه لږه ودرېږي، خو د خان صیب ښځه ورته وایي):

د خان ښځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ راځه، راځه.
( د خان مېرمن له کټ نه ورته راپورته شي):
د خان مېرمن
ـ بچیه! ستړې مه شې، راځه.
پرخه
ـ خدای دې وبښه.
( نجیب او پرخه دواړ ورشي او په برنډه کې په مظلومانه ډول کېني):
د خان مېرمن
ـ ډېره درباندې خپه یم.
لورې د خدای کارونه دي
افضل دې خدای وبښي.
په ډېرې ځوانۍ کې درنه خدای واخستو.
( پرخه ترې په سترګو کې مننه وکړي).
د خان مېرمن
ـ ښه لورې! ژوند دې څنګه تېرېږي؟
پرخه
ـ ترورې! ژوند چېرته دی؟!
د سکینې د لاسه په سره اور کې ولاړه یم.
( د خان مېرمن لږ ورو سر په افسوس وښوروي):
پرخه
ـ بې ګناه یې له کوره وشړلم.
ترورې! زه خو په اسمان ستوری او په ځمکه سیوری نه لرم.
( له دې سره یې سترګې له اوښکو ډکې او سر ټیټ کړي).
د خان مېرمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ لورې مه ژاړه. خیر دی د غم شپېږه ډېر مخونه وهي.
( همدې کې خان صیب حوېلۍ ته راشي، خو چې پرخه وګوري، پښه نیولی شي.
مېرمن یې وګوري):
د خان مېرمن
ـ راځه، راځه، د افضل کونډه ده.
( خان صیب راشي، پرخه ورته پورته شي):
خان صیب
ـ لورې ستړې مه شې.
( په بې زړه توګه):
پرخه
ـ خدای دې وبښه.
د خان مېرمن
ـ غریبه جابر راشړلې ده.
( خان لږ سنجیده شي):
خان صیب
ـ هغه ملامته نه دی، نشه یان همدسې یې.
( دې کې نجیب مور ته نږدې شي او پټ داسې څه ورته ووایي، لکه وړی شوی
چې وي).
د خان مېرمن
ـ زه به دې هلک ته څه شی راوړم، وږی به یې.
( د خان مېرمن پاڅېږي).
پرخه
ـ خان کا کا!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دلته د اوسېدو لپاره راغلی یم.
ما چې هر څومره فکر وکه، بې ستاسې له کوره مې بل چېرته شپې نه کېږي.
خان صیب
ـ لورې! ګوزاره کوه. کونتون ډېر صبر غواړي.
ته باید ډېره اوسېله وکې.
( د خان مېرمن د نجیب لپاره د خوراک څه راوړي):
پرخه
ـ خان کاکا! که زه ورته ځان تورې خاورې هم کم، هغۍ مې په کور کې نه پرېدي.
خان صیب
ـ هغۍ تا سره ولې داسې کۍ، خبره څه ده؟
د خان مېرمن
ـ لورې سهي خبره وکه.
پرخه
ـ اصل کې سکینه له دې نه یرېږي، چې جابر ما په نکاح نه کي.
خان کاکا! زه به یو لپه زار وخورم، خو نوره هلته نه ځم.
( خان په فکر کې شي):
خان صیب
ـ جابر یو نشه يي سړی دی، دسې نه چې سبا ما پورې کم (کوم) تومت ونه تړي.
ګنې ما ته خو څه تکلیف نشته.
د خان مېرمن
ـ تا پورې به څه تومت وتړي؟!
یو څوک چې خپله ښځه لارې ته نه شي راوستی، نو بل ته به څه ووۍ؟!
خان صیب
ـ سهي ده. ډېر څه به ته نه غواړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوراک او اوسېدو څه خبره نشته.

د خان مېرمن

ـ مه خپه کېږه، د لور غوندې به راسره يې.

خان صيب

ـ خو زما يوه خبره به تر اخره منې.

( پرخه وروګوري):

خان صيب

ـ خبره دا ده، چې لورې ته ځوانه يې او ښتنې کونډې په لويو څادرونو کې ښې ښکاري.

پرخه

ـ خان کاکا! همدسې به کوم. خو زما هم يوه غوښتنه ده.

( خان وروګوري):

پرخه

ـ ستاسې دا بس دی، چې ځی او خواړه راکوئ، د بني آدم ډېر څه لګېږي. تاسې به ما او نجيب د خوارۍ نه،نه منع کوئ.

خان

ـ دا خو ښه خبره ده. انسان بايد کار وکي، خو ستا کار بايد په پرده کې يې.

پرخه

ـ خان کاکا! زما په سر به تر اخره لوی ټيکری يي.

پنځه ويشتمه صحنه:

ځای: د کلي يو جومات.

وخت: مازيګر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوبغاړي: یاسین او ګلو دوه د پاخه کلیوال.**

( د یاسین تسپې دې وښودل شي، چې اړوي يې):

ګلو

ـ جابر ګنې ډېر بد کار ونه که؟

یاسین

ـ بد څه چې ډېر ظلم يې وکه. ډېر بې پښتو کار يې وکه.

ګلو

ـ رشتيا دې وويل، ځوانه جانه ورندار يې له کوره وشړله.

( په افسوس):

یاسین

ـ یره خلکو بېخي پښتو هېره کړه. حیران یم، چې دا خلک ولې دومره بې غیرته شول؟!

ګلو

ـ یاسینه! دا وطن چې نه جوړېږي، نو اصلي خبره دا ده، چې خلکو پښتو پرېښوده.

( د سر د ښورېدا سره په سنجیده توګه ووایي):

یاسین

ـ ګلو! سهي خبره دې وکړه.

**شپږ ویشتمه صحنه:**

**ځای: د خان صیب د کور یوه غریبانه کوټه.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: نجیب، پرخه او بیا د خان صیب ښځه.**

( نجیب په کټ کې ناروغ پروت وي، تبې نیولی وي او پرنجېږي هم. سترګې يې پټې وي، مور يې ورته ورشي، د کټ پښنو ته ورته کېني):

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرخه

ـ نجیبه!

( غبر ونه کړي):

پرخه

ـ نجیبه ته سترګې وغړوه!

نجیب

ـ مورې! مریض یم.

( پرخه یې په لاس، لاس کېږدي، بیا یې پر تندي لاس کېږدي):

پرخه

ـ ړنده دې شم، ستا خو سخته تبه ده. ته پاڅېږه، چې ډاکتر ته دې بوځم.

(پرخه یې له کټ نه لږ څه په کرار پورته کړي. دې وخت کې دې د خان صیب مېرمن وښودل شي، چې د کور په کوم کار لګیا وي. مېرمن د پرخې د پښو د راتګ غږ واوري او چې وګوري، نو پرخه په لوی تور څادر کې ورته راشي):

پرخه

ـ د نجیب سخته تبه ده. که ستا اجازه یې، کلینیک ته به یې بوځم.

د خان صیب مېرمن

ـ سهي ده لاړه شه.

( نجیب او پرخه روان شي).

اوه ویشتمه صحنه:

ځای: کلینیک.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: پرخه، نجیب، ډاکټر، ګڼ نور ناروغان.

( لومړی دې د کلینیک لوحه وښودل شي، ورپسې ګڼ خلک، بیا دې په کوټه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو ډاکټر وښودل شي، چې یوه ناروغ ته نسخه ولیکي، هغه ووځي او له دې سره پرخه په تور لوی څادر کې راشي، ډاکټر په کټ کې نجیب پرېباسي):**

**ډاکټر**

**ـ څه تکلیف لري؟**

**پرخه**

**ـ ډاکټر صیب! تبه یې ده.**

**ډاکټر**

**ـ نور څه تکلیف لري؟**

**پرخه**

**ـ ډاکټر صیب! رېزش دی او ګېډه یم ( یې هم) درد کې.**

**( ډاکټر پاڅېږي، څه شېبه نجیب معاینه کړي، بیا یې کینه پښه وګوري او پر چوکۍ کېني):**

**( په لړ خپګان سره):**

**ډاکټر**

**ـ واکسین دې ورته پوره کړي؟**

**پرخه**

**ـ نه ډاکټر صیب! پوره خو مې ورته نه دي کړي.**

**( په فلش بیک کې دې هغه صحنه وښودل شي، چې سکینې خپله لور واکسینو ته وړله، خو پرخې ته یې اجازه ورنه کړه).**

**( په خپګان):**

**ډاکټر**

**ـ تاسې باید خپل زوی ته په خپل وخت واکسین کړي وای، خورې! د زوی یوه پښه دې ګوزن وهلې ده؟**

**( په خپګان او لړ هیبت):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرخه**

**ګوزن وهلې؟!**

**( او بیا دې په ډېر خپګان نجیب ته وګوري).**

**اته ویشتمه صحنه:**

**ځای: د جابر کور.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: پښتنه او سکینه.**

**( د پښتنې مور د کور په کوم کار لګیا وي، چې پښتنه یې له څنګه تېره او دېوال ته خپه کېني. سکینه کار کوي، خو پښتنې ته وګوري):**

**سکینه**

**ـ ای جنۍ! مریضه خو به نه یې؟**

**( پښتنه غږ ونه کړي):**

**سکینه**

**ـ تا ته ویم، څنګه غلې یې؟**

**پښتنه**

**ـ زه نجیب پسې خپه یم.**

**( په حیرانتیا او غوسه):**

**سکینه**

**ـ نجیب پسې؟!**

**پخې! نجیب پسې خپه یم، بیا دسې خبره ونه کې!**

**نجیب مجیب دې نور د زړه نه وباسه.**

**( پښتنه خپه شي، پاڅېږي او په خپګان روانه شي).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهویشتمه صحنه:
ځای: د خان صیب کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: خان صیب او مېرمن یې.
( خان صیب په کټ کې ډډه وهلې وي، مخې ته یې مېز پروت وي، چې مېرمن یې ورته چای راوړي او ورته یې واچوي او د کټ پښو ته یې کېني. خان صیب له چایو یو ګوټ وکړي):
خان صیب
ـ څنګه د نجیب مور خو به خپه نه یې؟
د خان مېرمن
ـ ما ته خو د لور غوندې ښکاري، خو په زوی ډېره خپه ده.
خان صیب
ـ په زوی؟ ولې په زوی یې څه شوي دي؟
مېرمن
ـ د زوی غریب یې یوه پښه ګوزن وهلې ده.
( د خان په څېره کې خپګان ښکاره شي، پیالې ته لاس وروړي):
خان صیب
ـ رشتیا وی، چېرته چې ټکه یي، نو د غریب په کور رالوېږي.
( خان بیا له ځانه سره د افسوس سر په کرار وښوروي):
مېرمن
ـ ښه دی، دومره سخت نه دی، مور یې مکتب کې واچولو.
( په لږه خوشالۍ او ورو):
خان صیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دا خو يې ډېر ښه کار کړی.
خدای مهربانه دی.

دېرشمه صحنه:
ځای: يو ښوونځي .
وخت: ورځ.
لوبغاړي: نجيب، ښوونکی او د ښوونځي نور ماشومان.
( ماشومان په ټولګي کې ناست وي. نجيب د خپلې چوکۍ خوا کې خپل چګسونه اينښې وي، چې يو بل شوخ ماشوم يې ترې په کرار پټ کړي. دې کې ښوونکی ټولګي ته راننوځي).
يو زده کوونکی
ـ ولاړ!
( ټول پاڅېږي. نجيب خپلو چګسونو پسې وګوري، خو نه وي او چې څنګه له وېرې پاڅېږي، نو پر چوکيو راولوېږي. له دې سره نور زده کوونکي وروګوري او ټول ورپورې وخاندي. نجيب ډېر خپه او خجالته ښکاري):
ښوونکی
ـ چپ شئ! څه خبره ده ولې خاندئ؟!
يو زده کوونکی
ـ صيب! دې ګوډ ته وګوره!
( نجيب خپه وي او راپورته کېږي):
ښوونکی
نجيبه ولې؟
نجيب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ صیب! چا را نه چګسونه پټ کړي وو.
ښوونکی
( په غوسه)
ـ که بله ورځ چا دا کار وکه، نو بیا ګیله ونه کې.
او له نن نه وروسته که چا نجیب ته ګوډ ووایه، دسې سزا به ورکم، چې ټول عمر يې په یاد يي.
ګورئ ماشومانو! هېڅوک په سپکو نومونو مه يادوئ.
ښه والی په دې کې نه دی، چې څوک دې پهلوان يي.
د انسان لوړوالی په علم او اخلاقو پورې اړه لري.
کېدی شي، چې له نجیب نه یو وخت دسې سړی جوړ شي، چې تاسې به ورته بیا زاری کوئ.
پوه شوئ؟
( ټول په یوه غږ ووايي):
زده کوونکي
ـ پوی شو.
یودېرشمه صحنه:
ځای: ښوونځی.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: نجیب او د ښوونځي ګڼ ماشومان.
( د ښوونځي چپړاسي راشي او د ښوونځي زنګ ووهي. له دې سره زده کوونکي له ټولګیو راووځي. ټول منډې وهي، خو نجیب په چګسونو ورو ورو له ټولو وروسته راروان وي او ډېر سټړی ښکاري).

دوه دېرشمه صحنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای: د خان صیب کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: پرخه او د خان صیب مېرمن.

( پرخه په یوه اندازه منبدو جامو کې ناسته او یوه وړوکي نیالګي ته چې نږدې ورته ولاړ وي، په افسوس ګوري. همدې وخت کې دې د خان مېرمن وښودل شي، چې له لږ لرې نه ورته په حیرانۍ وګوري او راروانه شي. پرخه لا نیالګي ته د لېونو په څېر ګوري، چې د خان مېرمن ورته ووایي):

د خان مېرمن

ـ پرخې! څنګه دې نیالګي ته په یوه ساه ګورې؟

(پرخه لږه موسکۍ او راپاڅېږي):

پرخه

ـ هسې.

( بېخي لږ سکوت):

ـ فکر مې کوو، چې زما قسمتم د دې نیالګي غوندې دی.

د خان مېرمن

ـ هغه څنګه؟

پرخه

ـ ترورې! مقصد مې دا دی، چې زما امېدونه به تر ډېره د شګو مزل کۍ.

د خان مېرمن

ـ دا خبره خو دې د مخکینۍ نه هم سخته وکړه.

سمه خبره ولې نه کۍ.

پرخه

ـ ترورې خبره مې دا کوله، چې نجیب ډېر ورکوټی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( پرخه یو اسوېلی وکړي).

د خان مېرمن

ـ دې ته خو هېڅ فکر مه کوه. عمر د باد غوندې تېرېږي.

سینه دې لویه که. پویه بم ( به هم) نه شي او زوی به دې خدای زلمی کي.

دې دنیا کې څوکم د غم نه خلاص نه دي.

دسې پاڼه نشته، چې باد وهلې نه يي.

پرخه

ـ خو ترورې! زه به د خپل زړه د تسل لپاره دې نیالګي ته ګورم.

( دې وخت کې پرخه نیالګي ته وګوري):

پرخه

ـ زه به دسې ګڼم، چې دا نیالګی د نجیب همزولی دی.

( او نیالګي ته په کتو دا صحنه پای ته ورسېږي).

درې دېرشمه صحنه:

ځای: یو پارک.

وخت: مازیګر.

لوبغاړي: نجیب او لس نور ماشومان.

( ماشومان په پارک کې د فوټبال لوبه کوي، خوشاله وي، خو نجیب ورته په خپګان ګوري. دوه درې ځله ورته په حسرت وګوري او بیا ترې په خپګان روان شي).

څلوردېرشمه صحنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای: د شېرې دېره.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: شېری او جابر.
( د دوو کټونو منځ کې چلم پروت وي. شېری په کټ کې پروت وي، راپاڅېږي او چلم ولګوي او دوه درې ځله یې راکاږي):
شېری
ـ هلکه جابره! دې ورځو کې راته خپه غوندې ښکارې!
ورکه، چلم ته ډز ورکه.
( جابر هم څو ځله چلم نه لوګي وباسي):
شېری
ـ ښه ویوه، څه خبره ده.
جابر
ـ څه خاص خبره نشته، هسې کله کله د سړي زړه خپه یې.
( په ریشخند انداز):
شېری
ـ یره جابره! ساده سړی یې.
دوه ورځې دنیا ده، خوشالي کوه، خوشالي.
مه د ځان غم کوه او نه د بل.
جابر
ـ یاره سمه خبره دې وکړه!
دې وخت کې خو هېڅوک د چا کیسه کې نه دي.
بس هر څوک په همدې کې دی، چې ځان څنګه موړ کي، که څنګه؟
شېری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هر څوک چې دسې کې، سهي کار کې. نه دې دي اورېدلي چې: (اول ځان پسې جهان). ته نه ګورې، چې اوس د خلکو خوا کې خلک مري، خو بل يې په کيسه کې نه يي.

جابر

ـ بس نو بيا زه او تم ( ته هم) ملامته نه يو.

چې اوسې په خوی به د هغو سې.

شېرى

ـ خو ګوره چې ما سره دسې ونه کې.

جابر

ـ ياره! د هر چا سره پنج، خو د يار سره پنج نه.

شېرى

ـ بس همدا خبره ده کنه، چې زړه مې درسره خېښي غواړي.

جابر

ـ ياره! دا خو دې عجيبه خبره وکړه.

شېرى

ـ زم ( زه هم) همدا ويم، چې دا دوستيم په خپلوۍ بدله شي.

که څنګه اشنا؟!

جابر

ـ که خدای کول وبه شي.

( پورته خبرې دې د چرسيانو په انداز وکړي).

ځلوردېرشمه صحنه:

ځای: يو پارک.

وخت: ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبغاړي: نجيب او يو بل کس.

(نجيب په چګسونو روان او د بوټانو رنګولو بکسه يې اوږې ته اچولې وي. له لرې نه يو سړی چې د پارک په چوکۍ ناست وي، هغه وګوري او ورته غږ کړي):

سړی

ـ ګوډه دلته راشه!

( نجيب ورشي. سړی څپلۍ له پښو وباسي):

سړی

ـ هن! واخله!

( نجيب د څپليو په رنګولو شروع وکړي او رنګ يې کړي. سړی لس روپۍ ورته ونيسي):

سړی

ـ بس دی، که نورېم درکم؟!

نجيب

ـ دام ( دا هم) مه راکوه، خو خير دی ګوډ راته مه ويوه.

( له دې سره ترې نجيب غمجن روان شي).

پنځه دېرشمه صحنه:

ځای: د جابر کور.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: جابر، سکينه او پښتنه.

( جابر د چرسيانو په انداز کې د کور دهلېز ته راننوځي او بيا په لږ لوړ غږ ووايي):

جابر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ ناوې! چېرته يې؟**

**تا ته ويم.**

**( جابر کوټې ته راننوځي).**

**سکينه دا دې درغلم.**

**( سکينه په داسې حال کې چې د خپل سر وېښتان يې خلاص پرېښې وي، راننوځي او مخې ته يې کېني):**

**سکينه**

**ـ څه خبره ده؟ څه دې ويلې؟**

**جابر**

**ـ هو يوه خبره مې درته کوله.**

**سکينه**

**ـ څه خبره زر شه ووايه!**

**جابر**

**ـ خوښه دې نه ده، چې د شېري سره خپلوي وکو؟!**

**( په خوشالۍ):**

**سکينه**

**ـ دا خو دې زما د زړه خبره وکړه. ځمکم ( ځمکه هم) لري، نورم ښه دی. که دا کار وشي، سبا بم ( به هم) لور ورکره اسوده يې، مور ته بيم ( به يې هم) ګټه رارسېږي. او بله دا چې ستا دوستم دی.**

**( جابر لږ سنجيده شي):**

**جابر**

**ـ خو يوه خبره شته.**

**( په حيرانۍ):**

**سکينه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ څه خبره؟
( دې وخت کې پښتنه راشي او د شيشې شا ته تصادفي ودرېږي):
جابر
ـ خبره دا ده، چې پښتنه خو ما نجيب ته ورکړې ده.
( پښتنه دې بيا وښودل شي او داسې دې وښودل شي، چې خبره يې اورېدلې وي).
( سکينه په لړ تريو تندي):
سکينه
ـ سړيه دا د ورکوټيوالي خبرې وې.
او بيا زه هغه ګوډ ته لور ورکم؟!
دا به هېڅکله ونه شي.
جابر
ـ خو زه له يوې خبرې نه يرېږم.
سکينه
د کمې خبرې نه؟
جابر
نه دې دې اورېدلي، چې
له هر څه وځه، خو له نرخه مه وځه!
سبا به راته ټول کلی په همدې ګوته نيسي.
( په يوه اندازه بې شرمۍ):
سکينه
ـ اوس نه هغه نرخونه شته او نه هغه پښتو.
دې وخت کې هر څه د جنۍ په خوښه کېږي.
اوس هغه وخت نه دی، چې جنۍ به خبره نه وه او مور و پلار به يې ورکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته وويوه، پښتنه به د هغه ګوډ سره شپې وکي؟!**
**(په سنجيده انداز):**
**جابر**
**ـ سهي ده، خو په دې به لږ فکر وکو؟!**

**شپږ دېرشمه صحنه:**
**ځای: پارک.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: نجيب او يو د قلمونو پلورونکی هلک.**
**(د نجيب د بوټانو درنګولو بکسه په شا او په پارک کې روان وي، چې د قلمونو پلورونکی ويني، ورشي او په لس افغانۍ ترې يو قلم واخلي. له هغه راروان يوې ونې ته کېني. له بکسې کتاب او کتابچه راوباسي. کتاب پرانيزي او په کتابچه کې ليکل کوي).**

**اوه دېرشمه صحنه:**
**ځای: د جابر کور.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: پرخه، سکينه او پښتنه.**
**( سکينه په کټ کې د پښتنې شا ته ناسته او د هغې وېښته رمنځوي. دوه درې ځله چې يې وېښتو کې رمنځ راکاږي، دې کې پرخه ښکاره شي، چې د هغې خوا ته راروانه وي. د هغې لباس هم زوړ وي. د سکينې چې پرې سترګې ولګېږي، نو په پيکه انداز کې وروګوري، خو بيا رمنځول شروع کړي همدې کې پرخه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروړسبړي):**

**پرخه**

**ـ ورندار! سلام علیکم.**

**( پرخه کېني).**

**سکینه**

**( په کبرجن انداز):**

**ـ راغلې؟**

**پرخه**

**ـ څه حال دی، پښتنه څنګه ده؟**

**سکینه**

**ـ د پښتنې پوښتنه دې څنګه د ژبې په سر ده؟**

**پرخه**

**ـ ولې ما خو بده خبره ونه کړه، پوښتنه مې وکړه.**

**لالا څنګه دی؟**

**سکینه**

**ـ د لالا سره دې څه کار دی؟ که ښه دی که بد دی، تا ته یې څه؟!**

**پرخه**

**ـ ورندار! ته خو تړلی جنګ یې؟**

**پردي بم ( به هم) داسې و نه کي.**

**سکینه**

**ـ ولې تا ته اوسم خپله ښکارم؟!**

**پرخه**

**ـ که ته هر څومره ما پردۍ وګڼې، خو زموږ د اولادونو د خپلوۍ تړون هېڅوک نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شي بېلولی.**
**سکينه**
**(سترګې راوباسي):**
**ـ ښـــــــه، دې نه مالومېږي، چې ستا په زړه کې نور څم شته.**
**پرخه**
**ـ زما په زړه کې به نور څه يې، خو له يوې خبرې خبره شوې يم، ځکه راغلم.**
**( سکينه په سترګو کې بد وروګوري):**
**پرخه**
**ـ که دا خبره رشتيا يې، نو ښه به نه يې.**
**( په غوسه غوندې):**
**سکينه**
**ـ د څه شي خبره؟!**
**پرخه**
**زه خبره شوې يم، چې تاسې پښتنه دشېري زوی ته ورکوئ.**
**ـ ګوره ورندار! که زه هر څومره مجبوره شم، خو پښتنه د نجيب ده.**
**( ريشخند انداز کې):**
**سکينه**
**ـ وايي، چې لېونی چا په کلی کې نه پرېښوده او هغه ويلې، چې زه د ناوې سره کېنم.**
**دا ځل دې خاطر که بيا دې په زړه کېم دا خبره تېره شوې وه، چې ګيله ونه کې!**
**پرخه**
**ـ ورندار! پښتانه په نامه شوې ښځې چا ته نه پرېدي.**
**( د سکينې په مخ کې ډېره غوسه پيدا شي):**
**سکينه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ویم، چې بله خبره ونه کې. وځه له کوره مې.
درته ویم چې زر لاړه شه.
( پرخه پاڅېږي او چې روانېږي، نو سکینه ورته په غوسه ووايي):
سکینه
ـ زه خو ړنده نېم ( نه یم) چې خپله لور هغه ګوډ ته ورکم.
زر ځه، ګنې دا ښپې به دربانديې ماتې کم.
( پرخه یو ځل بیا غمجن وروګوري او بې ځوابه ترې روانه شي).

اته دېرشمه صحنه:
ځای: یوه لار.
وخت:مازیګر.
لوبغاړي: نجیب.
( نجیب دې وښودل شي، چې د رنګولو بکسه یې اوږې ته اچولې او د کور لوري ته په چګسونو راروان وي).

نهه دېرشمه صحنه:
ځای: د خان صیب د کور یوه غریبانه کوټه یا د خام دېوال یوه څنډه.
وخت: مازیګر.
لوبغاړي: نجیب او پرخه.
( پرخه خام دېوال ته غمجنه ناسته وي، چې په دې کې نجیب راشي. پرخه ورپاڅېږي):
پرخه
ـ زویه راغلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړې مه شې.

( نجیب په ځمکه کېني. بیا خپل جېب ته لاس کړي. د لسو افغانیو ډېر زاړه پنځه لوټونه راوباسي او مور ته یې ونیسي):

نجیب

ـ مورې! نن مې ډېره مزدوري کړې.

( پرخه یې غېږې ته رانږدې کړي، بیا یې پرېږدي او ورته ووایي):

پرخه

ـ په دې به پښتنې ته بنګړي واخلم.

( نجیب خوشاله غوندې شي).

نجیب

ـ مورې! زمام ( زما هم) پښتنه ډېره یادېږي.

مورې! کاکا مې مورِ ولې د کور نه وشړلو؟

پرخه

ـ نجیبه! مورِ یې ښځې له کور نه راوشړلو.

نجیب

ـ نو کاکا مې ورته هېڅ ونه ویل؟

پرخه

ـ نجیبه! ځینې سړي د خپلو ښځو نه ډېر یرېږي.

زویه! سبقونه دې څنګه دي؟

نجیب

ـ مورې! اول نومره کامیاب شوم.

پرخه

ـ خدایه شکر، چې ځینې کارونه خو په پیسو نه دي.

نوټ: له دې وروسته د ټولو کرکټرونو په عمرونو کې لس دولس کاله توپیر رامنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کېږي.

څلوېښتمه صحنه:
ځای: د کلي یوه پوله.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: یاسین او ګلو.

( د یاسین او ګلو عمرونه پاخه شوي وي. یاسین د ونې یو ډډ ته ډډه لګولې وي او تسپې اړوي، چې لږ وخت وروسته ګلو راشي):

ګلو

ـ بل کار دې نشته، بس ته یې او دا تسپې دي، چې شپه او ورځ یې اړی!

سلام علیکم.

( ګلو کېني).

یاسین

ـ وعلیکم. ګلو! زه چې د دې دنیا خلکو ته ګورم، نو دا راته ښه ښکاري، چې ټوله ورځ چېرته پټ کېنم او خدای یاد کم.

ګلو

ـ سمه خبره دې وکړه. د خلکو د زړونو نه رحم، وفا، پښتو هر څه کډه کړې.

خو دسې نه چې ستا عبادتم د هغو خلکو غوندې شي، چې په ظاهره پرښته، خو زړه یې د قصاب یې.

یاسین

ـ سهي دې وویلې، د خلکو له زړونو نه رحم الوتی دی. خلک دې اندازې ته رسېدلي، چې د پیسو لپاره خپل ورور وژني، وطن ورانی، لنډه دا چې هر څه کیږ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګلو**

**ـ خو زه دې ته حیران یم، چې دا خلک ولې داسې شول؟**

**لرې به نه ځو، دې جابر ته وګوره، د خپلې ورندار سره یې څومره بد وکړل؟!**

**یاسین**

**ـ ګلو! خدای دې خان صیب سره ښه وکي، چې په ځوانې جنۍ یې پرده واچوله.**

**کلونه تېر شول، خو چا ورپسې څه بده خبره ونه کړه.**

**ګلو**

**ـ رشتیا چې درانه درانه او سپک سپک یې، ګنې خان صیب ته تش نوم پاتې دی، نور خو هېڅم نه لري.**

**یاسین**

**ـ هو، دې ګډوډیو خو واړه کورونه غټ او غټ واړه کړل.**

**ګلو**

**ـ یوې بلې خبرې نه خبر شوی یم، چې ته به تې ( ترې) خبر یې که نه؟**

**یاسین**

**ـ څه خبره ده، زه خو نه یم خبر.**

**ګلو**

**ـ دسې مې اورېدلي، چې جابر اوس خپله لور د شېري زوی ته ورکې.**

**یاسین**

**ـ نو دې کې د حیرانتیا څه خبره ده؟**

**ګلو**

**ـ حیرانتیا څنګه نه ده. جابر په ورکوټیوالي کې خپله لور د افضل زوی ته ورکړې وه.**

**یاسین**

**ـ که دسې یې (وي)، نو دا خو ډېر بې پښتو کار کې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګلو**

**ـ بس هماغه خبره ده، چې د زورورو اوبه په بره ځي.**

**یو ځلوېښتمه صحنه:**
**ځای: د خان صیب کور.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: پرخه او د خان صیب مېرمن.**

**( یوه ونه دې ټېل ډاون عکاسي شي، یانې له پاسه لاندې، چې ښځ ته یې پرخه ناسته او یوې افغاني غاړې باندې د ستنې کار کوي، چې دې کې د خان صیب مېرمن راشي، د دواړو په عمر کې ډېر توپیر راغلی وي، د خان صیب مېرمن ډېره زړه او پرخه پخه ښځه شوې وي. پرخه په مینه د خان مېرمن ته وګوري):**

**د خان مېرمن**

**ـ پرخې په یاد دې دي، چې ما څه درته ویلې و؟!**

**( پرخه د ونې سر ته وګوري، بیا د خان مېرمنې ته ووایي):**

**پرخه**

**ـ تروري! زه پوی شوم، چې ته څه وی ( وایې).**

**د خان مېرمن**

**ـ ودې لیدل، چې عمر څومره زر تېرېږي؟!**

**دا دی د نجیب نه درته خدای سړی جوړ که.**

**پرخه**

**ـ په هغه وخت کې زما ستا په خبره دومره باور نه و.**

**تروري! دا ټول ستا او د خان کاکا برکت دی.**

**د خان مېرمن**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ دسې مه ويوه. خدای چې چا ته هدايت نه يي کړی، نو هغه لارې ته نه راځي.**
**ښه او بد ټول پاس ليکل شوي يې.**
**پرخه**
**ـ ترويې! خو ستاسې ښه به تر قيامته زما هېر نه شي.**
**خان کاکا ته دې خدای د خضر(ع) عمر ورکي.**

**دوه څلوېښتمه صحنه:**
**ځای: د ننګرهار د طب پوهنځی.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: نشته.**
**( د طب ښوونځي د ودانۍ يو لنډ شاټ دې د لوحې سره يو ځای واخيستل شي).**

**دري څلوېښتمه صحنه:**
**ځای: د محصلينو يو هال.**
**لوبغاړي: د طب محصلين، يو استاذ او نجيب.**
**( محصلين ناست وي، استاذ راشي او نجيب ته د فارغېدو شهادتنامه ورکړي او چکچکي وشي).**

**څلور څلوېښتمه صحنه:**
**ځای:د خان صيب کور.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي:خان صيب، مېرمن يې او نجيب.**
**( خان صيب ناروغ او په کټ کې پروت وي. مېرمن يې د کټ پښو ته ورته ناسته وي او پرخه هم ورته غمجنه ولاړه وي. نجيب په داسې هال کې چې ستاتېسکوپ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې غاړه کې پروت وي، راشي):
پرخه
ـ ښه دی چې راغلې.
نجیب
ـ خیریت خو به یې؟ خان کاکا ولې پروت دی؟
د خان مېرمن
ـ یو ساعت کېږي، چې په زړه یې درد دی.
( په ورو):
خان صیب
ـ نجیبه زویه ستړی مه شې.
مبارک دې شه!
په کار وه، چې ننم ( نن مو) ستا دپاره ډېره خوشالي کړې وی،
خو څه وکم چې مریض شوم.
نجیب
ـ خان کاکا! هېڅ سودا ونه کې، دا دی زه به دې اوس معاینه کم.
( نجیب یې لومړی زړه په ستاتېسکوپ معاینه او بیا یې د وینې فشار وګوري):
نجیب
ـ خان کاکا! څه خاص خبره نشته، د وینې فشار دې لږ لوړ شوی.
زه به درته دوا راولېږم، خو خیر دی نور د غوړو سره لږ احتیاط کوه.
( د خان مېرمن خوشاله شي):
مېرمن
ـ زویه ښه دی، چې ته راغلی،
زه خو ورته ډېره خپه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نجیب**

**ـ تروري! خپه کېږه مه، ډېر زر به ښه شي.**

**ښه مورې! زه اوس د کلینیک د پرانیستنې یوې غونډې ته ځم.**

**پرخه**

**ـ لاړ شه، خو زر راځه، نن مې زړه خپه غونډې دی.**

**نجیب**

**ـ مورې اوس خپګانونه مه کوه.**

**( له دې سره په داسې حال کې چې سپینه چپن یې اغوستې وي، روان شي).**

**پنځه څلوېښتمه صحنه:**

**ځای: یو کلیوالي کلینیک.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: نشته.**

**( لومړی دې د کلینیک لوحه وښودل شي، چې پرې لیکل شوي وي):**

**ـ د واکسینو کلیوالي مرکز.**

**شپږ څلوېښتمه صحنه:**

**ځای: کلینیک.**

**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: نجیب، یاسین، ګلو، جابر، شېرى، د شېري لوچک مزاجه زلمی زوی فرید، ګڼ نور کلیوال او ماشومان.**

**( د ننه په حوېلۍ کې یو څو چوکۍ اېښودل شوې وي. خلک راشي او پر چوکیو کېني. لږ وروسته نجیب چې سپینه چپن یې اغوستې او په غاړه کې یې ستاتېسکوپ اچولی وي ستېج ته راشي):**

**نجیب**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ درنو مشرانو او ګرانو کليوالو!**
**السلام عليکم.**
**تاسې ته نن ما د دې لپاره تکليف درکړی، چې نن دربانډې د دې زېری وکم، چې له نېکه مرغه زموږ او ستاسې په کلي کې د واکسينو يو کلينيک جوړ شو.**
**د خوشالۍ ځای دا دی، چې اوس به زموږ کليوال واکسينو پسې لرې ځايونو ته نه ځي.**
**دغه خوشالي دې تاسې ټولو ته مبارک وي.**
**( د خلکو شاټ دې واخيستل شي او شېرى لږ بد بد ګوري).**
**خو ورونو! زما له تاسې ټولو نه يوه هيله، څه چې يوه کلکه غوښتنه دا ده، چې په خپل وخت خپل ماشومان کلينيک ته د واکسينو لپاره راولۍ.**
**که چېرته تاسې دا ونه کۍ، نو په داسې حال به شۍ، لکه نن چې زه ستاسې مخې ته ولاړ يم.**
**( د فلش بک هغه صحنه دې يې سترګو ته ودرېږي چې په ماشومبوالي يې مور سکينه واکسينو ته پرېښبوده):**
**ورونو! که چېرته يې ما ته واکسين کړي وی، نو نن به زما پښه داسې نه وه.**
**( دې وخت کې جابر له خجالته سر کښته کړي):**
**ورونو! هيله ده، چې د خپلو ماشومانو راتلونکې وژغورئ.**
**زه هر وخت ستاسې د ټولو خدمت ته تيار يم.**
**مننه.**
**( ټول خلک پاڅېږي، نجيب خپل تره جابر ته وګوري، ويې پېژني. د سترګي مه شي لپاره ورشي. نجيب لاسونه ورکړي او د درناوي لپاره ورټيټ شي، شېري ته هم لاس ورکړي، خو شېرى ډېر په کبر وروګوري او پيکه لاس ورکړي):**
**جابر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هلکه تا نه خو غټ سړی جوړ شوی دی.
که څنګه؟
نجیب
ـ دا خو د دنیا لار ده.
واړه غټیږي او غټان زړیږي.
شېرې
ـ هلکه! ډېر پوخ ګرځېدلی!
نجیب
ـ دا خو ساده خبره ده، دې کې خو د پوخوالي ما ته څه نه ښکاري.
( شېرې لومړی نجیب ته تروه وروګوري او بیا جابر ته ووایي):
شېرې
ـ جابره! څه چې ځو، ناوخته کېږي.
( هغوی ترې بې خدای پامانۍ روان شي).

اوه څلوېښتمه صحنه:
ځای: د جابر کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: سکینه او پښتنه.
( پښتنه په یوه کټ کې خپه غوندې ناسته وي، چې سکینه ورته راشي):
سکینه
ـ څه خبره ده جنۍ، چې دسې ګډوډه ناسته یې؟
ته خبره یې؟
( لومړی وروګوري او بیا ورته ووایي):
پښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ څه خبره ده؟

سکینه

ـ پاخېږه پاکې جامې دې واغونده. ماسپښین ته دې خلک مرکې ته راروان دي.

پښتنه

ـ مرکه؟!

د څه شي مرکه؟!

سکینه

ـ شېرې کاکا دې خپل زوی فرید ته غواړي.

( لړه جدي):

پښتنه

ـ تاسې ما نه پوښتنه کړې او که په خپل سر دا کار کوئ؟

سکینه

ـ دې کې د پوښتنې څه خبره ده.

په ښو کې تلوار په کار دی.

پښتنه

ـ خو دا کار ما ته ډېر بد ښکاري.

سکینه

ـ بد؟! ولې په څه شي درته دا کار بد ښکاري؟

پرخه

ـ تاسې ظلم کوئ، زیاتی کوئ.

سکینه

ـ دا ته په کمو ( کومو) ګډو وډو سر یې؟

د اولاد سره څوک زیاتې کېـ؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرخه**

**ـ تاسې د نجیب سره زیاتې کوئ.**

**ورکړېم ( ورکړې مو) هغې ته یم**

**او اوس مې کوژدنه د بل چا سره کوئ؟!**

**( سکینه حیرانه شي):**

**سکینه**

**ـ ستا د هغه ګوډ نوم په خوله څنګه راځي؟!**

**پښتنه**

**ـ ګوډوالی کم ( کوم) شرم نه دی.**

**سکینه**

**ـ شرم نور تور یي، که سپین؟**

**سبا به درته خلک د ګوډ ښځه وی.**

**ته دا شرم نه ګڼې.**

**پښتنه**

**ـ دا خو د خلکو ناپوهي ده،**

**چې د انسان ښکلا په وجود کې ګوري.**

**سکینه**

**ـ بس بس. همدومره څیر سترګي دې بس دی!**

**موټر لري، کور لري، څه شی دي، چې هغه یې نه لري؟**

**پښتنه**

**ـ هر څه لري، خو اخلاق نه لري.**

**( په غوسه):**

**ښه، یانې ته اوس د هغه ګوډ سره کوژدنه کې؟**

**پښتنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ګوډ هغه څوک دی، چې نه پوهه لري، نه علم او نه بل څه.
نجیب زما د تره زوی دی.
تاسې باید په خپله خبره ودرېږئ.
پښتانه په خپله خبره ودرېږي!!
( د مخ او شونډو په غوسه):
سکینه
ـ خو دا ارمان به دې پوره نه شي.
د لور او خور نه څوک په ورکړه کې پوښتنه نه کې.
ته لا څوک یې؟!
( له دې سره سکینه په غوسه روانه شي).

اته څلوېښتمه صحنه:
ځای: د خان صیب کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: خان صیب، نجیب، د خان مېرمن او پرخه.
( خان صیب په کټ کې ناست وي، غاړې ته یې تومانچه هم اچولې وي، خپله لونګۍ پر سر جوړوي، پښو ته یې نجیب او مخامخ کټ کې ورته پرخه او مېرمن یې ناسته وي، چې پرخه ورته وايي):
پرخه
ـ خان کاکا! دا کار په خدای او په تا شو، جابر خو نور را سره هېڅ ښه ونه کړه خو اوس چې راسره کم ( کوم) زیاتی کې، نو دا خو ډېره د شرم خبره ده.
خان
ـ ته سودا مه کوه، خدای به هر څه اسانه کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردۍ لوېږي او خوينديې څوک بل چا ته نه شي ورکولی.
تاسې دعا کوئ.
( دې سره خان پاڅېږي):
هغه ګولۍ مې راکه!
( مېرمن يې ګولې ورکړي. خان صيب مخکې او نجيب ورپسې روان شي او پرخه د دعا په حال کې ورته ګوري).

نهه څلوېښتمه صحنه:
ځای: د جابر د کور مخه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: شېری او د هغه لوچک مزاجه زوی فريد.
( د شېري موټر راروان وي، د جابر د کور مخې ته ودرېږي. شېری او فريد دواړه ترې راکښته شي).

پنځوسمه صحنه:
ځای: د جابر د کور يوه کوټه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: سکينه او ښتنه.
( د ښتنې سترګې له اوښکو ډکې وي، چې سکينه ورته ووايي ):
سکينه
ـ ګوره لورې د يوه مور و پلارم ( هم) په اولاد بده پېرزو نه يې.
دا نن چې کم کار کېږي، دا ستا د خير دپاره دی.
ښتنه
ـ خو ما ته ټول خير په نجيب کې ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د هغه څه ګناه ده؟**
**همدا يې ګناه ده، چې په يوه پښه معلول دی؟**
**سکينه**
**ـ خو دا دی تا پخپله وويل، د دې نه بله لويه خبره شته؟**
**پښتنه**
**ـ خو ما ته دا وړه خبره ښکاري.**
**چې زه ورسره کوژدن ونه کم، څوک به يې وکي.**
**ستاسې همدمره ظلم بس دی، چې له کوره مو وشړل.**
**( په غوسه):**
**سکينه**
**ـ دا نو ستا خوښه نه ده. ته ښځه نه شوې.**
**( پښتنه سر په زنګنونو کېږدي).**

**يو پنځوسمه صحنه:**
**ځای: د خان صيب کور.**
**وخت: ورځ.**
**لوبغاړي: پرخه.**
**( پرخه پر جاينماز ناسته سلام وګرځوي او لاسونه دعا ته پورته کړي):**
**پرخه**
**ـ خدايه ته راباندې پرده واچې.**
**خدايه ته مې زوی خلکو ته ټيټ سترګې نه کې!**
**دوه پنځوسمه صحنه:**
**ځای: د جابر د مېلمنو کوټه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت: ورځ.

لوبغاړي: جابر، خان صيب، شېرى، فريد، نجيب، ياسين، ګلو، د کلي يو ملا او درې څلور کسه نور.

( ټول په کوټه کې په سنجيده توګه ناست وي، فريد نجيب ته بد بد وګوري، خو دې کې شېرى جابر ته ووايي ):

شېرى

ـ جابرخانه!

که خوښه دې يې، ملاصيب ته به ووېو، ( ووايو) چې نکاح وتړي.

جابر

ـ سهي خبره دې وکړه. په توده کې سړه نه ده پکار.

شېرى

ـ ملاصيب! بس بسم الله که.

خان

ـ ملاصيب! ته لږ صبر وکه.

( شېرى او ټول خان صيب ته، په ځانګړې توګه فريد ورته په سرو سترګو وګوري):

خان صيب

ـ جابرخانه! ما دسې اورېدلي دي، چې تا په ورکوټيوالي کې خپله لور نجيب ته ورکړې ده.

دا سهي ده؟

( جابر وارخطا غوندې شي):

جابر

ـ نه، ما نه ورکړې ده او نه به يې ورکم.

چا دا خبره کړې؟

ياسين

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ مام ( هم) دسې اوربېدلي، چې تا دا کار کړی دی.
ګلو
ـ افضل دې خدای وبښي، هغه په خپله خوله ما تم ویلي و.
فرید
ـ خان صیب! ته دلته د خیر د کار پسې راغلی یې که بل څه غواړې؟
خان صیب
( په سنجیده انداز):
ـ هلکه ته غلې کېنه!
ګوره جابره! یوه خبره درته کوم، چې تر اوسه لا دلته داسې کار نه دی شوی، چې څوک دې ورکړې جنۍ بل چا ته ورکي.
پښتانه هر څه کې، خو په خپلو ارزښتونو سودا نه کې.
د ورور کونډې سره چې دې ښه ونه کړه، نو دا بد خو ورسره مه کوه.
جابر
ـ خان صیب! ما د ملیانو نه اوربېدلي، چې د ورکوټېوالي ورکړه سهي نه یې او بیا چې د جنې خوښه نه یې نکاح یې نه کېږي، که څنګه ملاصیب، همداسې نه ده؟
( د خان صیب په څېره کې لږ خپګان پیدا شي):

ملا صیب
ـ هو، په اسلام کې باید د جنۍ نه پوښتنه وشي.
خان صیب
ـ خو ملا صیب! د سړو هو، هو او نه، نه یې.
شېری
ـ خان صیب! ته په زوره شر جوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان

ـ شر تا جوړ کړی، چې په نکاح ښکلو ښځو باندې مرکې کې.

اوس به خبره په پښتو نه، په اسلام کوو.

( دې کې په لوی څادر کې پښتنه چې یوازې یې سترګې ښکاري د کوټې په دروازه راننوځي):

پښتنه

ـ خان کاکا! زه یې په ورکوټیوالي نجیب ته ورکړې یم.

که زما پلار په خبره نه ودرېږي، خو زه پښتنه یم.

نجیب زما د تره زوی او زما خاوند دی.

زه به بل هېڅوک ونه کم.

( ټول حیران شي او خان خوشاله شي):

شېری

ـ ته اوس د هغه ګوډ سره واده کې؟

ته سترګې نه لرې؟

(نجیب په افسوس شېري ته وګوري).

پښتنه

( په لړ جدت):

ـ ګوډ هغه څوک دی، چې نه علم لري او نه کمال.

افسوس په هغو خلکو چې په نورو کې عیبونه لټی، خو

خپلو ځانونو ته نه ګوري!

( فرید جنی ته ډېر بد بد وروګوري او پښتنه لاړه شي).

خان صیب

ـ اوس خوم ولیدل؟

په دې کې نوره خبره نه ځیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



گلو
ـ خان صیب! ډېر نېک کار وشو.
ډاکټر صیب مبارک دې يي.
یاسین
ـ مبارک، مبارک.
( پرته له شېري ټول مبارکي ورکړي):
( ټول پاځېږي):
فرید
( په بدمعاشانه انداز په داسې حال کې چې ټول له کوټې نه د وتو په حال کې وي):
ـ خان صیب! زه به د دې خبرې پوښتنه تا نه کوم.
خان صیب
ـ بچو! څوک چې اوښان ساتي، دروازې لوړې ږدي.
زه هر وخت ستا هر څه ته تیار یم.
( د تګ په وخت کې فرید نجیب ته ډېر بد بد وګوري).

درى پنځوسمه صحنه:
ځای: د خان صیب کور
وخت: مازیګر.
لوبغاړي: پرخه، د خان صیب مېرمن، خان صیب او نجیب.
( پرخه او د خان صیب مېرمن دواړه ناستې وي، چې پرخه یو اسوېلی وکړي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرخه
ـ تروري! خدای دې خیر کې، وخت يې ډېر تېر که.
د خان مېرمن
ـ سودا مه کوه، خان کاکا دې تر اوسه چا ته ټيټ سترګی شوی نه دی.
خدای به هر څه سم کي.
( همدې کې د تومانچې ډزې واورېدل شي دوی په وارخطايۍ ورپاڅېږي):
د خان مېرمن
ـ لکه چې د خوشالۍ ډزې دي؟!
( هغوی دواړه موسکۍ شي):
( پرخه تروره وي، دې کې خان او نجيب دواړه راشي په کټونو کې کېني):
ـ پرخه
( په يوه اندازه خوشالۍ):
ـ خان کاکا لکه چې خوشاله راغلۍ؟
( خان صيب خپله تومانچه په ګردنۍ کې کېږدي).
خان صيب
ـ همداسې يې درواخله.
مبارک دې شه.
پرخه
ـ خدايه شکر.
( د خان مېرمن په نجيب نقل وشيندي):
( خان او نجيب په کټ کې کېني):
د خان مېرمن
ـ ښه لږه کيسه خو وکه!
خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ټوله توره پښتنې وکړه!
د خان مېرمن
( په حیرانتیا):
پښتنې څنګه توره وکړه؟
خان صیب
ـ نر کار یې وکه، پښتو یې وکړه.
پرخه
ـ نجیبه! ته پوره خبره وکه!
نجیب
ـ مورې! زما ګومان نه کېده، چې پښتنه به داسې وکي، خو هغې زما معلولې پښې ته ونه کتل.
د شېرې جایداد او هر څه یې زما لپاره قبول نه کړل.
د خان مېرمن
پرخې لورې! بیا دې مبارک شه
پرخه
ـ ترورې! دا ټول د خان کاکا برکت دی.
داسې مشران دې خدای ټول عمر ژوندي لري.
په دسې خلک خو ټول ولس اباد یې.
خان
ـ څو ورځې وروسته به یې یوه شرنګېدلې کوژدن وکو.
( پرخه خوشاله شي).
د خان مېرمن
ـ خو ګوره په موږ ښځو کې هم پښتنې شته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



( خان لږ موسکی شي او پرخې او نجیب ته وګوري):

خان

ـ خو ګوره! تاسې د هغوی هېڅ بد په پام کې ونه نیسی.

نجیبه! جابر ته د خپل پلار په سترګه ګوره.

نجیب

ـ خان کاکا همدسې به کوم.

پرخه

ـ او زه به کاکا د پښتنې له ننګه ځان لوګی کم.

خان په موسکا:

خان

ـ ولې دا بم نه کی؟!

( اوله دې سره ډرامه د پرخې او نورو په موسکا سره پای ته ورسېږي).

نوټ: ددې صحنې شا ته دې په ټوله برخه کې په ورو د دې سندرې موزیک چې زه به جارو کم زیارتونه، شینکي بابا... واچول شي.

د روژې ۲۸مه کابل ـ ۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زنځیرونه

**کرکټرونه**

**غیاث: ۳۵- ۴۰ کالو یو تندخویه سړی، چې یوه اداره کې مامور او د نجونو د تعلیم مخالف او ښځه ورته یو ټیټ مخلوق ښکاري.**
**ملاله: د ۲۵ـ ۳۰ کالو تر منځ ترمنځ یوه ښکلې ښځه، چې معصومه څېره او ښه مخ ولري. شریف، اوسېله من او په خبره پوه کرکټر دی.**
**ثنا: د ملالې نهه یا لس کلنه لور، چې بې جراته څېره ولري. مظلومه ښکاري.، چې لویه شي، ښکلې ، مودبه او ذهینه پېغله وي.**
**حمید: اته کلن هلک، د ثنا ورور، چې نازولی او شیک وي، چې ځوان شي، خشنه څېره ولري او د لوفرانو په سټایل کې وي.**
**ایمل: د ۳۵ کالو په عمر د ثنا او حمید ماما یو شریف انسان. غریب وي. په بدن لږ خوار وي، خو په معقولو خبرو پوهېږي.**
**اکرام: د غیاث د دفتر همکار مامور، چې ۴۰ـ ۵۰ کالو پورې عمر لري، په خبره پوه او د ښځو د تعلیم پلوي وي.**
**منیجر: د پاخه عمر یو شریف انسان.**
**د ثنا همکار: یو لوفر او د ټیټو اخلاقو څښتن، ځوان کرکټر.**

**فرعي: کرکټرونه: د پاخه عمر یوه ښځه، د ښوونځي نجونې، په لومړي سر کې د ماشوم حمید یو ټولګیوال، او په یوه صحنه کې دوه نور لوچکان او یو د ښه کرکټر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلمی.

لومړۍ صحنه:

ځای: یو غریبانه کور.

وخت: سهار.

لوبغاړي: ملاله، ثنا، غیاث او حمید.

( سهار وي، د سترخوان غوړېدلی وي. غیاث او حمید، چې یوه د دفتر او بل ښوونځي ته د تګ لّپاره دریشي اغوستې وي، پر توشک او ملاله اوثنا ورته مخامخ پر فرش ناسته وي. په ګیلاسونو کې دواړو ته د شیدو چای اچول شوی وي او په یوه قاب کې دوه جوش کړې هګۍ ورته هم پرتې وي، خو د ثنا او ملالې مخې ته ګیلاسونه له شنو چایو نه ډک وي. غیاث یوه هګۍ سپینه کړي او حمید ته یې ونیسي):

غیاث

( په مینه)

ـ هن! واخله!

( هغه یې واخلي او په خوراک یې پیل وکړي، خو په دې وخت کې ثنا په داسې انداز حمید ته وګوري، لکه جوش شوې هګۍ ته چې یې ډېر زړه شوی وي. پلار او زوی په خوند خوند لګیا وي چای څښي، خو ثنا داسې وي، لکه په زور چې خوراک کوي، یانې شین چای خوند نه ورکوي. په همدې وخت کې مور ته نږدې شي او په بې زړه توګه هګۍ ته وګوري ، خو په دې وخت کې یې پلار وګوري او په سترګو کې بد بد وروګوري. لږه شېبه وروسته غیاث ملالې ته ووایي):

( لږ توند انداز):

غیاث

ـ موټر سایکل دې پاک کړی دی؟

ملاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دا دی اوس به یې پاک کم.
غیاث
ـ زر ورشه!
( ملاله پاځېږي، له کمرې اوځ شي، خو د چای ګیلاس دې یې وښودل شي).

دویمه صحنه:
ځای: د همدغه کور حوېلۍ.
وخت: سهار.
لوبغاړي: د لومړۍ صحنې ټول غړي.
( ملاله ټوټه په لاس لومړی د موټر سایکل پورته برخه پاکه کړي، بیا کښني لاندې برخه یې پاکه کړي، خو دا هر څه په ډېر اخلاص کوي، هغه لا په پاکولو لګیا وي، چې څه شېبه وروسته غیاث راشي):
( لږ په تریو تندي):
غیاث
ـ لرې شه، پاځېږه!
( هغه لږ څه په بې زړه انداز پاځېږي، په دې وخت کې دې د ملالې د څېرې بېوزلي وښودل شي. غیاث په کبرجن انداز موټر سایکل چالان کړي او حمید ته ووایي):
غیاث
ـ کښېنه.
( هغه کښني، موټر سایکل روان کړي، خو دې وخت کې دې ثنا وښودل شي، چې په غمجن انداز هغوی ته وګوري او داسې ښکاري، لکه چې د هغې هم ښوونځي ته ډېر زړه کېږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درېیمه صحنه:**
**ځای: ښار.**
**وخت: سهار.**
**لوبغاړي: غیاث او حمید.**
**( د ښار په یوې برخې کې دواړه روان وي).**
**څلورمه صحنه:**
**ځای: د غیاث کور.**
**وخت: سهار.**
**لوبغاړي: ملاله او ثنا.**
**( ملاله په داسې حال کې چې په تناب یو څه جامې اچول شوې وي، په لګن کې جامې مینځي. لومړی دې په لګن کې ځګونه وښودل شي، چې ملاله جوخته جوخته لګیا وي. دې وخت کې دې ثنا وښودل شي، چې په کتابچه کې په پنسل څه لیکي).**
**پنځمه صحنه:**
**ځای: د ښوونځي یوه مخه.**
**وخت:سهار.**
**لوبغاړي: غیاث او حمید.**
**( غیاث د ښوونځي مخې ته موټر سایکل ودروي. حمید ترې کښته او روان شي، لږ چې لاړ شي، پلار ته مخ راوګرځوي. پلار یې ورته په مینه د خدای پامانۍ لاس وښوروي).**
**شپږمه صحنه:**
**ځای: د غیاث کور.**
**وخت: سهار.**
**لوبغاړي: ملاله او ثنا.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( د ملالې جامې مینځل داسې وي، لکه د خلاصېدو په حال کې چې وي. پر تناب یو مینحل شوی څادر اچوي، چې دې کې ورته په داسې حال کې چې ثنا لا لیکل کوي، غږ کړي):

ثنا

ـ مورې! یه مورې!

ملاله

ـ درغلم، صبر وکه!

( څادر پر تناب وغوړوي او ورشي):

ملاله

ـ څه خبره ده؟

ثنا

ـ ښوونځی مورې څنګه لیکل کېږي؟

ملاله

ـ ته راکه قلم!

( ملاله ورته ښوونځی ولیکي).

ملاله

ـ هن! دې ته ګوره او همدسې یې لیکه.

( ثنا کتابچې ته وګوري، خو مور ته ووایي):

ثنا

ـ مورې! ما ته داسې ولیکه چې:

زما ښوونځی ډېر خوښ دی.

ملاله

ـ ښه دا به درته ولیکم، خو زر زر یې ولیکه چې د کور کار راسره وکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې دې ولیکه، الوګان به سپین کې.
( مور یې جمله ولیکي. ثنا جملې ته ګوري. د مور جمله چې لیکي، له ځانه سره یې
ورو هم وایي. ).
ملاله
ـ شاباس! همداسې یې لیکه.
( ملاله پاڅېږي. هغه لیکل کوي او له ځانه سره یې ورو وایي هم).
اوومه صحنه:
ځای: کور.
وخت: غرمې ته نږدې.
لوبغاړي: ملاله.
( ملاله د کور انګړ جارو کوي او داسې ښکاري، چې په ډېر اخلاص کار کوي).
اتمه صحنه:
ځای: د ښوونځي یوه برخه.
وخت: غرمې ته نږدې.
لوبغاړي: حمید او یو بل ماشوم ټولګیوال یې.
( د هغه بل لاس کې کتابچه وي، حمید یې ترې راکاږي او ویې شکوي):
هغه بل هلک
ـ ولې دې راته کتابچه وشکوله.
( په ګواښ):
حمید
ـ دغسې مې وشکوله، څه ویلی شې؟!
هغه بل هلک
ـ زه به تا سره ګورم. والله چې ټولې کتابچې دې وشکوم.
( حمید وروړاندې شي او په ګواښ ورته وایي):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حمید**

**ـ زما کتابچې؟! والله دومره دې ووام، چې یاد یې لرې.**

**ځه!**

**( له دې سره یې ټېل وهي. هلک وغورځېږي. حمید ورته وګوري او ترې روان شي).**

**نهمه صحنه:**

**ځای: کور.**

**وخت: غرمې ته نږدې.**

**لوبغاړي: ملاله او ثنا.**

**( ثنا لګیا وي، په کور کې په کوچنیو ګوتو په چاقو سره الوګان سپینوي، چې مور یې جارو په لاس راشي):**

**ملاله**

**ـ زر کوه، چې غرمه نزدې ده.**

**ثنا**

**ـ دا دی خلاص شول.**

**مورې د پلار زه ولې بدې شم؟**

**ملاله**

**ـ ته خو یې بدې نه شې، ته خو ورته ډېره ګرانه یې.**

**ثنا**

**ـ مورې ته ما ته دروغ وی، ( وایې).**

**ملاله**

**ـ ما تا ته کله دروغ ویلي.**

**ثنا! دا دې څه وویل؟!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ثنا**

**ـ مورې! زه رښتيا ويم. که زه پلار ته ګرانه وی، نو زه بم (به هم) ښوونځي ته تلی.**

**( ملاله داسې شي، لکه بې ځوابه چې وي):**

**ملاله**

**( اسويلی):**

**ـ لورې! بس پلار دې مکتب بد ګڼي.**

**ګڼې هغه ته خو ما ډېر وويل.**

**ثنا**

**ـ مورې! زما ښوونځي ډېر خوښېږي.**

**خير دی پلار ته ووايه،**

**چې ما مکتب کې واچی.**

**ملاله**

**ـ ښه! اوس دا الوګان راکه، چې ناوخته دی.**

**( ثنا سپين کړي الوګان ورکړي او ملاله پاځېږي).**

**لسمه صحنه:**

**ځای: يو دفتر.**

**وخت: غرمه.**

**لوبغاړي: غياث او اکرام ( يو مامور).**

**( دواړه په دفتر کې پر چوکيو مېزونو ته ناست وي، خو غياث لږ خپه غوندې وي):**

**اکرام**

**ـ غياث خانه! يو خو مې ته هېڅکله خوشاله ونه ليدې.**

**بيا څه خبره ده؟**

**غياث**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ چې رښتیا درته وویم، یوې خبرې ته فکر وړی یم.
اکرام
ـ څه خبره ده؟
غیاث
ـ خبره دا ده، چې خدای دې چا ته لور نه ورکی!
( په لږه حیرانتیا او موسکا):
اکرام
ـ بس همدا؟!
یره زوروړ سړی یې.
چې لور او مور نه وی، زه او ته به چېرته وو؟!
ما ویل، ګنې په کوم غم اوښتی یې.
غیاث
ـ ولې لور تا ته غم نه ښکاري؟!
له پیدایښته نیولې، تر مرګه پورې یې څوک له غمه نه شي خلاصېدی.
همدومره غم بس نه دی؟
اکرام
ـ ګوره! دا سهي ده، چې مورږ او تاسې زامنو ته خوشالېږو،
خو دسې لونې شته، چې له زامنو نه ښې یي.
بله دا چې کومه خواخوږي، چې لور له پلار سره لري،نو ډېر زامن شته چې نه یې لري.
غیاث
ـ یاره د لور دې هغه خواخوږي ورکه شي.
یو څوک چې د بل لپاره لوېږي، د هغې به خواخوږي، څه یي؟!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوه يې.
زوی، خو زوی يي.
اکرام
ـ څه درته ووېم، عجيب سړی يې.
په ښځه خو نړۍ ودانه ده.
خير، بله ورځ به درسره زه سمې خبرې وکم.
( ساعت ته دې وګوري):
اوس څه چې ځو
د تګ وخت دی.
( دواړه له چوکيو پاڅېږي).

يوولسمه صحنه:
ځای: کور.
وخت: غرمه.
لوبغاړي:
( ملاله دېګ لړي، چې لړه شېبه وروسته ثنا ته په داسې حال کې چې هغه لا په پنسل ليکل کوي، غږ کړي ):
ملاله
ـ يه جنۍ! ته هغه دسترخان خور که.
د پلار د راتلو وخت دې دی.
ثنا
ـ دا دی مورې پاڅېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ثنا پاڅېږي. ملاله لا دېگ لړي، چې ثنا د سترخوان خور او درې ډوډۍ پرې کېږدي).

**دولسمه صحنه:**
**ځای: حوېلۍ او بیا کوټه.**
**وخت: غرمه.**
**لوبغاړي: ملاله، ثنا، غیاث او حمید.**

( غیاث او حمید په موټر سایکل کور ته راننوځي. ملاله لږه مخې ته ورشي او په مینه ورته ووايي):

ملاله

ـ راغلئ!

( غیاث تندی تریو کړی وي، ځواب ورنه کړي. حمید او غیاث د ډوډۍ کوټې ته لاړ شي. دسترخوان ته کېني. ثنا لوټه او چیلمچي راوړي، دواړو ته اوبه واچوي. ملاله الوګان او لږ نور څه راوړي. هغوی، چې کله ډوډۍ وخوري. ملاله او ثنا دسترخوان ځان ته رانږدې کړي او پاتې شونې خوراک ته کيني. یو څو مړۍ چې وکړي، نو ملاله په بې زړه انداز غیاث ته ووايي):

ملاله

ـ که خپه کېږې نه، یوه خبره درته کوم.

( هغه د سترګو یو ارام، خو زهرجن حرکت وکړي او بیا ورته ووايي):

غیاث

ـ بیا څه خبره ده؟

ملاله

ـ دومره خبره نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( لږ جدي):
غیاث
ـ چې دومره خبره نه ده، مه یې کوه.
(ملاله سترګې ټیټې او بیا پورته کړي):
ملاله
ـ د ثنا ښوونځی ډېر خوښ دی.
خیر دی داخله یې که، اوس خو ډېرې جنکۍ ښوونځی وايي.
( غیاث سترګې برګې کړي او په یوه اندازه جدیت ووايي):
غیاث
ـ ګوره! ما تاته څو ځله ویلي، چې زه په لور مکتب نه ویم..
ته زما نه ښه نه پېږې.
( د ثنا بېوزلي دې وښودل شي).
ملاله
ـ اخر دا نور خلک بیا ولې په لوڼو تعلیم کېږي؟!
هغه خوم (هم) جنکۍ دي؟!
( جدیت)
غیاث
ـ نور، نور دي او زه زه یم.
ولې ته ما نه پېژنې؟!
ملاله
ـ ما ته خو دا ډېر زیاتی ښکاري،
( ډېر لږ سکوت)
دې وخت کې چې څوک تعلیم نه لري، نو په ړانده حساب دی.
ته ثنا ولې په لوی لاس ړندی؟!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په لږه غوسه):

غیاث

دا د ښځو خپله ګناه ده.

نر، نر او ښځه، ښځه يي.

او بیا ته څوک یې چې ما ته لار ښیيې؟!

ملاله

ـ ولې؟ اخر زما م (هم) اولاد دی. زه د ثنا راتلونکې ته خپه یم.

سهي ده، حمید هلک دی، خو ګوره دا معلومه نه ده، چې خیر په چا کې دی؟!

( غیاث له غوسې سترګې سرې کړي):

غیاث

ښځه مې لا نه لیده او دومره نصیحتونه، نوره غلې شه!

( ملاله د وېرې یو حالت خپل کړي. ثنا هم ووېرېږي):

غیاث حمید ته

ـ هلکه راځه، چې ځو.

دا ښځه د سرې اعصاب خرابی.

( دواړه له کمرې اوځ شي، خو ملاله او ثنا غمجنه وي).

دیارلسمه صحنه:

ځای: یو پارک.

وخت: مازیګر.

لوبغاړي: غیاث او حمید.

( لومړی دې په پارک کې نور ماشومان وښودل شي. وروسته دې حمید وښودل شي، چې سور یخن او تازه رنګ پتلون یې اغوستې له ځانه سره د تیکواندو سپورت کوي، لغتې وهي او پلار یې ورته په داسې حال کې چې سیګرټ څکوي، خوشاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، په پای کې ورته غیاث د بلنې لاسونه په مینه ونیسي. حمید ورته رامنډه کړي او په غېږه کې يې په مینه ونیسي).

خوارلسمه صحنه:

ځای: د ښار يو واټ.

لوبغاړي: غیاث، حمید او يو د ایس کریم والا.

( غیاث دوه ایسکریمونه حمید ته واخلي او حمید په نازدانه ډول ایس کریم خوري او له پلار سره روان وي).

پنځلسمه صحنه:

ځای: د غیاث کور.

وخت: مازیګر.

لوبغاړي: غیاث، حمید، ملاله، ثنا او ایمل.

( ثنا په کور کې په کتابچه کې لیک کوي، چې لږه شېبه وروسته غیاث او حمید کور ته راننوځي. حمید لګیا وي، دویم ایس کریم خوري، ثنا يې وګوري او چې پلار يې راشي، کېني، نو ثنا لږه وروړاندې شي):

ثنا

ـ پلاره! ما تم ( ما ته هم) لس روپۍ راکه.

ایس کریم اخلم.

( غیاث په سترګو کې بد بد وروګوري او بیا ورته ووايي):

غیاث

ـ لس روپۍ راکه!! د لس روپو نه خبره يې او که نوم دې اورېدلی.

( ثنا په ډېر مظلومیت وروګوري او مخ ترې د راتګ په وخت کې په خپګان راوګرځوي).

غیاث

ـ څه شوه، هغه مور دې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ثنا**

**ـ ګاونډیانو کره تلې ده.**

**( په هیبت)**

**غیاث**

**ـ ګاونډیانو کره؟!**

**هلته څه کې؟**

**ثنا**

**ـ مور ناروغه ده.**

**( په غوسه)**

**غیاث**

**ـ زه به د دې خوښ شم.**

**اوس لا په کورونو ګرځې؟!**

**( دې کې ملاله د کور پر دروازه راننوځي او راشي):**

**غیاث**

**ـ چېرته تلې وې؟**

**ملاله**

**ـ دا څو ورځې کېږي، ډېره ناروغه یم.**

**ته خو اوزګار نه یې، ما ویلې، سبا به د دې ګاونډې ښځې سره ډاکتر ته لاړه شم.**

**( غوسه ناک ډول):**

**غیاث**

**ـ ګوره ښځې!**

**که بل وار مې په دې کار ولیدې، نو دا پوزه دې په ببخ کې پرېکوم.**

**( په صبر سره):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاله

ـ دا خو دومره بده خبره نه ده.

غټه ښځه راسره ځي. زه ډېره ناروغه یم.

غیاث

ـ ډېره ناروغه یم؟!

د څه ناروغه يې؟!

سبا چې هلته لاړې، بله ورځ به په مارکېټونو کې ګرځې.

( جدیت):

په هر شي باور شته، خو په ښځه نشته.

ملاله

ـ میاشت له اولې ورځې نه مالومېږي.

په دسې خبرو ګوره نوره زه ډېره خپه کېږم.

غیاث

ـ په هغه ښې ښځې دې لعنت يې.

او بیا ته لا داسې کمه ( کومه) بي بي يې؟!

ملاله

ـ که ستا دغه حال وي، نو دسې ژوند خو نه تېرېږي.

اخر زم ( هم) انسانه یم.

زم څه حق لرم.

( غیاث ورپسې ورپورته شي، ښه ورنږدې شي او لکه د وهلو ګوابښ چې ورته کوي):

غیاث

ـ د څه شي حق؟!

بس خوره سکه حساب مه منه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورم ( هم) څه غواړې؟!
ملاله
ـ دومره لا سپکه م (هم) نه یم.
له دې ژونده خو مرګ ښه دی،
چې بې ګناه بې خطا هر وخت رټل کېږم.
یوه خبره م (هم) نه شم کولی.
( دې کې سترګو ته لاس ونیسي او بیا یې اوښکه تویه شي. همدې وخت کې د ملالې ورور ( ایمل) کور ته راشي او چې د خور اوښکې وګوري، نو حیران شي، ملاله اوښکه پاکه کړي او انداز داسې کړي، لکه هېڅ خبره چې نه وي):
ملاله
ـ وروره! ستړی مه شې. راځه.
ایمل
ـ خیر یوسې. خیر خو دی؟
خپه غوندې ښکارئ.
ملاله
ـ هېڅ م (هم) نشته، خیر دی.
(ایمل کېني او غیاث ته وروګوري):
ایمل
ـ غیاث خانه!
تا خو ستړې مه شي هم راته ونه کړه.
غیاث
ـ همدومره بس دی، چې د دې شیشکې خور بې شرمۍ ته دې ناست یم.
ایمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خورې! ولې؟ دا خاوند دې څه وايي؟!
په څه درنه خپه دی؟
ملاله
ـ خدای مې دې ژونده کي، که به مې له يوې نه دوه کله ورسره کړې يي.
ايمل
ـ خورې! زما ستا په هر څه باور دی.
غياڅه وروره! خير دی تم ( ته هم) لږه ګوزاره کوه. ژوند په ګوزاره کېږي.
( غياث سترګې برګې کړي):
غياث
ـ هلکه ته دې خپل ځی وپېژنه؟!
خور دې وله، نوره مې نه ده په کار.
ايمل
ـ ګوره غياڅه! دا وړې وړې خبرې په هر کور کې راځي، په دومره خبره څوک ښځه له کوره نه شړي!!
کله کله دوه لوښي هم اواز کی!
غياث
ـ بس درته ومې ويل، دا لوښی دې نور تا ته مبارک وي.
ايمل
ـ ګوره ماغزه دې لږ ارام که، سبا به بيا پښېمانه يې.
خلک واده کړې ښځې په کور نه کېنی.
غياث
ـ دا خبرې هغه څوک کی، چې خويندې نه شي ساتلی.
او په واده کې يې د مېږه کور ته تش لاسې لېږي.
خوله سمه خوځوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمل

ـ خورې! اوس دې دلته نه پرېدم.

پاڅېږه! پېغور يې راکه.

( ملاله ډېره خپه وګوري).

ملاله

ـ زه نه ځم.

ایمل

ـ ولې نه ځې؟ هغه دې شړي او ته ناسته يې؟!

پاڅېږه، چې ځو.

غياث

ـ هغه پوهېږي، چې ورور يې خپل ځان نه شي ساتلی، نو خور به څنګه وساتي؟!

( د ایمل احساسات په سترګو کې څرګند شي او په متينه لهجه وايي):

ایمل

ـ چې دسې ده، نو زه به تا ته دا وښيیم، چې يو پښتون ورور په خور څنګه ننګ کيږ؟!

خو دومره درته ويمه، چې بيا يې ګوره پوښتنه ونه کې.

غياث

ـ تا دې خدای نر کې، وله يې.

( په غوسه):

ایمل

ـ ملالې راځه. له دې کوره هېڅم ( هېڅ هم) راوانخلې.

غياث

ـ ګوره زه به دې پښتو ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ایمل**

**ـ بې غمه شه، دا هر څه به وخت وښیي.**

**( د ملالې زړه نه کېږي، خو په کراره روانه شي. حمید هم ورسره روان شي، خو غیاث ورشي، په غوسه یې له مټ نه ونیسي او په زوره ټک سره یو ځای ورته ووایي):**

**غیاث**

**ـ راځه! ته چېرته ځې؟!**

**( د تللو پر وخت دې ماشومه ثنا یو ځل خپل پلار ته په غمجن انداز لړ وګوري او له دې سره دې د کور له دروازې ووځي).**

**شپاړسمه صحنه:**

**ځای: د غیاث کور.**

**وخت: ماښام موده.**

**لوبغاړي: غیاث او حمید.**

**( هغوی، چې له کوره ووځي، غیاث په کور کې کېني او په یوه اندازه غوسه حمید ته غږ کړي):**

**غیاث**

**ـ هلکه! دلته راشه!**

**( هغه ورشي):**

**غیاث**

**ـ چې هر شی غواړې، زه یې درته اخلم.**

**خو که د ماما کره دې تلی وې، نو بیا ونه وی ( وایې).**

**پوه شوې که نه؟!**

**حمید**

**ـ سهي ده، نه ځم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( حمید کرار کرار په پښه ځمکه وګروي):
حمید
ـ پلاره ته ولې هر وخت په قار یې؟
غیاث
ـ دې دنیا کې قار ضروري دی.
دلته چې غلی شوې، نو نور دې خوري.
ته وګوره، چې دنیا کې هر کمزوری د زورورو خوراک دی.
حمید
ـ ښځه خو له نر نه کمزورې ده.
ته مور ته ولې هر وخت په قارېږې؟!
غیاث
ـ دا سهي ده، خو که کمزوري ته وخت ورکړل شي، نو بیا زورور خوري.
او دا خبره میم ( مې هم) واوره!
له دې وروسته ګوره مور دې په زړه کېم ( کې هم) تېره نه کې.
دسې وګڼه چې هغه مړه ده.
پوه شوې؟!
( حمید لکه خپه او وېرېدلی چې وي، چې یوازې ورته سر وښوروي).
اولسمه صحنه:
ځای: د ایمل غریبانه کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: ایمل، ملاله او ثنا.
(درې واړه سره ناست وي چې ایمل ملالې ته ووایي):
ایمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خورې! خدای شته. دومره څه به رارسی، چې زموږ ستاسې گوزاره پې وشي.
گوره !چې هېڅ خپه نه شې.
ملاله
ـ وروره! ما اورېدلي، چې روزی ته خپگان مه کوئ.
روزي د مرگ غوندې انسان پسې خپله روانه يې،
خو يو ارمان به مې په زړه کې پاتې شي.
ايمل
ـ د څه شي ارمان؟
ملاله
ـ د ثنا ښوونځي سره ډېره مينه ده.
( په ډاډمنتيا):
ايمل
ـ دا خو هېڅ خبره نه ده.
سر له سبا به يې په ښوونځي کې داخله کم.
ثنا
ـ ماما! زه ډېر شيان اوسم (اوس هم) ليکلی شم.
ايمل
ـ خورې يوه خبره درته کوم، زه هلته ستا په اوسېدو خوشالېږم،
خو پخپله به نه ورځې. چې ښې زاری يې درته نه وي کړې،
گوره چې ما ټيټ سترگې نه کې.
ملاله
ـ خو زه په دې يرېږم، چې هغه حميد په خپل خوی نه کي.
د هغه به څه حال شي؟!
ثنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ماما! زه به ښوونځي ته کله ځم؟

ایمل

ـ سبا ته.

بکسه ، قلمونه، کتابچې هر څه به درته واخلم.

سهي شوه؟!

( لومړی لړه وروګوري):

ثنا

ـ زما څومره ښه ماما دی.

( او له دې سره ترې په مینه لاسونه چاپېر کړي).

اتلسمه صحنه:

ځای: د غیاث دفتر.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: غیاث او اکرام.

( اکرام په دفتري کار ځان لړ بوخت وساتي، بیا دې غیاث وښودل شي، چې د خپګان یو حرکت وکړي او داسې وي، لکه په فکر کې چې ناست وي، اکرام یې د سترګو لاندې ووینې):

اکرام

ـ وایه کنه غیاث خانه بیا څه خبره ده؟

غیاث

ـ بس خبره خلاصه شوه.

اکرام

ـ کمه خبره؟

غیاث

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نور به په کور کې یوازې یم.
اکرام
ـ دا ولې؟ ماشومان دې څه شول؟
غیاث
ـ له هغوی نه خو مې ځان خلاص که.
اکرام
ـ څنګه دې ځان خلاص که؟
غیاث
ـ زوی مې راسره دی، لور او مېرمن مې د خسر په کور کېنول.
اکرام
ـ دا خو دې ښه نه دي کړي.
په لوی لاس دې خپل کور وران کړی دی.
( لږ سکوت):
خیر، اوسم ( اوس هم) څه نه دي تلي، ورشه او رایې وله.
او رښتیا اصلي اختلاف مو له څه نه پیدا شو؟.
غیاث
ـ اکرام خانه! زه په لور مکتب نه ویم او مېرمن به مې په دې خبره هره ورځ ټینګه وه.
اکرام
بس همدومره خبره؟
غیاث
ـ ولې دا تا ته وړه ښکاري؟!
( په موسکا سره):
اکرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ چې یو لوستی دا خبره کوي،**
**ـ له نورو به سړی څه ګیله وکي؟!**
**غیاث**
**ـ ګوره! داسې نه ده، چې زه د تعلیم په ارزښت نه پوهېږم، خو...**
**اکرام**
**ـ خو؟! د څه شي خو؟.**
**غیاث**
**ـ زما دا مطلب دی، تر هغه چې په دې ټولنه کې خلک نه وي اصلاح شوي، د ښځو زده کړه نه څه مانا لري او نه هم کومه ښه پایله.**
**اکرام**
**ـ تا خبره ډېره پاخه انداز ته بوتله.**
**غیاث**
**ـ دا خو ساده خبره ده.**
**ته وګوره، زموږ خلک څومره بې لارې دي.**
**مور یا خور به درسره روانه یي، خو ټولو خلکو به ورته**
**له سره تر پښو سترګې څلور کړې یي.**
**که چېرته ستا ځوانه لور په سرک روانه یي او وروسته ورپسې شپېلي وهل کېږي،**
**په دسې وخت کې به له هغه کس سره ته څه وکې؟!**
**اکرام**
**ـ دا خبره دې سهي ده، خو دا هم له نالوستی نه ده او تر هغه چې ټول لوستي نه شي، نو**
**دغه اخلاقي کمزوری به په ټولنه کې يي.**
**غیاث**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دې نه مالومه شوه، چې زما خبره سهي ده.
ځکه نو تر څو چې د نارینو اخلاقي کمزوري اصلاح نه شي، په دې ټولنه کې د ښځو زده کړه پسات رامنځ ته کيږي.
او ګټه هم نه لري.
اکرام
ـ دا خو زه نه منم. د دې خبرې دا مانا ده، چې موږ باید سلګونه کاله دې ته صبر وکو او په بدل کې خپل نیم ولس په تیارو کې وساتو. دا خو په ټوله مانا یو غلط سوچ دی.
بله دا چې د هر کار په کولو کې څه خنډونه یي.
خو دا سهي نه ده چې له خنډ سره دې انسان کار پرېږدي.
غیاث
ـ خو ځینې کارونه د غره هومره اوسپله غواړي.
اکرام
ـ با الکل. اوسپله خو د ژوند تېرولو مجبوریت دی.
چې اوسپله نه يي، نو کله کله انسان بیا ډېر واړه کارونه هم نه شي کولی.
خیر دا خبرې به پرېږدو، ورشه بېرته دې واړه راوله.
ځان نه لېونی مه جوړوه.
ګوره! بې ښځې کور خو په کنډر حساب یې
غیاث
ـ وي به، خو دا دې نه دي اوربدلي، چې توکلې لاړې بېرته خولې ته نه راځي.
( د غیاث څېره دې د دې خبرو پر وخت ورو ورو کلوز شي).
نولسمه صحنه:
ځای: د نجونو یو ښوونځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت: ورځ.
لوبغاړي: ثنا او د ټولګي نور نجونې.
( نورې جنکۍ پر چوکیو ناستې، خو ثنا تختې ته ولاړه او په یوې لښتې پر تخته لیکل شوی درس نورو ته بې غږه ښيي او بیا استاذه او نورې زده کوونکې ورته چکچکې وکړي).

شلمه صحنه:
ځای: د ښار یوه برخه.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: ایمل.
( ایمل په ښار کې یو لوی پنډ په شا کړی او روان وي، یانې جوالي وي).
یویشتمه صحنه:
ځای: د ایمل کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: ملاله.
( ملاله په یوه زاړه کټ کې ناسته وي، چې په فلش بک کې لاړه شي او د حمید هغه صحنه یې سترګو ته ودرېږي، په کومه ورځ چې یې غوښتل له مور سره هغه هم راشي، دې کې ایمل راشي).
ایمل
ـ خورې!
( ملاله په داسې حال کې چې له سترګې یې یوه اوښکه روانه وي، یو ډېر وړوکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوپ وکړي، له فلش بک څخه راووځي، په موسکا ووايي):
ملاله
ـ وروره! راغلې، ستړې مه شې!
ایمل
ـ خیر یوسې، خورې لږه مېوه مې درته راوړې ده!
هن! دا واخله!
( خلته ورکړي، د موسم کومه تازه مېوه په کې وي، د اخیستو په وخت کې ملاله ورته ووايي):
ملاله
ـ وروره! دسې مه کوه، دې ته څه حاجت و؟! مورې ته چې وچه ډوډۍ م ( هم) راورسېږي، غټه خبره ده.
ته څومره په خوارۍ روپۍ ګټې؟
ایمل
ـ خورې! خپه کېږه مه. خدای شته. خویندې خو په وروڼو ډېر حق لري.
دوه ویشتمه صحنه:
ځای: یو پارک.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: وړوکی حمید، ورپسې د پاخه حمید ( د لوفر په سټایل کې، چې ډېر وخت په غاړه کې دستمال، په لاس کې تور بنګړی ګرځوي، پتلون یې کړی او د مچ هومره ږیره ولري)، بل وړوکی ماشوم او بیا همدغه په لوی بدل شي.
نوټ: تر دې وروسته د ډرامې واړه کرکټرونه لوېږي او د لویانو عمر پخېږي.
( وړوکی حمید له خپل یو بل همزولي سره فوټبال کوي. دواړه په توپ پسې په شریکه منډې وهي، بیا دې د هغوی پښې وښودل شي، په منډه کې دواړه کوچنیان لوی شي. د منډې په یوې برخې کې هغه بل ځوان په ناپامۍ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمید په سینه لاس په زوره کېږدي، حمید وغورځېږي. حمید په ملاسته په غوسه وروګوري، بیا زر پاڅېږي، هلک ته په غوسه وګوري او بیا یې د پلار هغه خبره په فلش بک کې رایاده شي،)

خبره

ـ دلته چې غلی شوې، نو نور دې خوري.

( د دې خبرې په یادېدو سره هغه خپل ملګری یو کلک سوک ووهي، هغه وغورځېږي. ملګری یې حیران شي، راپاڅېږي او په حیرانتیا ورته ووایي):

د حمید ملګری

ـ حمیده ! ولې؟ تا خو زه ووهلم؟!

( حمید ورته لاندې باندې بد بد وګوري):

حمید

ـ دلته هر کمزوری د زورور خوراک دی.

( او د لوفرانو په سټایل کې ترې روان شي، خو داسې دې عکاسي شي، چې له سترګو نه یې بدمعاشي ښکاره شي).

درویشتمه صحنه:

ځای: یو هال.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: ثنا، یوه پخه ښځه او نورې نجونې.

( پخه ښځه د ثنا په غاړه کې یو مډال اچوي. ( ثنا حجاب اغوستی وي) چکچکې کېږي او ثنا د لاس په اشاره په موسکا سره مننه کوي او خوشاله وي )

څلرویشتمه صحنه:

ځای: یو هوټل یا لوکسه کوټه.

وخت: ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوبغاړی: حمید او درې کسه نور لوچک مزاجه ځوانان.**

**( لومړی دې د هلکانو یوه خندا ثبت او بیا دې کمره پر هغوی ودرېږي. هلکان جوسونه څښي):**

**یو ځوان حمید ته**

**ځوان**

**ـ حمیده! مکتب دې کوم ځای ته ورساوه؟**

**(حمید بل ته وګوري او بیا پوښتونکي ته لاس ونیسي او په ریشخند ووایي):**

**حمید**

**ـ ده ته وګوره! یویشتمه پېړۍ او مکتب؟!**

**ناخبره! اوس خو هر څه په نېټ کې شته. ته لا اوس هم مکتب یادی ( یادوې)؟!**

**( له دې سره بې له پوښتونکي نور درې واړه هم په زوره وخاندي).**

**( ځوان لږ خجالته غوندې شي):**

**ځوان**

**ـ ګوره دسېم ( داسې هم) نه ده.**

**نېټ نېټ او مکتب، مکتب دی.**

**پلار دېم ( دې هم) څه درته نه وی ( وایي)؟!**

**( په ریشخند او پوکۍ سره):**

**حمید**

**ـ اوس یې خوند وکه.**

**ناخبره انسانه! د فیس بوک نه لکه چې نه یې خبر؟!**

**فیس بوک داسې شی، دی، چې هم دپلار، هم د مور، هم د خور،**

**د هر شي کار ورکی.**

**ظالمه! فیس بوک ته ننوځه، چې له ژونده خبر او له مور و پلاره په کې خلاص شې!.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( له دې سره پرته له پوښتونکي ټول په زوره وخاندي).

پنځه ویشتمه صحنه:

ځای: د ایمل کور.

وخت: ورځ.

لوبغاړي:

( ملاله په داسې حال کې چې سپینې عینکې یې پر سترګو، په زاړه کټ کې ناسته او له ځانه سره قرآنکریم وایي، د ثنا د پښو غږ واوري، ثنا په اسلامي حجاب کې وي، په مینه ملاله ورپاڅېږي او ورته ووایي):

ملاله

ـ لورې راغلې؟ ستړې مه شې.

ثنا

ـ خدای دې وبښه.

( ملاله یې ښکل کړي او ثنا یې په ولاړه لاسونه مچې کړي).

( په خوشالۍ):

ثنا

ـ مورې! نن به دربانډې یو زیری وکم.

( لږه موسکا):

ملاله

ـ د څه شي زېری؟

زر شه راته وې وایه!

ثنا

ـ مورې! نن راته د ټولو نه لوی مډال راکړل شو.

دا دی تې ( ته یې) وګوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په غاړه کې یې وي، چې ورویې ښیي، ملاله پرې ګوتې ووهي، ښکل یې کړي او بیا سترګې پورته کړي):

ملاله

ـ خدایه ډېر شکر.

خدایه! که زوی دې رانه اخیستی،

بادره ( بهادره) لور دې راکړې.

خدایه! ډېر شکر.

ثنا

( په مینه او خوشالۍ):

ـ مورې! اوس چې هر چېرته لاړه شم، په اسانۍ راته وظیفه پیدا کېږي.

( لږ سکوت او په تاثر):

خو مورې! کله کله راته حمید ډېر یادېږي.

تم ( ته هم) په دومره کلونو کې پلار پسې لاړه نه شوې.

( د ملالې سترګې له اوښکو ډکې شي):

ملاله

ـ لورې! اولاد له بده ځایه یي.

هر وخت مې سترګو ته ولاړ یي.

په لنډه ځای کې ورپسې ړنده شوم.

( له دې سر د خپل زړوکي پلو سترګو ته ونیسي، خو ثنا د دلاسا لاس پرې کېږدي):

ثنا

ـ مورې ژاړه مه.

زه خو ویم، چې خیر دی، اوس ورشه.

همدومره ضد بس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( ملاله په زړوکي اوښکې پاکې کړي):**

**ملاله**

**ـ لوري! که زموږ سړي پښتانه دي،**

**نو مونږ ( هم) پښتنې یو.**

**نارینه ښځو ته په زاریو دومره بدې نه ښکاري،**

**خو ښځې په دې کار ډېرې بې نوره ښکاري.**

**ثنا**

**ـ مورې! ته خو خپل زوی پسې ځې،**

**دې کې د شرم څه خبره ده؟!**

**ملاله**

**ـ ته ښه وی، خو زه دې پلار له کوره شړلې یم.**

**ثنا**

**ـ مورې! اوبه په ډانګ نه بېلېږي، د ښځې او خاوند منځ کې بل څوک نه ځیږي.**

**ملاله**

**ـ خو په دې کې یو بل شریکم( هم) شته.**

**( د سترګو لړه حیراني):**

**ثنا**

**ـ هغه څوک دی؟**

**ملاله**

**ـ ماما دې یادوم.**

**هغه په دومره غریبۍ کې په ما کلونه ننګ وکه.**

**که دا خبره نه وی، نو یو ځل نه، په وار وار به ورغلې وی.**

**که ورشم، وئ به چې څومره بې ننګه خور مې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس یې سترګې څنګه ټیټې کم؟!

شپږویشتمه صحنه:

ځای: دفتر.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: غیاث او اکرام.

( اکرام پر خپله چوکۍ ناست وي چې غیاث په داسې حال کې چې دریشي، یې غیر منظمه او ناروغ ښکاري، پر خپله چوکۍ کېني. اکرام لږ کار وکړي او بیا هغه ته وایي):

اکرام

ـ اوس دې صحت څنګه دی؟

غیاث

ـ ښه نیم( نه یم)، ډاکټر راته وویل، چې د زړه یو وال دې بند دی.

اکرام

ـ دا هر څه دې په ځان د خپله لاسه وکړل.

په لوی لاس دې خپل ودان کور وران که.

( غیاث له ځانه سره یو لنډ خو ډېر دردمن اسویلی وکړي. ډېر ورو سر وښوروي).

غیاث

ـ خواوس اوبه له ورخه تېرې دي.

اکرام

ـ رشتیا! هغه زوی دې څه کار کې؟

( غیاث لږ غلی شي):

غیاث

ـ زه خو زوی تر دې ځایه راورسولم.

ربښتیا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ په زړه مهر په خوله قهر زوی ته بويه.
خو ما داسې ونه کړل.
اکرام
( په لږې حیرانۍ او جدیت):
ـ ولې لکه چې څه کار نه کې؟
( له ځانه سره د لېونو وړه بې غږه خندا وکړي):
غياث
ـ کار څه چې هغه مکتب يم ( يې هم) نيمې کې پرېښودو.
اکرام
( په حکیمانه انداز):
ـ بس زمونږ او ستاسې خو همدغه لويه تېروتنه ده، چې
زامنو ته بې ځايه نازونه ورکوو.
او لونړو ته په سپکه ګورو!!
اوه ويشتمه صحنه.
ځای: د ايمل کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: ملاله، ايمل او ثنا.
( ملاله په کټ کې ناسته او په ستنه په لاس څه شی ګنډي، چې اېمل راشي. هغه ورته په مينه ووايي):
ملاله
ـ وروره ستړی مه شې، په خير راغلې؟
ايمل
ـ خير يوسې، څه حال دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



( کېښني):
ـ او رشتیا هغه د ثنا نتیجه څنګه شوه؟
( په خوشالۍ):
ملاله
ـ ما ویل، چې زه به دربانډې زیری کوم، خو ته رابانډې مخکې شوې.
ایمل
ـ ولې یې نه وی ( وایې)؟
وې ویوه کنه.
ملاله
ـ ثنا ته یې مډال ورکه!
ډېره زر به ورته وظیفم ( وظیفه هم) پیدا شي.
ایمل
ـ دا خو ډېره لویه خبره ده.
( رشتیا چې په وچو ولو خدای اوبه راولي).
خورې! خدای به دې ډېره خوشاله کي.
ملاله
ـ خو وروره! دا ټول ستا برکت دی.
که ته نه وی، نو ثنا به ثنا نه وه.
ایمل
ـ داسې مه وایه! خدای چې پخپله په چا کې ځای نه وي ایښې، نو هغه نه څه نه جوړېږي.
ملاله
ـ ښه وروره! زه به درته چی (چای) راوړم.
سترې به یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ایمل**

**ـ نه، چی نه سکم ( څښم).**

**( ایمل ځان لږ خپه کړي).**

**ملاله**

**ـ وروره! نن خپه غوندې ښکارې،**

**خیر خو به یې؟**

**ایمل**

**ـ یوې خبرې ته فکر وړی یم.**

**ملاله**

**ـ څه خبره ده؟**

**ایمل**

**ـ د کور خاوند د یو کال کرا ( کرایه) غواړي.**

**ملاله**

**ـ وروره! خپه کېږه مه، خدای به ثنا ته کار پیدا کي.**

**اته ویشتمه صحنه:**

**ځای: د ښار یو واټ.**

**وخت: سهار.**

**لوبغاړي: ثنا او یو بل ځوان کس.**

**( ثنا په داسې حال کې چې حجاب یې اغوستی او په بشپړه توګه ټوله پټه وي، په پیاده رو روانه وي. لږ وخت وروسته د شا له لوري یو وړوکی لوکس موټر ورته رانږدې شي. هارن ورته وکړی، خو ثنا روانه وي، موټر نور هم رانږدې شي، بل هارن ورته وکړي. ثنا روانه وي او لږه شېبه وروسته ثنا په یوه ګوټ تاوه شي).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهه ویشتمه صحنه:**
**ځای: د ښار یو بل واټ.**
**وخت: سهار.**
**لوبغاړي: ثنا او یو بل ځوان.**

**( ثنا روانه وي، چې یو لوکس شخصي موټر ورته رانږدې او هارن ورته وکړي. ثنا روانه وي، چې موټر ورته نور رانږدې او هارن ورته وکړي. ځوان له موټر نه ورته سر راوباسي او یو بل هارن ورته وکړي. ثنا ورته ودرېږي او لاس ورته وښوروي. ځوان ورشي):**

**ثنا**

**ـ سلام.**

**( په لوچک انداز):**

**ځوان**

**وعلیکم.**

**ثنا**

**ـ اجازه ده یوه پوښتنه درنه وکم؟**

**( په احمقانه توګه):**

**ځوان**

**ـ پوښتنه نه، پوښتنې وکه!**

**ځوان**

**( لاندې باندې ورته وګوري):**

**ثنا**

**ـ رښتیا ووایه! ته پښتون یې؟**

**ځوان**

**ـ ولې، زه درته انګرېز ښکارم؟!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثنا

ـ انګریز خوم ( خو هم) داسې نه یي؟!
پښتون خو د بل عزت خپل ګڼي.
ته د پښتون نوم ولې سپکی؟
زه په ځان نه یم خپه. خو یقین وکه، په تا غوندې سپکو ځوانانو مې زړه ډېر بدېږي..
( ځوان خجالته غوندې وي).
ورورہ! خیر دی په دې خبره لږ فکر وکه.
که د شرافت په لاره لاړ شې، څومره به ښه یي؟!
ګوره هم به خپله دروند شې او هم به دې نورو ته خیر ورسېږي.
خیر دی له دې وروسته د بل عزت خپل وګڼه!
( ځوان سر ټیټ کړي).
ثنا
ـ که ما بد ویلي وی، نو راته ویې وایه!
( د بې ځوابۍ یو حالت یې پر مخ راشي):
ځوان
ـ خورې! ډېر ښه درس دې راکه.
کاشکې چې هر څوک ستاپه پله روان شي.
( ثنا روانه شي).

**دېرشمه صحنه:**

**ځای: د غیاث کور.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت: ورځ.**

**لوبغاړي: غیاث، حمید او درې کسه نور انډیوالان یې.**

**( غیاث د کور په حویلۍ کې د ناروغۍ په حالت کې په بد حال پروت وي. پر مېز ورته څه دوا پرته وي. حمید او ملګري یې په کوټه کې ناست وي، چالدار کوي. دواړه دې یو یو شاټ وښودل شي. غیاث خپل ښي لاس د سینې پر کیڼه برخه کېږدي):**

**غیاث**

**- وی مړ شوم.**

**( په کټ کې په تکلیف کېني. د ګولیو پاکټ راواخلي. خو اوبه نه وي، ویې غواړي یانې غږ کړي):**

**غیاث**

**- حمیده، وه حمیده لږې اوبه راوړه.**

**( له دې سره بېرته په کټ کې څملي).**

**( حمید په کوټه کې وي. پرې وېشل شوې وي، ډېرې روپۍ پرتې وي).**

**حمید**

**- دوه زره نورې لري.**

**( روپۍ میدان ته واچوي).**

**بل کس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ هن دا څلور زره لري.**

**( حمید خپلې پرې یو ځل بیا پټې له ځانه سره وګوري).**

**حمید**

**ـ په دې څلور زرو کې یې ښکاره که.**

**( هغه کس سره دوه توسه او یو غلام او له حمید سره دوه توسه او یوه لسکۍ وي. هغه کس روپۍ راټولې او جېب کې یې واچوي).**

**کس**

**ـ څنګه نور څه شته؟**

**( په درد سره):**

**حمید**

**ـ نه، نن همدومره بس دی.**

**( ټول د وتلو په حال کې وي، حمید له نورو وروسته وي، چې غیاث حمید ته ووایي):**

**غیاث**

**ـ لږې اوبه خو راوړه ګولۍ خورم.**

**( په تریو تندي):**

**حمید**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ یو خو ستا مریضي نه خلاصېږي.**

**اوبه راوړه!**

**اوبه راوړه.**

**هر وخت دې چغې شروع کړي يي!!**

**( همداسې ترې ووځي. غیاث سترګې اسمان ته لړې پورته کړي او هغه صحنه یې سترګو ته ودرېږي، چې ملاله یې له کوره وشړله او بیا بېرته په کټ کې څملي).**

**یودېرشمه صحنه:**

**ځای: د موسسې دفتر.**

**وخت: سهار.**

**لوبغاړي: ثنا، یو لوچک غوندې ځوان، د موسسې منیجر او یو بل عادي کس.**

**( پر دروازه لیکل شوي وي):**

**ـ د بشري قواو دفتر.**

**( له دفتر نه هغه عادي کس راووځي او ثنا چې پر یوه چوکۍ ناسته وي، په اسلامي حجاب کې دفتر ته ورننوځي. لوچک ورته اتومات په مینه وګوري):**

**ثنا**

**ـ سلام علیکم.**

**لوچک مزاجه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ وعلیکم والسلام. وعلیکم.

کېنئ!

( ثنا کېني).

لوچک مزاجه

ـ هر کله راشئ، صحت مو څنګه دی؟

ثنا

ـ خیر یوسئ.

لوچک مزاجه

ـ نوره څنګه یې؟

ثنا

ـ زه انټروئ ته راغلې یم.

تاسې زما اسناد وګورئ.

لوچک

( له بې خونده کتو سره یو ځای):

ـ ستا لیدل کفایت کئ، اسناد مسناد پرېږده..

ثنا

ـ خو زه غواړم، چې د خپلې وړتیا له مخې مقرره شم،

لوچک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دغه ناز دغه انداز واه ما شا الله!

( په غوسه):

ثنا

ـ بس بس، نورې خبرې ونه کې.

راکه کاغذونه مې.

( لوچک وارخطا غوندې شي، خو دې کې منیجر راشي).

منیجر

ـ د ثنا کار زر خلاص که.

د دې انټروی ته هم اړتیا نشته.

ټول کاغذونه یې ډېر عالي دي.

( بیا ثنا ته وګوري):

ـ زه تاسې ته د وظیفې مبارکي وایم.

زموږ اداره تا غوندې با استعداده خویندو ته اړتیا لري.

که خدای کول، تاسې به لږ وخت کې ډېر پرمختګ وکړئ.

ثنا

ـ درانه اوسئ.

( منیجر مخکې، ثنا پسې ووځي، خو د لوچک څېره پیکه حالت غوره کړي).

دوه دېرشمه صحنه:

ځای: د غیاث دفتر.

وخت: ورځ.

لوبغاړي:اکرام او د دفتر ملازم.

( اکرام لګیا وي، لړه شېبه د دفتر په کاغذونو کې ګوتې ووهي، چې دې کې ملازم ورته چای راوړي. پر مېز یې کېږدي او بیا پوښتنه وکړي):

ملازم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ صیب! ډېرۍ ورځې کېږي، چې غیاث خان نه ښکاري؟
( په دردمن انداز):
اکرام
ـ هو، داسې ښکاري، چې هغه نور کار ته نه شي راتلی.
( په حیرانۍ):
ملازم
ـ صیب ولې نه شي راتلی؟
اکرام
ـ د هغه یوه ستونزه نه ده.
یو خو خپله ناروغ دی
او بل خدای دسې یو زوی ورکړی، چې
لاره یې تې ( ترې) ورکه کړې.
( ځان سره لږ سر وښوروي).
خدای دې چا ته نا اهله زوی نه ورکی!
ملازم
ـ صیب! سهي خبره دې وکړه.
( ملازم له ځانه سره د افسوس سر وښوروي او ووځي).
درې دېرشمه صحنه:
ځای: د غیاث کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: غیاث.
( غیاث په کټ کې داسې ناست وي، چې له خپګانه یې خپل سر په ناسته په ځنګلو ایښی وي. ډېر غمجن وي. لږ وروسته په تکلیف راپاڅېږي، په کوټه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې مېرمنې کميس وګوري. هغه ته يوه شېبه په خپګان وګوري او چې له خونې راوځي، د ثنا پر وړې چپلکې يې سترګې ولګېږي. په خپګان ورته وګوري. پر ځمکه د پښو پر سر کېني. چپلکې ته وګوري او له سترګې يې اوښکه روانه شي).

ځلوردېرشمه صحنه:

ځای:د ثنا دفتر.

وخت: ورځ.

لوبغاړي: ثنا او هغه بل لوچک مزاجه.

( ثنا په اسلامي حجاب کې کمپيوټر ته دقيقه ناسته او کار کوي. لوچک مزاجه ورته له سترګو لاندې دوه ځله وګوري او بيا دا سندره له ځانه سره له ورو نه لږ په لوړ غږ کې شروع کړي):

لوچک

ـ تا به د مينې په دام څنګه بندومه،

چې دا غرور دې شي مات د پېغلتوب

او دا دستور دي شي مات د پېغلتوب.

( لاندېنی بيت دې دوه ځله له ځان سره تکرار کړي. لوچک غلی خو بيا ووايي):

لوچک

ـ څنګه ته خو هېڅ خبرې نه کی ( کوې)؟

( ثنا څه ونه وايي، کار کوي):

لوچک

ـ ګوره دومره کلانکاري، مه کوه!

لږې خبرېم ( خبرې هم) کوه کنه!

( ثنا کار کوي، خو ورته ووايي):

ثنا

ـ زه خبرو ته نه، کار ته راغلې يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوچک**

**ـ خو له کار سره چې خوړېږي خبرې نه يي، ( وي)**
**کار خوند نه کیږ.**

**ثنا**

**ـ خو زه هغه نه يم، چې ټوله ورځ په دفترونو کې بې ځايه خاندي.**
**هيله ده، چې له ما نه دا تمه ونه کیږ!**

**لوچک**

**ـ ولې ته له هغو نه زياته يې؟**

**ثنا**

**ـ زه له هېڅا زياته نه يم،خو دا تا غوندې خلک دي، چې**
**ټولې ښځې کمې ګڼي!**

**لوچک**

**ـ که داسې يي ( وي)، نو زه کولی شم، چې تا ته ستونزې جوړې کړم.**

**ثنا**

**ـ خو زه د ستونزو نه نه يرېږم.**
**چې زر پاک يي، له اوره يې څه باک يي.**
**( له ځانه سره ورو):**

**لوچک**

**ـ سهي ده، ګورو به!**

**پنځه دېرشمه صحنه:**
**ځای: هر ځای چې وي.**
**وخت: مازيګر.**
**لوبغاړي: حميد.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(حمید پتلون اغوستی، یو دستمال یې غاړه کې وي. له جېب نه موبایل راوباسي او خپل یوه ملګري ته په ټیلیفون ووایي):
ـ هیلو! جوړ یې.
بس غوږ ونیسه.
بېګاه ته ځان تیار که.
هو ښه مال ورسره دی.
ته مه یرېږه، که حرکت یې وکه چاره به یې وکو.
با الکل.
سهي شوه.
( موبایل په لوچک انداز په پتلون کې کېږدي او روان شي).
شپږدېرشمه صحنه:
ځای: د غیاث دفتر.
وخت: سهار.
لوبغاړي: غیاث، اکرام او د دفتر ملازم.
( اکرام د دفتر په څه کار بوخت وي، چې لږه وخت وروسته ورته ملازم راشي او یو پاکټ کې یې لاس کې وي):
ملازم
ـ صیب! دا پاکټ چا راکه!
( ملازم پاکټ ورکړي او اکرام یې خلاص کړي، له ځانه سره یې یوه شېبه ووایي، خو خپه شي):
اکرام
ـ دا خو ډېر بد کار وشو.
( په حیرانتیا):
ملازم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ صیب! څه وشو؟

اکرام

ـ غیاث بېچاره منفک شو.

ډېر بد وشو.

( ملازم هم خپه شي).

اوس به څه کېږي؟

هغه خو ناروغ هم دی.

اکرام

ـ هو. خو کاشکې چې یې ډېره غیرحاضري نه وی کړې!

( ملازم له ځانه سره په ورو سر وښوروي، ووځي، خو په دې کې غیاث راشي. اکرام ورته په مینه پاڅېږي. غیاث د ناروغۍ او اقتصادي پلوه ډېر کمزوری ښکاري. اکرام ورته په مینه پاڅېږي):

اکرام

ـ اوهو! غیاث خانه پس له ډېرې مودې.

ستړی مه شې، په خیر راغلی.

څنګه یې؟

غیاث

ـ د خدای فضل دی. کارونه څنګه دي؟

( غیاث ورته په چوکۍ کېني).

اکرام

ـ بس ژوند دی تېرېږي.

خو ته چې لاړې پسې لاړې.

غیاث

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ډېر ناروغ یم.
نور څه حال دی؟
( اکرام سر لږ ټیټ کړي لکه چې په زړه کې یې څه خبره وي.):
اکرام
ـ چې رښتیا درتهوویم، زم ( زه هم) ډېر خپه یم.
غیاث
ـ ته ولې خپه کېږې. خدای روغ صحت درکړی.
کور دې ودان دی.
غم زما کوه.
اکرام
ـ خپه همدې ته یم. زه په تا خپه یم.
غیاث خانه! په خولې مې نه راځي، خو څه وکم؟!
غیاث
ـ ولې، لکه چې کومه خبره شته.
( لږ غلی شي):
اکرام
ـ هو، زه په دې خپه یم، چې همدا نن ستا د انفکاک مکتوب
راغی.
( د غیاث څېره ډېره خپه شي):
غیاث
ـ زما؟!
( له دې سره غیاث پر هغه چوکۍ چې ناست وي. په زنګیدلي حالت خپل سر شا
ته کړي).
اوه دېرشمه صحنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای: د ثنا د مشر دفتر.
وخت: سهار.
لوبغاړي: منیجر، لوچک مزاجه او ثنا.

( منیجر په کاغذونو باندې څه لیکي، چې لوچک مزاجه یې دفتر ته راننوځي. هغه ورته وگوري او ورته ووایي):

منیجر

ـ ته ورشه هغه فایل دې راوړه!

( لوچک ووځي، منیجر په کار لگیا وي، چې لوچک بېرته له دوسیې سره راشي، پر مېز یې ورته کېږدي. منیجر چې دوسیه خلاصه کړي، نو د گلاب یو گل په کې وي. په حیرانۍ ووایي):

منیجر

ـ دا څه دي؟! اوس په دوسیه کې گلان ږدئ؟

( په مکرجن انداز):

لوچک

ـ صیب! داسې کارونه د نارینو نه یي.

(په حیرانۍ):

منیجر

ـ ستا مطلب څه دی؟

لوچک

ـ زما یقین دی، چې دا کار ثنا کړی دی.

( په لږه غوسه):

منیجر

ـ ته ورشه ثنا راوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( لوچک ووځي، منيجر دوسيه له ځانه سره لټوي، چې يوازې ثنا راننوځي).
ثنا
- سلام
منيجر
- وعليکم. کېنه.
( ثنا کېني).
منيجر
- ثنا! زما له تا نه دا تمه نه وه.
( ثنا حيرانه شي):
ثنا
- صيب! څه خبره ده؟
منيجر
- ګوره! ته ما ته يوه شريفه پېغله ښکارې.
ما يوازې ستا پوهه نه، کرکټر هم په پام کې نيولی و.
( نوره حيراني):
ثنا
- صيب! خبره وکۍ. ما کومه داسې تېروتنه کړې،
چې خبره ترې هم نه يم.
منيجر
- تاسې په دوسيه کې ګل ولې ايښې؟
( په ډېرې حيرانۍ):
ثنا
- ګل؟! او ما ايښی؟!
د څه شي ګل؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ګل دې وښودل شي):
صيب!
زما په خيال کې هم کله داسې
کار نه دی تېر شوی.
صيب! يوې پښتنې ته خپل عزت تر هر څه ګران يي.
زه ډېره خپه يم، چې داسې شک په ما کېږي.
خو زه پېږم، چې دا کار چا کړی؟
منيجر
ـ چا کړی؟
ثنا
ـ دا کار هغه چا کړې، چې ما سره په دفتر کې کار کې..
همده ما ته اخطارونه راکړي.
منيجر
ـ زه څنګه دا خبره ومنم؟
تا ما ته مخکې ولې نه ويلې؟
ثنا
ـ صيب! هغه زما لومړی ورځې وې،
ما نه غوښتل چې له پيله دې زه لانجې رامنځ ته کم.
خو چې داسې خبرې يي، نو زه نور دلته کار نه کوم.
منيجر
ـ تاسې اوسېله له لاسه مه ورکوئ.
زه به د دې خبرې پوښتنه وکم.
ثنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ صیب! مننه، خو زما لا میاشت نه ده تېره شوې،
چې دامونه راته اېښودل کېږي.
منیجر
ـ ګوره ثنا! په ژوند کې انسان له ډېر څه سره مخامخ کېږي،
خو هرې ستونزې ته تسلیمېدل نه دي په کار.
زما ستاسې په خبره باور دی. زه به هغه ته مناسبه سزا ورکم.
تاسې فکر مه کوئ!
ثنا
ـ صیب! دغسې خلکو زموږ د ټولنې د ښځو په وړاندې خندونه جوړ کړي.
که داسې کارونه یې، نو ښځې به څنګه کار ته زړه ښه کي
او یا به یې کورنۍ د کار اجازه ورکي؟!
منیجر
ـ اوس به دربانډې یو زېری وکم.
( ثنا لږه په خوشالۍ وروګوري):
منیجر
ـ زموږ اداره تاسې ته ستاسې د ښو کارونو له امله د اوسېدو لپاره یو کور درکۍ.
تاسې کولای شۍ، چې له کورنۍ سره په کې واوسۍ.
ثنا
ـ صیب! مننه. خو په دې شرط، چې نورې دسې خبرې نه شم زغملی.
که داسې یې ( وي )، زه به سل کوره له خپلې سپېڅلتیا سره برابر نه کم.
( کمره دې ورو ورو د ثنا د پورته خبرې پر وخت د هغې څېره کلوز کړي).
اته دېرشمه صحنه:
ځای: د غیاث کور.
وخت: مازیګر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوبغاړي: غیاث او یو بل ځوان.**

**( غیاث په ناروغ او ډېر بد حالت کې خپل کور ته روان وي. لږ وخت وروسته چې د کور دروازې ته ورسېږي، نو د کور دروازې ته قلف پروت وي. هغه حیران شي. قلف یو ځل راکاږي، خو بند وي. په خپګان مخ راواړوي. په لاره هغه هلک روان وي، چې یو وخت یې له حمید نه د ښوونځي پوښتنه کړې وه، له هغه پوښتنه وکړي):**

**غیاث**

**ـ زلمیه! دې کور ته قلف ولې اچول شوی؟**

**( په حیرانۍ):**

**زلمی**

**ـ ولې ته نه یې خبر؟!**

**حمید خو پولیسو بوت.**

**غیاث**

**ـ پولیسو بوت؟!**

**دا ولې؟**

**زلمی**

**ـ کاکا! حمید ځو میاشتې مخکې دا کور په چا خرڅ کړی و.**

**پولیسو کور خلکو ته وسپاره او هغه یې ماموریت ته بوت.**

**( په غیاث د خپګان یوه ځپه راشي، له ځانه سره ورو وو ایي):**

**غیاث**

**ـ کور یې هم خرڅ کړ؟!**

**( غیاث پر خپل زړه لاس کېږدي او ورو ورو د پښو پر سر پر ځمکه کېني).**

**نهه دېرشمه صحنه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای: د ایمل کور.
وخت: ورځ.
لوبغاړي: ملاله، ایمل او ثنا.
( ایمل خپه ناست وي، چې ملاله ورته په خپګان ووایي):
ملاله
ـ دا خبره رښتیا ده؟
ایمل
( په خپګان):
ـ هو، زه نن خبر شوم، چې حمید پولیسو نیولی دی؟
( ملاله یو دردمن اسویلی وکړي):
ملاله
ـ وروره! دا خو ډېر بد شوي، دي.
اوس به څه کېږي؟
ایمل
ـ ته مه خپه کېږه. کوم لوی جرم یې نه دی کړی.
زه به ورپسې ورشم.
هلته مې یو ملګری شته.
( دې کې ثنا په داسې حال کې چې ډېر ښکلی له مود سره برابر ګردکمیس یې اغوستی وي، کوټې ته راننوځي ).
ملاله
ـ وروره! اوس که د ثنا پلار پسې لاړ شې، بد خو
نه ښکارې؟!.
( سنجیده انداز):
ایمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ هو.**
**خبر شوی یم، چې هغه ناروغه هم دی.**
**که اوس ورته زارۍ هم وکم، بد نه ده.**
**د مظلومیت په وخت کې د پښتون زړه پر دښمن هم خوږېږي.**
**ثنا**
**ـ خو ماما زموږ اوښکو او صبر اخر رنګ راوړ.**
**( ملاله او ایمل ثنا ته په حیرانۍ وګوري، ثنا په خوشالۍ):**
**ثنا**
**ـ ماما ! زموږ دفتر ما ته کور راکه.**
**که خیر یې، سبا به ورځو.**
**( په موسکا):**
**ایمل**
**ـ خورې! ثنا څه وې ( وایې)؟ که دا رښتیا یې، دا خو ډېره لویه خبره ده.**
**خورې مبارک دې شه.**
**ملاله**
**ـ ستا دې مبارک شي، خو**
**ـ وروره د حمید غم در سره زر وخوره!**
**زر شه ګنې زړه مې ودرېږي.**
**ایمل**
**ـ ته مه خپه کېږه، دا دی ورپسې لاړم.**
**( ایمل پاڅېږي او له کمرې اوځ شي).**
**څلوېښتم سیکانس:**
**ځای: د غیاث د کور کوڅه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت: مازیګر ناوخته.

لوبغاړي: غیاث.

( غیاث په بد حالت کې پر یوه تخت غوندې ځای باندې ناست وي. سره نیمه ډوډۍ یې لاس کې وي. لږه ترې وخوري او بیا څملي).

یوڅلوېښتمه صحنه:

ځای: یو پوخ پاک کور.

وخت: سهار.

لوبغاړي: ملاله او ایمل.

( ملاله په کور کې ګرځي او هر ځای ته په مینه ګوري، چې لږه شېبه وروسته ایمل هم کور ته ورننوځي. ملاله مخ ورواړوي او په تلوسه ورته ووایي):

ملاله

ـ حمید څه شو؟

ایمل

ـ رابه شي. ته مه وارخطا کېږه.

ملاله

ـ کله به راشي؟

اوس ولې رانغی.

ایمل

ـ لږ کار یې پاتې دی، تر مازیګره به یې درته راولم.

ملاله

ـ وروره! خدای دې په خوله برکت که.

ایمل

ـ خورې! کور خو ښکلی دی؟

ملاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ وروره! ستا به ښېله کوټه  په کې مالومه يي.
( ايمل له ځانه سره يوه ترخه موسکا وکړي):
ملاله
ـ ځنګه دې وخندل؟
ايمل
ـ خورې! زه هملته ښه يم.
دا ځی دې په تاسې مبارک يي.
( په تعجب):
ملاله
ولې؟ تا خو خپل ټول ژوند زموږ
لپاره خوارو زار که. او اوس به
راسره نه اوسېږې؟!
ايمل
ـ ورونه د واده کړو خويندو کره په اوسېدو بد ښکاري.
ملاله
ـ خو ورونه هم په خويندو حق لري!!
ايمل
خورې! ورونه په دې ښه ښکاري، چې خويندې پرې ابادې وي.
او خور ته څه تمه ونه کي.
ښه زه لاړم، چې د ايمل کار خلاص کم.
( له دې سره اوټ شي).

دوه ځلوېښتمه صحنه:

ځای: د غياث د کور کوڅه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت: مازیګر.

لوبغاړي: ثنا، غیاث او که اړتیا وي د موټر یو ډرېور.

( لومړی دې په لانګ شاټ کې یو لوکس موټر وښودل شي، چې راروان وي، ورپسې دې غیاث وښودل شي، چې مخ یې سرک ته او په تخت یا ګاډۍ پروت وي. موټر کرار کرار رانږدې شي. لږ وړاندې ترې ودرېږي. ثنا په حجاب کې په کرار ډول له موټره راکښته شي. د خپل پخواني، کور دروازې ته لږه ورنږدې شي، خو کور ته قلف پروت وي. بیا تخت ته وګوري. پر خپل پلار یې سترګې ولګېږي. د ثنا په څېره کې حیراني پیدا شي. ښه ورته ځیر شي. د پلار د ځوانۍ د وخت فلش بیک یې زر زر درې ځله سترګو ته ودرېږي او بیا د زړه له تله په ژړه غوني لږ لوړ غږ چغه کړي):

ثنا

ـ پلاره! دا ولې؟

پلاره ولې؟

( پلار یې کرار کرار له ځایه پورته شي):

غیاث

ـ ته څوک یې؟

( د ثنا په اننګو اوښکي راشي):

ثنا

ـ پلاره! زه ثنا یم، ثنا!

( له دې سره یې په ولو ورټیټه شي. لږه شېبه د زړه له تله وژاړي):

ثنا

ـ راځه چې ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راځه.**

**غیاث**

**چېرته؟**

**ثنا**

**ـ ستا کور ته!**

**( په حیرانۍ):**

**غیاث**

**ـ زما؟! زه خو کور نه لرم.**

**زه هېڅ نه لرم.**

**ثنا**

**ـ پلاره ته هر څه لرې.**

**کور لرې، ما لرې.**

**راځه!**

**(ثنا په یوه لاس پلار له لاس نه نیولی وي او په بل لاس خپلې اوښکې پاکوي او موټر کې يې کېنوي).**

**دري څلوېښتمه صحنه:**

**ځای: د ثنا نوی کور.**

**وخت: مازيګر.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوبغاړي: ثنا، غیاث، ملاله، ایمل او حمید.**

**( ملاله د کور په دهلیز کې لګیا وي، یو توشک خور کړي، بالښت کېږدي. بهر دکور مخې ته د ثنا موټر ودرېږي. ثنا غیاث له موټر نه راکښته له لاس نه نیولی وي. د کور دروازې ته چې راورسېږي، نو د غیاث سترګې د کور پر لوحه ولګېږي، چې پرې لیکل شوي وي):**

**ـ د غیاث کور.**

**( د لوحې په لیدو غیاث ثنا ته وګوري):**

**ثنا**

**ـ پلاره! دا ستا نوی کور دی.**

**( له دې سره غیاث، ثنا ته وګوري، له یوې سترګې یې د همدردۍ یوه اوښکه تویه شي):**

**ثنا**

**ـ پلاره! اوس د خوشالۍ وخت دی.**

**غیاث**

**ـ لورې! زه تا ته کتلی نه شم.**

**زه درته ټول عمر بې ځوابه شوم.**

**ثنا**

**ـ پلاره! دسې مه وایه!**

**ستا حق زه نه شم پوره کولای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



( همدې کې کور ته ننوځي):

ثنا

ـ مورې!

( ملاله مخ ورواړوي، چې هغوی وګوري، په حیرانۍ، خو ورو یې مخې ته ورشي. لږه شېبه ورته ملاله په حیرانۍ وګوري او غیاث سترګې ټیټې کړي، له دې سره د ملالې سترګو ته اوښکې راشي، خو زر ورته د خپل پړوني پلو ونیسي. لږه په پټه له ځان سره وژاړي، خو همدې کې ایمل او حمید کورته راننوځي):

ایمل

ـ ژاړئ، مه!

نن د خوشالۍ ورځ ده.

ما ته وګورئ.

حمید مې راوست.

( ملاله له ډېرې خوشالۍ لومړی د لېونو غوندې وروګوري او بیا ورته په سپېڅلي انداز له چټک ورتګ سره یو ځای ووایي):

ملاله

ـ زما حمیده!!

( له دې سره یې غېږ کې کلک ونیسي، لږه شېبه وروسته یې پرېږدي، خو غیاث حمید ته وګوري او په تاثر ورته ووایي):

غیاث

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښه دی تم (ته هم) راغلې!

( حمید سترګې ټیټې او بیا پورته کړي).

ملاله

ـ راځۍ!

( خو غیاث ولاړ وي):

ملاله

ـ ثنا پلار دې راوله.

ثنا

ـ پلاره راځه!

( غیاث ولاړ وي):

ثنا

ـ پلاره! ته ولې نه ځې؟!

غیاث

ـ لورې! در به شم، خو د پښېمانۍ زنځیرونه به څنګه مات کم ؟!

( غیاث یو ګام واخلي او د غیاث او ثنا د څېرو په کلوز ډرامه پای ته ورسېږي).

د جولايي ۲۰ مه، ۲۰۱۱ وزیر اکبرخان ـ کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (احسان الله کاموال) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# INSTEAD OF TIGER

## the collection of TV dramas

BY: HAFIZULLAH TURAB

### د لیکوال چاپ شوي اثار

ورکه (لنډې کیسې)
د پرښتتې خواب (لنډې کیسې)
سلګې په لوېدیځ کې (لنډې کیسې)
طلایي مرغان (لنډې کیسې)
رومانتیک منیجر (لنډې کیسې او ادبي ټوټې)
ژوندی مړی ( لنډې کیسې)
اوښکې (لنډې کیسې) شریکه ټولګه
ریالېست جاسوس ( طنزونه او لنډې کیسې)
پرېوتې څپې ( د تلوېزوني ډرامو ټولګه)
د پړانګ پر ځای ( د تلوېزوني ډرامو ټولګه)
پر ګلاب دې مرغلرې ( شاعري)

### ژباړل شوي اثار

چېرته چې ساه پوه نه وي (انګلیسي)
پر ټولنې ولاړه بیا رغونه ( انګلیسي)

### ډرامې شوي اثار


پر خدای یې وسپاره
محلونه
څپې
پرېوتې څپې
د رڼا پر لور
کویټه انستیتیوت
تور زهر
دنیا
پښتنه
زنځیرونه
شک
سلام دیارلس برخې سیریال
خپلې مټې

### ناچاپ اثار

ارمان ( د هند یونلیک)
د ګلاجان مادورې (تلوېزوني سیریال)

د خپرونو لړ: ۴۱

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com







**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**